# سیګار

ځانګړی عمومي پلټونکی د افغانستان
بیارغونې لپاره

د 2013 کال د
اپریل 30 نیټه

## د متحده ایالاتو کانګرس ته درې میاشتنی رپوټ



# د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی د 2008 مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ (P.L. 110-181) لایحې لخوا تاسیس شو.

د سیګار څارونکې ماموریت د قانون لخوا داسې تعریف شوې دی چې د هغو بسپنو ، پروګرامونو او عملیاتونو په

- اړه چې د افغانستان بیارغونې لپاره تخصیص شوي یا هم په کومه بله لاره ورکړ شوي دي، پلټنې او تحقیقات په خپلواکه توګه په لاره واچوي او ترې نظارت وکړي.
- د هغو وړاندیزونو او پالیسیو مشري او همغږي کول چې د پروګرامونو او عملیاتونو د اقتصاد، موثریت او ګټې زیاتولو لپاره په پام کې نیول کیږي، او په داسې پروګرامونو او عملیاتونو کې د پیسو ضایع کیدو، چل، او ناوړه کارونې موارد کشف کړي.
- داسې وسیلې چې د یادو پروګرامونو او عملیاتونو د نیمګړتیاو او ستونزو په اړه د بهرنیو او دفاعي چارو وزارتونه په بشپړ ډول خبرداره وساتل شي، او د اصلاحي کړنو ضرورت او پرمختګ ورته په ګوته کړي.

د افغانستان په بیارغونه کې هر هغه لوی قرارداد، مرسته، هوکړه لیک، یا د مرستې هر هغه میکانیزم شامل دی چې د متحده ایالاتو کوم وزارت یا ادارې لخوا د افغانستان د بیارغونې لپاره د تخصیص شوو یا په هر ډول چمتو شوي پیسو په کارولو سره پلي کیږي.

سرچینه: P.L. 110-181، "د مالي کال لپاره د ملي دفاع واکمنۍ لایحه،" 1/28/2008.

(د دې رپوټ د هغو منځپانګو د لست لپاره چې د کانګرس لخوا تصویب شوي دي، 3 برخه وګورئ).

**د پوښ تصویر:**

**د متحده ایالاتو د سمندري قطعاتو یو** ډلګۍ مشر او یو توپچي، چې دواړه د دریم لوا، څلورم سمندري کنډک پورې تړاو لري، د هلمند ولایت په لیدرنیک کمپ کې د ترمیم شوي چاودیدونکي توکو له مینځه وړلو روزنې په ترڅ کې یو دیوال اندازه کوي.
(د متحده ایالاتو د سمندري قطعاتو تصویر)

ځانګړی عمومي پلټونکی
د افغانستان بیارغونې پاره

زه خوشاله يم چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د بيارغونيزو هڅو د وضعيت په اړه کانګرس ته درې مياشتنی رپوټ وړاندې کوم.

اوس په يوولسم کال کې دا هڅې خپل ډير کړکيچن پړاو ته رسيدلې دي، لکه څنګه چې د متحده ايالاتو محاربوي سرتيري ووځي او افغان دولت د خپل هيواد د راتلونکي ډير مسوليت په غاړه اخلي. په 2014 کال کې د ليږد بهير له را رسيدو سره سم د متحده ايالاتو هڅې په څلورو اساسي برخو متمرکز کيږي: امنيت، حکومتولي، اقتصادي پراختيا، او هغه لاره چې متحده ايالاتو بهرنۍ مرستې وړاندې کوي.

تر اوسه پورې کانګرس په افغانستان کې د افغان حکومت امنيتي ځواکونو جوړول، د حکومتولي وده، او د اقتصادي پراختيا ترويجولو لپاره $93 ميليارده ډالر ورکړي دي. د دې تاريخي هڅې — د متحده ايالاتو په تاريخ کې د يو هيواد ودانولو لپاره تر ټولو زيات لګښت — بريا دې پورې تړلې ده چې متحده ايالاتو:

- افغان امنيتي ځواکونو ته دومره وړتيا ورکړي چې د ترهګرو مخه ونيسي څو بيا په دې هيواد کې پټنځايونه جوړ نکړي.
- د افغان حکومت ظرفيت پياوړی کړي څو په 2014 کال کې د اعتبار وړ ولسمشري ټاکنې ترسره کړي، ځواک په سوله ايزه توګه انتقال کړي، او د قانون حاکميت له لارې اساسي خدمتونه وړاندې کړي.
- په بهرنيو مرستو کې د وړاندوينه شوي کمښت سربيره د يو ژوندي اقتصاد اساساتو ته وده ورکړي.
- د افغاني ادارو ظرفيتونه زيات کړي څو د هغو مرستو د ادارې او حساب ورکونې جوګه شي چې د متحده ايالاتو او نورو مرسته کونکو لخوا افغان ملي بوديجې ته مستقيم ورکول کيږي.

همدارنګه بريا د خپلواکه او اغيرمنه څارنې سره اړيکه لري. د دې رپوټ 2 برخه د امنيت، حکومتولي، او اقتصادي پراختيا د بيارغونې حياتي برخو په اړه د سيګار روان کارونه په ګوته کوي. په دې برخه کې خپل کارونه مو د دولت حساب ورکونې دفتر، او د دفاع، بهرنيو چارو وزارتونو او د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې له ځانګړو عمومي پلټونکو سره همغږه کړې ده. موږ د خپل پلټنو، تفتيشاتو، او څيړنو له لارې غواړو د دې ساحو ستونزې کانګرس او پلي کونکو ادارو ته په وخت معلومې کړو څو د مرستو خوندي ساتلو او د بيارغونې مهمو پروګرامونو د پرمختګ لپاره په وخت ګامونه پورته کړي.

د ليږد له پيل سره سم، سيګار د څارنې په برخه کې دوه لويې انديښنې لري. يو يې د بيارغونې ډالرونو زياته برخه د افغان ملي بوديجې له لارې د "مستقيمې مرستې" په بڼه ورکولو په اړه او بله يې د امنيت په اړه ده.

## مستقيمه مرسته

متحده ايالاتو ژمنه کړې ده چې افغانستان ته د خپلې مرستې زياته برخه د مستقيم مرستې په بڼه ورکړي، چې د څو اړخيزه خيريه بنسټونو او دوه اړخيزه موافقت ليکونو له لارې د يودولت نه بل دولت ته مرستې ورکول کيږي. سيګار د مستقيمې مرستې سره مخالفت نلري. د داسې مرستو لپاره ګڼ شمير ښه دلايل شته دي. مستقيمې مرستې کولی شي د افغانانو ظرفيت لوړ کړي، او د افغانانو لخوا د پايداره پانګه اچونې د غوښتلو او ليوالتيا له لارې د بهرنيو مرستو موثريت زياتوي. پهرصورت، سيګار باور لري چې کانګرس او پلي کونکي ادارې

دا درې ټکي په پام کې ولري چې کولی شي د بیارغونې موخو د تعقیب کولو په لاره کې د مستقیمو مرستو په وړاندې خنډ جوړ کړي:

- د مرسته کونکو د پیسو په اداره او حساب ورکونه کې د افغان حکومت محدود ظرفیت
- د هر اړخیزه اداري فساد اغیزه
- مناسبه او اوږدمهاله څارنې ته اړتیا

متحده ایالاتو ته اړینه ده چې د خپلو مرستو اجرا او حساب ورکونې په برخه کې د افغان حکومت د ظرفیت په اړه ځان ډاډه کړي. سیګار خوشاله شو چې USAID د مستقیم مرستو د اداره کولو په اړه د 13 افغاني وزارتونو ظرفیت ارزولې دی. دا لومړی مهم او اړین ګام دی. دې وزارتونو ته د مستقیمې مرستې د پریکړې په اخیستلو کې باید اورمرو د دې ارزونو پایلې په پام کې ونیول شي. برسیره پردې، متحده ایالات باید د اداري فساد څخه د دې مالیه ورکونکو ډالرو خوندي ساتلو لپاره میکانیزمونه چمتو او د مرستو په اړه ټینګه څارنه ترسره کړي. پلي کونکي اداري — د ضیاع، درغلۍ، او ناوړه کارونې څخه د مخنیوی لومړی لیکه — باید اورمرو د څارنې ټینګو اهتماماتو په اړه څرګند توافق ولري. افغان وزارتونه باید د متحده ایالاتو په مرسته پروژو د کتابونو، اسنادو او هم ساحې، دفترونو، او کارکونکو ته د نامحدوده لاسرسۍ زمینه برابره کړي.

د دې موضوع د اهمیت له امله، سیګار پدې ربع کې د مستقیمې مرستې په هکله د پلټنو او ځانګړو پروژو یوه لړۍ پیل کړې ده. په دې لړۍ کې، افغان حکومت ته د بیارغونې پروژو د لیږد لپاره د متحده ایالاتو د پلان بیاکتنه، د USAID په مرسته د افغان وزارتونو ارزونې، د افغان عامې روغتیا وزارت لخوا د خپل یو مهم پروګرام لپاره د مستقیمه مرستې څخه بودیجه ورکول، د دفاع وزارت لخوا د افغان کورنیو چارو او دفاع وزارتونو ارزونې، د بریښنا کجکي بند پروژې لپاره د USAID مستقیم مرسته، شامل دي.

## امنیت

کمزوری امنیت د بیارغونیزو پروګرامونو پلي کول او څارنه له خطر سره مخ کوي، برابره خبره ده چې د متحده ایالاتو لخوا پلي شي یا د افغان دولت لخوا. قرارداد کونکي یا غیر انتفاعي موسسې باید اورمرو د پروژو پلي کولو لپاره امنیت ولري. افغاني قوانین له دوی څخه غواړي چې د دې اساسي خدمت چمتو کولو لپاره د خصوصي امنیتي شرکتونو په ځای افغان عامه محافظت ځواک وګوماري. د USAID ټاکلو پروژو لپاره د APPF د لګښت په اړه او هم پر بیارغونیزو پروژو باندې د APPF لیږد د مالي او عملیاتي اغیزې معلوملو لپاره د سیګار یوه پلټنه روانه ده.

زه په ځانګړې توګه د پلي کونکو او څارونکو ادارو پر څارنې باندې د متحده ایالاتو د پوځ ویستلو د بالقوه اغیزو په اړه اندیښمن یم. د پوځ ویستنه او افغان امنیتي ځواکونو ته د لیږد روان بهیر همدا اوس پلي کونکو ادارو ته یې د پروژو اغیزمنه اداره ګرانه کړې او څارونکو ادارو لکه سیګار ته یې د پروژو کتنه او تفتیش له خنډ سره مخ کړی دی. د متحده ایالاتو پوځ یوازې هغو سیمو ته امنیت چمتو کوي چې د یو طبي مرکز څخه په هوایي تګ یو ساعت مزل ولري. پدې ربع کې، سیګار د دې امنیتي "حلقې" څخه لرې والي له امله و نشو کولی چې د افغانستان په شمال کې د $72 میلیونه ډالرو په ارزښت د زیربنایي پروژو څخه کتنه وکړي. د زیاتو مرکزونو له تړلو سره به د څارنې په وړاندې دا محدودیت لاهم زیات شي.

یوازې دفتري کارونه او د اسنادو بیاکتنه نشي کولی اغیزمنه څارنه ترسره کړي. مونږ په ساحه کې داسې کسانو ته اړتیا لرو چې پروژې وګوري، "ستړیا په لغته ووهي"، او څیړنې په لاره واچوي. سیګار داسې لارې لټوي چې په مرسته یې وکولی شي په داسې سیمو کې خپله څارنه ترسره کړي چې د متحده ایالاتو پرسونل نشي تلی. مونږ به داهم معاینه کړو چې پلي کونکي اداري څنګه کولی شي له دې ننګونې سره مبارزه وکړي. د سټلایت صنعت پراخول، او د ساحې د کتلو لپاره افغانان یا د دریم هیواد د استوګنو ګومارل احتمالي انتخابونه دي.

په هرصورت، اجرایي څانګه او کانګرس باید د دې خبرې ډاډه کولو لپاره اورمرو سره یو ځای کار وکړي چې په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت د خپل دپلوماتانو، د پروژو مدیران، او څارونکو ادارو ته د امنیت چمتو

کولو لپاره سرچینې لري. دا د راتلونکې لسیزې لپاره ډېر اساسي کار دی. اغېزمنه څارنه هم لکه د افغانستان سیاسي پراختیا او اقتصادي ودې غونډې، یوازې د غښتلي امنیت تر سیوری لاندې شونې ده.

امنیتي اهتمامات چې هر څنګه چمتو شي، او د بیارغونې لپاره مستقیم یا غیرمستقیم مرستې ورکړ شي، زه تاسو ته ډاډ درکوم چې سیګار به د نړۍ په دې ګوټ کې د خپل ملت د بحراني ماموریت څخه د ملاتړ لپاره خپل کار ته ادامه ورکوي او کانګرس ته د عملي، د اعتبار وړ، او په وخت معلومات چمتو کولو له لارې د مالیه ورکونکو امریکایانو ګټې به خوندي کړي.

په درنښت،



جان ایف، سوپکو
د افغانستان بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي پلټونکی

# د منځپانګو جدول



## 1 برخه


### 1 مرسته او لیږد

4 د امنیت لیږد
6 سیاسي او اقتصادي لیږد
9 د مستقیم مرستې زیاتولو په لورې لیږد
10 درې میاشتنی سرټکي: مستقیم مرسته
15 تر ټولو نه کړکیچن پړاو




## 2 برخه


### 17 د څارنې په برخه کې د سیګار فعالیتونه

20 سیګار د فرعي کمیټې په وړاندې افغانستان ته د مستقیم مرستې ورکولو په اړه رسمي وینا کوي
20 سیګار د بشپړې کمیټې په وړاندې افغانستان ته د مستقیم مرستې ورکولو په اړه رسمي وینا کوي
22 سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مرستو خوندي کولو په اړه لیکلې وینا چمتو کوي
23 پلټنې
36 تفتیشات
42 څېړنې
45 درې میاشتنی سرټکي: د Iowa ملي ساتونکی د تیلو غلا په مخه نیولو کې له سیګار سره مرسته کوي
55 ځانګړې پروژې
58 د سیګار بودیجه
58 د سیګار کارکونکي




## 3 برخه


### 61 د بیارغونې تازه خبرونه

63 عمومي کتنه
67 د مرستو وضعیت
81 امنیت
109 حکومتولي
137 اقتصادي او ټولنیزه پراختیا
143 درې میاشتنی سرټکي: د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ په اړه تازه خبرې

# د **منځپانګو** جدول



## 4 برخه


**173 د نورو ادارو څارنه**

176 د څارنې بشپړ شوي فعالیتونه

182 د څارنې روان فعالیتونه


## ضمیمې او پای لیکونه


196 الف ضمیمه: قانوني شرایطو ته د رپوټ متقابل ماخذ

202 ب ضمیمه: د افغانستان د بیارغونې لپاره د متحده ایالاتو مرسته

204 ج ضمیمه: د سیګار لیکلي رپوټونه

208 د ضمیمه: د سیګار تحقیقات او د شکایتونو شمیره

211 هضمیمه: لنډیزونه او مخففات

215 پای لیکونه

”افغانستان د لیږد د درېیو ډېرو مهمو اړخونو په
مدیریت لګیا ده: امنیتي لیږد، سیاسي لیږد، او
اقتصادي لیږد. امریکا به له افغانانو په دې ټولو
درېیو برخو کې خپل ملاتړ ته ادامه ورکړي.“

—د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کیري

سرچینه د بهرنیو چارو وزارت، د اولسمشر کرزي سره کتنه، د 2013 د مارچ 25.

# 1

## مرستې او
# د امنيتي چارو د مسؤليت ليږد



# د مرستو او امنیتي چارو د مسؤلیت لیږد منځپانګې


| | |
|---|---|
| امنیتي لیږد | 4 |
| سیاسي او اقتصادي لیږد | 6 |
| د مستقیمې مرستې زیاتولو په لوري لیږد | 9 |
| دری میاشتنی سرټکي: مستقیمې مرستې | 10 |
| تر ټولو بحراني مرحله | 15 |


**انځور په تیره پاڼه کې**
د بهرنیو چارو وزیر جان کیري او افغان اولسمشر حامد کرزي په هغه
کنفرانس کې خبرې وکړې چې د بهرنیو چارو نوی وزیر کابل ته د 2013
په مارچ کې د سفر په ترڅ کې درلود. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

# د سيګار عمومي کتنه: مرستې او او د افغانستان د ليږد بهير

په افغانستان کې د متحده ايالاتو په مرسته د بيارغونې هڅې اوس يولسم کال ته ورسيدې. او له 2014 کال سره سم به له دغه هيواد سره د مسوليت اخيستنې په تړاو په ځلورو ترينګلو برخو کې ملاتړ وکړي: امنيت، حکومتدارۍ، اقتصادي وده، او د مستقيم مديريت په برخه کې پرمختيا چې لږ تر لږه دې هيواد ته راتلونکې نيمه برخه بهرنۍ مرستې راونغاړي. د دغې تاريخي هڅې برياليتوب په دې پورې تړلی چې:

- د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) وړتياوې چې ورسره د وګړو محافظت وکړي او د افراطيانو د بيا پياوړتيا مخه ونيسي.
- د افغان حکومت ظرفيت او سياسي اراده چې په 2014 کال کې معتبره اولسمشريزې ټاکنې تر سره کړي، په سوله ايزه توګه سياسي واک وليږدوي، اساسي خدمتونه برابر کړي، او د قانون د واک بنسټيز کولو ته کار وکړي.
- د افغان اقتصاد داسې کچه چې د بهرنيو مرستو له راتلونکو راولويده سره سره په پښو ولاړ وي.
- د افغان حکومت پراختيا چې وکولای شي هغه نړيوالې مرستې چې په مستقيمه توګه د دولت بوديجې ته راځي په سمه توګه مديريت کړي او حساب يې ورکړي.

بيارغونيز برياليتوبونه همداشان په يوې سيستماتيکې، زيارکښې او پرمختللې ليدلوري ولاړ دي. سيګار په ټولو ځلورو يادو شويو ساحو کې د څارنې، پلټنې او څيړنې په کار لګيا دی څو هغه مسايل په ګوته کړي چې پلي کونکو ادارو او کانګرس ته يې په وخت پلي کول اړين دي. په دې ربع کې، سيګار د متحده ايالاتو د هغه پلان پلټنه را اخيستې ده چې له مخې به يې بشپړې شوې پروژې افغان حکومت ته سپارل کيږي. پلټنه د پروژې د ليږد بهير ارزوي او د دغو شتو د ساتنې په تړاو د افغان حکومت وړتياوې روښانوي. په دې که به همداشان د پلي کونکو اداراتو هغه ثبت شوي اسناد وڅيړل شي چې د متحده ايالاتو په مرسته د ټولو پروژو او شتو موجودي پکې شويده. په عين حال کې،د ځانګړو پروژو د دفتر له لارې، سيګار له پلي کونکو ادارو د هغه بشپړ لست د چمتوکولو غوښتنه کړيده چې له 2002 کال راهيسې پکې د ټولو بيارغونيزو پروژو نوملړ موجود دی. د دغو پلټنو د يوې برخې په توګه، سيګار همداشان له پلي کونکو ادارو غوښتنه کړيده چې د افغانستان د بيارغونې لپاره پاتې يا د بسپنو لپاره پلان شوې پروژې وپيژني.

له 2002 کال راهيسې، کانګرس شاوخوا 93 مليارد ډالر د افغانستان بيارغونې ته چمتو کړيدي چې د متحده ايالاتو په تاريخ کې دا د يوه واحد هيواد لپاره تر ټولو ستر لګښت بلل کيږي.[1] په دې شميره کې هغه مرستې شاملې ندي چې په 2013 مالي کال کې به د

افغانستان لپاره تر سره شي ځکه چې بهرنيو چارو او USAID په ګډون يې ډيرو ادارو ته لا د ځانګړنې حساب نهايي شوی ندی.

## د امنيتي چارو د مسؤليت ليږد

د يوه ديموکراتيک او منځلاري افغانستان لپاره ډاډمن امنيت حياتي ارزښت لري. د بيارغونې لپاره تر نيمی ډيرې پيسې — 54 مليارد ډالر — د افغانستان د ملي اردو او ملي پوليسو د جوړولو لپاره لګيدلي دي. د افغانستان د ليږد ګډې امنيتي قوماندانۍ (CSTC-A) دغه مرستې د روزنو د چمتوکولو، تجهيزاتو پيرودلو، د اردو او پوليسو د آسانتياو جوړولو، د معاشاتو ورکړې او همداشان د عملياتو او پايښت په برخه کې لګولې دي. (د 3 برخې 81–107 پاڼو ته مراجعه وکړی، هلته د امنيتي ځواکونو د روزنې په تړاو بشپړ توضيحات راغلي دي.)

له 2009 کال راهيسې، سيګار 23 پلټونکې په دې موخه ګمارلي دي چې د ANSF له پرمختياو ليدنه وکړي. پلټونکو د زيربنايي پروژو، لوژستيک ملاتړ، د تجهيزاتو د حساب ورکونې، د پرسونل سيسمتونه، او د عملياتو او پايښت (O&M) قراردادونو په تړاو بيلابيلې ستونزې وموندلې. د سيګار د کار د پايلې په توګه، CSTC-A د ماليه ورکونکو د پيسو د ساتنې په موخه ځينې ګامونه پورته کړيدي چې ورسره پروګرام نور هم اغيزمن شي. د بيلګې په توګه، سيګار په وار وار د ANSF د زيربناوو د پايښت په تړاو د پلانونو نشتوالی برسيره کړيدی. په پايله کې، CSTC-A هغه قرارداد وړاندې کړ چې ورسره نه يواځې O&M چمتو شو بلکه د افغانانو روزنې هم په پام کې ونيول شوې چې له ليږد وروسته هم O&M پر مخ بيول کيدی شي.

د دې کال په سر کې، سيګار د CSTC-A د حساب ورکونې په پروسه کې کمزورتياوې په ګوته کړې چې د افغان اردو د تيلو په ترتيب، رسولو او پيسو ورکولو کې موجودې وې. سيګار د ستونزو د روښانولو لپاره شپږ سپارښتنې درلودې چې CSTC-A په ټوله کې ومنلې. CSTC-A په ځانګړې توګه روښانه کړه چې له افغان دفاع وزارت (MOD) سره به نوي پروسيژرونه پيل کړي چې په هغه کې حسابي مرستې او مياشتنۍ پلټنې شاملې دي- تر څو MOD ته د تيلو د اخيستو په تړاو د مسوليت له ليږد سره سم فساد راکم کړي او لا ډير نظارت ته لارهواره کړي.

سيګار اووه رواني پلټنې، څيړنې او داسې ځانګړې پروژې لري چې د ANSF هغه وړتياوې روښانوي چې د افغان حکومت او خلکو لپاره حياتي امنيت چمتو کوي. په دې ربع کې، سيګار داسې يوه پلټنه درلوده چې د ANSF عمومي ظرفيت پکې ارزول کيده او د شخصي اسنادو اعتبار کتل کيده. افغان حکومت او نړيواله ټولنه دې هوکړې ته سره رسيدلي دي چې ANSF بايد د 2014 تر دسمبر پورې 352,000 تنو ته ورسيږي. او دا به اړينه وي چې دا شمير د څو کلونو لپاره وساتلی شي تر څو القاعده او نور افراطيان د دې موقع ونه مومي چې په افغانستان کې بيا خپلې ځالې پياوړې کړي. نړيوال بانک اټکل کوي چې د دغه ځواک د ساتلو لپاره هر کال 5 مليارد ډالرو ته اړتيا ده.[2] سره له دې سيګار او نورو رپوټ ورکړی چې د ANSF ځواک له ننګونو سره مخ دی. د سيګار پلټونکې به دا په ګوته کړي چې د ANA او ANP د ځواکونو اسناد څومره معتبر او کارنده دي چې له مخې يې د يوه واحد موثريت ته نمرې ورکول کيږي. تر کتنې لاندې نور موضوعات دا دي:



ويلبر، د متحده ايالاتو **د سمندري ځواک د ځانګړيو عملياتو** برخه،د يوه سمندري سرتيري په توګه په هلمند ولايت کې د افغان پوليسو او سرتيرو له نږدې پوستې ليدنه کوي (د DOD انځور)

- **د ANSF د مخدراتو ضد پروګرام ته د هوايي-ځوځښت ملاتړ:** د کوکنارو د کښت کمولو او د مخدراتو د غيرقانوني قاچاق د مخنيوي په برخه کې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې له هڅو سره سره افغانستان اوس هم د نړۍ 90% اپيم توليدوي. د اپيمو توليد د طالبانو او نورو ياغيانو لپاره د عوايدو يوه اصلي سرچينه ګرځيدلې ده. د متحده ايالاتو د مخدراتو ضد ستراتيژي په دې هڅه کې ده چې د مخنيوي عملياتو لپاره هغه مرستې ودروي چې د متحده ايالاتو د هغه هوايي ملاتړ سره تړلې دي چې د متحده ايالاتو او افغان قانون جوړونې له مسولينو ملاتړ کوي. سيګار د نورو تر څنګ د متحده ايالاتو د هغو مرستو ارزونه کوي چې د هغه پايدونکې وړتياو د پراختيا لپاره مرسته کوي چې د ګډو هڅو لپاره د هوايي ملاتړ په موخه تر سره کيږي.
- **ورکې ترميماتي پرزې:** د 2012 کال په سپتمبر کې، د نړيوال امنيت مرستندويه ځواکونو (ISAF) يوې مشورتي ډلې ريوټ ورکړ چې CSTC-A د ANSF د تجهيزاتو د هغو ترميمي پرزو حساب ندی ورکړی چې ارزښت يې 230 ميليونو ته رسيږي او سپارښتنه يې وکړه چې سيګار به د CSTC-A له خوا د ترتيب شويو او چمتو شويو پرزو په اړه ارزونه وکړي. سيګار په ازموينه بوخت دی څو د CSTC-A د شرايطو، پروسيژر،زيرمو، او پرزو د ويش په اړه موندنې لاس ته راوړي. په پلټنه کې به همداشان د CSTC-A داخلي کنټرول هم وارزول شي.
- **د ANP لپاره تيل،پيطرول او روغنيات** پلټنه به همداشان هغه دوه موضوعات وارزوي چې د ANA د تيلو په رسولو کې د مديريت او حساب ورکونې وړتيا سره تړلې دي او په تيرې پلټنې کې روښانه شويده: د تيلو د وړتياو تعينولو او د پيرودلو په برخه کې حساب ورکونه.
- **د ANSF د سواد کچه:** د بيسوادۍ لوړه کچه د افغان پوليسو او اردو د دندو د کيفيت او موثريت مسله تر سيورې لاندې راولي. سيګار د متحده ايالاتو په مرسته د سواد زده کړې هغه درې روزنيز قراردادونه ارزوي چې ارزښت يې 200 ميليونو ته رسي.

- **MOD/MOI د مستقيمې مرستې مديريت:** متحده ايالاتو تر3 ملياردو ډالره ډېره مرسته په دې موخه د دفاع او کورنيو چارو وزارت ته په مستقيمه توګه ورکړېده چې د پوليسو او اردو ملاتړ وشي. دا پيسې به د ټمې سره سم په راتلونکو کلونو کې پاېښت لوړ کړي، د سيګار د ځانګړو پروژو اداره د DOD هغه پروسيژرونه ازموي چې ورسره د مستقيمو مرستو د بسپنو مديريت او حساب ورکونه ارزول کيږي.
- **د ANSF تعميــــــــــراتي اړتياوې:** متحده ايالات د ANSF لپاره په سلګونه پلان شوې او رواني رغونيزې پروژې لري. سيګار به د دغو پروژو لپاره غوښتنې او توجيهات روښانه کړي چې څو مليارد ډالره ارزښت لري او ورسره معلومه کړي چې څومره اړين، د لاسرسي وړ او پايدونکې دي.
- **د ANSF د ودانيو پلټنه:** سيګار د ملي اردو او پوليسو د ودانيو په تړاو خپلو ساحوي موندنو، چمتووالو، رغونو،سمبالولو او ګمارلو ته ادامه ورکوي.

## اقتصادي او سياسي لېږد

متحده ايالاتو شاوخوا 23$ مليارد ډالر په دې موخه برابر کړيدي چې حکومتدارۍ تقويه کړي او په افغانستان کې اقتصادي وده ګړندۍ کړي. د حکومتدارۍ او د قانون ملاتړ پروګرامونو لپاره ډېرى مرسته د USAID د اقتصادي ملاتړ د بسپنې يا (ESF) او د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د مخدراتو د نړيوال کنټرول او قانون (INCLE) له لورې برابريږي. په ټوليز شکل کې د 2013 مالي کال تخصيص ندى شامل (د دې رپوټ د خپريدو تر مهاله وروستۍ شميره په لاس کې نه وه) او د 2014 مالي کال د بوديجې غوښتنه هم پکې نده شامله. په 2013 مالي کال کې، اولسمشر د ESF لپاره د 1.85 مليارډ ډالره او د INCLE لپاره د 600 ميليون ډالرو غوښتنه وکړه. د دغو مرستو وروستنۍ ځانګړنه تر اوسه تر خبرو اترو لاندې ده. اولسمشر د 2014 مالي کال په بوديجه کې تر دې کم وړانديز لري —1.69 مليارد د ESF لپاره او 475 ميليونه د INCLE لپاره.[3]

د بهرنيو چارو وزارت د بوديجې د توجيه په تړاو تاکيد وکړ چې د لېږد په بهير کې "دوامداره پايدونکی ملاتړ"، "په تيرې لسيزې کې د لاس ته راغلو پرمختياو لپاره اساسي رول لري او له افغانانو سره به په يوه باثباته، باسعادته او امن ساحه کې د يوه باثباته، با سعادته او امن هيواد په جوړولو کې مرسته وکړي."[4] د بهرنيو چارو وزارت همداشان روښانه کړه چې دوی د لېږد په موده کې خپل پروګرام د ثبات د عملياتو پر ځای اوږدمهاله هڅو ته "په اقتصادي ودې، کرهنې، روغتيا، معارف، د قانون واکمني، او د حکومتدارۍ په ښه والې کې لګوي."[5]

### حکومتداري

د يوه باثباته او نماينده حکومت په جوړولو کې له افغانانو سره مرسته چې د قانون واکمني په شمول د اساسي خدمتونو د چمتو کولو وړتيا ولري د متحده ايالاتو د بيارغونې په برخه کې اوس هم مهمه موخه بلل کيږي. متحده ايالات يو شمير هغه پروګرامونو ته بسپنه ورکوي چې قضايي ظرفيت لوړ کړي او د افغانستان پارلمان، وزارتونو او ولايتي ادارو کې اداره پياوړې کړي. متحده ايالات همداشان هغه پروګرامونو څخه ملاتړ کوي چې د سولې

او پخلاینې او همداشان د انتخاباتو په تر سره کولو او له فساد سره په مبارزې څرخې.
(د 3 برخې. 135–109 پانې وګورۍ چې د حکومتدارۍ د پیاوړتیا لپاره د پروګرامونو بشپړه تشریح پکې راغلې ده.)

د افغانستان په سیاسي لیږد کې مهمې پیښې به د 2014 اولسمشریز او د 2015 کال پارلماني ټاکنې وي. د انتخاباتو د خرابیدو په صورت کې به د حکومت لاس ته راغلی مشروعیت اغیزمن شي، عامه ملاتړ به زیانمن شي، قومي او توکمیز رقابتونه به زیات شي او اداري موثریت به لږ شي او همدا شان به جګړې سیاسي حل ته د پام وړ خنډ رامنځ ته شي.

افغانستان د لوړ اجرايي توان موندلو په برخه کې له ډیرو ستونزو سره مخ دی لکه د عملیاتو د مصارفو او عوایدو تر منځ د ستر درز موجودیت، په وزارتونو کې د لایقه کارکونکو جذبولو او ساتلو کې ستونزې، د انساني او مالي سرمایو تیښته، د بودیجې د اجرا ټیټه کچه، د قاضیانو او نورو مامورینو هدفي وژنه، ناکافي پروسیژرونه او داخلي کنترول د فساد او رشوت لوړه کچه او د لوړپوړیو او رابطه لرونکو مجرمینو په تعقیب او سزا ورکولو کې د مسولینو نه لیوالتیا. دا ستونزې افغانستان ته محدودې ندي خو په یوه خوار، منزوي او په مرستو ولاړ داسې هیواد کې چې په لسیزو له جګړو ربړیدلی دی د یوه لا موثر او مثمرې حکومتدارۍ په برخه کې ستر خنډ بلل کیږي.

افغانستان ښايي امنیت او ثبات ته هغه مهال چې خلک په فساد او ناکاره حکومت خپل اعتماد او باور له لاسه ورکړي ستونزمن وي. سیګار 13 هغه پلټنې خپرې کړیدي چې د قانون واکمنۍ، د مدني خدماتو پراختیا، ولایتي ظرفیت، ټاکنیز ملاتړ، او فساد په تړاو د متحده ایالاتو له تړینګلو پروګرامونو کتنه شویده. دغه کار جدي ستونزې راولاړې کړیدي، لکه د متحده ایالاتو د فساد ضد ستراتیژۍ نه شتون. دې کار سیګار وهڅاوه چې په هغه برخه کې پلټنه وکړي چې د بهرنیو چارو وزارت هغه لومړنی پروګرام پکې وارزول شي چې د قضايي سکتور کارکونکو ته پکې روزنه ورکول کیږي او د افغانستان قضايي سیستم ټولیز ظرفیت لوړوي. د سیګار د ځانګړیو پروژو دفتر اوس د متحده ایالاتو د فساد ضد ستراتیژۍ تر څیړنې لاندې نیسي.

## اقتصادي وده

سره له دې چې له 2002 کال راهیسې افغان اقتصاد د پام وړ وده کړې، خو هیواد تر اوسه هم بیوزلی دی. د سړی سر کلنی عاید 543 ډالره دی چې تر دری چنده هم زیات شوی دی،خو د نړۍ په ټیټ کتار کې راځي.[6] دغه تړینګلې لاس ته راوړنې له دوو لوریو تر تهدید لاندې دي، د بهرنیو د وتلو او له هغو سره د هغو د لګښتونو ټیټیدل او د بسپنه ورکونکو د مرستو د تمې وړ کمی.

د لیږد په بهیر کې، د بهرنیو چارو وزارت او USAID روښانه کړیده چې دوی به خپلې سرچینې د خصوصي پانګونې په برخه کې د منظم چاپېریال په وده کې متمرکزې کړي، له سیمه ایزو اقتصادونو سره به اړیکې تقویه کړي، له کرهنې به ملاتړ وکړي او په روغتیا او معارف کې به لاسته راوړنې خوندي کړي.[7] تر 2014 کال وروسته د ښځو او ماشومانو لپاره د مرستو د پراختیا په تړاو هم د بهرنیو چارو وزارت خپله ژمنه تکرار کړیده. (د 3 برخې، 171–137 د ټولنیزې او اقتصادي ودې په تړاو د ټولو پروګرامونو بشپړه توضیح شویده.)



**يو افغان بزګر** په هلمند ولايت کې خپل تراکتور باندی کارکوي. د اقتصادي ودې لپاره مهمې موخې د لارو او فارمونو موثريت لوړول دي. (د متحده ايالاتو د سمندري ځواکونو تصوير)

د اقتصادي پراختيايي پروژو په رابطه سيګار 21 څيړونکې او پلټونکې رپوټونه چمتو کړيدي. دغه رپوټ ګڼې ستونزې په ګوته کړيدي —ناکافي پلان جوړونه، د کيفيت د تامين ټيټه کچه، د افغان ظرفيت ټيټوالی او د پوښتنې وړ پايښت— چې د انرژۍ، بانکدارۍ او کرهنيز سکتور په برخه کې د متحده ايالاتو په مرسته په رغونيز پروګرام کې شامل وو. د بيلګې په توګه، د رپوټ د ورکړې پر مهال، سيګار د متحده ايالاتو د هغو هڅو د ارزونې په موخه ارزونه وکړه چې د افغان ملي انرژۍ د کارونې په برخه کې د عوايدو لوړولو او د انرژۍ د خپرولو د ضايعاتو د کمولو په موخه وې. پلټنې ومونده چې د ځينو برياو تر څنګ، د افغانستان بريښنا تر اوسه له سبسيډي پرته خپل بيلونه نشي اجرا کولای.

سيګار دوه روانې پلټنې په دې اړه کوي چې د اقتصادي ودې د لويو پروګرامونو او ګڼو نورو هغو بسپنو ارزونه وکړي چې متحده ايالاتو په مرسته تر سره کيږي. په دې ربع کې، سيګار د متحده ايالاتو د هغو هڅو په اړه چې د افغانستان د اوبو سکتور پراخول غواړي يوه وسيعه پلټنه وکړه چې د متحده ايالاتو د بيارغونيزې ستراتيژۍ يوه کليدي موخه ده. متحده ايالات په پلان کې لري د ليږد په بهير کې د اوبو سکتور ته پراختيا ورکړي. پلټنه به په ګوته کړي که چيرته يې د افغانستان د اوبو له بين الاداره اي ستراتيژۍ سره همغږي ومونډل شوه او دا چې ايا د پايښت پلانونه سره همغږي شويدي او که نه. نورې پلټنې او څارنې داسې دي:

- **کرهنيزه پراختيـــــا:** د افغانستان په سويل کې د USAID په مرسته پلې کيدونکو پروژو څخه موخه دا ده چې په سيمه کې بې ثباتي راکمه کړي او کرهنيز کارونه او عوايد زياد کړي. سيګار د هغو ادعاګانو پلټنه کوي چې پکې د USAID پلې کونکي ملګري په دې تورن دي چې له سيمه ايزو دولتي مسولينو سره همغږي کمزوري وه او له مناسبې توجيه پرته يې وسايل اخيستي او توضيع کړيدي.

- **د اوبو برېښنا خدمات:** د کجکي بند د اوبو او برېښنا د نښلولو وړتيا په لويه پيمانه د افغانستان اقتصادي وده او پايدونکې او د اعتماد وړ انرژي چمتو کوي. خو هغه ستر او پرمختللی ټوربين چې د غره په لوړې په 2008 کال کې ورسيده تر اوسه ندی نصب شوې. سيګار په کجکي بند په دې موخه پلټنه پيلوي چې تر دې دمه د شويو کارونو کيفيت وارزوي چې دا پروژه سويلي سيمو ته د برېښنا په چمتو کولو کې د حياتي ارزښت درلودونکې ده.

## ټولنيزه وده

USAID روغتيايي پرمختګونو ته په اشارې سره دا په افغان بيارغونه کې يوه ستره برياليۍ لاس ته راوړنه بولي، چې له 2002 کال راهيسې ورسره د ژوند تمه 20 زياته شويده. په دې ربع کې د سيګار د 160,000 ډالرو هغې پلټنې چې د کابل ولايت کلينکونو باندې تر سره شوې دا پيغام لا پياوړی کوي. دوی وموندله چې دغه اسانتياوې د افغان حکومت له لورې په مناسبه توګه پايدونکې دي او کارول کيږي. په داسې حال کې چې يوې پلټنې وموندل چې د 18.5 ميليون ډالرو په ارزښت د دوو لويو روغتونونو لپاره د USAID پلان تصويب شوی دی- پرته له دې چې د عامې روغتيا له افغان وزارت سره همغږي وشي او له عملياتو او پايښت څخه يې ډاډ ترلاسه شي. د روغتون د پايښت او عملياتو لګښتونه به له هغو آسانتياو چې ځای يې نيسي د پام وړ لوړ وي، خو نه USAID او نه هم افغان حکومت د عملياتي لګښتونو د ورکولو خبره منلې ده. سيګار همداشان د کارکونکو جدی کمی په ګوته کړ. پلټنه همداشان تاکيد کوي چې د متحده ايالاتو د نه پايدونکو زيربنايي پروژو په اړه سيګار انديښنه لري.

## زياتيدونکو مستقيمو مرستو ته ليږد

له 2010 کال مخکې، متحده ايالاتو خپله ډيری مرسته افغانستان ته د قراردادونو، مرستو او همغږو موافقو په برخې د افغانستان له بوديجې او د افغان مسولينو له لاسرسي لرې تر سره کول. له 2010 راهيسې، متحده ايالاتو او نورو مرستندويه هيوادونو هوکړه وکړه چې د حکومت څخه حکومت ته مرسته يا مستقيمه بسپنه زياته کړي— تر څو د حکومت اداري د دې ظرفيت ومومي چې مرستې جذب او خدمات ارايه کړي. په داسې حال کې چې، نړيوالې مرستندويې ټولنې د دې په بدل کې په افغان حکومت غږ کوي چې کورني فساد سره مبارزه وکړي او دا روښانه کړي چې دوی د مرستو د راتلونکي مصرف وړتيا لري. او مفصل کاري پروګرامونه وړاندې کړي چې پکې د پراختيايي مرستو د لګولو ډګر په ګوته شوی وي.[8] د نورو جزيياتو لپاره د ربع جزييات په لاندنۍ پاڼې کې وګورئ.

د 2012 په جولای کې، په ټوکيو کې د مرستندويه هيوادونو په کنفرانس کې چې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې ترمنځ د ګډې حساب ورکونې چتر چمتو شو چې پکې د پرمختيا لومړيتوبونه روښانه شويدي. نړيوالې ټولنې ژمنه وکړه چې تر 16 مليارد ډالرو به ډيره مرسته تر 2015 کال پورې چمتو کړي. مرستندويانو همداشان د مرستو د اغيزمنتوب د تقويې په تړاو خپله ژمنه څرګنده کړه چې ورسره به افغان حکومت ته مستقيمې مرستې زياتې شي. د ټوکيو کنفرانس تر چتر لاندې، افغان حکومت ومنله چې په پنځو پرمختيايي برخو کې

# مستقیمه مرسته

مستقیمې مرستې په اصل کې هغه مرستې دي چې د یوه هیواد لپاره د هغو د بودیجې له لارې ورکول کیږي چې په دې کې نړیوالې مرستې او د یوه واحد هیواد مرستې د یوه دوه اړخیزه قرارداد په بڼه شاملې دي. متحده ایالات په دواړه لارو پیسې چمتو کوي.

## څوملته خیریه صندوقونه

متحده ایالات اوسمهال خپلې ډیرې مرستې افغانستان ته دوه لوی څوملته خیریه صندوقونو له لارې چمتو کوي: د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق یا (ARTF) چې د نړیوال بانک له خوا یې مدیریت کیږي او د افغانستان د نظم او قانون لپاره خیریه صندوق یا (LOTFA)، چې د ملګرو ملتونو د انکشافي پروګرام یا (UNDP) له لورې یې مدیریت کیږي. د ARTF او LOTFA په اړه د سیګار پلټنو د افغان حکومت د هغه توانمندۍ په اړه سوالونه راولاړ کړیدي چې د دې مرستندویه پروژو د نظارت او حساب ورکونې په برخه کې پکار دي.

## د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق

ARTF د مستقیمې نړیوالې مرستې په تړاو لومړنی مرسته کونکی میکانیزم دی چې د افغان عملیاتي او انکشافي بودیجې لپاره برابر شویدی. افغان حکومت دغه مرستې په دوامداره لګښتونو لکه د معاشاتو، عملیاتو او پایښت په برخه کې او همداشان د ملي انکشافي پروګرامونو په برخه کې لګوي. له 2002 کال څخه د 2013 کال د مارچ تر 20 پورې د نړیوال بانک په وینا 33 مرسته کونکو شاوخوا 6.94 ملیارد ډالره ژمنه کړې وه چې له هغې جملې نږدې 6.18 ملیارد ډالر ARTF ته ورکړل شول. متحده ایالات ARTF ته ترټولو ستر واحد مرسته کونکی دی چې 1.74 ملیارد یې چې دغه صندوق ته د ټولیزې مرستې 28% جوړوي ورکړي دي.[9]

USAID د اقتصادي ملاتړ له مرستو یا ESF څخه ARTF ته پیسې ورکوي. د 2011 کال د جولای په هغه پلټنه کې چې سیګار د ARTF په اړه ترسره کړه وموندل شوه چې سره له دې چې افغان وزارتونو د دولتي مالي مدیریت په برخه کې ورتیا موندلې ده،افغان حکومت تر اوسه هم د هغه ملکي کارکونکو په ساتنې او روزنې ندی توانیدلی چې د ARTF بسپنو ته حساب او مدیریت برابرکړي.[10]

## د نظم او قانون خیریه صندوق

LOTFA له افغان ملي پولیسو ملاتړ کوي چې په لومړنی توګه د مرستو له لارې ورته معاشات برابروي. له 2002 کال راهیسې، مرسته کونکو له LOTFA سره شاوخوا 2.65 ملیارد ډالره ژمنه وکړه چې نږدې 2.57 ملیارد ډالره یې ورکړل شویدي. په دې کې متحده ایالاتو نږدې 970 میلیون ډالر ورکړي چې د LOTFA د مجموعي مرستو 38% جوړوي. په راتلونکو دوو کلونو کې، DOD تمه لري چې 567 میلیون ډالر اضافي مرسته هم وکړي چې د متحده ایالاتو مجموعي ونډه به په 2014 کال کې 1.25 ته لوړه کړي.[11] DOD د افغان امنیتي ځواکونو د صندوق ASFF له لارې له LOTFA ملاتړ کوي، چې کانګرس په 2005 کال کې د روزنو، تجهیز او پایښت هغو پروګرامونو ته رامنځ ته کړ چې افغان پولیسو او سرتیرو ته ځانګړې شوې و. د سیګار هغه پلټنه چې د MOI د پرسونل سیستم په اړه وشوه دې پایلې ته ورسیده چې د MOI د پیسو د ورکړې سیستم ډاډ کم دی او

1.1 شکل

**په 2002–2011 کلونو کې د متحده ایالاتو مستقیمې مرستې** (په میلیونه ډالرو)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې دي.

[a] په 2012 مالي کال کې د USAID د مستقیمو مرستو زیاته برخه د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې ندي مقید شوې.

سرچینې: د سیګار 4/18/2013 او 4/11/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځوابونه.

يواځې د ANP هغه پرسونل ته ورکول کيږي چې حاضر دي او د LOTFA باقي مرستې د ANP په نورو اړينو لګښتونو لګول کيږي. له دې ور هاخوا، د سيګار پلټونکو موندلې چې UNDP دا نه مني چې د LOTFA مرستې يواځې د ANP په اړينو لګښتونو لګول شويدي.[12]

## دوه اړخيزه همکاري

USAID او DOD همداشان ځانګړيو وزارتونو ته د حکومت څخه حکومت ته مستقيمې مرستې چمتو کوي. له 2004–2012 کال پورې USAID له ESF څخه 13 افغان وزارتونو ته 452 ميلونه ډالر مرسته برابره کړيده.

1.1 شکل ARTF ته د USAID مرسته د USAID له دوه اړخيزو مرستو سره پرتله کوي. 2009 کال څخه تر 2012 کال پورې DOD د LOTFA مرستو په شمول 3.38 مليارد ډالره له ASFF څخه افغان حکومت ته د مستقيمو مرستو په بڼه ورکړيدي. 1.2 شکل د DOD په واسطه په برابرو شويو مرستو کې زياتوالی په ګوته کوي.

د 2011 او 2013 کال ترمنځ، USAID له دوو محاسباتي ادارو سره قرارداد لاسليک کړ څو د مستقيمو مرستو د مديريت په تړاو د افغان ادارو ظرفيت وارزوي. دغو ادارو د 13 افغان وزارتونو ارزونې بشپړې کړې. د افغان حکومت د اداري او محاسباتي ظرفيت په اړه د سيګار د انديښنو له کبله، د سيګار پلټنه USAID او محاسباتي شرکتونو تر منځ قرارداد څيړي، د شرکتونو ارزونې خلاصه کوي، او د مستقيمو مرستو د چمتو کولو په تړاو د ارزونو کارولو ته د USAID پلانونه ارزوي. سيګار همداشان د افغانستان د عامې روغتيا هغه پروګرام باندې نظارت کوي چې د متحده

ایالاتو له خوا يې مرسته شوې وه تر څو اساسي روغتيايی خدمات چمتو کړي او د USAID هغه پلانونه چې د کجکي بند د انرژی پروژې ته د مرستې لپاره له افغان بريښنا شرکت سره په ګډه پلان جوړوي.

DOD په مستقيمه توګه له افغان دفاع وزارت او کورنيو چارو وزارت او ASFF سره مرسته کوي. د افغانستان د ليږد د بهير ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) چې د افغان امنيتي ځواکونو د پراختيا مسولیت لري د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو ته مستقيمه مرسته ارزوي. د DOD لاربښونکي شرطونه دا دي چې مستقيمې مرستې به د معاشاتو په ورکړې، د خوړو برابرولو، اجناسو، او خدماتو په برخه کې ولګيږي او د افغان پوليسو او اردو د ملاتړ لپاره وړو ودانيزو چارو ته مرسته وکړي. په 2009 کال کې، DOD د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو بوديجې ته مستقيمې پايدونکې مرستې چمتو کړې. له 2009 کال راهيسې، DOD تر 2.32 مليارد ډالرو ډيره مرسته له دفاع وزارت سره وکړه او نږدې 1.05 مليارد ډالر يې له کورنيو چارو وزارت سره وکړه.[13] برسيره پر دې، 1.95 مليارد ډالر مستقيمه مرسته د دفاع او کورنيو چارو وزارت لپاره د ASFF له لارې په 2013 کال کې پلان شوې وه. د دې کال په سر کې، CSTC-A هغه پلانونه تر بيا کتنې لاندې ونيول چې د دفاع او کورنيو چارو وزارت ته يې مستقيمې مرستې په دې موخه برابرولې چې د سيګار د پلټنې پر بنياد تيل پرې اخيستل کيدل. په دې ربع کې، سيګار يوه ځانګړې پروژه د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د هغو وړتياوو د ارزونې په برخه کې وکړه چې د مستقيمو مرستو د حساب او مديريت لپاره بايد ترسره شي.

1.2 شکل

**د افغان حکومت سره د DOD مستقيمې مرستې** (په ميليون ډالرو)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوې؛ SY=افغان لمريز کال؛ FY=افغان مالي کال؛ په "نورو" کې زياتوالی د غيرمستقيمه مرستو څخه مستقيمو مرستو ته د پيسو ليږد ته اشاره کوي.

سرچينه: د سيګار 4/16/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.



**د افغانستان بيلګه**, د پنجشير غښتلې، کليواله او کرهنيزه دره. ( د ملګرو ملتونو تصوير)

به کاري پلان چمتوکړي او د ناستو د موخو په تړاو به د حکومتدارۍ او پراختيا برخو لپاره بنسټونه رامنځ ته کړي. د دې رپوټ ورکونې پر مهال، د ټوکيو د حساب ورکونې د ګډ چتر په وضعيت د سيګار غوښتنې ومونډله چې افغان حکومت او نړيوالې ټولنې د کاري پلان د ودې په برخه کې ځينې پرمختګونه کړيدي خو د ځانګړيو بنسټونو په اړه تر اوسه هوکړې ته ندي رسيدلي. (د دې ربع د مهمو پيښو په اړه په 143 پاڼې کې د چوکاټ د عملي کيدو په اړه تازه خبرونه کتلای شئ.)

متحده ايالاتو افغان حکومت او ايتلافي ملګرو ته په ډاګه کړيده چې دوی نيت لري چې د افغانستان لپاره د پاييدونکو بيارغونيزو مرستو غوښتنه د هغې لسيزې لپاره وکړي چې افغان حکومت ورته د "بدلون لسيزه" وايي او په 2025 کال کې بشپړيږي. نړيواله ټولنه په ټوله کې په دې باور ده چې افغان حکومت به په دې ټوله موده کې په مرستو متکي پاتې شي. د بيلګې په توګه نړيوال بانک اټکل کوي چې افغانستان به د خپلې بوديجې دننه هر کال 7 مليارد ډالرو ته د بدلون د لسيزې په ټوله موده کې اړتيا ولري چې بيارغونيزې پروژې پرې روانې وساتلای شي، د امنيتي ځواکونو لپاره پيسې برابرې کړي او هغه لوی مالي درز تر پوښښ لاندې راولي چې د افغان حکومت د داخلي عوايدو او روانو عملياتي لګښتونو تر منځ شتون لري.[14] کانګرس او اداره به دا روښانه کړي چې دا د دې درز په ډکولو کې څومره موثر دی. دې شميرې ته په کتو متحده ايالات په پام کې لري چې په دې دليلونو د بوديجې دننه مرستې زياتې کړي:

- د قراردادي لګښتونو له کميدو سره به مرستې لا اغيزمنې شي او له افغان حکومت سره به همغږي زياته کړي.
- افغان حکومت به د لومړيتوبونو د تعقيب وړتيا ومومي، په حکومت به عامه اعتماد زيات شي، او د حکومتي اداراتو وړتياوې به د هغو د وظايفو په ترسره کولو کې ښې شي.

د بهرنيو چارو وزارت د 2014 کال د بوديجې د توجيه په برخه کې وويل، "مونږ په جدي توګه د پروګرامونو د لګښتونو کمولو ته له دې لارې کار کوو چې له سوداګريزو قراردادي پلې کونکو يې نړيوالو ادارو او موسسو ته وليږدوو، او په افغان مسلکي کسانو به تکيه زياته شي".[15] په نړيواله بنه ګمارل شوې هغه افغان اداره چې د فساد ضد ارزونکي او پلټونکې کميټه يا (MEC) نوميږي رپوټ ورکوي چې "د [افغان حکومت] له لوري لاس ته راغلي شميرې ښيي چې د نړيوالو مرستو 80% [له 2002] د مرستدويانو او د هغو پلې کونکو ملګرو له لوري لګيدلي دي چې افغان حکومت سره ډيره کمه سلا پرې شويده".[16] MEC وايي افغان حکومت د دغو مرستو او پروژو له دوام سره لږه ليوالتيا لري. MEC د 2010 په مارچ کې د اولسمشري فرمان پر بنسټ د دې لپاره رامنځ ته شو چې د فسا ضد سپارښتنو ته وده ورکړي او په افغانستان کې له فساد سره د مبارزې حالت وارزوي.

سيګار د مستقيمو مرستو ګټې مني. خو په دې ربع کې، تر کانګرس مخکې په دوو بلنو کې، ځانګړي عمومي پلټونکې درى جدي انديښنې په ګوته کړې چې د مستقيمو مرستو سره تړلي دي: او دا دي:

- د افغان حکومت د ظرفيت نه شتون چې د مرستندويانو بسپنو مديريت او حساب وکړي.
- د ژور اداري فساد اغيزې
- د اوږدمهاله، بشپړې څارنې اړتيا

## د افغان ظرفيتونو نه شتون

نړيوال بانک په نړيوالو مرستندويانو غږ کړی چې د بودیجې دننه مرستې زياتې کړي او اغيزې يې تقويه کړي، خو دوی همداشان خبرداری ورکوي چې افغان حکومت "افغانستان اړ دی چې په بوديجه کې د مرستندويو هيوادونو د اضافي پيسو لپاره د ظرفيتونو شديد محدوديت او ستونزې حل کړي".[17] MEC د 2013 په مارچ کې رپوټ ورکړ "د افغان حکومت بنسټونه په ځانګړې توګه د عامه ګټو وزارت په څير هغه اداري چې به زيربنايي پروژو کې شاملې دي، د پروژو د څارنو لپاره د تخنيکي او اداري ظرفيتونو نه شتون دی چې د کارونو د نقصان سبب کيږي".[18]

د بوديجې اجرا هم له ستونزو سره مخ دی. د نړيوال بانک په وينا، له 2007–2008 کال راهيسې هر کال تر شاوخوا 1 مليارد ډالرو د اساسي پراختيايي بوديجې په برخه کې د لګښت وړتيا نلري. د رغونيزو او ظرفيتي مسايلو په اجرايي برخه کې بانکونه شامل بلل کيږي. "په راتلونکو څو کلونو کې" به د بانک په وينا "د حکومت او مرستندويانو ګډو هڅو ته د دې لپاره اړتيا ده چې د انکشافي بوديجې په برخه کې د حکومت ظرفيتونه لوړ کړي".[19]

د افغانستان د بیارغونې خیریه صندوق یا (ARTF) او د افغانستان د نظم او قانون خیریه صندوق یا (LOTFA) لپاره د سیګار پلټنو همداشان د بسپنو د حساب ورکونې په تړاو د افغان حکومت پر وړتیاوو شک ښودلی دی. د ARTF د 2011 کال د جولای په ارزونو کې سیګار وموندله چې سره له دې چې د مالي مدیریت په برخه کې د افغان وزارتونو ظرفیت اوچت شوی دی، خو بیا هم د 2011 د مرستو په مدیریت او حساب ورکونې کې افغان حکومت د ملکي کارکونکو په روزنه او ساتنه کې له ستونزو سره مخ دی. د MOI شخصي سیستمونو په تړاو د سیګار پلټنو وموندله چې د پیسو د ورکړې سیستم په اړه ډاډ کم دی چې یواځې د ANP هغه پرسونل چې عملاً کار کوي ترې ګټه پورته کوی شي او د LOTFA مرستې یواځې د ANP په اړینو لګښتونو لګیږي.

په داسې حال کې چې متحده ایالات له افغانستان سره خپلې مستقیمې مرستې زیاتوي، د پیسو په لګښت او حساب ورکونې کې د افغان حکومت ظرفیت یوه جدي مساله ګڼل کیږي.

## اداري فساد

سره له دې چې افغان حکومت له فساد سره په مبارزه کې ژمنه کړې چې له کورني فاسد سره به مبارزه کوي خو تر اوسه هم د فاسدو مسولینو په تعقیب کې علاقه ډیره نده؛ په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې ټینګې اړیکې لري. MEC په خپل وروستي رپوټ کې روښانه کړه چې ځینې دولتي اداراتو- لکه د کانونو او پترولیم او مالیې وزارتونو د کمیټې د سپارښتنو په پلې کولو کې پرمختیا موندلې او د فساد سره د مبارزې لپاره یې بنسټونه پیژندلي دي. سره له دې د MEC په وینا قضایي سکتور ورته ګامونه ندي پورته کړي او روښانه کړې یې ده چې لویه څارنوالي د فساد سره د مبارزې لپاره اړین ګامونه ندي اخیستې.[20]

## نظارت

متحده ایالات او نور مرستندویان باید داسې میکانیزمونه په کار واچوي چې مستقیمې مرستې له فساده خوندي وساتي او په دغو مرستو د قوي نظارت مسله ډاډمنه کړي. پلټې کونکې اداري د ضیاع، تقلب او ناوړه کارونې په وړاندې د دفاع په لومړۍ کرښې کې واقع دي. دوی باید د نظارت لپاره په قوي شرایطو دوه اړخیزه واضح نظارت ولري. له دې سره سم، په هغه افغان وزارتونو چې تعین شوي پایلې لاس ته نه راوړي د مستقیمو مرستو په برخه کې شرایط وضع شي. خو ورسره به د متحده ایالاتو د مستقیمو مرستو په درشل کې د پروژو کارکونکو، دفترونو، ساحو، کتابونو او اسنادو ته خپلواک لاسرسی ورکول کیږي. فدرالي اداري لا له مخکې تر بخښنې مخکې خطرونو ارزولو، د تسلیمیدونکو پلټنه او رپوټ ورکول او اسنادو ته د متحده ایالاتو د لاسرسي په برخه کې ځینې پالیسۍ په پام کې نیولې دي، خو GAO موندلې ده چې یاد شوي ګامونه تل په پام کې نه نیول کیږي او که نیول شوي وي نو په دوامداره توګه نه تعقیبیږي.[21]

سیګار ګڼې رواني پلټنې او ځانګړې پروژې لري چې افغان حکومت ته د مستقیمو مرستو په برخه کې کار کوي. سیګار په دې ربع کې درې پلټنې پیل کړیدي:

- **د لیږد پلانول:** سیګار د متحده ایالاتو هغه پلان څاري چې غواړي افغان حکومت ته بشپړې شوې پروژې لیږد کړي. پلټنه به د پروژې د لیږد پروسه وارزوي او د دغو شتو د ساتلو په تړاو به د افغان حکومت له وړتیاوو نظارت وکړي. په دې کې به هغه کچه هم

تعينه شي چې پلې کونکو ادارو د متحده ايالاتو په مرسته پروژو او شتو ته د يوه جامع موجودي په بنه ثبت او بشپړ کړيدي.

- **د وزارتونو ارزوني:** په 2011 کال کې USAID د حساب ورکونې له اداري سره په دې قرارداد وکړ چې افغان حکومتونه د ظرفيت له پلوه وارزوي چې د مستقيمو مرستو حساب ورکولای شي که نه. USAID په خپلو تړونونو کې يادونه کوي چې دوی له معقول ډاډ پرته نشي کولای له حکومته حکومت ته په مستقيمه توګه بسپنه ورکړي تر هغه چې مربوطه وزارتونه د متحده ايالاتو بسپنو ته پوره حساب ورکړي. سيګار دغو ارزونو ته د ماليه ورکونکو د پيسو د محافظې په برخه کې د يوه ښه ګام په سترګه ګوري. سيګار د USAID د هغو قراردادونو ارزونې ته پلټنې په لاره اچوي چې له حساب ورکونکو ادارو سره يې کړيدي او د دغو ادارو موندنې خلاصه کوي او د ارزونو کارونې ته د USAID هوډ روښانوي.
- **د عامې روغتيا وزارت:** په دې ربع کې سيګار په افغانستان کې د USAID هغه مرستې د لومړنې رپوټ په بڼه وړاندې کړيدي چې د روغتيا په برخه کې تر سره شويدي. دوهم رپوټ به د دې کال په وروستيو کې خپور شي؛ د عامې روغتيا وزارت يوه مخکښ پروګرام ته پکې مستقيمې مرستې ارزول کيږي.

د سيګار د ځانګړو پروژو اداره له مستقيمو مرستو سره دوه بياکتنې په لاره اچوي. په لومړي کې به د دفاع او کورنيو چارو وزارت هغه وړتياوې وارزول شي چې د هغو مستقيمو تر لاسه شويو مرستو حساب ورکړي چې د ANSF معاشاتو، تيلو او يونيفورم ته ځانګړي شويدي. دوهم به يې د USAID د هغه پلان ارزونه وي چې د مستقيمې مرستې په توګه به 80-60 ميليونه ډالر په دې موخه ورکړل شي چې په کجکي بند کې توربين نصب کړي.

## ترټولو ترينګلې مرحله

حکومت د 2014 کال د مالي بوديجې د توجيه لپاره روښانه کړه چې راتلونکی کال ”به په افغانستان کې زمونږ د حضور تر ټولو ترينګلی کال وي“.[22] د مارچ په مياشت کې افغانستان ته په خپل سفر کې د بهرنيو چارو وزير جان کيري دې ټکي ته اشاره وکړه ”راتلونکی کال به په افغان معاصر تاريخ کې يو تر ټولو مهم کال وي“.[23] ښاغلي کيري تکرار کړه چې له افغان حکومت سره به د متحده ايالاتو مرستې د امنيت، سياسي او اقتصادي ليږد په برخه کې په مخه وي.

د ټولو بيارغونيزو هڅو بريا په لويه کچه د ليږد له څرنګوالې سره تړلې ده. سيګار نيت لري چې ډاډ لاس ته راشي چې کانګرس او پلې کونکې اداري د بيارغونيزو هڅو په اړه پوره معلومات لري او د متحده ايالاتو د مرستو د ساتنې لپاره اړين معلومات په لاس کې لري چې د ماليه ورکونکو پيسې په سمه لاره لګيږي.

”د متحده ایالاتو رسمي چارواکي باید د بیارغونې
په هره برخه کې سیستماتیکې ستونزې په پام
کې ونیسي — ناکافي پلان جوړونه، د کیفیت
کمزوری ضمانت، کمزوری امنیت، مشکوکه
پایښت، او هر اړخیزه اداري فساد.“

—ځانګړی عمومي پلټونکی جان ایف. سوپکو

سرچینه: جان ایف. سوپکو، د څارنې او دولتي اصلاحاتو په اړه د سنا د کمیټې په وړاندې څرګندونې، د 2013 کال د اپریل 10.

# 2 د څارنې په برخه کې د سیګار فعالیتونه



# د سیګار د ځارنې مینځپانګې


| | |
|---|---|
| سیګار فرعي کمیټو ته د افغانستان سره د مستقیمې مرستې په اړه ګواهي ورکوي | 20 |
| سیګار بشپړو کمیټو ته د افغانستان سره د بهرنیو مرستو په اړه ګواهي ورکوي | 20 |
| سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مرستو خوندي ساتلو په اړه لیکلې څرګندونې کوي | 22 |
| پلټنې | 23 |
| تفتیشات | 36 |
| څیړنې | 42 |
| درې میاشتنی مهمې خبرې: د Iowa ملي ساتونکي سړي د سیګار سره مرسته کوي ترڅو د تیلو له غلا څخه مخنیوی وکړي | 45 |
| ځانګړې پروژې | 55 |
| د سیګار بودیجه | 58 |
| د سیګار کار کونکي | 58 |


**تصویر په مخکینی پاڼه کې**

په کابل کې د مخابراتو پایې د "ټلویزیون غره" د پاسه لګول شوي دي. (د ملګرو ملتونو انځور)

# د خارنې په برخه کې د سیګار فعالیتونه

پدې ربع کې، سیګار 10 لیکلي محصولات خپور کړ تر څو د متحده ایالاتو د بیارغونیزو هڅو په څلورو اساسي برخو کې: امنیت، حکومتولي، اقتصادي پراختیا، او د بهرنیو مرستو سپارنه، له متحده ایالاتو سره مرسته وکړي تر څو د خپل پروګرام مدیریت پیاوړی، اغیزمنتیا زیاته او د پیسو له ضایع کیدو، غلا او درغلیو څخه مخنیوی وکړي. ځانګړی عمومي پلټونکی جان ایف. سوپکو افغانستان ته د مستقیمو مرستو د خطرونو په اړه د کانګرس په دوو ناستو کې څرګندونه وکړه. همدارنګه سوپکو د پیسو له ضایع کیدو څخه مخنیوی کول، د موثریت زیاتول، او د پیسو خوندي ساتلو لپاره یوه وینا ثبته کړه تر څو د سنا د تخصیصاتو کمیټې ته یې وړاندې کړي.

د رپوټ پدې موده کې، د سیګار پلټنې او تفتیشات د نیمګړي پلان جوړونې، د قرارداد نیمګړی پلي کول، او د پایښت نه درلودلو په شمول ځینې مسایل په ګوته کړل. یوې پلټنې داسې نتیجه ګیري وکړه چې د پلان جوړولو نشتون او د قرارداد کمزوری مدیریت د دې لامل شو چې د افغانستان د ملي بریښنا د سوداګریز کولو لپاره د متحده ایالاتو ځواکونه-افغانستان (USFOR-A) او د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID) هڅې زیانمنې کړي او د متحده ایالاتو د پیسو ضایع کیدو لامل شي. د دویمې پلټنې په رپوټ کې وموندل شو چې د USAID په مرسته جوړ شوي دوه نوي روغتونونه پایښت نلري او په ځینو مهمو طبي برخو کې له کموالي سره مخ دي. د پلټنې یو بل رپوټ ومونده چې د دفاع وزارت د هغو قراردادیانو په نښه کولو او له قرارداد څخه لرې کولو په برخه کې چې له دښمن سره اړیکې لري، نیمګړې پروسې لري. د تفتیشاتو درې رپوټونه د کندز په ولایت کې د یو مرکز د بریښنا او د قرارداد پلي کولو ځینې ستونزې؛ د ناکارول شوي سون ځایونو لپاره د 5$ میلیونه ډالرو لګول؛ او د قلعه مسلم یو طبي کلینیک کې د کامیابۍ یوه کیسه وموندله. ځایي ټولنه د 160,000$ ډالرو په لګښت کلینیک په اغیزمن ډول کاروي او افغان حکومت یې هم په مناسبه توګه ساتنه کوي.

د سیګار څیړنې د ځمکې لاندې د ویالو مخنیونکی سیستم د نه نصبولو په جرم چې له امله یې دوه امریکایي سرتیري ووژل شو، د دوه افغان وګړو د بندي کیدو لامل شو. همدارنګه د سیګار څیړنې په افغانستان کې د نهو نورو کسانو بندي کیدو، اوو جنایي تورونو، او د دریو کسانو محکوم کیدو لامل شو، او په متحده ایالاتو کې د یو کس بندي کیدو، د یو مجرم دعوا، او د څلورو کسانو محکومیدو لامل شو. د لومړي ځل لپاره، د سیګار یو استازي په یوه افغاني محکمه کې وینا وکړه، چې له امله یې د یو نفوذ لرونکي افغان قرارداد کونکي سزا زیاته شوه. د پیسو خوندي کولو په برخه کې د سیګار فعالیتونه پدې

## ورکړ شوي رسمي ویناوې

- 13-5T رسمي وینا: افغان حکومت ته د مستقیم مرستې ورکولو خطرونه
- 13-10T رسمي وینا: هغه ننګونې چې افغانستان ته د مستقیم مرستې ورکول تر اغیزې لاندې راولي
- 13-11T رسمي وینا: د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو د مرستو ضایع کیدو څخه مخنیوی، د موثریت زیاتول، او د مرستو خوندي ساتنه

## بشپړې شوي پلټنې

- 13-6 پلټنه: له دښمن سره قرارداد لاسلیک کول
- 13-7 پلټنه: د افغانستان د بریښنا ملي صنعت
- 13-9 پلټنه: په افغانستان کې روغتیایي خدمتونه

## بشپړ شوي تفتیشات

- 13-6 تفتیش: په کندز کې د ANP د سرک امنیت نیولو مرکز
- 13-7 تفتیش: د قلای مسلم طبي کلینیک
- 13-8 تفتیش: د FOB سالیرنو سون ځایونه

## بشپړې شوې ځانګړې پروژې

- SP-13-3 لیک: د K-Span جوړښت خطرونه

ربع کې، $1.3 میلیونه ډالر د جنايي جریمې او تلافي کولو په توګه، $1.1 میلیونه ډالر د پس انداز په توګه، او $4.2 میلیونه ډالر د ملکي تصفیې پرداخت په توګه د متحده ایالاتو حکومت ته د سپارلو لامل شو. د 298 پرانیستو څیړنو څخه 52 دوسیې یې د سیګار لخوا نوي پرانیستل شوي دي. 18 کسان او نهه شرکتونه د دې ادارې لخوا د ځنډ او ګوښه کیدو لپاره راجع کړای شوي دي.

په پای کې، د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر د هغو تاسیساتو مصونیت په خطر کې وباله چې د متحده ایالاتو لخوا افغان ملي پوځ ته جوړ شوي دي، دا ګواښ هغه وخت ورکړ شو چې د یو رپوټ په اساس د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعې چارواکو ویلي چې پریکړه لري د اور اخیستونکو موادو کارونې ته دوام ورکړي.

## سیګار افغانستان ته د مستقیمو مرستو په اړه د فرعي کمیټې په وړاندې ګواهي ورکوي

د 2013 کال د فبرورۍ په 13 نیټه جان ایف. سوپکو د سنا د څارنې او دولتي اصلاحاتو کمیټې د ملي امنیت، د وطن څخه دفاع، او بهرنیو عملیاتونو فرعي کمیټې په وړاندې د افغانستان سره د مستقیمو مرستو د ننګونو او ستونزو په هکله وینا وکړه.

سوپکو پدې اوریدنه کې وویل چې راتلونکي دوه کلونه او له هغې نه وروسته به د افغانستان د بیارغونې لپاره ډېره مهمه دوره وي. ده د افغان سون موادو د پلټنې په اړه چې په 2012 کال کې یې وینا کړې وه، کمیټې ته تازه خبرونه وړاندې کړ. دې پلټنې افغان پوځ ته د پترول، تیلو، او ګریسو د چمتو کولو په بهیر کې د متحده ایالاتو د پوځ کمزورتیا ومونده. سوپکو همدارنګه وویل چې دا پلټنه د هغو مرستو یوه بیلګه ښیي چې مستقیم ورکړل شوي ده.

لومړی دا چې، داسې بریښي چې افغان حکومت د هغو مرستو د مدیریت وړتیا نلري چې د نړیوالې ټولنې لخوا په مستقیم ډول ورکول کیږي. او کومې مرستې چې په مستقیمه توګه ورکول کیږي د هغو مرستو په پرتله لږ څارل کیږي چې د متحده ایالاتو او نورو مرسته کونکو لخوا د پروژو په بڼه پلي کیږي. دا د څارنې لړه کچه بیا په افغانستان کې چې پراخه اداري فساد شتون لري ډېر ستونزمن کیدای شي.

سیګار د مستقیمې مرستې پروګرامونو په اړه یو شمیر روان او پلان شوي پلټنې لري. خو په ساحه کې د تفتیش، پلټنې او څیړنو په لاره اچولو کې د سیګار وړتیا، د هر بل پلي کونکي اداري په څیر، کیدای شي په نږدې راتلونکي کې د امنیتي محدودیتونو سره مخ شي. په ورستیو کې د امنیتي خطرونو له امله د افغانستان د یوې شمالي سیمې له کتلو څخه د سیګار مخه ونیول شوه. د دې په نتیجه کې، 38 پروژې او د متحده ایالاتو $72 میلیونه مالیه ورکونکي ډالر د اداري له تفتیش څخه لرې پاتې کیږي.

## سیګار د افغانستان لپاره د بهرنیو مرستو په اړه بشپړې کمیټې ته خبرې کوي

د 2013 کال د اپریل په 10، جان ایف. سوپکو افغانستان ته د مستقیم مرستې ورکولو په اړه یو وارې بیا وینا وکړه، خو داوارې یې د سنا د څارنې او دولتي اصلاحاتو د بشپړې کمیټې په وړاندې خبرې وکړې. له ده سره د DOD، USAID، د بهرنیو چارو وزارت، او د عراق بیارغونې لپاره د ځانګړې عمومي پلټونکي مدارک هم یوځای شوي ول.

### ورکړې شوې رسمي ویناوې

- 13-5T رسمي وینا: افغان حکومت ته مستقیم مرستې ورکول له خطرونو سره مخ دي.
- 13-10T رسمي وینا: هغه ننګونې چې افغانستان ته د مستقیم مرستې ورکول تر اغیزې لاندې راولي
- 13-11T رسمي وینا: د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د متحده ایالاتو د مرستو ضایع کیدو څخه مخنیوی، د موثریت زیاتول، او د مرستو خوندي ساتنه

# د څارنې په برخه کې د سیګار **فعالیتونه**



**ایف.سوپکو** څانګړی عمومي پلټونکی جان
د 2013 کال په اپریل کې د سنا د څارنې او دولتي
اصلاحاتو کمیټې په وړاندې رسمي وینا ورکوي.
(د سنا د څارنې او دولتي اصلاحاتو د کمیټې انځور)

سوپکو وویل چې د متحده ایالاتو د جنګي ماموریت پای ته رسیدنه پدې معنا نده چې د افغانستان بیارغونې لپاره مرستې هم کمې شي. په بله خوا کې، نړیوالې ټولنې اټکل کړی دی چې افغانستان تر 2024 کال پورې یوازې د خپل بودیجوي خلا بشپړولو لپاره 70$ میلیارده ډالرو ته اړتیا لري، بناء په راتلونکو کلونو کې افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه پاتې کیږي چې د متحده ایالاتو د بهرنیو مرستو زیاته برخه تر لاسه کوي. یوازې په 2012 کال کې، متحده ایالاتو د افغانستان د بیارغونې لپاره له 16$ میلیارده ډالرو څخه ډېر چمتو کړي. دا مرسته د هغو څلورو هیوادونو له مجموعي مرستې څخه — اسراییل، عراق، مصر، او پاکستان — چې په دویمه درجه کې بهرنۍ مرستې تر لاسه کوي، دوه چنده زیاته ده. برسیره پردې، له 90$ میلیارده ډالرو څخه چې د کانګرس له طرفه د افغانستان لپاره تخصیص شوي دي نږدې 20$ میلیارده ډالر یې لاهم مقید کولو یا مصرف کولو ته چمتو دي.

افغانستان ته د سوپکو د وروستي تګ په موده کې، د USAID او DOD چارواکو ده ته ویلي وو چې دولت به د پاتې پیسو کافي برخه د مستقیمې مرستې په توګه وویشي او ژمنه یې کړې ده چې په راتلونکې کې د ټولو مرستو له 50% څخه زیاته برخه په مستقیمه توګه چمتو کړي. مستقیمه مرسته بالقوه ګټې لري، خو په دې اړه د سیګار اندیښنه هغه وخت زیاته شوه چې د USAID لخوا د هغو 13 افغان وزارتونو د وړتیا ارزونه یې بیاکتنه وکړه چې د مستقیمه مرستې ترلاسه کولو لپاره نومول شوي وو. د ارزونو لاسته راوړلو کې له ځینو ستونزو څخه وروسته، سیګار په خپل لومړنۍ بیاکتنه کې وموندله چې دا ټول 13 وزارتونه د مستقیم مرستو د کارولو وړتیا نلري. د بیلګې په توګه، د ارزول شویو وزارتونو څخه یوه یې مشکوک لګښتونه درلوده چې د وزارت له مجموعي بودیجې څخه زیات کیده. کارکونکو یې د تدارکاتو حداقل روزنه هم نه درلوده. همدارنګه کوم ځانګړی میکانیزم یې هم نه درلوده چې د تروریستانو کړیو په نښه کړي. په یو بل وزارت کې، ارزونې وموندل چې کمپیوټرونه د خرابیدو له ګواښ سره مخ دي، معاشونه په نقدي ډول ورکول کیږي، چې دا وزارت د غلا له خطر سره مخ کوي، او دا چې وزارت نشي کولی د کارکونکو باندنۍ اړیکې معلومې کړي.

سیګار به له دې ارزونو څخه خپل پلټنې ته ادامه ورکړي تر څو معلومه کړي چې آیا افغان حکومت کولی شي مستقیمه مرسته وکاروي، او هم USAID د دې نیمګړتیاو په وړاندې څه غبرګون ښیي.

اداري فساد یو بل خطر دی چې د مستقیمې مرستې په چمتو کولو کې ارو مرو باید په پام کې ونیول شي. سیګار موندلې ده چې افغاني چارواکي نه غواړي په اداري فساد کې ښکیل چارواکي تعقیب کړي، په ځانګړې توګه که چیرته لوړپوړي چارواکي یا د ښو اړیکو خاوندان وي. اداري فساد مرکزي دولت ته د ریښتوني افغانانو هیلې او وفاداري هم کمزورې کوي. په یوه غونډه کې چې د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن له افغاني سوداګرو ښځو سره درلوده، افغاني سوداګرې ویلې دي چې ویره لري د اداري فساد له امله ګوښه کړای شي. یوه له دغو ښځو څخه نیویارک ټایمز ته وویل چې قراردادونه "یوازې څو تنه کسانو ته ورکول کیږي چې د دولت سره واقعي اړیکې لري."

سوپکو وویل چې مستقیم مرسته باید د میکانیزمونو په رڼا کې ورکړ شي — چې د متحده ایالاتو او نورو مرسته کونکو لخوا چمتو کیږي — تر څو مرستې خوندي وساتل شي او د دې ډاډه کولو لپاره ځواکمنه څارنه ترسره شي چې دا مرستې باکفایته قرارداد کونکو ته ورکول کیږي او د افغاني سیاستمدارانو په اداري فساد ښکیل نږدې ملګرو لاسونو ته نه پریوځي. مرستې باید نه یوازې پدې شرط ورکړ شي چې د اندازې وړ پایلې ولري، بلکه

دا شرايط هم په پام کې ونيول شي چې متحده ايالاتو او نړيوالو مرسته کونکو کتابونو، کارکونکو، او ثبتونو ته، په ځانګړې توګه پروژو او پروګرامونو ته غيرمحدوده لاسرسي ولري.

پرته له دې نه چې په افغانستان کې د بیارغونیزو مرستو څخه د څارنې لپاره د متحده ايالاتو چارواکو ته کافي امنيت چمتو کړای شي، متحده ايالات به د ميلياردونو ډالرو په ارزښت خپل ماليه ورکونکي ډالر د ضايع کيدو له خطر سره مخ کړي.

## سیګار په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مرستو خوندي ساتلو لپاره لیکلې بیانیه ورکوي

د 2013 کال د اپريل په 18، د سنا د تخصيصاتو کميټې د بهرنيو چارو وزارت، بهرنيو عملياتونو او اړوندو پروګرامونو فرعي کميټې د غوښتنې په اساس، ځانګړي عمومي پلټونکي سوپکو د افغانستان د بيارغونې په برخه کې د متحده ايالاتو د مرستو ضايع کيدو څخه مخنيوی، د موثريت زياتولو، او د مرستو خوندي ساتلو لپاره يوه بيانيه د ثبت لپاره وړاندې کړه. د 2008 کال د پای څخه راهيسې، چې کانګرس سيګار رامينځته کړی، د دې ادارې پلټونکي او مفتشين د پلټنې او تفتيش 75 رپوټونه بشپړ کړي او 245 وړانديزونه کړي چې په ترڅ کې يې 1.8$ ميلياړده ډالر د مشکوک لګښت، مرستې په توګه موندل شوي چې کيدای شي غوره کارونه وشي، او په بالقوه ډول د بيرته اخيستنې لپاره مرستې په نښه شوي دي. خو په داسې حال کې چې د انفرادي پلټنې او تفتيش د رپوټونو وړانديزونه کولی شي د بياروغونې پروګرامونه او د متحده ايالاتو ماليه ورکونکي مرستې بيرته اخيستل پياوړي کړي، دا وړانديزونه اصولا د پيښې څخه وروسته ترسره کيږي. په بل عبارت، کله چې سيګار يوه پلټنه يا تفتيش په لاره اچوي، يوه ستونزه مومي او د حل لپاره يې وړانديز کوي، دا په داسې حال کې ده چې ستونزه لا دمخه واقع شوې ده. د همدې لپاره سيګار د 2013 کال جنوري کې کانګرس ته په خپل درې مياشتني رپوټ کې اووه پوښتنې مطرح کړي چې د کانګرس په شمول ټول پريکړه نيونکي د دې لپاره چې پاتې مرستې څنګه په غوره توګه وکارول شي، په پام کې ونيسي:

- آيا دا پروژه يا پروګرام د متحده ايالاتو د ملي ګټو يا ستراتيژيکو موخو په لاسته راوړلو کې واضحه مرسته کوي؟
- آيا افغانان دا غواړي او اړتيا ورته لري؟
- آيا دا پروژه يا پروګرام د افغان دولت، نورو پلي کونکو ادارو، او نړيوالو بسپنه ورکونکو سره همغږه شوې ده؟
- آيا امنيتي شرايط په موثر ډول پلي کولو او څارلو ته اجازه ورکوي؟
- آيا دا پروژه يا پروګرام داسې حفاظتي ګامونه لري چې اداري فساد، تشخيص، مخنيوی او ياهم لږې کچې ته راټيټ کړي؟
- آيا افغانان د پروژې يا پروګرام پرمخ بيولو لپاره مالي سرچينې، تخنيکي ظرفيت، او سياسي واک لري؟
- آيا پلي کونکې ادارې د پايلې ټاکلو او د برياليتوب د اندازه کولو لپاره ريښتونې محاسبې رامينځته کړي دي؟

سوپکو غوښتنه وکړه چې د کانګرس تخصيص ورکونکي، د سنا فرعي کميټې تخصيص ورکونکو په شمول، د بهرنيو چارو وزارت او USAID څخه وغواړي تر څو وړاندې له دې

نه چې نوي پروګرامونو لپاره مرستې تخصیص ورکړي دې پوښتنو ته په لیکلې بڼه ځواب ورکړي. که چیرته د بهرنیو چارو وزارت یا USAID دې پوښتنو ته مثبت ځوابونه ورنکړي، سیګار وړاندیز کوي چې له دوی څخه وغوښتل شي د تخصیص شوي مرستې د کړنلارې پرمخ بیولو لپاره دې خپل دلایل او توجیهات په لیکلې بڼه وړاندې کړي.

## پلټنې

کانګرس ته د وروستۍ رپوټ څخه راهیسې، سیګار د پلټنې درې رپوټونه خپاره کړي. پدې ربع کې، سیګار شپږ نوي پلټنې پیل کړي، چې په دې سره د روانو پلټنو شمیر 15 ته رسیږي. خپاره شوي رپوټونه، د نورو مسایلو په څنګ کې، د دښمن سره قرارداد کول، د افغانستان د ملي بریښنا سوداګریز کول، او د افغان روغتیایي خدمتونو په اړه اندیښنې څرګندې کړي. دا پلټنې په مجموعي ډول 11 سپارښتنې کړې تر څو ډاډه کړي چې د دښمن سره اړیکه لرونکي قرارداد کونکي وپیژندل شي او قراردادونه یې پای ته ورسول شي؛ د ملي بریښنا صنعت یوازې په هغه صورت کې پایښت مومي چې سوداګریز کړای شي؛ او USAID د ګردیز او خیرخوډ روغتونونو د سمې کارونې لپاره چې اوسمهال د رغونې لاندې دي، یو پلان جوړوي.

### د پلټنې خپاره شوي رپوټونه

#### 13-6 پلټنه: د دښمن سره قرارداد کول

**DOD د دښمن سره اړیکه درلودونکي قرارداد کونکو د پیژندلو او د قرارداد پای ته رسولو لپاره محدوده ډاډینه لري**

د دې لپاره چې د هغو کسانو سره سهوا کوم قرارداد لاسلیک نشي چې د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو مخالفو وسله والو ته مرستې برابروي، کانګرس د 2012 مالي کال د ملي دفاع واکمنۍ په لایحه کې 841 برخه زیاته کړه. 841 برخه DOD ته واک ورکوي چې د افغانستان په شمول د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندانیو ټول عملیاتي تیاترونو کې د یو قرارداد څخه دمخه د هغه کسانو یا ادارو سره قرارداد، مرسته، یا تعاوني هوکړه لیک محدود، ختم، یا هم ډډه وکړي چې د مخالفو وسلهٔ والو سره مرسته کوي یا په هره لاره د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو په ضد وي. د 2013 کال د جنوري تر 18 پورې، CENTCOM ځلورې اعلامیې خپرې کړې چې په ترځ کې یې پنځه شرکتونه د 841 برخې د نوماندانو په توګه اعلان کړ. دا پلټنه هغه پروسې تشریح کوي چې د 841 برخې پلي کولو لپاره د DOD لخوا رامینځته شوي، ارزوي چې د 841 برخې پلي کولو لپاره د DOD لخوا په پام کې نیول شوي پروسې تر کومه بریده توانیدلې دي چې هغو کسانو ته د متحده ایالاتو د قراردادنو د تلو مخه ونیسي چې له جنګیالیو سره فعاله اړیکه لري یا په افغانستان کې د متحده ایالاتو یا ایتلافي ځواکونو سره مخالفت لري، او د 841 برخې د قانون جوړونې ځینې ساحې په ګوته کوي چې کیدای شي د دښمن سره د قرارداد مخه نیولو لپاره پیاوړې کړای شي.

**موندنې**

DOD د 841 برخې سره جوړ راتلو لپاره یو دوه پړاو لرونکی بهیر رامینځته کړی. په لومړي پړاو کې د 841 برخې کس یا اداري د HCA موخه کول، بیاکتنه، نومول، او په پای کې اعلانول شامل دي. د متحده ایالاتو ځواکونه-د افغانستان عملیاتي ځواک 2010 په روان وخت کې د 841 برخې استخباراتي څانګه پر مخ وړي. کله چې یوه موخه وټاکل شوه،

**بشپړې شوې پلټنې**

- 13-6 پلټنه: د دښمن سره قرارداد لاسلیک کول: DOD د دښمن سره اړیکه درلودونکي قرارداد کونکو د پیژندلو او د قرارداد پای ته رسولو لپاره محدوده ډاډینه لري.
- 13-7 پلټنه: د افغانستان د ملي بریښنا صنعت: د مرستې سرته رسیدو او د USFOR-A، او USAID لخوا د پروژې کمزوري مدیریت له امله د سوداګریز کولو هڅې له ستونزو سره مخ شوي.
- 13-9 پلټنه: په افغانستان کې روغتیایي خدمتونه: د USAID په مرسته دوه نوي روغتونونه پایښت نلري او موجود روغتونونه په ځینو مهمو طبي برخو کې له کموالي سره مخ دي.

TF 2010 د موخې په هکله معلوماتي کڅوره غونډوي او خپل لومړنی استخباراتي او قانوني تحلیل په لاره اچوي. د 841 برخې معلوماتي کڅوره وړاندې له دې نه چې د وروستۍ پریکړې لپاره CENTCOM ته وړاندې شي د نړیوال سوله ساتي ځواکونو ګډې قوماندې د همغږۍ کونکو ادارو یوې لړۍ ته د بیاکتنې او موافقې لپاره لیږل کیږي. د موافقې څخه وروسته، د CENTCOM قوماندان د841 برخې اعلامیه چمتو کوي چې پکې د نښه شوو کسانو لست، د دې غوښتنې سره یوځای خپروي چې HCAs خپل هغه واک کاروي چې د لست شوو کسانو سره د قرارداد محدود کول، ختمول، یا ډډه کولو لپاره په 841 برخه کې ځانګړی شوې ده. وروسته بیا CENTCOM اعلامیې HCAs ته ویشي. په دویم پړاو کې، HCAs معلوموي چې آیا د هغه کس یا ادارې سره چې د CENTCOM په اعلامیه کې لست شوي دي کوم قرارداد لري که نه. کله چې HCA په قرارداد کې شوي کارونو په اړه CENTCOM ته ځوابونه ورکړي پروسه خپلې پایلې ته رسیږي.

سیګار د 841 برخې په پلي کولو کې د DOD د بهیر ګڼ شمیر کمزورتیاوې موندلي دي چې له امله یې دا وزارت نشي کولی دا ډاډ ورکړي چې د متحده ایالاتو مرستې هغو کسانو یا ادارو ته نه رسیږي چې د جنګیالیو سره مرسته کوي یا د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو سره مخالف دي. په نتیجه کې، د قراردادونو میلیونونه ډالر کیدای شي داسې ځواکونو ته په لاس ورشي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو پوځې او ملکي وګړو ته زیان رسوي او د میلیاردونو ډالرو په لګښت د بیارغونیزو هڅو مخه نیسي.

په ځانګړي ډول، سیګار ومونده چې:

- ځینې قراردادونو (1) داسې شرطونه نه درلودل چې قرارداد کونکي له دې څخه منع کړي چې د 841 برخې له نوماندانو سره فرعي قرارداد لاسلیک کړي یا (2) قرارداد کونکو ته د HCA مقاماتو په اړه خبرتیا نه وه ورکړې. په قرارداد کې د ادارې لخوا د دې شرط نه یادول کیدای شي د دې لامل شي چې قرارداد کونکي د 841 برخې له نوماندانو سره د تړون نه کولو قانوني شرطونه درک کړي او په دې اړه پوه شي چې که چیرته قانوني شرطونه پوره نه کړي د HCA مقامات کولی شي د دوی قراردادونه محدود، ختم، یا باطل کړي.
- ځینې HCAs ته د CENTCOM لخوا کومه خبرتیا نده رسیدلې چې د دښمن ګروپونو سره مرسته کونکي یې په نښه کړی وي، چې پداسې حال کې به HCA ته ستونزمنه وي تر څو د هغو قراردادونو په وړاندې ګام پورته کړي چې د 841 برخې لاندې نومول شوي دي.
- HCAs خپل لومړني قرارداد کونکو ته د 841 برخې ځانګړنو په اړه ندي خبر کړي، حتی د 841 برخې د خبرتیا غوښتنو په اړه هم چې دوی یې کوي، ندي ویلي. نور داچې، DOD د ټولو HCAs لپاره داسې رسمي پالیسي نلري چې خپلو لومړني قرارداد کونکو ته د 841 برخې د ځانګړنو په اړه خبرتیا ورکړي، او دا کار یې انفرادي HCAs ته پریښې تر څو هر یو پخپله جوړه کړي. د یو رسمي پالیسي په نشتون کې، کیدای شي HCAs او لومړني قرارداد کونکي د قانون په خلاف د 841 برخې له نوماندانو سره د قراردادونو لاسلیک کولو ته ادامه ورکړي.
- CENTCOM د 2013 کال په جنوري کې د 841 برخې ځانګړنې په خپل ویبپاڼه کې خپور کړ؛ په هرصورت، د قرارداد مامورین او لومړني قرارداد کونکي ندي غوښتل شوي څو دا معلومات په منظم ډول وګوري.

- لکه څنګه چې HCAs په خپله د ډېرو فرعي قراردادونو څخه نشي لیدلی، دوی باید د 841 برخې نوماندو فرعي قرارداد کونکو په پېژندنه کې د لومړني قرارداد کونکو په معلومات تکیه وکړي او د دوی ختمول، محدود کول او باطلولو لپاره اړین ګامونه واخلي. فعلاً، د لومړني قرارداد کونکو څخه نده غوښتل شوې چې د 841 برخې نوماندو فرعي قرارداد کونکو سره اړیکه نه نیولو په اړه رسمي سند وړاندې کړي. په نتیجه کې، HCAs په دې اړه لږ اطمینان لري چې د 841 برخې نوماندانو سره ټول قراردادونه په نښه کړي.
- HCAs او لومړني قرارداد کونکي د 841 برخې نوماندانو لخوا د قانوني ننګونې سره مخ دي ځکه چې DOD د هغو کارونو د پایلو په اړه کومه لارښونه نده چمتو کړې چې د 841 برخې د واک له کارولو وروسته ترسره کیږي. قرارداد کونکي مامورین هم وروسته له هغه چې د 841 برخې له نوماند سره یو قرارداد محدود، ختم، یا باطلوي د مالي لګښتونو د جذب لپاره لکه د نوي قرارداد کونکي موندل کوم لارښود نلري. د داسې لارښود په نشتون کې، HCAs او لومړني قرارداد کونکي نشي کولی موجود او راتلونکې قانوني ننګونو ته مناسب غبرګون وښیي.
- DOD هغه کارونه په مرکزي ډول نه تعقیبوي چې د 841 برخې د واک مطابق ترسره شوي دي. 841 برخه د دفاع وزیر څخه غواړي تر څو په 2013، 2014، او 2015 کلونو کې هر کال د دې برخې واک د کارونې په هکله کانګرس ته رپوټ وړاندې کړي. په روان وخت کې، د دفاعي تدارکاتو او د پالیسي لاسته راوړلو دفتر او CENTCOM دواړه دا معلومات غونډوي، چې دا د تکراري هڅو لامل کیږي.

په پای کې، سیګار داسې ساحې وموندلې چې کولی شي 841 برخه پیاوړې کړي. د بیلګې په توګه، 841 برخه یوازې په هغو قراردادونو کې عملي کیږي چې د $100,000، ډالرو څخه یې لګښت زیات وي، که څه هم په افغانستان کې ډېر قراردادونه د دې کچې څخه لږ لګښت لري. سربیره پردې، 841 برخه د 2014 کال د دسمبر په 31 سرته رسیږي، چې په دې سره د هغو کارونو او شرطونو برخلیک تر پوښتنې لاندې راځي چې د دې برخې په اساس وړاندې له دې نیټې څخه ترسره شویدي.

سیګار د دښمن سره د قرارداد مخه نیولو په برخه کې د بهرنیو چارو وزارت او USAID هڅې په یوه بیله بیاکتنه کې څیړي.

### سپارښتنې

سیګار د دفاعي تدارکاتو او د پالیسي لاسته راوړلو دفتر رییس ته اووه سپارښتنې وړاندې کوي: پنځه سپارښتنې په افغانستان کې د فعاله قراردادونو څخه د څارنې زیاتولو په اړه؛ یوه سپارښتنه دا چې د CENTCOM قوماندان په همغږۍ سره معلومه کړي چې کومه اداره د 841 برخې د معلوماتو د تعقیبولو مسولیت په غاړه واخلي تر څو د تکراري هڅو مخه ونیول شي؛ او بل دا چې ډاډه کړای شي چې HCAs د قانوني ننګونو ځواب کولو لپاره کافي معلومات لري او هغه مالي تاوانونو چې د دې برخې د واک کارولو له امله رامینځته کیږي ورکړي.

### د پام وړ مسایل

سیګار د کانګرس د ملاحظې لپاره هم ځینې مسایل په ګوته کړي. د دې لپاره چې په افغانستان کې ټول قرادادونه د 841 برخې مطابق ترسره شي، کانګرس ته ښایي چې په

قراردادونو کې د $100,000 معیار له مینځه یوسي. د دې لپاره چې DOD د 841 برخې په اساس ترسره شوي ګامونو د راتلونکې په اړه کافي وضاحت ولري، کانګرس ښايي د کال 2014 د دسمبر په 31 کې د قانون له اعتباره غورځیدو وروسته د دې ګامونو په اړه یو لارښود چمتو کړي. په پای کې، که چیرته مقصد دا وي چې د قانون له سرته رسیدو سره سم د 841 برخې ګامونه هم پای ته ورسیږي، کانګرس ته ښايي چې د قرارداد کونکي ادارو څخه وغواړي هغه معلومات او استخبارات چې د 841 برخې په پروسه غونډ شوي دي خوندي وساتي.

**د ادارو تبصرې**

CENTCOM، USACE، او د هوايي ځواک د ملکي انجینرانو مرکز هم تخنیکي تبصرې چمتو کړې وې، چې سیګار په مناسبو ځایونو کې ځای ورکړی دی. د دفاع وزارت د دفاعي تدارکاتو او د پالیسي لاسته راوړلو دفتر هم غیر رسمي تبصرې درلودې چې په عمومي ډول د DOD د لاسته راوړلو ټولنې او د 841 برخې د نوماندانو د اعلامیې په برخه کې د سیګار له نظر سره موافق دي، او ویلي دي چې د وروستي رپوټ له خپریدو وروسته به خپل رسمي تبصرې چمتو کړي.

## 13-7 پلټنه: د افغانستان د ملي بریښنا صنعت

**د مرستې سرته رسیدو او د USFOR-A، او USAID لخوا د پروژې کمزوري مدیریت له امله د سوداګریز کولو هڅې له ستونزو سره مخ شوي**

د 2008 کال څخه دیخوا، افغان حکومت ټاکلې ده چې د انرژۍ سکتور پراختیا په خپل لومړیتوب کې ونیسي، چې د عایداتو زیاتول او د تولید څخه تر ویشه پورې د بریښنا له ضایع کیدو څخه مخنیوی پکې شامل دي. دې هڅو ته په مجموعي ډول سوداګریز کول ویل کیږي. د 2009 کال څخه دیخوا، متحده ایالاتو نږدې $88 میلیونه ډالر افغان حکومت ته مقید کړي تر څو خپل د ملي بریښنا صنعت، د افغانستان بریښنا شرکت، سوداګریز کړي. DABS په ټول افغانستان کې د بریښنا تولید، واردول، لیږدول، او ویشلو کار او اداره په غاړه لري.

د متحده ایالاتو پروژې چې د USFOR-A او USAID لخوا بودیجه ورکول کیږي د DABS سره د لګښت پوره کولو، د ضیاع کمولو، او د ملي بریښنا سیستم د ادارې، چلولو، او ساتلو لپاره د خپل ظرفیت په زیاتولو کې مرسته کوي. تراوسه پورې، USFOR-A او USAID خپلې هڅې په کابل، کندهار، او هلمند ولایتونو کې متمرکز کړې وې. لومړۍ موخه په دې تمرکز کوي چې DABS-کابل خودکفا شي ځکه چې هلته د نورو ریاستونو لپاره د ډاډه او لاسرسۍ وړ معلومات نشته لکه د عایداتو او ضایعاتو په اړه معلومات. دا رپوټ د DABS په سوداګریز کولو کې د متحده ایالاتو د هڅو په اړه د دوو رپوټونو دویم رپوټ دی. سیګار دا موارد ارزولي دي (1) د متحده ایالاتو مرستې تر کومه بریده له DABS-کابل سره د خودکفا کیدو په لوري مرسته کړې ده (2) د USFOR-A او USAID لخوا د سوداګریز کولو پروژو مدیریت.

**موندنې**

که څه هم د USAID پانګونې په وروستیو کلونو کې د DABS-کابل د بریالیتوب لامل شوي دي، خو بیا هم دا اداره د افغان حکومت له سب سایډي څخه پرته خپل بیلونه نشي ورکولی چې دا مرستې هم په 2014 کې پای ته رسیږي. د بیلګې په توګه، د $53 میلیونه ډالرو په



د شورډام د ګودام په ودانۍ کې **د برېښنا ویشلو ناکاریدلي** وسایل (د سیګار انځور)

ارزښت یوه پروژه چې DABS-کابل د سوداګریز کولو لپاره د USAID لخوا چمتو شوې وه، د پیسو غونډول نږدې 60% زیات شوه. پهرصورت، DABS-کابل په ټول افغانستان کې غوره کارکونکی ریاست تراوسه لا په مالي تاوان کې خپل کار کوي.

نور داچې، USFOR-A او USAID نږدې $88 میلیونه ډالر په کابل، کندهار، او هلمند کې د DABS سوداګریز کولو لپاره چمتو کړه، خو د متحده ایالاتو د ادارو کمزوري مدیریت له امله د متحده ایالاتو هڅې له خنډ سره مخ شوې. د بیلګې په توګه، د USFOR-A قوماندان بیړني غبرګون پروګرام اته پروژې تصویب کړې تر څو د ضایعاتو کمولو او د خرڅ شوي برېښنا د عایداتو په زیاتولو کې له DABS سره مرسته وکړي؛ دا پروژې داسې طرح شوې وې چې په کندهار او هلمند کې د برېښنا بیړني ویش لپاره وسایل چمتو کړي. لکه څنګه چې د 2012 کال په دسمبر کې د سیګار یو موقتي رپوټ یادونه وکړه، د $12.8 میلیونه ډالرو په لګښت اخیستل شوي تجهیزات چې د USFOR-A په استازیتوب د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعې-د افغانستان سیمې انجینرانو لخوا د کندهار د سوداګریز کولو پروګرام د یوې برخې په توګه اخیستل شوې وې د متحده ایالاتو تر کنترول لاندې ګودامونو کې بیکاره پراته دي.

سیګار همدارنګه ومونده چې د تجهیزاتو د نصب لپاره څرګند پلانونه شتون نلري. که څه هم دا تجهیزات د USFOR-A لخوا تصویب او بودیجه ورکړ شوه، او پرته له دې نه چې د نصب پلان ولري په ګودام کې ذخیره شول، بیا هم USFOR-A د ورته تجهیزاتو لپاره د نصبولو پلان څخه پرته پروژې تصویبوي. په نتیجه کې، د $10.2 میلیونه ډالرو په ارزښت اضافي تجهیزات د هلمند ولایت لپاره د نصبولو پلان څخه پرته په ګودام کې پاتې دي. علاوه پردې، د USAID دا پریکړه چې د انفرادي سرچینې په اساس پراخ کاري منظر تصویب کړي کیدای شي نامناسبه سیالي رامینځته کړي ځکه چې کیدای شي په تخنیکي ډول نور دواطلبین هم شتون ولري.

په پای کې، که څه هم USAID د خپل قراردادي څخه غوښتي و چې په کندهار کې د خپل صورتحساب سیسټم د کابل له سیسټم سره همغږی او یوشان کړي، خو د دې شرطونو پلي کولو لپاره یې فشار رانه وسته، چې په نتیجه کې یې په کندهار کې یو متفاوت سیسټم نصب کړای شو او وروسته بیا د USAID او DABS لخوا یو ناکامه سیسټم وانګیرل شو. په نتیجه کې، USAID د کندهار سیسټم پلي کولو لپاره نږدې $700,000 ډالر ضایع کړه، چې په پای کې له سره د کابل سیسټم نصب کړای شو.

**سپارښتنې**

سیګار سپارښتنه کوي چې د USFOR-A سیمه ایزې قوماندې-سهیل لویدیځ عمومي قوماندان د DABS سره د تجهیزاتو د نصب لپاره د مهال ویش خبره پای ته ورسوي. سیګار همدارنګه سپارښتنه کوي چې د افغانستان لپاره د USAID د ماموریت رییس ته اړینه ده چې د USAID په مرسته سیسټمونه باید په ټول هیواد کې د DABS سره همغږی او یوشان کړای شي.

**د ادارو تبصرې**

USFOR-A د سیګار له سپارښتنې سره موافقه وکړه چې په ټاکل شوې موده کې له DABS سره کار وکړي تر څو د هلمند تجهیزاتو د نصب لپاره وروستی مهال ویش وټاکي. USFOR-A د ګامونو یوې لړۍ ته اشاره وکړه چې پورته کوي یا په پلان کې لري تر څو د

سپارښتنو عملي کولو او د "وضعیت سمولو" لپاره یې پلي کړي. سیګار به د USFOR-A سره یوځای 90 ورځې وروسته دا موضوع تعقیب کړي څو معلومه شي چې مناسب ګامونه یې پورته کړي.

د دې رپوټ په مسودې باندې د تبصرې په وخت کې USAID د سیګار له ګڼو ویناو سره موافقه ونکړه. د یادونې وړ خبره دا وه، چې USAID د سیګار دې خبرې سره موافقه ونکړه چې د DABS-کابل خودکفایي د سب سایډي پای ته رسیدو له امله ډاډه نه بریښي. USAID ویلي چې د سب سایډي لرې کول د پیل نه د مالیې وزارت او DABS سره د قرارداد یوه برخه وه، او د سوداګریز پایښت لپاره د سب سایډي لرې کول د DABS سره د دې د ملګرتیا موخه ده. د سب سایډي کمولو له امله رامینځته شوې خلا ډکولو لپاره، USAID وایي چې د بریښنا کارولو په بدل کې د بیې لوړول او د بریښنا د ضایع کیدو څخه مخنیوی کولی شي په پای کې عایدات د عملیاتي لګښت کچې ته ورسوي. په داسې حال کې چې دا هڅې کیدای شي عایدات/لګښتونه سره برابر کړي، سیګار پوښتنه کوي چې ایا دا مثبتې پایلې کیدای شي مخکې له دې چې په 2014 کې سب سایډي ختمه شي رامینځته شي، او په همدې اساس، باور لري چې د سیګار دا موندنه چې د DABS خودکفایي تر پوښتنې لاندې ده لاهم د اعتبار وړ دی.

USAID د سیګار دې سپارښتنې سره موافقه لري چې هر هغه سیستم ته چې د بریښنا لیږدول او د نښلولو پروګرام په اساس بودیجه ورکول کیږي اړین دی چې په ټول هیواد کې له DABS سره همغږی او یوشان کړای شي. USAID د DABS سوداګریز کولو لپاره "د غوښتنې لپاره د وړاندیز" یو نکل چمتو کړ، چې پکې راغلي و USAID به په هرات، کندهار، ننګرهار، او بلخ کې د DABS د سوداګریز کولو هڅو د پراختیا لپاره د mPower بیل سیستم څخه کار واخلي. د قرارداد مناسب مدیریت او د USAID لخوا دا ډاډینه ورکول چې اضافي پراختیا به د ورته شرطونو په رڼا کې ترسره کیږي،په نظر کې نیولو سره د USAID کارونه به د سیګار د سپارښتنو مقصد ته ورسیږي.

## 13-9 پلټنه: په افغانستان کې روغتیایي خدمتونه

**د USAID په مرسته دوه نوي روغتونونه پایښت نلري او موجود روغتونونه په ځینې مهمو طبي برخو کې له کموالي سره مخ دي**

USAID د نړیوال بانک او اروپایي ټولنې سره یوځای د روغتیایي سکتور په برخه کې له افغان حکومت سره د لومړنیو مرسته کونکو څخه دی.



**د ګردیز روغتون** د رغونبلاندې (د سیګار انځور)

USAID د خپلې مرستې له لارې، د طبي تسهيلاتو او طبي متخصصينو زياتولو سره افغان خلکو ته د روغتيايي سيستم لاسرسي زياتوي. په دې مرستو کې د روغتيايي او ښوونيزو مرکزونو رغولو پروګرام (CHEF) له لارې په ګرديز او خير خوړ کې د دوو روغتونو جوړول او د روغتيا لپاره د ملګرتيا قراردادونه (PCH) شامليږي چې په 13 ولايتونو کې روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي، البته د دې څخه په پنځه ولايتونو کې د روغتون د خدمتونو اساسي کڅوړه (EPHS) شامل دي. د PCH پروګرام ډيره مرسته په مستقيمه توګه د افغان عامې روغتيا وزارت ته سپارل شوې ده.

دا ريوټ ارزوي چې آيا (1) USAID دا ډاډمنه کړې ده چې افغان حکومت هغه دوه روغتونونه ساتلی شي چې دمګړی د USAID په مرسته د رغيدو په حال کې دي، او (2) د هغو پنځو ولايتي روغتونونو لپاره چې د USAID په مرسته چليږي طبي کارکونکي چمتو کيږي.

**موندنې**

افغان حکومت د هغه دوه روغتونونو د ساتلو وړتيا نلري چې د پکتيا ولايت په ګرديز او د پکتيکا ولايت په خيرخوړ کې د USAID په مرسته د جوړيدو په حال کې دي. د USAID لخوا د $18.5 ميليونه ډالر پانګه اچونه چې په دې نوي روغتونونو کې لګول کيږي د دې مرستو غوره اقتصادي او تجربي کارونه نه بريښي. لومړی، USAID د دې روغتونونو له بشپړيدو وروسته په ساتلو او کارولو کې يې د عامې روغتيا وزارت وړتيا نده ارزولې. دويم، د نوي روغتونونو رغونه يو کال وړاندې له هغه نه پيل شوه چې USAID د عامې روغتيا وزارت سره خپل ډيزاين پلانونه همغږي کړه. د USAID ناوخته همغږي د دې لامل شو چې لوی لوی تسهيلات جوړ شي د ګرديز روغتون د هغه مرکز څخه 12 چنده لوی دی چې په ځای يې جوړيږي چې پايښت يې ګران دی او د نوي تسهيلاتو عملياتي لګښت د موجودو لګښتونو سره نا انډول دي.

سيګار دوه هغه روغتونونه چې د CHEF پروګرام تر سيورې لاندې جوړيږي بياکتنه وکړه او ويې مونده چې د دوی د عملياتونو او ساتنې کلنی لګښت د هغو روغتونونو پنځه چنده دی چې په ځای يې جوړيږي. د بيلګې په توګه، د ګرديز موجود روغتون په يو کال کې، د سون موادو په شمول، نږدې $611,000، ډالر لګښت لري، او USAID اټکل کوي چې د نوي طبي مرکز يوازې د سون موادو کلنی لګښت به تر$3.2 ميليونه ډالرو پورې ورسيږي. په همدې ډول، د خيرخوړ موجود روغتون په يو کال کې نږدې $98,000 ډالر عملياتي لګښت لري، او د USAID په اټکل د نوي روغتون د عملياتونو او ساتنې کلنی لګښت به نږدې $587,000 ډالرو ته ورسيږي. نه USAID او نه هم MOPH د نوي روغتونونو د اضافي عملياتونو د لګښت پوره کولو په اړه کومه ژمنه نده کړې.

سيګار همدارنګه موندلې ده چې ځينې ولايتي روغتونونه په ځينې مهم طبي پوستونو کې د کسانو له کمبود سره مخ دي. په ځانګړې ډول، د پنځو ولايتي روغتونونو څخه چې سيګار د طبي کارمندانو د معيار بشپړ کولو لپاره معاينه کړي و، څلور هغو يې د غير دولتي موسسو د چاروکو د وينا په اساس، په دوامداره ډول تش پوستونو درلودل چې ځينې يې آن د څوکلونو لپاره تش پاتې شوي. د EPHS پروګرام په ولايتونو کې د لومړني روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو لپاره د ډاکترانو حداقل شميره ټاکي، او د بشپړ روغتيايي خدمتونو لپاره د ډاکترانو "مشوره شوې" شميرې په اندازه اړين بولي. سيګار ومونده چې د پنځو

روغتونونو څخه یوازې یو روغتون د کارمندانو حد اقل معیار د پنځو مهمو پوستونو لپاره پوره کړی و. برسیره پردې، هیڅ یو له پنځو روغتونونو څخه د عمومي معالج او د اطفالو معالج ډاکتر څخه پرته د "مشوره شوي" کارمندانو معیار نه و پوره کړی؛ درې روغتونونو انستیزیولوجست نه درلوده، یو یې د اطفالو معالج نه درلوده، او دوه یې د ولادي/نسایي ډاکتران نه درلودل.

د MOPH قراردادونه له NGOs څخه غواړي چې د قرارداد په ټوله موده کې د روغتیایي خدمتونو ټول معیارونه د کارمندانو په شمول په روغتونونو کې پلي کړي. پهرصورت، د NGO چارواکي وایي چې په افغانستان کې د محدودو ډاکترانو او د ټیټ معاش له امله دا ستونزمنه ده چې په ولایتي روغتونونو کې مهم پوستونه ډک کړي. که څه هم MOPH په شپږمیاشتني او کلني ډول د خپل کړنو په اړه USAID ته رپوټ وړاندې کوي، خو په دې کې د غوښتل شوي کارمندانو په اړه د EPHS لارښود په اساس د پروګرام د کامیابۍ ارزونه شامل نه وي.

### سپارښتنې

سیګار سپارښتنه کوي چې د USAID د ماموریت رییس د افغان عامې روغتیا وزارت په همغږۍ سره لاندې ګامونه پورته کړي، (1) د ګردیز او خیرخوټ روغتونونو د مناسبه کارونې لپاره چې د جوړیدو په حال کې دي، یو پلان چمتو کړي، او (2) په ولایتي روغتونونو کې د کارمندانو د حداقل او مشوره شوي معیار ته د رسیدو لپاره پړاوونه وټاکي او د پروګرام په کلنۍ بیاکتنه کې د دې پړاوونو په اړه معلومات ورکړ شي.

### د ادارو تبصرې

کله چې دا رپوټ مطبوعاتو ته وړاندې شو، اداري لاهم د رپوټ د مسودې په اړه رسمي تبصرې چمتو کولې. په وروستي رپوټ کې د ادارو تبصرې او همدارنګه د موندنو او سپارښتنو په وړاندې غبرګونونه هم شامل دي (www.sigar.mil).

## په دې ربع کې نوي اعلان شوي پلټنې

د دې ربعې په ترڅ کې سیګار شپږ پلټنې پیل کړې. دا پلټنې لاندې موارد ارزوي:

- د USAID لخوا د خصوصي امنیتي شرکتونو په ځای افغان عامه محافظت ځواک ته د امنیت د لیږد اغیزه
- د افغان حکومت لخوا د معاشاتو تصدیق شوی پروګرام
- د 2010 مالي کال څخه دیخوا د اوبو په برخه کې د USAID پروژې
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرسونل معلوماتو باوري توب
- د بیارغونیزو فعالیتونو د لیږد لپاره د متحده ایالاتو د حکومت پلان
- د مستقیم مرستو په اداره او حساب ورکولو کې د افغان حکومت د وړتیا معلوملو لپاره د USAID هڅې

### نوي پلټنې

- د USAID بیارغونیزو پروژو باندې د خصوصي امنیتي قرارداد کونکو څخه افغان عامه محافظت ځواکونو ته د لیږد اغیزه
- د افغان حکومت لخوا د معاشاتو منل شوی سیستم کارونه
- د افغانستان د اوبو سکتور سره د USAID مرسته
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پرسونل معلومات باوري توب
- د بیارغونې لیږد په اړه د متحده ایالاتو د دولت پلان
- د افغان وزراتونو د ظرفیت ارزونه

## APPF ته د امنيتي دندو سپارنه

سيګار د USAID لخوا د بيارغونيزو پروژو امنيت د خصوصي امنيتي شرکتونو څخه APPF ته د سپارلو په اړه د خپل 2012 کال د جون د پلټنې په تعقيب يوه بله پلټنه پيل کړې ده. د 2011 کال په مارچ کې، ولسمشر کرزي د ټولو خصوصي امنيتي شرکتونو د منحل کيدو اعلان وکړ او د 2011 کال د مارچ څخه وروسته يې د ټولو پراختيايي پروژو د امنيت پړه د دولت تر ولکې لاندې APPF ته وسپارله. په 2012 کال کې د سيګار رپوټ د دې ليږد په اړه انديښنه ښکاره کړې وه. USAID ژمنه وکړه چې دا ليږد به په کلکه څاري او پايلې يې وارزوي. دا پلټنه به لاندې ټکي معلوم کړي (1) د USAID د ټاکلې پروژو د امنيتي خدمتونو لګښت او کومه اغيزه چې APPF ته د امنيت سپارلو نه وروسته په امنيتي لګښت پريوتی وي، (2) د امنيتي لګښتونو څخه د بياکتنې او څارنې لپاره د USAID ميکانيزمونه، او (3) په بيارغونيزو پروژو باندې د APPF د ليږد اغيزه. همدارنګه پلټنه به دا هم وګوري چې آيا د USAID د ټاکلو پروژو پلي کونکي ملګري د داسې شرکتونو څخه کار اخلي چې د افغان دولت لخوا اجازه ورکړ شوی وي.

## د معاشاتو په اجراکولو کې د افغان حکومت ظرفيت

سيګار د افغان حکومت لخوا د معاشاتو تصديق شوي پروګرام په اړه يوه پلټنه پيل کړې ده. دا پلټنه به د افغان حکومت لخوا د معاشاتو تصديق شوی پروګرام په پلي کولو تمرکز کوي او دا به معلومه کړي چې افغان حکومت تر کومه بريده کولی شي د پروګرام د شرطونو او ملي قانون په اساس يوازې خپل رسمي ملکي کارکونکو ته د معاشاتو منل شوي جوړښت په اساس په نقدي بڼه او په ټاکل شوې زماني چوکاټ کې معاش ورکړي.

## د اوبو په سکتور کې د USAID پروژې

د افغانستان د اوبو زيرمو پراختيا د متحده ايالاتو د بيارغونيزو هڅو مهمه موخه ده. څو لسيزه شخړې او پرله پسې وچکالي د اوبه لګونې او نورو زيربناو د ويجاړيدو، د اوبو ناکافي څارنې او ساتنې، د ښباک خوندي او مناسبه اوبو ته لاسرسي نه درلودل، د اوبو په اړه د ډاډه معلوماتو نشتون، او د اوبو د مديريت په برخه کې د تکړه بشري سرچينو نه درلودلو لامل شو. په نورو مسايلو کې د اوبو پياوړي حکومتولي او مقرراتو ته اړتيا، او محيطي څارنه شامليږي.

د متحده ايالاتو حکومت د حساب ورکونې دفتر د 2010 کال په نومبر کې رپوټ ورکړ چې متحده ايالات به د افغان اوبو سکتور څخه د ملاتړ لپاره هڅې وکړي. GAO سپارښتنه وکړه چې USAID د DOD او اړوندو ادارو په همغږۍ سره، د افغانستان اوبو لپاره د متحده ايالاتو بين الاداري ستراتيژي چمتو کړي؛ يو مرکزي ډيټابيس طرح، او د کړنې مديريت ته وده ورکړي. همدارنګه GAO وويل چې د متحده ايالاتو حکومت پلان لري د اوبو د سکتور پراختيا ګړندۍ کړي، چې دا هڅې به د 2010 مالي کال څخه تر 2014 مالي کال پورې $2.1 ميلیارده ډالر لګښت ولري.

د دې پلټنې موخه به دا وي چې (1) معلومه کړي چې بشپړ شوي، رواني او پلان شوي پروژې تر کومه حده د USAID د پروژې موخې ته رسيږي او د افغانستان اوبو لپاره په 2010 کال کې د متحده ايالاتو بين الاداري ستراتيژۍ سره برابر دي او (2) د 2014 کال څخه وروسته د اوبو سکتور د پروژو لپاره د USAID پلانونه معلوم او وارزوي.

## د ANSF د پرسونل معلومات

د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې، کانګرس د افغان ملي امنیتي ځواکونو د جوړښت، تجهیز، روزنې، او پایښت لپاره له 51$ میلیارده ډالرو څخه ډېر تخصیص کړي چې د 2014 کال په دسمبر کې به خپل وروستۍ شمیر 352,000 ته ورسیږي. پهرصورت، سیګار او نورو رپوټ ورکړی چې د ANSF د شمیر په نښه کول له ننګونو څخه ډک دي. د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونه پر افغان ځواکونو اعتبار کوي ترڅو د خپل پرسونل د شمیر په اړه رپوټ ورکړي، چې ډېر ځلي د غیرمرکزي، شلیدلې او توپیر لرونکي سیستمونو په مرسته په لاسونو لیکل شوي معلوماتو په اساس وړاندې کیږي. بله داچې سیګار رپوټ ورکړی چې داسې کوم مناسب میتود نشته چې د پرسونل شمیر ته اعتبار وبښي. د دې لپاره چې معلومه شي د متحده ایالاتو مرستې چې ANSF څخه د ملاتړ لپاره یې ورکوي په قانوني او سم لګښتونو کې مصرف کیږي، د ANSF پرسونل دقیق او د اعتبار وړ شمیرنه ضروري ده. دا پلټنه د ANSF د رسمي، ګومارل شوي او روزل شوي سرتیرو د شمیر په هکله د ورکړ شوي معلوماتو ګټورتوب او اعتبار ارزوي. دا به همدارنګه د ANSF د پرسونل په اړه د معلوماتو راغونډولو میتودولوژي بیاکتنه وکړي، او معلومه به کړي چې DOD تر کومه حده راغونډ شوي معلوماتو ته اعتبار ورکوي.

## د بیارغونیزو فعالیتونو لیږدول

د 2011 کال په جون کې، ولسمشر اوباما اعلان وکړ چې د متحده ایالاتو محاربوي ځواکونه به په 2014 کې له افغانستانه ووځي، او دا چې متحده ایالات د یو ځواکمن افغانستان جوړیدو لپاره په خپلو ملاتړو ژمن دی. د متحده ایالاتو ستراتیژیکو موخو او د هغو سرچینو په پام کې نیولو سره چې په افغانستان کې پانګونه شوي او تمه کیږي په راتلونکې کې د افغانستان سره مرسته وکړي، دا خبره کړکیچنه ده چې کومې بیارغونیزې شتمنۍ او پروژې چې د متحده ایالاتو لخوا بشپړې شوي دي د خپلو موخو لپاره ساتنه او کارونه وشي. دا پلټنه به معلومه کړي چې آیا د متحده ایالاتو دولتي ادارې جامع او بین الاداري پلان په نظر کې لري او آیا دا پلانونه د شتمنۍ لیږد بهیر، د دې شتمنیو په ساتنه کې د افغان دولت وړتیا، او د متحده ایالاتو د ټولو پروژو او اسنادو یو جامع فهرست جوړولو ته پام لري که نه.

## د مستقیمې مرستې لاسته راوړلو کې وزارتي ظرفیت

د 2007 څخه تر 2010 کال پورې، USAID-افغانستان د قرارداد څخه مخکې د مالیې؛ مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژي؛ عامه روغتیا؛ کرهنه، اوبه لګونه، او ځمکې؛ زده کړې؛ او د کلو د بیارغونې او پراختیا وزارتونو ارزونې بشپړې کړي. د USAID د ځانګړي عمومي پلټونکي دفتر د قرارداد څخه وړاندې دا د 2010 کال ارزونې یې د ډاډینې له نظره ارزولې دي او موندلې یې ده چې د اعتبار وړ ندي. USAID OIG د قرارداد څخه وړاندې ارزونو پیاوړي کولو لپاره USAID ته ځینې سپارښتنې وړاندې کړي دي. په 2011 کال کې، USAID د Ernst & Young او KPMG په نوم د محاسبې شرکتونو سره قرارداد لاسلیک کړ تر څو د مستقیمې مرستې منلو او اداره کولو په برخه کې د افغان حکومت د وزارتونو ظرفیت وارزوي. دا پلټنه به د USAID په بودیجه ارزونې وارزوي، د شرکتونو موندنې به لنډې کړي، او دا به ارزوي چې USAID څنګه د وزارتونو د ظرفیت ارزونې د مستقیمې مرستې په هکله کاروي یا د کارولو پلان لري.

## روانې پلټنې

### په سهيلي سيمه کې د نړيوالې سوکالي او پراختيا شرکت سره د USAID د کرهنيزې پراختيا پروژې ملګرتيا

USAID د سهيلي سيمې د کرهنيزې پراختيا پروژې بوديجه ورکوي تر څو له سيمه ايزه بې ثباتي سره مبارزه وکړي، کرهنيز کارونه او عايدات زيات کړي، او سيمه له نا امنۍ څخه د پايداره او سوکاله کرهنيز اقتصاد لرونکې سيمې ته بدله کړي. د 2012 کال په فبروري کې، سيګار داسې تورونه تر لاسه کړل چې د USAID پلي کونکی ملګری د نړيواله سوکالۍ او پراختيا شرکت. د سيمې له حکومت او پوځي چارواکو سره په همغږۍ کې پاتې راغلی او د دليل نه پرته په شمسي او د ځمکې په ټراکټور باندې پيسې لګوي. سيګار دا معاينه ترسره کوي ترڅو د شمسي او کرهنيز ټراکټور لاسته راوړلو اساس ومومي، او دا چې آيا د IRD مصارف د ستراتيژيکې ملګرتيا له شرطونو او د پروګرام له موخو سره برابر دي که نه.

### پر هغو قرارداد کونکو باندې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لخوا تجارتي ماليې چې په افغانستان کې د متحده  ايالاتو څخه ملاتړ کوي

متحده ايالاتو په افغانستان کې د متحده ايالاتو د بيارغونيزو پروګرامونو پلي کولو لپاره په قرارداد کونکو او فرعي قرارداد کونکو باندې ډيره تکيه کوي. افغان حکومت په هغو قرارداد کونکو باندې ماليه او جريمه وضع کوي چې د متحده ايالاتو د فعاليتونو څخه ملاتړ کوي. د دې پلټنې موخه دا ده چې معلومه کړي (1) د هغه نامناسب ماليې او جريمې اندازه چې افغان حکومت ټاکلې ده او د ورکړشوي ماليې اندازه چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د قرارداد کونکو لخوا ورکړ شوې ده، او (2) معلومه کړي چې د متحده ايالاتو دولتي اداري کوم ګامونه پورته کړي تر څو پر دې قرارداد کونکو باندې د افغان حکومت د ماليې پيټی کم کړي.

### افغان د ځانګړي ماموريتونو ځانګې څخه د متحده ايالاتو ملاتړ

د کوکنارو د کښت او د غير قانوني موادو د قاچاق څخه مخنيوي لپاره د نړيوالې ټولنې او افغان دولت د هڅو سربيره، بيا هم افغانستان د نړۍ 90% کوکنار توليدوي. غير قانوني سوداګري د جنګياليو سره هم مرسته کوي. د مخدره توکو په ضد د متحده ايالاتو ستراتيژۍ هڅه کوي څو د مخنيونکي عملياتونو له لارې جنګياليو ته د مرستو د رسيدلو مخه ونيسي. دا عملياتونه د قانون پلي کونکو امريکايي او افغاني چارواکو ته د متحده ايالاتو په مرسته د هوايي خوځښت ملاتړ پورې اړه لري. د مخدره توکو په ضد د عملياتونو پايښت لپاره د افغان د ځانګړي ماموريتونو ځانګې ـــ وړاندې د هواي مخنيوی واحد په نوم ياديده د وړتياو ودې لپاره د متحده ايالاتو هڅې اړينې دي. ياده پلټنه دا مسايل په نښه کوي (1) د متحده ايالاتو مرستې تر کومه حده د يو پايداره SMW رامينځته کولو کې مرسته کړې ده چې کولی شي په خپلواکه توګه خپل ماموريت سرته ورسوي؛ او (2) د SMW څخه ملاتړ لپاره د قراردادونو/وظيفوي فرمانونو څخه د متحده ايالاتو حکومت د څارنې اغيزه.

**روانې پلټنې**

- په جنوبي سيمه کې د نړيواله سوکالي او پراختيا شرکت سره د USAID د کرهنيزې پراختيا پروژې ملګرتيا
- تعرفې، ماليې او نور فيسونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت لخوا د متحده ايالاتو د بيارغونيزو پروژو له قرارداد کونکو څخه اخيستل کيږي
- د مخدره توکو ممانعت افغاني عملياتونو لپاره د هوايي خوځښت ملاتړ
- په افغانستان کې د بهرنيو چارو وزارت د لګښتونو مالي پلټنه
- د ANSF لپاره روانې رغونيزې پروژې
- د افغان ملي پوليسو پترول، تيل، او ګريس
- $230 ميليونه ډالر په ورک شوي ترميمي پرزو کې
- د افغان ملي امنيت د سواد زده کولو روزنه
- د افغان قضايي سکتور پرسونل ته روزنه

## د بهرنيو چارو وزارت لخوا په افغانستان کې د بخششونو او تعاوني هوکړه ليکونو مالي پلټنه

د 2002 کال څخه ديخوا، د بهرنيو چارو وزارت د افغانستان د بيارغونې بوديجې څخه د 315$ ميليونه ډالرو په ارزښت 140 بخششونه او تعاوني هوکړه ليکونه لاسليک کړي چې هر يو يې 1$ ميليون ډالر يا زيات ارزښت درلود. د هغو مرستو مالي پلټنه چې په دې بڼه قرارداد شوي دي د بهرنيو چارو وزارت ته د دې مرستو په څرنګوالي باندې يوه خپلواکه ارزونه وړاندې کوي. په 2012 کال کې، سيګار د USAID د بيارغونيزو هڅو په اړه يوه پلټنه بشپړه کړه(سيګار 9-12 پلټنه). اوس يوه ورته پلټنه د بهرنيو چارو وزارت د هغو لګښتونو په اړه ترسره کوي چې په افغانستان کې د بخششونو او تعاوني هوکړه ليکونو په بڼه مصرف شوي دي.

## د ANSF لپاره رغونيزې اړتياوې

د 2012 کال د جون تر 30 پورې، متحده ايالاتو د ANSF لپاره 311 روانې رغونيزې پروژې د 3.73$ ميليارده ډالرو په ارزښت درلودې او د 2.4$ ميليارده ډالرو په ارزښت يې نورې 244 پروژې په پلان کې وې. سيګار به د پروژې شرطونو لپاره د امنيتي ليږد ګډې قوماندې–افغانستان توجيه او ملاتړ معاينه کړي. همدارنګه پلټنه به لاندې موارد معلوم کړي: (1) د ANSF لپاره د متحده ايالاتو او ايتلافي ځواکونو د مرکز جوړولو پلانونه تر کومه حده د ANSF شمير په پام کې نيولو سره طرح کيږي؛ (2) آيا CSTC-A د نويو ودانيو لپاره کوم بديل په پام کې نيولی دی؛ (3) او آيا CSTC-A مناسب معيارونه جوړ کړي او کارولي دي تر څو معلومه کړي چې د ANSF لپاره وړانديز شوې پروژې اړين، ګټور، او د افغان حکومت لخوا د ساتلو وړ دي.

## د افغان ملي پوليسو پټرول، تيل، او ګريس

په 2012 کال کې سيګار د پټرول، تيل، او ګريسو په برخه کې د ANA د لوجيستيکي ظرفيت په اړه يوه پلټنه خپره کړه. د سيګار 4-13 پلټنې معلومه کړه چې د ANA POL کنټرول اړين دی تر څو د متحده ايالاتو د 1.1$ ميليارده ډالرو درغلۍ، ضايع، او ناوړه کارونې څخه مخنيوی وشي. د افغان ملي پوليسو POL هم لکه د ANA POL د ورته لنډ انتقال مهال ويش او ننګونو سره مخ دی، او سيګار وړاندوينه کوي چې د افغان ملي پوليسو د لوژستيک ظرفيت په پلټنه کې به ورته مسايل را برسيره کيږي. نوې پلټنه به د ANA POL په اړه پر دوو مسايلو ټينګار کوي: د سون موادو د اړتيا دقت، او د سون موادو د اخيستنې حساب ورکونه.

## 230$ ميليونه ډالر په ورک شوي ترميمي پرزو کې

د 2012 کال په سپټمبر کې، د نړيوال سوله ساتي ځواکونو د سلامشورې او مرستې ډلې قوماندان د نظامي ارزونې ډلې رپوټ ورکړ چې CSTC-A نشي کولی د 500 بارلرونکي کانتينرانو څخه د 474 هغو په اړه حساب ورکړي چې د 230$ ميليونه ډالرو په ارزښت د ANSF د تجهيزاتو ترميمي پرزې پکې وې. CSTC-A دا ترميمي پرزې د 2007 او 2011 کلونو ترمينځ د افغان ځواکونو لپاره اخيستې دي. يادې ډلې ويلي دي چې د پرزو نادرکه کيدنه کيدای شي د دې لامل شوې وي چې CSTC-A نړدې د 137$ ميليونه ډالرو په

ارزښت د نورو ترميمي پرزو فرمايښت ورکړی وي. ډلې د يو رپوټ په خپرولو سره له سيګار نه غوښتنه وکړه چې د دې ترميمي پرزو د فرمايښت او مديريت لپاره د CSTC-A له بهير څخه څيړنې ترسره کړي. رپوټ د ترميمي پرزو په ټوله لوژستيکي کړۍ کې د حساب ورکونې ملاحظات موندلي دي، لکه افغانستان ته د پرزو ليږدول، په کابل کې د متحده ايالاتو حکومت لخوا د پرزو منل، د ANSF قرارداد کونکو او فرعي قرارداد کونکو لخوا د پرزو ذخيره کول، او ANSF ته د پرزو انتقالول. د سيګار پلټنه به (1) معلومه کړي چې CSTC-A د ANSF لپاره د کلاس IX ترميمي پرزو د اړتياو معلومولو او اخيستلو، مديريت، ذخيره کولو او ويشلو لپاره د کوم بهير نه کار اخلي؛ او (2) داخلي کنترول ارزوي تر څو معلومه کړي چې د کلاس IX ترميمي پرزو د حساب ورکولو او د چل، ضايع کيدنې، او ناوړه کارونې څخه مخنيوي لپاره کافي دي که نه.

### د ANSF سواد زده کولو روزنه

د ANSF په ليکو کې بې سوادي لا هم د تکړه او خودکفا ځواک رامينځته کولو په لاره کې چې د خپلواکو عملياتونو او د افغان خلکو څخه د دفاع وړتيا ولري، يو لوی خنډ دی. متحده ايالاتو د 200$ ميليونه ډالرو په ارزښت درې قراردادونه لاسليک کړي څو تر 2015 کاله پورې ANSF ته د سواد زده کولو روزنه ورکړي. د پروګرام موخه به دا وي چې د بې سوادۍ کچه د پام وړ ټيټه کړي. سيګار به د ANSF د سواد زده کړې درې واړو پروګرامونو له تطبيق او خارنې څخه ارزونه وکړي. دا به معلومه کړي چې آيا قرارداد کونکي مناسب استاذان او خدمتونه وړاندې کوي؛ CSTC-A ترکومه بريده د قرارداد کونکي کړنه او د روزنې پايلې څاري؛ او قرارداد تر کومه حده د ANSF لپاره د سواد اساسي او پايداره کچې چمتو کولو موخه تر لاسه کوي.

### د افغان قضايي سکتور پرسونل ته روزنه

د ستراتيژيکه بيارغونې په برخه کې د متحده ايالاتو يو لومړيتوب په افغانستان کې د قانون حاکميت او د قضايي سکتور پراختيا څخه د ملاتړ لپاره مرستندويه پروګرامونه او بوديجې چمتو کول شامل دي. دا پلټنه به په سر کې د بهرنيو چارو وزارت د قضايي سکتور څخه د ملاتړ پروګرام باندې تمرکز ولري. د دې پروګرام موخه دا ده چې د قضايي سکتور پرسونل ته روزنه ورکړي او د افغان قضايي سيسټم عمومي ظرفيت زيات کړي. سيګار همدارنګه په پلان کې لري چې د DOD د قانون حاکميت برخې ځواک افغانستان او د USAID د قانون حاکميت باثباته کولو پروګرام ته هم کتنه وکړي، چې دا دواړه هم د قضا پرسونل ته روزنه ورکوي.

### مالي پلټنې

د سيګار مالي پلټنې پروګرام د خطر په اساس کړنلاره کاروي ترڅو د هغو لګښتونو پلټنه وکړي چې د متحده ايالاتو لخوا د افغانستان د بيارغونې لپاره د قراردادونو، بخششونو، او تعاوني هوکړه ليکونو په بنه ورکړ شوي دي. دا پروګرام وروسته له هغه رامينځته شو چې کانګرس او څارونکې ټولنې د سيند نه پورې غاړې د عملياتونو په قراردادونو او بخششونو کې د پلټنې نشتون په اړه انديښنې څرګندې کړې. د دې نوښت له لارې به، سيګار:

- معلومه کړي چې کوم لګښتونه د متحده ایالاتو لخوا د قراردادونو او بخششونو په بنه د افغانستان بیارغونې لپاره ورکړ شوي دي منطقي، د تخصیص وړ، او د زغم وړ دي؛
- د قرارداد یا مرستې په اړوند د داخلي کنټرول چاپیریال ارزوي؛
- د نه منلو یا کمزوري داخلي کنټرول په صورت کې، بالقوه چل یا ناوړه کارونه په ګوته کوي؛ او
- د مخکینیو پلټنو موندنې او سپارښتنې تعقیبوي.

د سیګار د مالي پلټنو لومړی دوره بشپړیدو ته نږدې شوې ده د 12 څخه 11 مالي پلټنې به په راتلونکې ربع کې خپرې شي. د رپوټ پدې دوره کې، سیګار د 11 نوې مالي پلټنو په اعلانولو سره د خپل مالي پلټنو لمنه پراخه کړه، چې په دې سره په پروګرام کې ټولې 23 پلټنې شاملیږي او د 1.8$ میلیارده ډالرو لګښت په اړه پلټنې کوي. سیګار به نوې پلټنې د 2013 کال په مې کې په رقابتي ډول د پلټنې خپلواکو شرکتونو سره قرارداد کړي. د نوي او روانو مالي پلټنو لست د ج ضمیمې په 206–205 مخونو کې موندلی شی.

## تفتیشات

سیګار پدې ربع کې درې تفتیشات بشپړ کړي. بشپړ شوي تفتیشات د کندز په ولایت کې د یو مرکز د بریښنا او د قرارداد پلي کولو ځینې ستونزې؛ د قلعه مسلم یو طبي کلینیک کې د کامیابی یوه کیسه؛ او د ناکارول شوي سون ځایونو لپاره د 5$ میلیونه ډالرو لګول موندل.

### د تفتیشاتو رپوټونه خپاره شول

### 13-6 تفتیش: افغان ملي پولیس د عمومي سړک امنیتي شرکت، د کندز ولایت له مهال ویشه وروسته دی او کیدای شي پایښت ونلري.

د کال په فبروري کې، د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعې-افغانستان د انجینرانو سیمې-شمال د 1.7$ میلیونه ډالرو په ارزښت یو قرارداد د بامیک ګلوبل کانسټرکشن کمپنې سره لاسلیک کړ تر څو په کندز ولایت کې د افغان ملي پولیسو د عمومي سړک امنیتي شرکت لپاره یو کمپ ډیزاین او جوړ کړي. د سیګار تفتیش معلوموي چې آیا رغونه د قرارداد د شرطونو او د استعمالیدونکي معیارونو سره سم ترسره شوی، او ایا د رغونې یا طرحې کومه مساله د مرکز اوږدمهاله پایښت له خطر سره مخ کړې ده.

#### موندنې

سیګار د خاورې ټینګولو داسې پروسه ولیدله چې د افغان پولیسو د عمومي سړک امنیتي شرکت کمپ په راتلونکې کې د ځمکې کیناستلو او د ودانۍ د ناکامۍ له خطر سره مخ کوي. په ځانګړې ډول، قرارداد کونکي د خاورې ټینګولو لپاره د وزن لرونکې ډمټرک یا نوماټیک ټایر لرونکی رولر په ځای یو ساده فولادي ټایر لرونکی رولر کارولی دی. د USACE چاراواکو ویلي چې د تویېدونکې خاورې ستونزې هوارولو لپاره د قرارداد کونکي لخوا د کیندنې کار

> **بشپړ شوي تفتیشات**
>
> - 13-6 تفتیش: په کندز ولایت کې د افغان ملي پولیسو د عمومي سړک مرکز، له مهال ویشه ورسته پاتې او کیدای شي پایښت ونلري.
> - 13-7 تفتیش: د قلای مسلم طبي کلینیک ټولنې ته ښه خدمت وړاندې کوي، خو د ودانۍ کیفیت په بشپړه توګه نشي ارزول کیدای.
> - 13-8 تفتیش: د سالیرنو وړاندې عملیات کولو مرکز: نامناسبه پلان جوړونه د دې لامل شو چې 5$ میلیونه ډالر د بیکاره سون ځایونو او په پرله پسې ډول په سرخلاصه کندو کې د خطرناکو موادو د سوزیدنې عملیاتونو لپاره مصرف شي.



**یو امریکایي سرتیری** د ANP د عمومي سرک امنیتي کمپ کې پیره کوي. (د سیګار انځور)

د قرارداد له ځانګړنو سره سم ترسره شوی دی. پهر صورت، کومه پروسه چې د قراردادکونکي لخوا کارول شوی د متحده ایالاتو د پوځ لاربشود سره سمه نه وه او همدارنګه په ساحه کې او دکندز په شاوخوا سیمه کې د تویيدونکې خاورې له امله یوه لویه اندیښنه ده.

پروژه د مهال ویشه وروسته پاتې او کیدای شي د 2013 کال د می تر 18 پورې چې ټاکل شوې ده بشپړه شي، پای ته ونه رسیږي. که څه هم د سیګار د لیدنې پرمهال د کړنې مودې 54% پای ته رسیدلې وه، یوازې 15% کار بشپړ شوی و. قرارداد کونکي ژمنه وکړه چې د رغونې مهال ویش سره برابریدو لپاره ځینې ګامونه، لکه د کاري دورې دوه چنده کول، پورته کړي. د USACE چارواکو ویلي چې دا لومړی ځل دی چې قرارداد کونکی د لومړي قرارداد کونکي په توګه کار کوي او هم د دولتي کړنلارو له امله هم یو څه لاندې شوی دی. چارواکي باور لري چې د قرارداد کونکي کړنې وده موندلې ده.

سیګار وموندہ چې مرکز ته یوازې یو جنریټر برېښنا ورکوي، پرته له دې نه چې مرستیال جنریټر ولري یا د محلي برېښنا سره اړیکه ولري. بله داچې، د تفتیش په وخت کې، پدې اړه هیڅ کوم پلان نه و چې افغان حکومت ته د مرکز له سپارلو نه وروسته به د عملیات او ساتنې مسولیت د چا په غاړه وي. د خاورې ټینګولو، د برېښنا کومکي سرچینې، او د عملیات او ساتنې مسایلو ته د پام نه کولو په صورت کې کیدای شي د متحده ایالاتو 1.7$ میلیونه ډالر پانګونه پدې مرکز کې له خطر سره مخ شي.

## سپارښتنې

سیګار د USACE عمومي قوماندان او د ناټو روزنې ماموریت-افغانستان/د امنیتي لیږد ګډې قوماندې-افغانستان عمومي قوماندان ته دوې سپارښتنې لري چې د برېښنا کومکي سرچینه، او د عملیات او ساتنې لګښت په پام کې ونیسي.

**د ادارو تبصرې**

سيګار د USACE او NTM-A/CSTC-A څخه رسمي تبصرې ترلاسه کړې دي. د دې رپوټ د مسودې په اړه د دوی د تبصرو له امله سيګار خپل سپارښتنې بياوکتلې او مناسب تغيرات يې په رپوټ کې راوستل.

## 13-7 تفتيش: د قلای مسلم طبي کلينيک ټولنې ته ښه خدمت وړاندې کوي، خو د ودانۍ کيفيت په بشپړه توګه نشي ارزول کيدای



د قلای مسلم طبي کلينيک **د زيرون نه وروسته کوټه** (د سيګار انځور)

د 2010 کال په سپتمبر کې، د متحده ايالاتو ځواکونه-افغانستان په چوکاټ کې د کابل ګډ عملياتي ځواک، د 160,000$ ډالرو په ارزښت د CERP يو قرارداد د ځواکمن نبي زی کانسترکشن کمپني سره لاسليک کړ. په قرارداد کې د يو طبي کلينيک جوړول شامل و چې د کابل ولايت په قلای مسلم کلي کې جوړيدو. سيګار د خپل تفتيشي پروګرام په يوه برخه کې له دې مرکز څخه ليدنه وکړه تر څو معلومه کړي چې آيا د قرارداد له شرطونو او د استعمال وړ معيارونو سره سم جوړ شوی دی که نه، او ايا ودانۍ د کوم مقصد لپاره چې جوړه شوې کارول او ساتنه کيږي که نه.

**موندنې**

د CERP په مرسته د قلای مسلم طبي کلينيک جوړول د يو کامياب کيسې په توګه بريښي. د 4,000 کسانو ټولنې د کلينيک په جوړولو کې مرسته کړې، يو کليوال ځمکه بخشش کړې، او تسهيلات يې په ورځينی ډول کارول کيږي. کلينيک درې ودانۍ لري يوه ساده کيسه، څو اتاقه طبي کلينيک، يو درملتون، او يو تشناب او په ابتدايي ډول ښځو او ماشومانو ته د واکسين په شمول اساسي طبي پاملرنه چمتو کوي. د سيګار د تفتيش په وخت کې، موجود اسناد يې د 2011 کال د سپتمبر څخه تر اوسه پورې 1,565 سرپا مشورې، 63 مخکې له زيږون نه ناروغان، او 63 زيږونې ثبتې کړې وې.

د سيګار تفتيش همدا رنګه وښوده چې تسهيلات په ښه توګه ساتل کيږي. MOPH د پروژې تصويب کيدو د يوې برخې په توګه لاسليک کړی و چې د کلينيک له بشپړيدو سره سم يې د ساتنې مسوليت په غاړه واخلي او خپله ژمنه يې سرته ورسوله. په تفتيش کې ومونډل شو چې مرکز ګرمي کارکوي، فرشونه يې پاک وي، بسترونه زيات او ښه ساتل شوي، او درملتون يې هم ښه تنظيم شوی و.

که څه هم سيګار د تفتيش په ترځ کې کومه لويه نيمګړتيا ونه موندله، خو مفتشين ونه توانيدل تر څو په بشپړه توګه معلومه کړي چې د کلينيک ودانۍ د قرارداد شرطونو او د رغونې له معيارونو سره سم جوړه شوی که نه. دا ارزونه د دې لپاره شونې نه وه چې د پروژې له نيمايي نه زيات اړين اسناد، لکه لومړنی نقشه او د کيفيت ډاډينې رپوټونه، د DOD د ګډ معلوماتي شبکې بدلولو (CIDNE) ډيټابيس څخه ورک شوي وو. سيګار وړاندې هم د CERP پروژو د اسنادو د ورکيدو ستونزې په اړه رپوټ ورکړې وه، او د دې پروژې د اسنادو ورکيدنه په ډاګه کوي چې دا ستونزه لاهم نده هواره شوې.

**سپارښتنې**

سيګار سپارښتنه کوي چې د USFOR-A عمومي قوماندان دې ټکو باندې مناسب فشار راولي ترڅو (1) ډاډه کړي چې د CERP د پروژو اسناد د CERP له لارښودونو سره سم چمتو کيږي او (2) د CIDNE ډيټابيس په دوره ای ډول وکتل شي تر څو ډاډه شي چې د ټولو پروژو دوسيې پورته شوي دي.

**د ادارې تبصرې**

USFOR-A د سيګار سپارښتنو سره موافقه وکړه او ويې ويل چې د پلي کولو لپاره يې ګامونه پورته کوي. د بيلګې په توګه، د سيګار د سپارښتنو په اساس، د USFOR-A عمومي قوماندان خپل پرسونل ته امر وکړ چې اسناد د CERP لارښود سره سم وي او د CIDNE ډيټابيس په دوره اي شکل بياکتنه وشي.

## 13-8 تفتيش: د سالیرنو وړاندې عمليات کولو مرکز: نامناسبه پلان جوړونه د دې لامل شو چې 5$ ميليونه ډالر د بيکاره سون ځايونو او په پرله پسې ډول په سرخلاصه کندو کې د خطرناکو موادو د سوزيدنې عملياتونو لپاره مصرف شي

USACE د 5.4$ ميليونه ډالرو په لګښت يو قرارداد لاسليک کړ تر څو د وړاندې عمليات کولو مرکز کې د جامدو موادو مديريت لپاره تسهيلات جوړ کړي. قرارداد د دوه 8 ټنه ظرفيت لرونکې سون ځايونو د جوړولو غوښتنه کوله چې مرستندويه تسهيلات لکه د ايرو کنده او هم اداري دفتر ولري. د قرارداد په وخت کې، ياد مرکز د خپلو اضافي موادو له مينځه وړلو لپاره د سرخلاصو کندو څخه کار اخيستل. FOB سالیرنو ويلي چې په څو دلايلو د سون ځايونو جوړولو پريکړه يې کړې ده، لکه هغه احتمالي خطرونو چې په ازاده هوا کې د جامدو موادو له سوځيدو ورسته خپريږي او د کارمندانو روغتيا له ګواښ سره مخ کوي. دا



په FOB سالیرنو کې **د جامدو ضايعاتو لپاره جوړ شوي سون ځايونه** (د سيګار انځور)

رپوټ ارزوي چې (1) آيا رغونه د قرارداد شرطونو او د استعمال وړ معيارونو سره سم ترسره شوې ده، (2) آيا سون ځايونه او مرستندويه تسهيلات د کوم مقصد لپاره چې جوړ شوي کارول او ساتنه کيږي، او (3) په سرخلاصه ځايونو کې د سوزيدنې عملياتونو وضعيت.

**موندنې**

FOB سالیرنو د داسې سون ځایونو او مرستندویه تسهیلاتو لپاره 5$ میلیونه ډالر مصرف کړي دي چې هیڅکله به یې هم ونه کاروي. دوه 8 ټنه ظرفیت لرونکي سون ځایونه په عمومي ډول تخنیکي ځانګړنې لري او د مرکز د ورځینی بیکاره جامدو موادو لپاره مناسبه اندازه لري، منو چې په ورځ کې 24 ساعته کار کولی شي. سیګار ومونده چې د مرکز د ګواښونو وضعیت د سون ځایونو کارونه په ورځ کې 12 ساعتونو پورې محدودوي، چې پدې سره د ورځینی بیکاره جامدو موادو یوازې57–50% له مینځه وړلی شي. ځکه نو، که چیرته سون ځایونه هم وکارول شي، بیا هم مرکز نورو وسیلو ته اړتیا لري لکه په سرخلاصه کندو کې د سوزیدنې عملیاتونه تر څو خپل بیکاره جامد مواد له مینځه یوسي. پهرصورت، روغتیایي اندیښنې د هغو دوړو او خاورو د تنفس کولو په اړه شته دي چې د سرخلاصه کندو څخه پورته کیږي.

که څه هم رغونه د پرانیستی "پنچ لست" پرزو له امله بشپړه نه شوه، د FOB سالیرنو چارواکو تسهیلات ومنل او قرارداد هم د USACE لخوا او تړل شو. همدارنګه، د ساتنې اقداماتو نشتون له امله، تسهیلات له خرابۍ سره مخ شول. په یوه پیښه کې، د سون ځایونو لاندې ولاړې اوبه ټولې شوې، او ځایي خلکو ته یې د ملاریا میاشو له امله روغتیایي خطر رامینځته کړ. د دې ټولو فکټورونو په څنګ کې، دا موضوع چې د تسهیلاتو کارونه او ساتنه په کال کې 1$ میلیون ډالر لګښت لري، د FOB سالیرنو چارواکې دې ته اړ کړه چې سون ځایونه او مرستندویه تسهیلات ونه کاروي.

د سون ځایونو په نشتون کې، FOB سالیرنو په سرخلاصه کندو کې د سوزیدنې عملیاتونو ته ادامه ورکوي چې پدې سره د DOD لارښودونه او د CENTCOM مقررات تر پښو لاندې کوي. په پای کې، د FOB سالیرنو چارواکې د سون ځایونو ترتیب کولو لپاره انتخابونه لټوي، خو د غوره انتخاب موندلو لپاره یې د متحده ایالاتو حکومت ته د لګښت-ګټې تجزیه نده وړاندې کړې.

**سپارښتنې**

سیګار سپارښتنه کوي چې د USFOR-A قوماندان دا ګامونه پورته کړي، (1) مناسب ګامونه پورته کړي تر څو بیا د سون ځایونو لاندې ولاړې اوبه ټولې نشي؛ (2) د مرکز د بیکاره شیانو لرې کولو لپاره قرارداد ګړندی کړي؛ او (3) د FOB سالیرنو د سون ځایونو ترتیب کولو لپاره د انتخابونو یو لست چمتو کړي، د متحده ایالاتو حکومت ته ډیر اقتصادي انتخاب په ګوته کړي، او پایلې یې په 60 ورځو کې سیګار ته وړاندې کړي.

**د ادارې تبصرې**

کله چې دا رپوټ مطبوعاتو ته وړاندې شو، ادارې د رپوټ د مسودې په اړه د خپل رسمي تبصرو په چمتو کولو بوخت و. په وروستي رپوټ کې د موندنو او سپارښتنو په اړه تبصرې او غبرګونونه شامل کړای شوي دي (www.sigar.mil).

## د سيګار د سپارښتنو وضعيت

د ځانګړي عمومي پلټونکي 1978 کال لايحه، لکه څنګه چې اصلاح شوې، د سيګار څخه غواړي تر څو د خپل سپارښتنو د وضعيت په هکله رپوټ ورکړي. پدې ربع کې، سيګار د 5 پلټنو او تفتيشاتو په ترڅ کې 21 سپارښتنې تړلې دي. د 2009 څخه د 2013 کال تر مارچ پورې، سيګار د پلټنې او تفتيشاتو 73 رپوټونه خپاره کړي او 245 سپارښتنې يې کړي چې په ترڅ کې يې 1.8$ ميليارده ډالر مشکوک لګښت په ګوته کړی چې کيدای شي سمه کارونه وشي، او د بيرته اخيستنې لپاره يې مرستې په نښه کړي دي. تراوسه پورې، سيګار د دې سپارښتنو 70% تړلې دي. د يوې سپارښتنې تړل دا معنا ورکوي چې يوې ادارې د سيګار سپارښتنه پلي کړې ده او ياهم موضوع ته په مناسبه توګه پاملرنه شوې ده. ځينې وخت يوه تړلې سپارښتنه د يو تعقيبي پلټنې موضوع وي.

کوم اصلاحي کارونه چې پدې ربع کې د سيګار د تړل شويو سپارښتنو په ځواب کې ترسره شوي، دا دي:

- د افغانستان د انرژۍ ماستر پلان ته بياکتنه او د کليوالي انرژي پروژو په اړه د معمولي تخنيکي معيارونو چمتو کول (4-10 پلټنه)
- د ملي پيوستون پروګرام د بوديجې څخه 2.8$ ميليونه ډالر بيرته لاسته راوړل چې د يو حواله کونکي لخوا ساتل شوی و (8-11 پلټنه).
- د متحده ايالاتو د ظرفيت زياتونې هڅو انسجام او همغږي کول، او د ملکي-پوځي پرمختګ اندازه کولو سره د افغانانو د ظرفيت زياتيدنه (1-12 پلټنه)
- د ودانۍ او ساتنې نيمګړتياو د ترميم لپاره د نقليه وسيلو د ساتنې ودانۍ او د توفاني تخليې سيستم جوړول (2-13 تفتيش)

همدارنګه د ځانګړي عمومي پلټونکي په اړه د 1978 کال لايحه، لکه څنګه چې اصلاح شوې، د سيګار څخه غواړي هغه مخکينۍ سپارښتنې هم په ګوته کړي چې په ځواب کې يې اصلاحي ګامونه ندي پورته شوي. پدې ربع کې، سيګار په 13 پلټنو او 4 تفتيشي رپوټونو کې د سپارښتنو په وړاندې د ادارو غبرګونونه ځارلی دی. درې رپوټونه چې 12 مياشتې مخکې وړاندې شوي، 17 مهمې سپارښتنې لري چې پريکړه يې ځنډول شوې ده.

دا درې رپوټونه يا خو د هغه سيستم د کمزورتياو کنترول ته اشاره کوي چې د افغان حکومت کارکونکو او تخنيکي مشاورينو ته د 45$ ميليونه ډالرو معاشات تعقيب او مصرفوي، د هغو امريکايي ډالرو ځارنې ته اشاره کوي چې د افغان اقتصاد له لارې تويږي، يا د هغه 654$ ميليونه ډالرو د اغيزې ځارنې ته بلنه ورکوي چې د افغان لومړنۍ بيارغونيز نوښت له لارې قرارداد شوي دي. په ځانګړې توګه،

- 11-5 پلټنه، د هغو مرستو د نابرابرۍ او ناخونديتوب کمولو لپاره مناسبو ګامونو ته اړتيا ليدل کيږي چې د متحده ايالاتو لخوا د افغان حکومت کارکونکو او تخنيکي سلاکارانو ته ورکول کيږي، د 2010 کال داکتوبر په 29 خپره شوې وه. 10 سپارښتنې د متحده ايالاتو سفير ته وړاندې شوې تر څو د متحده ايالاتو د معاشونو ملاتړ کې حساب ورکونه او توافق زيات کړي. سيګار يوه سپارښتنه وروسته له هغه وتړله چې د متحده ايالاتو سفير يو کس وټاکله څو د معاشونو ملاتړ د غوښتنې لپاره د محراقي نفر په توګه کار وکړي، او د هغه معاشي ملاتړ څخه ځارنه وکړي چې د امريکا لخوا چمتو کيږي. پاتې نه سپارښتنې تراوسه پرانيستې دي.

- 11-13 پلټنه، محدود بين الاداري همغږي او په افغانستان کې د متحده ايالاتو د مرستو ناسم کنټرول د متحده ايالاتو هغې هڅې له خنډ سره مخ کوي چې د افغان مالي سکتور پراختيا او د امريکا د پيسو خوندي ساتلو لپاره يې کوي. د 2011 کال د جولای په 20 خپره شوې ده. په دې رپوټ کې څلور سپارښتنې وې. يوه يې د متحده ايالاتو سفير څخه غوښتنه کوله چې د مالي سکتور پراختيايي پروګرامونو په اړه بين الاداري همغږی ته وده ورکړي. درې نورې سپارښتنې د بهرنيو او دفاعي چارو له وزيرانو غوښتنه کوله څو د هغو امريکايي پيسو څارنه وکړي چې د افغان اقتصاد له لارې تويېږي. څلور واړه سپارښتنې پرانيستې دي.
- د 6-12 پلټنې رپوټ، د افغان لومړی نوښت د افغاني شرکتونو سره په کار پيل کړ، خو د قرارداد غوښتنه او داوطلبي ناسمه، او د استخدام معلومات يې هم محدود دي، د 2012 کال د جنوري په 31 خپور شوی. څلور سپارښتنې د USFOR-A قوماندان او د متحده ايالاتو سفير څخه غوښته کوله تر څو د C-JTSCC، USACE او د USAID ماموريت د مشر په همغږی سره د قراردادونو د غوښتنې او داوطلبی او هم د استخدام د معلوماتو غونډولو لپاره سيستماتيکه تکلارې وټاکي. دا سپارښتنې هم پرانيستې پاتې دي.

په داسې حال کې چې د ځينو پلټنو او تفتيشونو د رپوټونو سپارښتنې پرانيستې پاتې دي، خو په هوارولو کې يې مهم پرمختګونه شوي دي. په يوه بيلګه کې (15-11 پلټنه)، سيګار وموندە چې د USACE قرارداد کونکي مامورين خبر نه و چې کوم قرارداد کونکي د خپل کارګرانو لګښت زيات شميرلی وي، اضافي پيسې بايد بيرته د متحده ايالاتو حکومت ته وسپاري. د سيګار د سپارښتنو څخه وروسته، USACE فوري ګامونه پورته کړل تر څو دا پيسې بيرته واخلي او د متحده ايالاتو حکومت ته يې وسپاري. تر دې چې بيرته اخيستل شوي پيسې 11$ ميليون ډالرو ته ورسيد. برسيره پردې، USACE د سيګار د سپارښتنې په اساس د پيسو غونډولو يو بهير رامينځته کړ تر څو هغه 58.5$ ميليونه ډالر بيرته واخلي چې په پلټنه کې د دولت بالقوه پيسو په توګه ياد شوي و. په يوه بله بيلګه کې (10-11 پلټنه)، د متحده ايالاتو سفير د سيګار يوې سپارښتنې په ځواب کې UNDP دې ته اړ کړه چې مرسته کونکو ته د خپل اداري خدمت فيس کم کړي. دې کار سره 5.5$ ميليونه ډالر خوندي شو.



**د سيګار شکاياتو شميرې** د عامه خدمتونو خبرتيا

## څيړنې

پدې ربع کې د سيګار د څيړنو له امله په امريکا کې يو پوځي سرتيری بندی، يو د جرم ادعا، او څلور کسان محکوم کړای شول. په افغانستان کې، د سيګار د کارونو په نتيجه کې د ويالو مخنيونکی سيستم نه نصبولو له امله چې د دوه امريکايي سرتيرو له مينځه تلو سبب شو، دوه افغان وګړي بنديان شول. همدارنګه دا کارونه د نهو کسانو بندي کيدو، اوو جنايي تورونو، او د افغان قوانينو په اساس د غيرقانوني پيسو، بډې، او د تيلو غلا کولو په جرمونو د دريو کسانو محکوميدو لامل شو. د دې ربعې يوه مهمه پيښه دا وه چې د لومړي ځل لپاره د سيګار يو څيړنه کونکی په يوه افغان محکمه کې ګواهي ورکړه. د ده ګواهي د يو

# د خارنې په برخه کې د سیګار **فعالیتونه**

نفوذ لرونکی افغان قرارداد کونکي د جرم زیاتیدو لامل شو. همدارنګه سیګار پدې ربع کې د شکایاتو د شمیرې په اړه د خلکو د پوهاوي لپاره خپله هڅه زیاته کړه، د پوځي څواکونو په راډیویي او تلویزیوني شبکو کې یې د عامه خدمتونو اعلانونه ورکړ، او د هغو اعلانونو بیاکتنه او اپډیټ یې ترسره کړه چې د ستورې او نښېپه مینځنی ختیځ ایډیشن کې خپرېږي.

د دې ربعې مالي نتیجه 1.3$ میلیونه ډالر د جنایي جریمو او تاوانونو له درکه، 1.1$ میلیونه ډالر د متحده ایالاتو حکومت ته د پس انداز په توګه، او 4.2$ میلیونه ډالر د ملکي تصفیې په توګه د متحده ایالاتو حکومت ته سپارل شوي دي.

د رپوټ پدې دوره کې، سیګار 52 نوي دوسیې پیل او 22 دوسیې تړلي دي، چې پدې سره د فعالو څېړنو موجود شمیر 298 ته رسیږي، لکه چې په 2.1 انځورکې ښودل شوی. سیګار د دې دوسیو 247 هغو مشري کوي.

2.1 شکل

**د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، د پرانیستو څېړنو شمیره**




سرچینه: د سیګار د څېړنو ریاست، 4/8/2013.

## د سیګار ځانګړی استازی د لومړي ځل لپاره په افغان محکمه کې ګواهي ورکوي

د 2013 په مارچ کې، یوه افغاني محکمه یو بانفوذه افغاني چارواکی د بډې په جرم ونیو او د سیګار د ځانګړي استازي په ګواهي یې په درې کالو بند محکوم کړ. د سیګار ځانګړی استازی ګواهي ورکړه چې ابراهیم آشنا ده او د سیګار یو مخبر ته بډې ورکړې. محاکمه د لومړي ځل لپاره ولیده چې د سیګار ځانګړی استازی په افغاني محکمه کې ګواهي ورکوي. د سیګار ګواهي د دې لامل شو چې د آشنا بند له دوو کلو څخه درې کالو ته زیات شي، د افغان قانون پلي کونکو سره د ښه اړیکې جوړولو په لاره کې د اداري کامیابي ښیي.

آشنا، چې د بلخ ولایت په جوردانیا او مارمل کمپونو کې د متحده ایالاتو پوځي تاسیساتو ته د تیلو رسولو کار کوله، د 2012 کال د اکتوبر په 21 د غلا او بډې په جرم بندي شو. د سیګار هغه استازي چې د مزار شریف نوی مرکز څخه د باندې کار کوي د بند په ټاکلو کې د افغان لوی څارنوال سره مرسته وکړه. سیګار د آشنا د تیلو غلا کولو هغه لوی پلان کشف کړ چې د متحده ایالاتو پوځي تاسیسات یې په نښه کړي وه. آشنا د "ترانسپورټیشن د خوځښت غوښتنې" جعلي یا تغیر شوي اسناد جوړوله چې په مرسته په درواغو ځایي ذخیرې ته تیل وړل کیده. آشنا د متحده ایالاتو حکومت ته د تیلو راوړلو پېره واخیسته چې هیڅکله یې را نه وړ. د څېړنو په موده کې، آشنا د متحده ایالاتو د خدمت یو غړي ته، د سیګار یو پټ مخبر ته، او د سیګار ځانګړی استازي ته رشوت ورکړ تر څو په درواغو وښیي چې تیل لیږل شوی، چې په دې سره د متحده ایالاتو د 75,000$ ډالرو جریمې څخه چې د تیلو ماموریت د "نه ښودلو" په تور جریمه شوی، ځان وژغوري. ده همدارنګه څلور ټانکرونه چې د غلا شوي تیلو نه ډک و له مرکز نه ویستلي دی.

د 2013 د جنوري په 8، د سیګار یو څېړونکی، یو افغان ملي ژباړونکی او د ناټو/د متحده ایالاتو د قانون حاکمیت ډلې له استازو سره یوځای، د افغانستان په بلخ ولایت کې د آشنا د محاکمې وروستۍ ورځې ته حاضر شول. د محاکمې په ترځ کې، قاضي د سیګار له ځانګړي استازي نه د هغو شواهدو په اړه پوښتنه وکړه چې د آشنا په ضد یې د سیګار د څېړنو په موده کې موندلې وه. محکمې ومنله چې آشنا څېړونکي ته 42,000$ ډالر رشوت ورکړې دی څو د تیل رسونې دروغ اسناد "اصلاح" کړي. پهرصورت، محکمه ونه منله چې آشنا هغه ورځ



**د لومړي ځل لپاره** د استیناف افغاني محکمه د سیګار یو ځانګړي استازي ګواهي اوري. (د سیګار انځور)

د تيلو په غلا کې لاس درلوده چې د سيګار د استازو لخوا نيول شوی و. د محاکمې په پايله کې، آشنا د 1976 افغان جزا قانون له مخې په رشوت اخيستلو مجرم وګڼل شو او د مزار شريف په زندان کې په دوه کالو بند محکوم شو. د غلا تورونه لرې کړای شو.

آشنا يو وارې بيا د 2013 کال د مارچ په 16 د افغانستان بلخ ولايت د استيناف په محکمه کې د استيناف غوښتنه وکړه. دا ځل د سيګار ځانګړی استازی لاس په کار شو. د سيګار ځانګړی استازی ګواهي ورکړه چې آشنا دی او د سيګار مخبر ته د TMRs اسناد بدلولو او د متحده ايالاتو د تيلو په غلا کې د مرستې په بدل رشوت ورکړې دی. د اوريدنې په پايله کې، د استيناف محکمې قاضي يوه نوې پريکړه وکړه او د غلا جرم يې چې په جنايي محکمې کې ايسته شوی و، بيرته په دوسيه کې ځای کړه. دا جرم د آشنا د بند موده له دوو کلونو څخه دريو کلونو ته زياته کړه. قاضي همدارنګه آشنا د $42,000 ډالرو سربيره چې وړاندې جريمه شوی و $42,000 ډالر نور هم جريمه کړه چې په دې سره د مجموعي جريمې کچه $84,000 ډالرو ته ورسيده.

د پيچلي څيړنې په موده کې، د سيګار استازي هغه بيلابيلې لارې وموندې چې د آشنا لخوا د متحده ايالاتو حکومت د تيرايستلو لپاره کارول کيدې. د څيړنې په نتيجه کې د $1 ميليونه ډالرو په ارزښت د قرارداد پيسې خوندي او غلاشوې دولتي تيل ضبط شو. دا دوسيه د سيګار هغه پريکړه پياوړې کوي چې په مزارشريف کې يو نوی مرکز جوړ کړی شي ترڅو د سيمې په پوځي تاسيساتو کې بالقوه تيرايستنې وڅاري.

## دوه قرارداد کونکي د ويالو مخنيونکي سيسټم په نصبولو کې له ناکاميدو وروسته بنديان شول

پدې ربع کې، دوه افغان وګړي د يوې څيړنې څخه وروسته بنديان شول، چې په ترڅ کې يې وموندل شو دوی دويالو مخنيونکی سيسټم په نصبولو کې ناکامه شوي و چې له امله يې دوه امريکايي سرتيري خپل ژوند له لاسه ورکړ. د امريکا پوځي پرسونل نتيجه ګيري وکړه چې د قرارداد ځانګړنو ته غاړه نه ايښودنه د دې لامل شو چې په غزني ولايت کې د بحراني اوږد سړک په څنګ کې "د IED مصروفيت زون" مينځته راشي.

وروسته له هغه چې AMCC د جنګياليو لخوا د IEDs ځای په ځای کولو نه مخنيوی لپاره پنجرې نصبې نه کړې، عبدالانس سلطاني د افغان مرکيوري کانسترکشن کمپني (AMCC) رييس، د 2013 کال د جنوري په 27 د ټګۍ او د بې باکه مړينې په جرمونو د لوی څارنوالۍ لخوا په کابل کې بندي شو. حميدالله د AMCC يو فرعي قرارداد کونکی هم د ټګۍ په جرم د AGO څارنوال لخوا د 2013 په جنوري کې بندي شو.

د 2012 کال په جولای کې دوه پوځيان په غزني ولايت کې هغه وخت ووژل شو چې موټر يې د يوې لښتۍ نه تيريده او ځای په ځای شوی IED وچاوديده. يوه بله څيړنه وښوده چې AMCC په درواغو ادعا کړې او د چاودنې سيمې نه يې غولونکي انځورونه اخيستي څو وښيي چې د مخنيولو سيسټم يې جوړ کړی دی. د دې پرځای، AMCC او فرعي قرارداد کونکی د 1 لويه لارې په اوږدو يې 122 نا سم د ويالو مخنيونکی سيسټمونه نصب کړي دي. د دې پر ځای چې د قرارداد په اساس د پنجرو په مينځ کې کانکريت واچوي، AMCC او فرعي قرارداد کونکی يې د سپاټ ويلډنګ نه کار اخيستې دی، چې پدې صورت



**د سيګار استازي** او د متحده ايالاتو پوځي ځواکونه د افغانستان په ختيځه کې د ويالو مخنيونکی سيسټمونو په اړه يوه سروې په لاره اچوي. (د سيګار انځور)

# د Iowa ملي ساتونکی له سیګار سره مرسته کوي څو د تیلو د غلا مخه ونیسي

که چېرته د ځینو نورو زیار او نوښتونه نه وای د سیګار لخوا په افغانستان کې د متحده ایالاتو د لګښتونو څارنه به کله هم دومره اغیزمنه شوې نه وه، د دوی په مینځ کې د Iowa پوځ ملي ساتونکی د جګړې څخه د ملاتړ 1034th لمبر لوا یو افسر او یو غیر پوځي کار کونکی د یادونې وړ دي.

د 2012 کال په اکتوبر کې، ډګرمن وسلي ګولډن او لومړی بریدمل جورج توبیکیس د افغانستان په شمال مزار شریف کې، د ځایي قومانده-شمال په مرمل کمپ کې د تیلو و دیش مسولیت په غاړه واخیست. د دوی دنده دا وه چې په کمپ کې د تیلو د رسونې څارنه او د کیفیت تضمین ترسره کړي، په RC - شمال کې د تیلو ټول عملیاتونه وڅاري او اووه لوی مرکزونه او کڼ شمیر واړه مرکزونه اکمال کړي. د دوی په کار کې د لیږنو او انتقالاتو اداره، د تیلو کچه، د تیلو وړاندوینه کول، بیا اکمالول، او ورځنی او میاشتنی ریپوټونه او پلټنې شامل دي.

ساتونکی ژر متوجه شو چې د اکمالاتو مرکز څخه د تیلو زیاته کچه غلاوې د ټولې قوماندې په سیمه کې حساب ورکونه او عملیاتونه له ګواښ سره مخ کړې. یوازې د 2012 کال په اکتوبر میاشت کې 340,000 ګیلنه تیل د مرمل کمپ څخه ورک شوي و. که چیرې په نظر کې ونیسو چې پوځ د یوګیلن تیل د چمتوکولو، لیږلو، ذخیره کولو، او په ټول افغانستان کې یې د ویشلو لپاره $15 ډالر ورکوي، نو دا د $5 میلیونه ډالرو خبره ده.

LTC ګولډن او SFC توبکیس د سیګار له څانګرو استازو سره مرسته وکړه تر څو د تیلو ویشلو په بهیر کې ستونزمنې سیمې تر برید لاندې ونیسي. دوی د تیلو ټولو ټانکرانو سره سرتیري وګومارل تر څو د غلا لپاره د موقې کمولو په موخه د تیلو اخیستنه او ورکونه وڅاري. د ګڼو مرکزونو څخه لاسته راغلي معلومات د دې لامل شو چې د تیلو حساب ورکونې سیستم، د سم اندازه کولو تخنیکونو، او د سم ریوټ ورکولو په اړه اپریټرانو ته روزنه ورکړ شي. LTC ګولډن او SFC توبیکیس د ریوټ ورکولو بهیر داسې جوړ کړ چې د تیلو هر مرکز باید



**د تیلو د غلا په ضد جګیدونکي:** د Iowa پوځ ملي ساتونکي سرتیري ګولډن(چپ) او توبیکیس(ښۍ) د افغانستان په شمال کې د څانګړي عمومي پلټونکي سره یوځای لیدل کیږي. (د سیګار انځور)

د خپل ریوټ اصل 1034th ته او نکل یې خپل مرکز ته ولیږي. اوس 1034th د معلوماتو او اړیکې نیولو یوازینی مرکز په توګه، د اندازه کولو او ریوټ ورکولو، د ټانکرانو ځای په ځای چیک کولو، او په هغو ټانکرونو باندې امنیتي ټاپې لګولو په اړه چې د تیلو بار لري، معیارونه پلي کوي.

د LTC ګولډن او SFC توبیکیس د هڅو په پایله کې د RC-شمال په مرکز کې د تیلو غلا خپل ټیټې کچې ته راټیټ شوی او په میلیونونه ډالر خوندي شو. په همدې وخت کې، سیګار د پوځ او افغاني چارواکو سره یوځای کار کوي تر څو د تیلو غله معلوم، بندي او سزا ورکړي. (د لازیاتو معلوماتو لپاره، 2 برخه وګورئ)

وروسته له هغه چې جان ایف.سوپکو افغانستان ته د خپل سفر په ترڅ کې د LTC ګولډن او SFC توبیکیس له هڅو خبر شو، ډګر جنرال سکاټي کارپنتر، د پوځ د اضافي مصارفو پاینښت 311th قوماندانۍ چې د کندهار په هوایي ډګر کې ده، قوماندان ته یو خط ولیږه او د دوی ستاینه یې وکړه. سوپکو د دوی کارونه "د ستاینې وړ او د مشرتوب کیفیت درلودونکي کارونه" وباله، او زیاته یې کړه چې د دوی کړنې "په افغانستان کې د ضیاع، درغلۍ، او ناوړه کارونې په وړاندې د مبارزې ماموریت سره زیاته مرسته کړې ده."

کې جنګيالي کولی شي پکې لاس وهنه وکړي. همدارنګه کارګران د هغو ميلو په مينځ کې خلا پريښې ده چې د IEDs ځای په ځای کولو څخه مخنيوی لپاره کارول کيږي. څیړنه روانه ده او امکان لري چې نور کسان هم بنديان شي.

## څلور کسان بنديان شول، او د تيلو څخه $1.1 ميليونه ډالر خوندي شو

پدې ربع کې د سيګار او د متحده اياالتو پوځ لخوا يوه څيړنه د متحده اياالتو د پوځ FOB سوليرنو $1.1 ميليونه ډالرو په ارزښت د تيلو غلا مخه ونيوله او يو افغان ژباړونکی او درې د باري موټرو افغاني چلونکي بنديان کړل چې له مرکز څخه د تيلو په غلا کولو ليدل شوي و.

څيړنه هغه وخت پيل شوه چې، د 2012 کال په نومبر کې د FOB سوليرنو قوماندان د سيګار نه وغوښته تر څو د تيلو هغه روان غلا په مخه نيولو کې مرسته وکړي چې په مياشت کې د 53,000 ګيلن تيلو ورکيدو لامل کيده. د مرکز د پرسونل په مرستې سره د سيګار څيړونکي په بيړه ومونده چې د تيلو راوړلو افغاني ټانکرانو يو زيات شمير کله چې د FOB سوليرنو زيرمې ته رسيږي د خپل لستونو له کچې څخه 600 تر2,400 ګيلنه لږ تيل لري. څيرونکو ومونده چې د تيلو ټانکر په امنيتي ټاپو او انتقال پاڼو کې کوم څرګند بدلون يا جعل کاري نه تر ستړګو کيده. همدارنګه څيرونکو ومونده چې په دې کارونو کې د متحده اياالتو کوم پرسونل لاس نلري.

سيګار د متحده اياالتو د تروريزم په ضد پوځي عملياتي ځواک، راکاسان عملياتي ځواک، افغان تريت فايننس سنتر، د متحده اياالتو د قانون پلي کولو څارنوالانو، او افغان ځايي څارنوالانو سره يوځای يو څيړنيز پلان چمتو کوي. په پلان کې دا موارد شامل دي: په کوم ځای کې چې انتقال صورت مومي رسمي ويډيويي مراقبت، د سيګار څيرونکو لخوا زيات له 40 څخه بيړنی څيړنيز بياکتنې ترسره کول، د TF راکاسان او ATFC لخوا تحليلي ملاتړ، د هغه زيات شمير افغاني موضوعاتو د څيړلو لپاره چې د څيړنې په ترڅ کې موندل کيږي د ROL څارنوالانو او افغاني څارنوالانو په همغږۍ سره يوه ستراتيژي چمتو کول.

د متحده اياالتو پوځ د تيلو هر ګيلن لپاره $15 ډالر ورکوي، چې پدې کې پوځي تاسيساتو ته د تيلو رسولو ترانسپورټي او امنيتي لګښتونه شامل دي. د سيګار او متحده اياالتو د پوځ لخوا د څيړنې له بشپړيدو نه وروسته مياشتو کې، د FOB سالیرنو د تيلو ضايعات په ثابت ډول کم شوې دی، چې د 2012 کال د دسمبر څخه تر اوسه پورې د متحده اياالتو د دولت $1.1 ميليونه ډالر پيسې خوندي شوي دي. د 2012 کال د نومبر څخه تر دسمبر پورې د تيلو ضايعات د 31,114 ګيلنو څخه 23,364 ګيلينو ته راټيټ شوې دی، چې د $116,250 ډالرو خوندي کيدو لامل شو (يا 7,750 ګيلن تيل). د تيلو ضايعات د 2013 کال په جنوري کې، 11,125 ګيلنو ته ورسيد چې پدې سره $298,335 ډالره خوندي شول (يا 19,889 ګيلنه تيل). د 2013 په فبروري کې، د تيلو ضايعات 8,998 ګيلنو ته راکم شول چې د $331,740 ډالرو خوندي کيدو لامل شو (يا 22,116 ګيلنه تيل). د 2013 کال د فبروري 22 څخه ديخوا د FOB سالیرنو د زيرمو څخه هيڅ تيل نده ضايع شوی. 2.2 انځور وګورئ.

د 2013 کال د مارچ له 1 څخه تر 31 پورې $497,265 ډالره خوندي شوي دي (يا د 2012 کال په نومبر کې د ورځينی 1,037 ګيلنه ضايع کيدو په حساب 33,151 ګيلنو ته رسيږي). د لومړی مالي ربعې له پای ته رسيدو سره سم د تيلو له امله په مجموعي ډول $116,250 ډالره خوندي شوي دي. په دويم مالي ربعه کې په مجموعي ډول د $1.1 ميليونه ډالرو په ارزښت تيل له غلا څخه خوندي ساتل شوي دي.



**خانګړی عمومي پلټونکی سوپکو** په FOB ساليرنو کې د تيلو پمپ څخه ليدنه کوي. (د سيګار انځور)

2.2 شکل

**د FOB سالیرنو څخه د غلاشوي تيلو د ګيلنو شمير د مياشتې په حساب**




سرچينه: د سيګار د څيړنو رياست، 4/8/2013.

د 2012 کال د نومبر څخه وروسته د FOB سالیرنو په زيرمو کې د تيلو د ضايعاتو شديد کموالي برسيره، د تيلو د ټانکر نور 27 افغاني چلونکو، چې مجموعا 87 کسانو ته رسيږي، په افغانستان کې د FOB سالیرنو يا د متحده ايالاتو/ناټو نورو پوځي تاسيساتو ته د لاسرسۍ څخه منع شول. يو افغان ژباړونکی چې په FOB سالیرنو کې د ROL سره کار کوله د 2013 کال په جنوري کې بندي شو او تراوسه لا په توقيف ځای کې د خارنوالۍ انتظار باسي. د 2013 کال په فبروري کې درې افغان ټانکر چلونکي بندي، توقيف، او ځايي افغاني څارنوالانو ته سپارل شوي.

## د متحده ايالاتو د پوځ يو دلګۍ مشر د $1 میلیونه ډالرو د غلا په جرم په پنځه کاله بند محکوم شو

د متحده ايالاتو د پوځ يو پخوانی ډلګۍ مشر تونيا لانګ د 2013 کال د مارچ په 4 د ډېرو زياتو پيسو په غلا او د ورته پيښو په مرسته او هڅونه کې لاس درلودلو په جرم په 60 مياشتې بند او درې کاله د نظارت لاندې ازادۍ په سزا محکوم شو. علاوه پردې، لانګ ته امر وشو چې $1 میلیونه ډالر بيرته ورکړي.

لانګ د 2008 کال د جنوري څخه د 2009 کال تر اپريل پورې په افغانستان کې د ځانګړو عملياتونو ګډ عملياتي ځواک په چوکاټ کې د ګمرکاتو د مفتش په توګه دنده ترسره کړې ده. د هغې دنده دا وه چې د پوځي خدماتو د غړو شخصي شتمنۍ وړاندې له دې نه چې بيرته متحده ايالاتو ته ليږدول کيږي، تفتيش وکړي.

د 2009 کال له جنوري څخه تر فبروري پورې، لانګ د يوبل پوځي خدماتو غړي سره مرسته وکړه څو $1 میلیون ډالره نقدې پيسې له افغانستان څخه وباسي. د پوځي خدماتو بل غړی د VCRs داخلي ميکانيزمونه بربنډه کړی او په ګډوډ شوي ماشينونو کې يې پيسې پټې کړې دي. لانګ VCRs په کانتينرانو کې ځای په ځای کړی او متحده ايالاتو ته له ليږدولو څخه وړاندې يې ګمرکي مسايل تصفيه کړي ده. لانګ په خپل دې کار سره د هغه قانون څخه سرغړونه وکړه چې له مخه يې د ټولو پيسو په اړه چې متحده ايالاتو ته ليږدول کيږي، بايد رپوټ ورکړ شي.

دا څېړنه د سیګار، د څېړنې فیدرالي ادارې، او د دفاعي جنايي څېړنو خدمت (DCIS) لخوا په ګډه ترسره شوه. لانګ د شمالي کارولینا په ختیځه سیمه کې تعقیب کړای شو.

## د متحده ایالاتو د پوځ ډلګۍ مشر د زیاتو پیسو قاچاق وړلو په تور مجرم وګڼل شو

د سیګار یوې څېړنې څخه وروسته، د متحده ایالاتو د پوځ لومړۍ درجې ډلګۍ مشر ریني مارتینز د 2013 کال د جنوري په 29 توقیف ځای ته یوړل شو، او د شمالي کارولینا ختیځه سیمې په محکمه کې د زیاتو پیسو قاچاق وړلو په تور مجرم وګڼل شو.

څېړنه د 2011 کال په اکتوبر کې د سیګار لخوا وروسته له هغه پیل شوه چې د یو معمولي کتنې په ترڅ کې په یوه کڅوړه کې چې د افغانستان څخه متحده ایالاتو ته لیږل کیده چاودیدونکي بقایا وموندل شوې. د متحتویاتو په لاسي لټونه کې کوم چاودیدونکی شی ونه موندل شو، خو چارواکو په کڅوړه کې د دیوالټ ټینګونکی او تنظیم شوي لاسي شیان، او 12,000$ امریکایي ډالر، چې 120 امریکایي سلګونان پکې وې، وموندل چې په کڅوړه کې ځای په ځای شوي و. په کڅوړه کې ادرس، مارتینز د هوپس میلز، شمالي کارولینا استوګن لیکل شوی و. څېرنه ومونده چې مارتینز په خپل واحد کې د آرمي فیلډ اړډرینګ افیسر په توګه ګومارل شوی و، چې مرکز یې په لیترنیک کمپ کې و، او داچې هغه د یو ځایي خرڅونکي لپاره د قرارداد بیه لوړه شمیرلې ده چې په نتیجه کې دا پیسې د رشوت په توګه ورته لیږل کیږي.

د مهال ویش په اساس مارتینز ته د 2013 په پسرلي کې سزا ورکول کیږي.

## د متحده ایالاتو پوځ پخوانی قرارداد کونکي ته د رشوت اخیستلو په جرم سزا ورکول کیږي

د 2013 په جنوري کې، دیانا مونتیس په نه میاشتو بند او 12 میاشتو تر نظارت لاندې ازادۍ سزا وروسته له هغه ورکړ شوه چې په داسې یوه دسیسه کې په لاس لرلو تورنه شوه چې له مخه یې د جعلي اسنادو په مرسته د متحده ایالاتو د پوځ څخه په افغانستان کې د بارچلولو پیسې اخیستل کیدې.

مونتیس د کیلوګ، برون، او رووټ شرکت، کارګره وه. دا شرکت د بګرام په هوایي ډګر کې ګومارل شوې وه تر څو د متحده ایالاتو پوځ د موفمنټ کنترول ځانګې سره مرسته وکړي ترڅو په ټوله افغانستان کې د متحده ایالاتو پوځي وسایل، تیل او نورو موادو په رسونه کې له بارچلونکو شرکتونو سره قرارداد لاسلیک کړي. مونتیس دنده درلوده تر څو مخکې له دې چې TMRs د پیسو لپاره منظوره کړای شي د TMRs بیاکتنه وکړي، او ورکړ شوی بیل د وړاندې شوې خدمت سره پرتله کړي. په دې موقعیت کې، مونتیس د افغانستان ترینډ ترانسپورټیشن په نوم یو افغاني شرکت سره په داسې دسیسه کې شریکه شوه چې له مخه یې د جعلي TMRs له مخې د اضافي مسیرونو پیسې ترلاسه کولې. د TMRs لپاره د پیسو ورکولو نه وروسته، مونتیس د ATT څخه د 50,000$ ډالرو په اندازه نقدې پیسې ترلاسه کړې.

د متحده ایالاتو سیمه ایزه محکمه د کولمبیا په سیمه کې د 2013 کال د جنوري په 31 مونتیس ته سزا ورکړه. له خلاصیدو سره سم، هغه باید اورمرو د متحده ایالاتو دولت ته د مهال ویش له مخې 50,000$ ډالر بیرته ورکړي.

د 2012 کال د دسمبر په 21، سیګار، د پوځ وزارت د تعلیق او مخنیونې چارواکو ته مونتیس راجع کړه تر څو په راتلونکې کې د متحده ایالاتو په ټولو اجرایي ځانګو کې په دنده

ونه ګومارل شي. د 2013 کال د جنوري په 29، د DOAد قانوني خدماتو اداره د سیګار له اشارې سره سم مونتیس د مخنیونې لپاره وړاندیز کړه. د 2013 کال د مارچ په 26، د DOA د قانوني خدماتو اداره، مونتیس د دریو کلونو لپاره یا د 2016 کال د اکتوبر تر 31 پورې د اجرایي څانګو سره د قرارداد کولو نه منع کړه.

د 2013 د مارچ په 13، کیلوګ، برون، او رووټ په اوهایو، کولمبس کې د دفاع مالي او حسابداري خدمتونو ته 22,480$ ډالر د شرطي اعتبار په توګه ورکړه(پلټنې ته وړاندې کیږي). دا اعتبار د هغو غیر قانوني کارونو په ځواب کې ورکړ شو چې مونتیس د 2008 کال د اپریل له 1 څخه د دسمبر تر 31 پورې ترسره کړي و. کیلوګ، برون، او رووټ ویلي چې دا اعتبار د هغه کاري ساعتونو او اړوندو ډالرو په بدل کې ورکړ شوي دي چې مونتیس د جعل کارۍ موده کې په خپل وخت پاڼه کې لیکلې وه.

## د متحده ایالاتو قرارداد کونکي ته د زیاتو پیسو قاچاق وړلو په جرم سزا ورکړ شو

پدې ربع کې، د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی متحده ایالاتو ته د 150,000$ ډالرو قاچاقي وړلو په جرم په 30 میاشتو بند او یو کال د نظارت لاندې ازادۍ محکوم شو. ډونالد جین ګارست د 2013 کال د فبروري په 12، دکانزاس په سیمه کې محکوم شو، او د بیلابیلو نظریاتو څخه وروسته 52,117$ ډالره جریمه وټاکل شوه.

ګارست د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی خصوصي شرکت لخوا د بګرام په هوایي ډګر کې د 2009 له جنوري څخه د 2011 کال تر می پورې ګومارل شوی و. ده د هغو افغاني شرکتونو پیژندنه، څارنه او ارزونه په غاړه درلوده چې فرعي قراردادونه ورسره لاسلیک کیده. ګارست د خپل موقعیت نه په ګټه پورته کولو سره د یو افغان رغونیز شرکت، سومو لوجیستیکس، څخه د قرارداد په سر غیر قانوني پیسې تر لاسه کولې، او په بدل کې یې د قراردادونو بهیر د یاد شرکت په ګټه پریکړه کوله.

د 2010 په دسمبر کې، ګارست سومو لوجیستیکس ته د بګرام هوایي ډګر د رغونیزو پروژو لپاره د درانده وسیلو کرایه اخیستلو پروژې په ورکولو سره 60,000$ ډالر غیر قانوني پیسې لاسته راوړلې. ده نږدې 20,000$ ډالره غیر رسمي پیسې له ځانه سره متحده ایالاتو یوړه. ده پاتې غیر قانوني پیسې د تعمیر شوې وایر ترانسفر له لارې د سومو لوجیستیکس څخه تر لاسه کړه. د 2011 په می کې، ګارست، سومو لوجیستیکس ته د درانده وسیلو یو بل قرارداد په ورکولو سره 150,000$ ډالر تر لاسه کړه. ده یادې پیسې په یو جاکټ کې وګنډله او متحده ایالاتو ته یې ولیږله، چې هلته بیا د قانون پلي کونکي د بار د ارزښت په ویلو کې د ده پاتې راتلل کشف کړه. دا په وخت موندنه د ګارست مخه ونیوله تر څو نور 400,000$ ډالر لاسته رانه وړي چې د دریم قرارداد په بدل کې د سومو لوجیستیکس لخوا ده ته ژمنه شوې وه.

## د متحده ایالاتو د سټاف یو ډلګۍ مشر ته د دولتي پیسو غلا او د زیاتو پیسو قاچاقي وړلو په جرم سزا ورکړ شو

د 2013 کال د جنوري په 10، د متحده ایالاتو د پوځ یو ډلګۍ مشر نانسي نیکول سمیت د دولتي پیسو غلاکولو او افغانستان څخه متحده ایالاتو ته د زیاتو پیسو قاچاقي وړلو په جرم په 20 میاشتې بند او درې کاله تر نظارت لاندې ازمایښتي دورې په سزا محکوم شو. د شمالي کارولینا د ختیځې سیمې محکمه سمیت ته امر وکړ څو 100,000$ ډالره تاوان ورکړي.

سیګار د پوځ جنايي څېړنیزې قوماندې له دې څېړنې سره د 2010 کال په اکتوبر کې یوځای شو. دوسیه هغه وخت پیل شوه چې د افغانستان په بګرام هوايي ډګر کې د ځانګړو عملیاتونو ګډ عملیاتي ځواک یو مامور د 2010 کال په می کې، د افغانستان CID دفتر ته د متحده ایالاتو دولتي پیسو د احتمالي غلا په هکله رپوټ ورکړ. د 230th مالي مدیریت شرکت،چې په بګرام هوايي ډګر کې مرکز لري، په یوه پلټنه کې چې د JSOTF لخوا ترسره شوې وه وموندل شو چې د شرکت د مصارفو نماینده، نانسي سمیت، د پرداختونو ریکارد کې لاسوهنه کړې ده. سمیت د مصارفو هغه ثبتونو په کارولو سره چې د مخکینیو پوځي غړو لخوا سپارل شوي وې، د سمې اجازې نه پرته پیسې اخیستي دي. څېړنه وموندله چې سمیت د ثبتونو په بدلولو سره په مجموعي ډول 100,000$ ډالر غلا کړې ده. غلا شوي پیسې د هغې کوټې څخه اخیستل شوي چې د بیارغونیزو پروژو لپاره ځانګړې شوې وه. سمیت یوازینی کس و چې د دې کوټې ساتنه او کنترول یې په غاړه وه. ده دا پیسې په خپله بکسه چې د افغانستان څخه Ft. Brag، شمالي کارولینا ته په الوتنه کې درلوده پټه کړه او متحده ایالاتو ته یې قاچاقي یوړله.

سمیت همدارنګه د 2013 کال د مارچ له 26 څخه د څلورو کلونو او اتو میاشتو لپاره د فیدرالي قراردادونو له اخیستلو څخه منع شوه، چې دا موده د 2017 کال د سپتمبر په 10 پای ته رسیږي.

## ملکې تصفیه د دې لامل شو چې د متحده ایالاتو حکومت ته 4.2$ میلیون ډالره ورکړ شي

د 2012 کال په اپریل کې، سیګار او د قرارداد اداري فساد په اړه نړیوال عملیاتي ځواک په کمپ لیدرنیک، افغانستان کې، وروسته له هغه ګډه څېړنه پیل کړه چې د معلوماتو په اساس د کمپ لیدرنیک او FOB شیندند څخه 38 کانټینران د محتویاتو سره یې غلا شوي و. کانټینرونه د امریکن پریزډنت لاینز، لمټډ، او مایرسک لاینز لیمټډ پورې تړاو درلود. څېړنه معلومه کړه چې د هر ورک شوې کانټینر لپاره په دروغو د انتقال اسناد چمتو شوي و، چې په اساس یې قرارداد کونکو ته د رسول شوي کانټینرانو پیسې ورکړ شوې.

سربېره پردې څېړنه کشف کړه چې کیدای شي په ټوله افغانستان کې د APL او مایرسک ګڼو کانټینرانو لپاره جعلي PODs چمتو شوي وي، او دا چې پدې اړه د الینویس په سهیلي سیمه کې د متحده ایالاتو د لوی څارونوالۍ دفتر لخوا یوه پلټنه روانه ده. د 2012 کال په اګست کې، د کمپ لیدرنیک په څېړنه کې د سیګار/ICCTF سره ګډه ملکي څېړنه یو ځای شوه چې په دې کې CID، د متحده ایالاتو هوايي ځواک د ځانګړو څېړنو دفتر، او DCIS شامل دي، څو د APL او مایرسک سره د تصفیې په اړه وغږیږي.

د 2013 کال په جنوري کې، د تصفیې یوه هوکړه لیک د متحده ایالاتو او APL لخوا ترمینځ لاسلیک شوه چې د متحده ایالاتو استازیتوب د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت، د دفاع وزارت لخوا د متحده ایالاتو د ترانسپورتیشن قوماندانۍ لخوا ترسره کیده. متحده ایالاتو وايي چې د APL په وړاندې داسې ادعاوې لري چې د USTRANSCOM سره په قرارداد کې خپله ژمنه ماته کړې ده. د قرارداد په موده کې، APL متحده ایالاتو ته بیلونه ورکړي او د متحده ایالاتو څخه د افغانستان پوځي مرکزونو ته د پوځ او هوايي ځواک د تبادلې خدمت

او دفاعي لوجيستيکه ادارې د باري کانتينرانو د انتقال په بدل کې پيسې ورکړ شوي دي، او دا چې د APL په صورتحساب کې ګڼ شمير جعلي PODs شامل دي.

د متحده اياالاتو او APL د ملکي تصفيې خبرو اترو په نتيجه کې، او هم د تاخير، ځورونې، او د دوامداره دعوا له لګښت څخه مخنيوی کولو لپاره APL ومنله چې د متحده اياالاتو حکومت ته $4,250,000 ډالره ورکړي.

## په افغانستان کې د لوی څارنوالي دفتر ځايي وګړی د غلا په تور بندي کوي

د 2013 کال په فبرورې کې، د سيګار په مشرۍ يوې څېړنې په نتيجه کې، افغان چارواګو يو افغان ژباړونکی د دريو جنريټرانو غلا کولو په تور چې $45,000 ډالر يې خرڅ کړي، بندي کړ.

دا ګډه څېړنه په کابل کې د نول جنايي څېړنې خدمتونو او افغان لويه څارنوالي سره يو ځای د 2012 کال په اګست کې پيله شوه. د متحده اياالاتو حکومت کشف کړ چې د هغو 19 جنريټرانو څخه چې د بلک ووډ کانسټرکشن کمپني څخه يې لاسته راوړي وه درې هغو يې څو اونۍ مخکې د کمپ ليدرنيک څخه غلا شوي دي. د سيګار سره په مرکه کې، د بلک ووډ کانسټرکشن کمپني څښتن وويل چې 46 جنريټرونه يې، هر جنريټر په $34,000 ډالره، د نور مصطفی کمپنۍ څخه اخيستي وه.

وروسته بيا، د نور مصطفی شرکت څښتن اعتراف وکړ چې د ده کمپني په کافي شمير جنريټرونه نه درلوده څو د بلک وود کمپنۍ د قرارداد شرايط پوره کړي او دا چې د ده زوی درې اضافي جنريټرونه له يو ځايي سرچې نه اخيستي و. زوی يې ويلې چې جنريټرونه يې له ذکر الله څخه چې په کمپ ليدرنيک کې ژباړونکی دی، اخيستي دي. د 2013 کال د فبرورې په 7، ذکر الله اعتراف وکړ چې درې جنريټرونه يې غلا کړي، او په هلمند ولايت کې د کباړو اوسپنو په اخيستونکي باندې يې $45,000 ډالره خرڅ کړي. د ګرمشير لوی څارنوالي ذکر الله بندي کړه او د ګرمشير يو زندان ته يې وليږله. دی به تر محاکمې پورې هلته پاتې شي.

## دوه افغان قرارداد کونکي ته د افغان جنايي محکمې لخوا سزا ورکړ شوه

پدې ربع کې، يوه افغاني محکمه دوه افغان قرارداد کونکي په درې کاله بند او هر يو $5,000 ډالر نقدي جريمې وروسته له هغه محکوم کړ چې د سيګار يوې څېړنې په ترڅ کې رشوت ورکړ.

څېړنه وروسته له هغه پيله شوه چې د USACE قرارداد کونکي پرسونل د يو نا غوښتل شوی بريښناليک ترلاسه کول رپوټ ورکړ چې د JACC، يو افغان بيارغونکی شرکت،لخوا ليږل شوی و، چې د سړکونو جوړولو په قرارداد کې د مرستې په بدل کې يې د رشوت وړانديز کړی و. وروسته بيا د DOD او DLA پرسونل رپوټ ورکړ چې ورته غوښتنې يې د JACC لخوا ترلاسه کړي. سيګار يو پټ بريښناليک جوړ کړ تر څو له ياد شرکت سره د دې قرارداد او رشوت په اړه خبرې وکړي.

د 2012 کال د سپتمبر په 23، سيګار د JACC له غړو وحيدالله متون او نويدالله متون سره په ايګرز کمپ، کابل کې يوه ناسته جوړه کړه. په دې ناسته کې چې د AGO

او ICCTF غړو لخوا څارل کیده، دا دوه کسانو د مذاکرې څخه وړاندې د سیګار ځانګړی استازي ته رشوت ورکړ. دواړه کسان د افغان قانون په اساس د رشوت په تور ونیول شو. دوی د ANP لخوا د ایګرز کمپ څخه افغان توقیف ځای ته ولیږل شول.

## سیګار تعرضي او فعاله ګامونه پورته کوي تر څو د پوځي تاسیساتو د خروجي ځایونو پلټنې ته وده ورکړي

د 2012 کال په نومبر کې، د سیګار یو ځانګړی استازی په لیدرنیک کمپ کې د بالیو ووډ له افسر قوماندان سره وکتله تر څو په خروجي ځایونو کې د هغو افغاني ټانکر چلونکو د پلټنې پالیسي په اړه ورسره خبرې وکړي چې د لیډرنیک کمپ او باسټیون کمپ څخه وځي. د سیګار ځانګړی استازی قوماندان ته د سیګار هغه رواني څېړنې په اړه معلومات ورکړ چې په کمپ لیدرنیک کې د تیلو د غلا په اړه یې کوي. قوماندان د پلټنې په روانو کړنلارو کې نیمګړتیا ومنله او ژمنه یې وکړه چې ښه میتودونه وکاروي څو د تیلو غلا که بشپړه ختمه نکړي، تر ډېره حده پورې یې کمه کړي. د سیګار ځانګړی استازی وړاندیز وکړ چې که قوماندان موافقه ولري د نوي کړنلارو د شرایطو په چمتو کولو او پلي کولو کې به مرسته وکړي.

د سیګار همدغه څېړونکی وروسته د متحده ایالاتو د سمندري قطعاتو د TFBW امنیتي ځواک له مرستیال قوماندان سره په کمپ لیدرنیک کې ولیدله تر څو د تیلو د غلا په هکله او هم په خروجي ځایونو کې د غلا امکانیت په اړه خبرې وکړي. د مرستیال قوماندان پرسونل خروجي دروازه اداره کوي او د هغو افغان سوداګریزو موټرونو تفتیش په غاړه لري چې لیدرنیک کمپ ته ځي راځي. د سیګار ځانګړی استازی مرستیال قوماندان ته د غلا مخکینی پېښو او د خروجي ځایونو موجودو پلټنو په اړه وویل. مرستیال قوماندان اشاره وکړه چې د خروجي ځایونو موجوده کړنې بیاکتنه کوي تر څو د غلا موجود احتمالات راکم کړي. د سیګار څېړونکی د مرستې وړاندیز وکړ.

د دې خبرو اترو څخه وروسته د سیګار ځانګړی استازی د سوپریم فیول په همغږۍ سره، نږدې 18 سمندري غړو ته چې په خروجي ځایونو کې ټاکل شوي و د نقلیه وسیلو د پلټنې ترینګ ورکړ. په نتیجه کې، د لیدرنیک او بوستیون کمپونو د پلټنې یوه لازیاته ټینګه کړنلاره پلي کړه. د سیګار لخوا د مخکینیو نیمګړتیاو موندل او کړنلارو ته وده ورکونه ژمنه کوي چې د تیلو په غلا کې د پام وړ کموالی رامینځته کیږي.

## تعلیق او مخنیونې

پدې ربع کې، سیګار 18 کسان او 9 شرکتونه د بدې رویې له امله تعلیق او مخنیونې ته راجع کړه. د دې 27 مواردو څخه، نه کسان او نه شرکتونه په دې تور مخنیونې ته راجع شول چې د $6,083,344 ډالرو په ارزښت په شپږو قراردادونو کې په ټګۍ او کار نه کولو تورن شوي و. پاتې نه کسان د ایتلافي ځواکونو څخه د غلا کولو یا متحده ایالاتو ته د زیاتو پیسو قاچاقي وړلو په جنایي تورونو مخنیونې ته وړاندې شوي دي. دا 27 مراجعې د 2008 څخه راهیسې د سیګار لخوا د ټولو راجع شوو کسانو شمیر 285 ته رسوي چې 160 کسان او 125 شرکتونه لکه چې په 2.3 انځورکې ښودل شوي.

2.3 شکل

**د سیګار څېړنې: د ځنډونې او مخنیونې لپاره د راجع شوي کسانو مجموعه،**
**Q2 FY 2011–Q2 FY 2013**




سرچینه: د سیګار د څېړنو ریاست، 4/10/2013.

د 2013 کال د مارچ تر پایه پورې په افغانستان کې د ټګۍ، اداري فساد، او کمزورې کړنې ته د رسیدنې لپاره د سیګار لخوا د تعلیق او مخنیونې کارونه د متحده ایالاتو په مرسته بیارغونیزو پروژو کې بوخت د 59 کسانو او شرکتونو د تعلیق او د 56 کسانو او شرکتونو د مخنیونې لامل شوي. د 27 مراجعو په شمول چې په ورستی ربعه کې شوي، 90 کسان او شرکتونه چې د سیګار لخوا راجع شوي د متحده ایالاتو د پوځ د تعلیق او مخنیونې چارواکو فیصلې ته انتظار کوي.

تعلیقات او مخنیونې دا ډاډه کوي چې اداري خپل قراردادونه یوازې مسولو کسانو ته ورکړي. د سیګار پروګرام په افغانستان کې هغه درې ننګونو ته رسیدنه کوي چې د متحده ایالاتو پالیسي او د قرارداد احتمالي چاپیریال لخوا مطرح شوي دي: ګړندی کار ته اړتیا، پر افغاني وګړو او شرکتونو باندې د متحده ایالاتو محدود قضایي واک، او د ګڼو فرعي قرارداد کونکو له امله د بررسۍ ننګونې. سیګار په افغانستان او متحده ایالاتو کې د معلوماتي سرچینو او څېړنیزو شتمنیو ابتکاري کارونې له لارې هڅه کوي څو د دې ننګونو په وړاندې د حکومت غبرګونونو ته وده ورکړي. سیګار د خپلو بشپړ څېړنو په اساس د متحده ایالاتو ادارو ته شرکتونه یا انفرادي کسان معرفي کوي څو د بدچلندۍ په جرم د فیدرالي قراردادونو یا مرستو څخه یې بې برخې کړي. په ډېرو پیښو کې، د سیګار مراجعې هغه وخت وړاندې کیږي چې د فرد یا شرکت تعقیبولو یا په وړاندې یې د غبرګون ښودلو لپاره کومه بله لاره نه وي. په داسې مواردو کې، د قرارداد کونکي بدچلندۍ ته د رسیدنې لپاره تعلیق او مخنیونه یوازینۍ لاره ده. سیګار د مراجعې پرمهال، ادارو ته د تعلیق او مخنیونې د پریکړې اساس چمتو کوي او همدارنګه ټول هغه مرستندویه اسناد ادارې ته سپاري چې کیدای شي د قرارداد کونکي لخوا د پریکړې نه منلو په صورت کې وښودل شي.

د تعليق او مخنيونې موضوع ته د سيګار زياته پاملرنه له دې نه ښکاره کيږي چې د 285 مراجعو څخه چې تراوسه د دې اداري لخوا شوي 249 هغو يې د 2011 کال د دويمې ربعې راهيسې وړاندې شوي دي. د 2012 کال له جولای څخه سيګار خپل د تعليق او مخنيونې پروګرام ګړندی کړی او 103 کسان او شرکتونه يې د قراردادونو څخه لرې کولو لپاره د ادارو د تعليق او مخنيونې چارواکو ته وړاندې کړي. په دې نهو مياشتو کې د سيګار مراجعې د غلا، ټګی، نيمګړې کړنه، د جنګياليو سره مالي مرستې، او نيمګړې اداري په تورونو ترسره شوي چې د $159,981,282 ډالرو په ارزښت بيارغونيزو قراردادونو سره يې اړه درلوده.

## د سيګار څيړنه د قرارداد کونکي د مخنيونې لامل شو

د 2013 کال په مارچ کې، يو افغان قرارداد کونکی او شرکت يې وروسته له هغه مخه ونيول شوه چې د سيګار څيړنه ومونده چې د متحده ايالاتو د قراردادکونکو مامورينو يو استازي ته يې د رشوت ورکولو هڅه کړې وه. څيړنه د 2012 کال د جولای په 8، وروسته له هغه پيله شوه چې کپتان اريک نورګارډ، يو COR، سيګار ته د خپل هغه خبرو باره کې رپوټ ورکړ چې د 2012 کال په فبروري کې يې د ميرزالي نصيب کانسترکشن اينډ ترانسپورټيشن کمپني له مشر ميرزالي نصيب سره درلود. نورګارډ په هغه وخت کې هڅه کوله تر څو په ګرديز، افغانستان کې يو FOB ته د جغلې وړلو لپاره د قرارداد کونکو نرخونه لاسته راوړي.

نصيب د جغلې د وضعيت په هکله د پوښتلو لپاره له نورګارډ سره څو وارې اړيکه نيولې ده. د 2012 کال په جون کې، نصيب نورګارډ ته يو بريښناليک وليږله چې د NTV نقليه وسيلو انځور يې ورسره نښلولی و. کله چې نورګارډ د دې انځورونو د ليږلو موخه وپوښتله نصيب په ځواب کې وويل چې يو NTV موټر به ورته وړيا ورکړي. د 2012 کال د جون په وروستيو کې، نصيب بيا نورګارډ ته داسې يو پيغام وليکله: "سلام، ملګريه مهرباني وکړه د خپلې ښځې نوم راته راکړه، زه غواړم يوه تحفه ورته وړاندې کړم(ميرزالي نصيب کانسترکشن کمپني)." نورګارډ د بريښناليک له لارې دا پيغام سيګار ته وليږله. د 2012 کال د جون په 28، نورګارډ د جغلې قرارداد هغه کڅوړه سيګار ته چمتو کړه چې د لاسته راوړلو بياکتنې ګډ هييت ته وړاندې شوې وه.

په يو بريښناليک کې چې د 2012 کال د اګست په 21 نيټه ليږل شوې وه، نورګارډ د سيګار ځانګړی استازي ته خبر ورکړ چې د جغلې قرارداد چې MNCC يې غوښتنه کوله، د يو بل شرکت سره لاسليک شو. MNCC د نورګارډ ژباړونکي سره اړيکه ونيوله ترڅو خبر ورکړي چې غواړي د لومړی قرارداد کونکي څخه فرعي قرارداد لاسته راوړي. نصيب ژباړونکي ته وويل که چيرته MNCC فرعي قرارداد وګټله، هغه به د داخلي کنترول ځای ته د 8,000 متر مکعب په ځای 6,000 متر مکعب جغلې يوسي. په بيره راتګ کې که چيرته نورګارډ د بشپړ پيسو اخيستلو لپاره په اسنادو کې لاسليک وکړي، يوه "تحفه" ورته ورکوو. نصيب وويل چې مخکې له دې هم دا کارونه يې په سمه توګه ترسره کړي، خو تفصيلات يې ورنکړ. د سيګار يو ځانګړی استازی د ژباړونکي سره يوه مرکه وکړه څو د نورګارډ د بريښناليک خبرې تاييد کړي.

د 2012 کال د دسمبر په 21، سيګار ميرزالي نصيب او MNCC د متحده ايالاتو د پوځ د تعليق او مخنيونې ادارې ته د تعليق او مخنيونې لپاره وړاندې کړه. د سيګار د مراجعې په نتيجه کې نصيب او MNCC د دريو کلونو لپاره يا د 2016 کال د مارچ تر 26 د قراردادونو څخه منع شول.

## یو قرارداد کونکی وروسته له هغه منع شوه چې دعوا یې کوله د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی مامور دی

د 2013 کال د فبرورۍ په 8، د سیګار یوې څیړنې څخه وروسته د متحده ایالاتو پوځ یو افغان قراردادکونکی او شرکت یې د دریو کلونو لپاره یا د 2016 کال د فبرورۍ تر 8 پورې له قراردادونو څخه منع کړه. هلمن توینکل کانسترکشن کمپني او هلمن وزیري وړاندې له دې نه زښت زیات قراردادونه لاسلیک کړي او د متحده ایالاتو دولت لخوا په افغانستان کې د بیارغونیزو هڅو په بدل کې یې پیسې اخیستې دي.

HTCC او وزیري هڅه کوله څو په افغانستان کې د راتلونکو پروژو قراردادونه یا فرعي قراردادونه لاسته راوړي چې په همدې وخت کې سیګار د 2011 کال په دسمبر کې خپله څیړنه پیل کړه. څیړنه وموندله چې وزیري یو جعلي یاهو بریښنالیک جوړ کړی او له دې پتې نه داسې بریښنالیکونه لیږي چې ګواکې د متحده ایالاتو یو قرارداد کونکی مامور وي. ده د دې بریښنالیک په مرسته د رغونیزو پروژو د داوطلبۍ غوښتنې ټولولې، او بیا یې د خپلو سیالانو د داوطلبیو څخه په خپله ګټه معلومات راټولوله. وزیري د مرکې په وخت کې خپل جرم ومنله، او ورته وویل شو چې د متحده ایالاتو د یو مامور پېښې کول، د 18 U.S.C. 912 څخه سرغړونې په جرم، دی به په راتلونکې کې د دولتي قراردادونو څخه محروم کړي.

سیګار د 2012 کال د اکتوبر په 25، HTCC او وزیري د مخنیوی لپاره وړاندې کړه.

## ځانګړي پروژې

د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر یوه عملي ډله ده چې د ځانګړی عمومي پلټونکي لخوا جوړه شوې او دنده یې دا ده چې رامینځته کیدونکي مسایل په بېړه معاینه او د تعقیب وړ رپوټونه او خبرتیا لیکونه فیدرالي اداري او کانګرس ته وړاندې کړي. ځانګړی عمومي پلټونکی دا دفتر وروسته له هغه جوړ کړ چې د متحده ایالاتو پخواني چارواکو شکایت وکړه چې دوی د سیګار معلوماتو ته وړاندې له دې نه چې د پلټنې په بڼه یې وړاندې کړي، اړتیا لرو.

دا ربع دفتر، چې بشپړ کارکونکي لري، د ANA په تسهیلاتو کې د اور لګیدنې او ژوند خوندي کولو په اړه یو خبرتیا لیک خپور کړ. د هغه موخو په ترلاسه کولو کې د مرسته کونکو او افغان دولت پرمختګ تر تجزیې لاندې ونیوله چې د 2012 کال په جولای کې د ټوکیو په کنفرانس او د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې په چوکاټ کې ژمنه شوې وه. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 3 برخه، 143 مخ وګورئ. همدارنګه دوه معلوماتي غوښتنې یې هم خپرې کړې. په لومړی کې د متحده ایالاتو په مرسته په افغانستان کې د بیارغونیزو پروژو او پروګرامونو په اړه بشپړ معلومات غوښتل شوي و او د دې معلوملو غوښته یې کړې وه چې پاتې یا پلان شوي تخصیص شوي یا په کومه بله لاره د افغانستان د بیارغونې لپاره چمتو شوی وي مرستې به څنګه وکارول شي. په دویمه غوښتنه کې د DOD، USAID او State څخه غوښتل شوی چې سیګار ته د هغو 10 پروژو لست چمتو کړي د اداري لخوا ډېر غوره ارزول شوي او د هغو 10 پروژو لست چمتو کړي چې د اداري لخوا ډېر لږ کامیابه ارزول شوي، او د خپل ارزونې معیارونه دې تشریح کړي.

## خپور شوي خبرتیا لیکونه

### SP-13-3: د K-Span جوړښتونه کولی شي اور لګیدنه او د ژوند خطر رامنځته کړي

سیګار پدې ربع کې د هغو ودانیو د خوندیتوب په اړه خبرتیالیک خپور کړ چې د متحده ایالاتو پوځ ANA ته جوړ کړي. سیګار رپوټ ورکړ چې د متحده ایالاتو د پوځي انجینرانو قطعي چاراواکو پریکړه کړې ده چې د هغو موادو کارونې ته ادامه ورکړي چې د ناسم نصبیدو له امله یې درې اور لګیدنې رامینځته شوي دي. سیګار وایي چې د USACE K-Span په جوړښتونو کې د اسفنجي عایق او د تودوخې مخنیونکي سیستم د ANA په ودانیو کې کاروي، سره له دې چې پوهیږي که چیرته سم نصب نشي، دا مواد کولی شي د شدید اورلګیدنې او د ژوندخطر لامل شي.

DOD د K-Span جوړښت، داسې جوړښت ته وایي چې د زنګ، هوا او اورلګیدنې په وړاندې مقاومت ولري. د USACE په وینا، د 2010 په شاوخوا کې د ANA په ګڼو پروژو کې د کانکریټ/معماري په ځای د K-Span جوړښتونه کارول شوي دي. خو تیر کال، د ANA په دریو ودانیو کې د K-Span له امله د جوړولو په وخت کې اور ولګیده، او د شتمنۍ له منځه تلولامل شو. USACE په وروستیو کې دا موضوع وڅیړله او یوه پریکړه پاڼه یې خپره کړه چې د 2013 کال د مارچ په 10 تازه شوې ده، او دا اورلګیدنه یې د اسفنجي عایق او د تودوخې مخنیونکي سیستم سره نښلولې ده چې د قرارداد کونکي لخوا د K-Span په جوړښت کې کارول شوي و. کیدای شي قرارداد کونکی داسې اسفنجي عایق او د تودوخې مخنیونکی سیستم نصب کړی وي چې د تعمیراتو نړیوال قانون له معیارونو سره سم نه و. USACE ویلي چې د ANA په هغو ودانیو کې چې په K-Span جوړښتونو کې یې اسفنجي عایق په سم ډول او د IBC له معیارونو سره سم ندي نصب شوي، د بالقوه اورلګیدنې او د ژوند خطرات شته دي.

د USACE خطر ارزونه ښودلې ده چې "تقریبا په ټولو بشپړ شوو ودانیو کې د عایق داسې سیستم کارول شوي ده چې داسې نه ښکاري چې د IBC قانون شرطونه پوره کړي." USACE اټکل کوي چې یوازې د افغانستان په سهیل کې، "د K-Span تقریبا 1,002 جوړښتونه د رغونې په بیلابیلو پراوونو کې دي" چې په پای کې د ANA کارونې ته سپارل کیږي. د خطر خبره دا ده چې "704 جوړښتونه د اسفنجي عایق او تودوخې مخنیونې سیستم د نصب په بیلابیلو پراوونو کې دي" چې د USACE لخوا د IBC معیارونو سره سم ندي ارزول شوي. د دې لپاره چې د اضافي لګښت او هم د پروژې په پای نیته کې له ځنډ څخه مخنیوی وشي، د داسې ودانیو قراداد کونکو ته چې بشپړ سیستم تر کار لاندې نلري د USACE لارښوونه دا ده چې "د منل شوو موادو سره او کوم چې په ساحه کې موجود وي خپل کار ته دوام ورکړي."

د K-Span هغه تسهیلاتو شمیر په پام کې نیولو سره چې تر رغونې لاندې دي، سیګار USACE ته یو خبرتیا لیک لیکلې دی چې په ترڅ کې د ANA هغو سرتیرو د ژوند په هکله یې خپله اندیښنه څرګنده کړې دی چې دا ودانۍ ورته سپارل کیږي. سیګار د دې موضوع په اړه یوه څیړنه پیل کړې ده.

د مصونیت د دې خبرتیا لیک په ځواب کې، USACE سیګار ته د هغو ګامونو په اړه تازه خبرونه ورکړ چې د ANSF په داسې ودانیو کې د اسفنجي عایق سیستم د خطر کمولو لپاره یې په پام کې نیولې دی. USACE د ANA په تسهیلاتو کې د درې اورلګیدنې په اړه

## بشپړې شوې ځانګړې پروژې

- سیګار SP-13-3: دK-Span جوړښتونه کولی شي د اورلګیدنې او د ژوند خطر لامل شي



**کارګران** په بګرام هوایي ډګر کې د یو K-span **په جوړولو بوخت دي**. (د متحده ایالاتو پوځ انځور)

د USACE مخکينی اسناد اصلاح کړه، او ويې ويل چې دوه اورلګيدنې د رغونې په ترڅ کې د لوړ تودوخې درلودونکي عملياتونو له امله رامينځته شوي، او درېم تعمير اسفنجي عايق نه درلوده بلکه يو موقتي کور و چې قرارداد کونکی د خپل ځان لپاره جوړ کړی و. په هرصورت، د USACE مرستيال قوماندان ويلي چې USACE د هر تعمير په جوړولو کې خونديتوب او د تعميراتو د قوانينو شرايط په نظر کې نيسي. ده وويل چې USACE د ANSF ټول arch-span ودانيو په اړه بياکتنه کوي تر څو معلومه کړي چې د تعميراتو نړيوال قانون سره يې د برابرولو لپاره کومو ګامونو ته اړتيا شته دی. برسيره پردې، USACE پلان لري چې د مهندسو انجينرانو يو شرکت سره قرارداد لاسليک کړي تر څو د هر تعمير قرارداد بياکتنه وکړي چې د قانون له شرطونو سره سم وي، او د اسفنجي عايق او تودوخي مخنيونکي موادو کيفيت چې قرارداد کونکی يې کاروي وارزوي چې د تعميراتو نړيوال قانون سره سم دي که نه. USACE هغه اسناد ټولوي چې سيګار يې غوښتنه کړې ده او سيګار ته به يې وړاندې کړي. سيګار به د خپل رواني پلټنې د ملاتړ لپاره د دې موضوع څارنې ته ادامه ورکړي.

## نوي څانګړې پروژې

### د افغان دفاع او داخلې وزارتونو سره مستقيمه مرسته کول

د دفاع او داخلې وزارتونه تر اوسه پورې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د معاشاتو، يونيفارم، او سون موادو لپاره د متحده ايالاتو حکومت لخوا له $3 ميليارده ډالرو څخه ډېره مستقيمه مرسته ترلاسه کړې. تمه کيږي چې په راتلونکو کلونو کې دا شميره زياته شي. د متحده ايالاتو د ادارو لخوا د مستقيمې مرستې کاروني څخه د سيګار رواني څارنې د يوې برخې په توګه، دا بياکتنه به معلومه کړي چې DOD د متحده ايالاتو د مرستو په اداره او حساب ورکونه کې د دفاع او داخلې وزارتونو ظرفيت څنګه ارزولی دی.

### د کجکي د بريښنا بند پروژې لپاره مستقيم مرسته ورکول

USAID په ورستيو کې اعلان کړه چې د متحده ايالاتو د مستقيمې مرستې $60 ميليونو څخه تر $80 ميليونه ډالرو پورې به افغان ملي صنعت، د افغانستان بريښنا شرکت ته ورکړي، څو د کجکي په بند کې يو توربين نصب کړي. د ادارو لخوا د مستقيم يا "د بوديجې په اساس" مرستې له کاروني څخه د سيګار د څارنې يوې برخې په توګه، سيګار به معلومه کړي چې USAID کوم پلان په نظر کې لري څو ډاډه شي چې د افغانستان بريښنا شرکت ته ورکړ شوي مرستې په سم ډول اداره کيږي.

### د اداري فساد په ضد د متحده ايالاتو د حکومت موخې

د اداري فساد په وړاندې مبارزه او د حساب ورکونې زياتول په افغانستان کې د متحده ايالاتو د بيارغونې ستراتيژې مهمه برخه جوړوي. د بيارغونې په برخه کې د متحده ايالاتو او نړيوالو بيلابيلې ستراتيژۍ د اداري فساد په وړاندې مبارزه ډېره مهمه بللې ، او د بيارغونې په برخه کې راتلونکې مرستې يې په دې برخه کې له پرمختګ سره تړلې دي. سيګار د يو محدود بياکتنې مسوليت په غاړه اخيستې دی څو په افغانستان کې د اداري فساد په ضد خپلو موخو کې د متحده ايالاتو پرمختګ وارزوي.

**نوي څانګړې پروژې**

- د دفاع او کورنيو چارو افغاني وزارتونو سره مستقيم مرسته کول
- د بريښنا کجکي بند پروژې سره مستقيم مرسته کول
- د اداري فساد په ضد د متحده ايالاتو موخې

ځانګړي روانې پروژې

• د ويالو مخنيونکي سيستمونو ارزونه

## روانې ځانګړې پروژې

### د ويالو مخنيونکي سيستمونو ارزونه

د هغه قرارداد کونکو په اړه د سيګار يوه څېړنه چې د متحده ايالاتو حکومت ته يې د ويالو مخنيونکی داسې سيستم بيل وړاندې کړی چې يا يې ناسم جوړ کړی و او يا هم له سره نه و جوړ کړی، شديدې انديښنې راپورته کړې. د بالقوه درغلۍ سربېره، دا ناسم جوړ شوي يا نشتوالی د ويالو مخنيونکی سيستم جنګياليو ته موقه ورکړه څو په ويالو کې IEDs ځای په ځای کړي چې پدې سره د ايتلافي او نورو ځواکونو څو سرتيري خپل ژوند له لاسه ورکړ. سيګار په افغانستان کې د ويالو مخنيونکی سيستم نصبولو په اړه هدف لرونکې ارزونه ترسره کوي. دا ارزونه به د سيګار په څېړنه کې او هم د 2012 کال د اکتوبر په 10 د سيګار هغه خبرتيا ليک کې ياد شوي مسايل تعقيب کړي چې د CENTCOM او USFOR-A قوماندانانو ته په ترتيب سره وړاندې شوي و. دا به هغه قراردادونه معلوم کړي چې د ويالو مخنيونکي سيستم لپاره لاسليک شوي او همدارنګه تر کوم حده پورې د ويالو مخنيونکي سيستمونو د نصب په اړه د قرارداد کونکو کړنې څارل شوي دي.

## د سيګار بوديجه

پدې ربع کې، کانګرس د سيګار د ټول 2013 مالي کال د عملياتي مصارفو لپاره $49.9 ميليونه ډالر تخصيص ورکړ. دا بوديجې د بشپړ کال دوامداره تخصيصاتو 2013 لايحې، له مخې چمتو شوي (P.L. 113-6). پهرصورت له دې شميرې نه په دولتي کچه د غير دفاعي مصارفو احتياطي کموالي له امله، د روانې لارښونې په اساس تقريبا $2.5 ميليونه ډالر کم شوي. د تخصيصاتو ستونزمن بهير په ترڅ کې، او د فيدرالي بوديجې په اړه د خبرو اترو سربېره، د کانګرس لخوا د وړانديز شوې بوديجې تخصيص کول څرګندوي چې کانګرس او د متحده ايالاتو ماليه ورکونکو ته د سيګار کارونه ډېر اهميت لري.

سيګار په 2008 کال کې تاسيس شوی. په مجموعي ډول، کانګرس تر 2013 کاله پورې د سيګار عملياتونو لپاره $166 ميليونه ډالر تخصيص کړي دي. د 2014 مالي کال لپاره د ولسمشر بوديجه، چې په ورستيو کې کانګرس ته وړاندې شوې ده، سيګار ته د نورو $49.7 ميليونه ډالرو غوښتنه کوي څو د بيارغونيزو مرستو څخه خپلې مهمې ځارنې ته ادامه ورکړي.

## د سيګار کارکونکي

د رپوټ پدې دوره کې، سيګار خپل کارکونکي له 177 څخه 182 فيدرالي کارکونکو ته زيات کړه. سيګار د ګومارنې وړانديزونه زيات کړي چې د 2013 کال د مې تر پايه پورې به د بشپړ وخت کارکونکو شمير يې 189 کسانو ته ورسيږي. سيګار موخه لري چې د 2013 مالي کال د دريمې ربعې تر پايه خپل بشپړ وخت کارکونکي 200 کسانو ته ورسوي او د 2014 مالي کال لپاره 205 تنه کاري ځواک ولري.

د یوه لنډ مهاله اداري په توګه سیګار د کارکونکو په ګومارنه او ساتنه کې له ننګونې سره مخ دی، خو له دې ننګونو سره خپلې مبارزې ته ادامه ورکوي. سیګار په افغانستان کې 57 اجازه لیکونه لري. سیګار پدې ربع کې، 32 رسمي پرسونل په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت کې، او 14 رسمي کارکونکي د متحده ایالاتو له سفارت څخه بهر درلوده. د سیګار اداري غړي په ټول هیواد کې په اتو مرکزونو کې ځای په ځای شوي دي، لکه د کندهار او بګرام هوایي ډګرونه، مزار شریف، کیمپ سټون، کیمپ لیدرنیک، FOB سالیرنو، په کابل کې د USFOR-A مرکزونه، او په هرات کې د متحده ایالاتو قونسلګري. سیګار په کابل کې د خپل پلټنو او څیړنو سره د مرستې لپاره درې ځایي افغانان ګومارلي دي. برسیره پردې، سیګار په خپلو کارونو کې له داسې کسانو څخه ګټه اخلي چې د لنډ وخت لپاره یې په افغانستان کې ګومارلی وي. پدې ربع کې، سیګار 16 پرسونل د موقتي دندو لپاره په افغانستان کې د 316 ورځو لپاره ګومارلي و.

”زه د نن څخه تر 10 کاله پورې په افغانستان
کې د ثبات او امنیت لپاره لوی فرصت وینم. مګر
دا اوږد مهاله پروسه ده. ... څه چې موږ غواړو
د 2014 پای کې په واقعیت سره ترسره کړو د هغه
څه افغانانو ته چمتو کول دي څه چې زه د ,فرصت
لسیزې، په حیث شرح کوم. په دغه وخت کې
به امنیت او ثبات د دوی په لاسونو کې وي.“

—جنرال جوزف ډانفورډ

سرچینه: ABC نیوز، د جنرال جوزف ډانفورډ سره مرکه، د 2013 کال د مارچ 29.

# 3
# د بيارغونې
# نوي خبرونه



# د بيارغونې تازه حالت منځپانګې


| | |
|---|---|
| **عمومي کتنه** | **63** |
| **د بسپنو وضعيت** | **67** |
| **امنيت** | **81** |
| **حکومتداري** | **109** |
| **اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا** | **137** |


**تصوير په تېره پاڼه کې**
يوه قابله د سرې حوض روغتيايی کلينيک کې د روغتيا او تغذيه ودې هدف پروګرام برخې په حيث د يوې ځوانې مور سره غږيږي، په بيله بيا په افغانستان کې د ماشوم زيږيدنې او ماشوم مړينې لوړ ميزان راټيټول. (د نړيوال بانک تصوير)

# عمومي کتنه

3 برخه د افغانستان د بیارغونې په تړاو لومړیتوبونه، ننګونې او بشپړتیاوې وړاندې کوي څو د پلټنې لپاره یې زمینه برابره کړي. په حاشیو کې له دغو هڅو سره د سیګار د هغو تړلو پلټنو پېژندنه شویده چې بشپړې شویدې او یا روانې دي. په 1 برخه کې راغلې ماخذونه نورو جزییاتو ته لار هواروي.

سیګار په دغه برخه کې معلومات له 181-110 عامه قانون سره په تطابق کې وړاندې کوي، په دې قانون کې حکم شوی دی چې کانګرس ته د افغانستان د بیارغونې په تړاو د سیګار په چمتو کېدونکې درې میاشتنۍ رپوټ کې د نورو مواردو برسیره لاندنۍ مسایل شامل دي:

- د ځانګړیو شویو بسپنو ژمنه او لګول
- د متحده ایالاتو د حکومت د قراردادونو، بسپنو، پریکړو او نورو میکانیزمونو په اړه توضیحات
- د متحده ایالاتو د حکومت د اداراتو له لوري بسپنه شوې پروژو ته د نړیوالو اداراتو او بهرنیو هیوادونو له لوري چمتو شوې مرستې.

## مطالب

په دغه برخه کې څلور نورې فرعي برخې شاملې دي: د بسپنو وضعیت، امنیت، حکومتداري، اقتصادي او ټولنیزه پرمختیا

د **بسپنو وضعیت** په برخه کې د افغانستان د بیارغونې په ډګر کې ځانګړې شویو، ژمنه شویو او لګول شویو پیسو توضیحات راغلي دي چې د متحده ایالاتو او نړیوالو مرستې پکې شامل دي.

د دریو نورو فرعي برخو تنظیمول د لومړیتوب ورکولو او عملي کولو د پلان هغه درې ستنې توضیح کوي چې په 2010 کال کې په یوه نړیوال کانفرانس کې وده ورکړل شوه او افغان حکومت یې اعلان وکړ.

د **امنیت** برخه کې د متحده ایالاتو هغه هڅې چې غواړي افغان ملي امنیتي ځواکونه (اردو او پولیس) پیاوړي کړي روښانه شویدي. همداشان له خصوصي امنیتي شرکتونو سره د قراردادونو پای ته رسول او د نشه اي توکو د قاچاق پروړاندې مبارزه هم پکې شامل دي.

د **حکومتداري** په برخه کې د افغان حکومت هغه پرمختګونه تر غور لاندې راغلي دي چې د ظرفیت جوړونو له لارې یې د ښې حکومتدارۍ لپاره تر سره کړیدي، د قانون د حاکمیت لومړیتوب او د بشري حقونو رعایت یې هم یوه برخه ده. په دې برخه کې همداشان د بیایوځای کیدلو او پخلاینې پروسه هم روښانه شویده، په بیلابیلو ولایتونو کې د افغان حکومت د ولکې کچه او له فساد سره د مبارزې لومړیتوبونه هم پکې څېړل شویدي.

د **اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا** په برخه کې د انرژۍ، کان کیندنې او روغتیا په ډګر کې د بیارغونیزو هڅو جاج اخیستل شویدی. په دې کې اقتصادي حالت انځور شویدی او مالي شبکو، د مالي پایښت لاس ته راوړل او د بنسټیزو خدمتونو په وړاندې کولو کې د پرمختګونو نوي خبرونه روښانه شویدي.

## میتودولوژي

په 3 برخه کې د متحده ایالاتو د اداراتو او آزادو سرچینو معلومات راغونډ شویدي. سرچینې یې په پایلیکونو او یا له شکلونو او جدولونو سره په راغلو توضیحاتو کې په ګوته شویدي، له دې چې بیلابیلې ادارې معلومات برابروي نو کیدی شي چې شمیرې سره په ټکر کې وي یا توپیر ولري. سیګار له خپلو پلټنو او څیړنو پرته نور معلومات نه تاییدوي. د نورو سرچینو معلومات د سیګار د دریځ منعکس کونکي ندي. په دې ربع کې د سیګار د څیړنو او پلټنو د جزییاتو لپاره 2 برخه وګورئ.

### معلومات غوښتنه

معلومات غوښتنه د پوښتنو هغه لړۍ ده چې د متحده ایالاتو اداراتو ته متوجه ده او په افغانستان کې د بیارغونې او د کارونو د وضعیت په تړاو د هغو ونډه او ښکیلتیا تر څیړنې لاندې نیسي. په تر ټولو وروستۍ معلومات غوښتنې کې د متحده ایالاتو یو شمیر اداراتو ګډون کړی وو چې په هغو کې د بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، د ترانسپورت وزارت، د خزانې وزارت او د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا ادارې برخه درلوده. ځواب ورکونکو اداراتو د دغې برخې په تړاو یوه لومړنۍ مسوبه ترلاسه کړیده. له دې سره دوی توانیدلي دي چې په دې ربع کې د چمتو شویو ځانګړیو معلوماتو په اړه تبصره وکړي او تایید یې کړي.

### د آزادو سرچینو څیړنه

د آزادو سرچینو څیړنه تر ټولو د لاسرسي وړ وروستي معلومات په ګوته کوي چې کره او د اعتماد وړ دي او تر لاسه شویدي. په سرچینو کې د متحده ایالاتو هغه ادارې هم شاملې دي چې په معلومات غوښتنې کې شاملې دي. په هغو کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه، ملګري ملتونه (او ترلي برخې)، د پیسو نړیوال صندوق، نړیوال بانک، افغان وزارتونه او نور حکومتي ادارې شامل وو.

# د معلوماتو شرایط او ګرافیکو باندې پوهاوی

ټول شکلونه او جدولونه د دې ربعې په اړه معلومات ورکوي او استثنأت په ځانګړیو ځایونو کې روښانه شویدي.

## بارچارتونه

په دغه رپوټ کې ډیری بسپنې او پروژې د ډالرو په بنسټ روښانه شویدي چې د میلیونو څخه تر میلیاردو ډالرو په کچه دي. د دغو شمیرو د سمې ګرافیکي توضیح د چمتو کولو په موخه، ځینې بارګرافونه له یوې قطع شوې برخې سره تر سترګو کیږي (موجې کرښې) او په هغو کې د صفر او یوې لوړې شمیرې تر منځ بدلون په ګوته کوي.



په اندازه کې وقفه درلودونکی بارچارت



په اندازه کې وقفه نه درلودونکی بارچارت

## واحدونه په ملیاردونو او میلیونونو روښانه شویدي

له دې کبله چې په دغه رپوټ کې د بسپنې جزییات په دواړه میلیونونو او ملیاردونو روښانه شویدي، په رپوټ کې لیدل کیدونکې اشارې په دې موخه راغلي چې د دواړو واحدونو اندازې سره بیلې کړي. په ملیارد رپوټ شوي ډالر په آسماني رنګ په نښه شویدي او په میلیون رپوټ شوي ډالر په شنه رنګ په نښه شویدي.


پای چارت په


پای چارت په میلیونو

## د بسپنو نښې

د بسپنو نښې په متن کې د توضیح شویو انفرادي بسپنو پیژندنه کوي. د بسپنې اداره کوونکې مسوله اداره د بسپنې تر نومونو لاندې په تان باکس کې لست شویده.




## کلیزه (جنتري) او لمریز کلونه

په افغانستان کې د هجري لمریز کلیزه دود ده چې د عیسوي تاریخ له 622 میلادي کال څخه را پیلیږي. سیګار هجري لمریز کلونه په معادل عیسوي کلونو اړوي. روان افغان مالي کال 1392 دی. دغه کال د 2013 کال د مارچ په 21 پیل شوی دی او د 2014 کال د مارچ په 20 پای ته رسیږي. د افغان حکومت مالي کال د 2012 کال د دسمبر له 21 تر د 2013 کال د دسمبر تر 20 پورې دی.

# د فنډونو د حالت منځپانګه


د متحده ایالاتو د افغانستان
د بیا رغونې لپاره مرستې 68

د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ 71

د افغانستان د امنیتي ځواکونو
د بودجې فعالیتونه 71

د قوماندانانو د بیړني غبرګون پروګرام 72

د افغانستان د زیر بنا فنډ 73

د سوداګرۍ او ثبات د عملیاتو
وظیفوي ځواک 74

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د مخدره
توکو د مخنیوی او د مخدره توکو
پر وړاندې فعالیتونه 75

د اقتصادي ملاتړ فنډ 76

نړیوال مخدره توکو کنترول او
د قانون پلې کول 77

د افغانستان لپاره د نړیوالو
د بیا رغونې مرسته 78

# د فنډونو حالت

د سيګار د قانون جوړوني د ماموريت د تر سره کولو لپاره، دا برخه د افغانستان د بيا رغونې د فعاليتونو لپاره د متحده ايالاتو د تخصيص شويو، ژمنه شويو، او تاديه شويو فنډونو په اړه توضيحات ورکوي. د 2013 د مارچ تر 31 پورې، له 2002 مالي کال څخه متحده ايالاتو د افغانستان د مرستې او بيا رغونې لپاره نږدې $92.73 ميليارده ډالر تخصيص ورکړي دي. دا ټول په لاندې ډول ويشل شوي دي:

- $54.27 ميليارده ډالر د امنيت لپاره
- $22.97 ميليارده ډالر د حکومتوالۍ او پراختيا لپاره
- $6.39 ميليارده ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې د هڅو لپاره
- $2.43 ميليارده ډالر د بشردوستي مرستې لپاره
- $6.66 ميليارده ډالر د عملياتو او نظارت لپاره

عکس 3.1 د متحده ايالاتو هغه مهم فنډونه ښيي چې پدغو هڅو کې برخه اخلي.

عکس 3.1

**د افغانستان د بيارغونې څخه د ملاتړ لپاره د متحده ايالاتو مرستې** (په ميليارد ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي.

a په ګڼ شمير ادارو کې DOJ، State، DOD، USAID، خزانه، او USDA شامل دي.

سرچينې: د سيګار 4/17/2013، 4/16/2013، 4/2/2013، 4/1/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سيګار 4/15/2013، 4/10/2013، 4/5/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سيګار 4/5/2013 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سيګار 1/3/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سيګار 4/18/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سيګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سيګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشريحي وينا.

**ASFF:** د افغانستان د امنيتي ځواکونو فنډ
**CERP:** د قوماندان د بيړنې غبرګون پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زير بنا فنډ
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ثبات عملياتو د دندې ځواک
**DOD CN:** د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنيوی او له مخدره توکو سره د مبارزې فعاليتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ فنډ
**INCLE:** نړيوال مخدره توکو کنترول او د قانون پلي کول
**نور:** نورې مرستې




**د 2002 له مالي کال څخه په افغانستان کې د بیا رغونې مرستې هغه پیسې چې د متحده ایالاتو اوو اصلي فنډونو ته ورکړ شوې له 85.6% ډیر (له $79.40 میلیاردو ډالرو څخه د ډیرو) استازیتوب کوي. لدغو پیسو څخه، له 83.6% څخه ډیر (له $66.39 میلیاردو ډالرو څخه ډیرو) ژمنه شوې ده، او له 73.4% څخه د ډیرو ($58.29 میلیاردو ډالرو څخه ډیر) تادیه شوې دي. دا لاندې پاڼې د دې مرستو نور جزییاتو په اړه دي.**

## د افغانستان د بیا رغونې لپاره د متحده ایالاتو مرستې

د 2013 مارچ تر 31 پورې، په افغانستان کې د مرستې او بیار رغونې لپاره ټول تخصیصونه نږدې $92.73 میلیارده ډالر و. کېدای شي د بیا رغونې دا ټولې مرستې په پنځو مهمو برخو وویشل شي: امنیت، حکومتوالي او پراختیا، مخدره توکو سره مبارزه، بشردوستې، او نظارت او عملیات. د متحده ایالاتو د تخصیصونو د بشپړو معلوماتو لپاره، د B ضمیمه وګورئ.

د 2013 د مارچ په 26، ولسمشر اوباما د 2013 د مستحکمو او لا نورو دوامدارو تخصیصونو قانون امضا کړ، چې د متحده ایالاتو د حکومت لپاره د مالي کال د پاتې وخت لپاره او د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ډیریدونکی مرستو نږدې $92.73 میلیارد ډالر برابروي، لکه څنګه چې پدې عکس 3.2 کې ښودل شوي. کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ولاړ، د افغانستان د مرستې او بیا رغونې د حسابونو، پشمول د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزات او د USAID د 2013 مالي کال د تخصیصونو د پاې اندازه تر غور لاندې و. کله چې دا پیسې معلومې شي د 2013 مالي کال د مرستو ورکولو کچه به هم زیاته شي.[24]

عکس 3.2

**د مرستو کټګورۍ په اساس د تخصیصاتو مجموعه، د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې** (په میلیارد ډالرو)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. DOD د 2011 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي. DOD د 2012 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي. P.L. 113-6. د 2012 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر فسخ کړه. DOD د 2011 مالي کال AIF څخه $101 میلیونه ډالر د 2011 مالي کال ESF ته انتقال کړه تر څو داسې یو زیربنایي پروژې ته بودیجه ورکړي چې د USAID لخوا پلي کیږي.

[a] د State او USAID په شمول د ګنو شمیرو لپاره د2013 مالي کال د تخصیصاتو وروستی شمیرې ندي ټاکل شوې.

سرچینې: د سیګار 4/17/2013، 4/16/2013، 4/2/2013، 4/1/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سیګار 4/15/2013، 4/10/2013، 4/5/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 4/5/2013 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 1/3/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 4/18/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.

د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د 2013 مالي کال لپاره د تخصیصونو پیسې له $6.22 میلیارده ډالرو څخه زیاتې شوې، لکه څنګه چې پدې عکس 3.3 کې ښودل شوي. لدې پیسو څخه، له $5.12 میلیاردو ډالرو څخه زیات د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ (ASFF) ته تخصیص شوي. د ASFF لپاره د 2013 مالي کال د مرستو اندازه له $11.2 میلیارده ډالرو څخه لکه څنګه چې په 2012 مالي کال کې لمړی تخصیص ورکړ شوی له$6 میلیارده ډالرو څخه زیاته کمه شوې. د 2012 له مې څخه، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره ډیریدونکي تخصیص ټول $3 میلیارده ډالر کم شوی. د فعالیتونو بیا پروګرامونو جوړول او بیرته اخیستلو د 2012 مالي کال د تخصیص پیسې له $11.2 میلیاردو ډالرو څخه $9.2 میلیاردو ډالرو ته، او د بیا پروګرامونو جوړولو فعالیت د 2011 مالي کال تخصیص له $11.6 میلیاردو ډالرو څخه $10.6 میلیارده ډالرو ته کم شوی.[25]

لکه څنګه چې په تیر ربع کې راپور ورکړ شوی، د 2012 مالي کال د پیسو ډیره برخه د ژمنو کیدلو لپاره پاتې وه. له $11.76 میلیاردو ډالرو څخه زیات چې د 2012 مالي کال د متحده ایالاتو د ځلورو سترو بیا رغونې فنډونو لپاره تخصیص شوي، نږدې $5.21 میلیارده ډالر د ژمنو کیدلو لپاره شتون لري، لکه څنګه چې پدې جدول 3.1 کې ښودل شوي.[26]

جدول 3.1

**د 2012 مالي کال تخصیصونه او ژمنې، د 2013 د مارچ تر 31 پورې**
(میلیونونه ډالر)

| | تخصیص شوي | ژمنه شوي |
| --- | --- | --- |
| ASFF | $9,200 | $5,936 |
| AIF | $400 | $321 |
| ESF | $1,837 | $0 |
| INCLE | $324 | $293 |
| **ټول** | **$11,761** | **$6,550** |

| | |
| --- | --- |
| **چې ژمنه یې باید وشي** | **$5,211** |

یادښتونه: شمیرې راټولې شوې دي. د متحده ایالاتو دفاع وزارت په 2012 مالي کال کې د ASFF $1 میلیارده ډالر بیرته پروګرام کړي، او P.L. 113-6 د 2012 مالي کال $1 میلیارده ډالر یې بیرته ایستلې، چې د مرستو کچه یې له $11.2 میلیاردو ډالرو څخه $9.2 میلیاردو ډالرو ته را کمه کړې.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د متحده ایالاتو دفاع وزارت ځواب، 4/17/2013 او 4/16/2013؛ د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د USAID ځواب، 4/18/2013؛ د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/15/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011.

عکس 3.3

**د مالي کال، مقدار، او کټګورۍ په اساس تخصیصات** (په میلیارد ډالرو)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. DOD د 2011 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړي. DOD د 2012 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارده ډالر بیا پروګرام کړې دي. P.L. 113-6. د 2012 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر فسخ کړه. DOD د 2011 مالي کال AIF څخه $101 میلیونه ډالر د 2011 مالي کال ESF ته انتقال کړه تر څو داسې یو زیربنایي پروژې ته بودیجه ورکړي چې د USAID لخوا پلي کیږي.

[a] د State او USAID په شمول د ګڼو شمیرو لپاره د2013 مالي کال د تخصیصاتو وروستۍ شمیرې ندي ټاکل شوي.

سرچینې: د سیګار 4/17/2013، 4/16/2013، 4/2/2013، 4/1/2013، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سیګار 4/15/2013، 4/10/2013، 4/5/2013، 10/5/2012، او 6/27/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه؛ د سیګار 4/5/2013 معلوماتي غوښتنې ته د خزانې ځواب؛ د سیګار 1/3/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ د سیګار 4/18/2013، 10/15/2010، 1/15/2010، او 10/9/2009 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه؛ د سیګار 7/7/2009 معلوماتي غوښتنې ته د DoJ ځواب؛ د سیګار 4/2009 معلوماتي غوښتنې ته د USDA ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011؛ P.L. 111-212، 10/29/2010؛ P.L. 111-118، 12/19/2009؛ د 2010 مالي کال د دفاع تشریحي وینا.




### د ASFF د فنډ اصطلاحات

د متحده ایالاتو دفاع وزارت راپور ورکړی چې د ASFF فنډونه څنګه تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې.

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو ورکولو لپاره ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت خواب، 4/13/2010.

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو فنډ

د متحده ایالاتو کانګرس د افغانستان د امنیتي ځواکونو (ASFF) فنډ جوړ کړی ترڅو د افغانستان د امنیتي ځواکونو لپاره تجهیزات، مواد، خدمتونه، او روزنې، او تاسیسات او زیر بنا د ترمیم، بیا رغونه، او ودانول برابر کړي.[27] د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو مسول سازمان د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان (NATO) د افغانستان د روزنې ماموریت/د افغانستان د امنیتي سپارلو ګډه قوماندانې ده.[28]

د 2013، د ځواکمن او د لا نورو دوامدارو تخصیصونو قانون، په 2013 مالي کال کې د ASFF لپاره له $5.12 میلیاردو ډالرو څخه زیات تخصیص ورکړی، چې د فنډ ورکولو ډیریدونکي ټوله اندازه نږدې $52.75 میلیارده ډالرو ته زیاته شوې.[29] د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د ASFF له ټول فنډ څخه نږدې $44.13 میلیارده ډالرو ژمنه شوې ده، چې لدې څخه $39.99 میلیارده ډالر تادیه شوي دي.[30] دا عکس 3.4 په هر مالي کال کې د ASFF لپاره ورکړ شوی پیسې ښیې.

د متحده ایالاتو دفاع وزارت راپور ورکړی چې ډیریدونکي ژمنې د 2013 د مارچ تر 31 پورې، نږدې $1.04 میلیاردو ډالرو ته د 2012 د دسمبر تر 31 پورې پر ډیریدونکو ژمنو برسیره زیاتې شوې. د 2013 د مارچ تر 31 ډیریدونکي تادیاتو د 2012 د دسمبر تر 31 پورې پر ډیریدونکو تادیاتو برسیره، له $1.85 میلیارده ډالرو څخه ډیر زیات شوي.[31] عکس 3.5 د ASFF لپاره د ډیریدونکو فنډونو اندازه چې شتون لري، ژمنه یې شوې، او تادیه شوي یو بل سره پرتله کوي.

عکس 3.4

**د مالي کال په اساس د ASFF تخصیصات**
(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

a DOD د2011 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي.

b DOD د 2012 مالي کال ASFF څخه $1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړې دي؛ $1 میلیارد ډالر نورې پیسې د P.L. 113-6 په اساس فسخ شوې.

سرچینې:د سیګار 4/16/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

عکس 3.5

**د ASFF بودیجې، مجموعي پرتله** (په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینې: د سیګار4/16/2013 او 1/17/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ P.L. 113-6، 3/26/2013.

## د ASFF د بودجې فعالیتونه

د متحده ایالاتو دفاع وزارت په ASFF کې د بودجې د فعالیتونو دریو ډلو ته فنډونه ورکوي:

- دفاعي ځواکونه (د افغانستان ملي اردو، ANA)
- کورني ځواکونه (د افغانستان ملي پولیس، ANP)
- اړوند فعالیتونه (تر ډیرې کچې د توقیف شویو عملیات)

د هرې ډلې د بودجې د فعالیتونو لپاره فنډونه بیا د فعالیتونو څلورو فرعي ډلو ته ورکول کیږي: زیربنا، تجهیزات او ترانسپورټ، روزنه او عملیات، او ساتنه.[32]

د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د متحده ایالاتو دفاع وزارت نږدې $39.99 میلیارده ډالر د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو نوښتونو لپاره تادیه کړي دي. لدې څخه، نږدې $26.25 میلیارده ډالر ملي اردو ته تادیه شوي، او نږدې $13.47 میلیارده ډالر ملي پولیس ته تادیه شوي، او پاتې له $0.27 میلیارده ډالرو څخه زیات اړوندو فعالیتونو ته تللي دي.[33]

لکه څنګه چې پدې عکس کې ښودل شوي 3.6، د فنډونو ډیره برخه د ملي اردو لپاره تادیه شوي، چې نږدې $10.38 میلیارده ډالر دی، د تجهیزاتو او ترانسپورټ ملاتړ لپاره و. ملي پولیسو ته له تادیه شوي فنډ څخه، تر ټولو ډیره برخه، له $4.67 میلیاردو ډالرو څخه زیات، د ساتنې ملاتړ کړی، لکه څنګه چې پدې عکس کې 3.7 کې ښودل شوي.[34]

**د بودجې د فعالیتونو ډلې:** په هر تخصیص یا د فنډ په حساب کې هغه برخې چې د فعالیتونو موخې، پروژې، یا ډولونه پیژني چې د تخصیص یا د فنډ د

**فرعي فعالیت د ډلو لخوا یې لګښت ورکړ شوی:** د محاسبې ډلې چې د قوماندانی تادیات په کاري ساحو باندې ویشي.

سرچینه: د متحده ایالاتو د دفاع وزارت، "لارښود 7110.1-M د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د لارښوني لارښود،" لاس رسی 9/28/2009؛ د بهرني ځواکونو اداره، "د روغتیا د تاسیساتو د اداره کولو لارښود،" p. 5 لاس رسی 10/2/2009.

عکس 3.6

**د فعالیت فرعي ډلو په اساس د هغو مصارفو شمیرې چې ASFF د افغان ملي پوځ لپاره کړي ده 2005 مالي کال- د 2013 کال د مارچ 31** (میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینه: د سیګار 4/16/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب.

عکس 3.7

**د فعالیت فرعي ډلو په اساس د هغو مصارفو شمیرې چې ASFF د افغان ملي پولیسو لپاره کړې ده. 2005 مالي کال- د 2013 کال د مارچ 31** (میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینه: د سیګار 4/16/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب.




### د CERP د فنډونو اصطلاحات

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د CERP د فنډونو د تخصیص شویو، ژمنه شویو او تادیه شویو راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګیدلې دي

سرچینه: د سیګار د معلومات د غوښتنې په اړه، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ځواب، 4/14/2010.

## د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام

د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) په افغانستان کې د متحده ایالاتو قومندانانو ته دا توان ورکوي چې د خپلو مسولیتونو په ساحو کې بیړنیو بشردوستانه مرستو او د بیا رغوني اړتیاو پر وړاندې غبرګون وښيي او د هغو پروګرامونو ملاتړ وکړي چې ډیر ژر له سیمیزو خلکو سره مرسته کولای شي. د دې پروګرام پر اساس د وړو پروژو لپاره مرستې د هغو وړو پروژو لپاره دي چې د لګښت اټکل یې له $500,000 ډالرو څخه کم وي.[35] که د پروژې اټکل شوی لګښت تر $1 میلیونو ډالرو زیات وي اجازه لري، مګر دا پروژې باید د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندانی لخوا تایید شي؛ له $5 میلیونو ډالرو څخه زیاتې پروژې د دفاع وزیر د معاون لخوا تایید ته اړتیا لري. د CERP لخوا تمویل شوي پروژې باید له 20 میلیونو ډالرو څخه زیات نشي.[36]

د څواکمنو او لا دوامدارو تخصیصونو قانون، په 2013 مالي کال کې د CERP لپاره $200 میلیونه ډالر تخصیص ورکړی، چې د ټولې ډیریدونکی مرسته یې نږدې $3.64 میلیارده ډالرو ته زیات کړی.[37] د متحده ایالاتو دفاع وزارت راپور ورکړی چې لږ پیسو څخه، له $2.27 میلیارده ډالرو څخه زیاتو ژمنه شوې، چې لږ څخه $2.20 میلیارده ډالر تادیه شوي.[38] دا عکس 3.8 د مالي کال لپاره د CERP تخصیص ښيي، او دا عکس 3.9 د CERP د پروژو د ډیریدونکي تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو پیسو پرتله کول ښيي.

عکس 3.8

**د مالي کال په اساس د CERP تخصیصات**
(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې دي. په معلوماتو کې بنیادي بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 4/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L.112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

عکس 3.9

**د CERP بودیجې، مجموعي پرتله**
(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې دي. په معلوماتو کې بنیادي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. د تازه معلوماتو له امله د مقید شوو مرستو شمیره کمه شوه.

سرچینې: د سیګار 3/17/2013 او 1/15/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ د سیګار 1/4/2013 معلوماتي غوښتنې ته د OMB ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

## د افغانستان د زیر بنا فنډ

د 2011 کال لپاره د آیکه سکیلټن د ملي دفاع د صلاحیت قانون د افغانستان د زیربنا فنډ (AIF) تاسیس کړی ترڅو د لوړو لمړیتوبونو، او د هغو زیر بنایي سترو پروژو چې د متحده ایالاتو ملکي اردو د هڅو ملاتړ کوي لګښت ورکوي. د کانګرس غوښتنه ده چې د AIF لخوا تمویل شوي پروژې به د متحده ایالاتو د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو لخوا په ګډه غوره او اداره کیږي. له دیرشو ورځو څخه وړاندې چې د AIF یوې پروژې ته د فنډ ژمنه او تادیه کیږي، د متحده ایالاتو او بهرنیو چارو وزیران باید کانګرس د وړاندیز شوي پروژې له جزییاتو څخه خبر کړي، پشمول د ساتنې پلان او داچې دا پروژه څنګه په افغانستان کې د یاغیانو سره د مبارزې د ستراتیژۍ ملاتړ کوي.[39]

د 2013، د ځواکمنو او زیاتو دوامدارو تخصیصونو قانون، په 2013 کال کې د AIF لپاره $325 میلیونه ډالر تخصیص کړی، چې ټول ډیریدونکی فنډ یې له $1.02 میلیونو ډالرو څخه ډیرو ته زیات کړی.[40] پدې شمیره کې د 2011 مالي کال لپاره د AIF $101 میلیون ډالره فنډونه شامل ندي چې د 2011 مالي کال د USAID او AIF لپاره د زیر بنا پروژې د اقتصادي ملاتړ فنډ ته لیږل شوي. د 2013 د مارچ تر 31 پورې، نږدې $616.40 میلیونه ډالر د AIF د تولي مرستي ژمنه شوې، چې لدغو څخه نږدې $102.90 میلیونه ډالر تادیه شوي دي.[41] دا عکس 3.10 د مالي کال پر اساس د AIF تخصیص ښیې، او دا عکس 3.11 د AIFد پروژو د تخصیص شوې، ژمنه شوې، او تادیه شوې پیسو پرتله کول ښیې.




### د AIF د فنډونو اصطلاحات

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د AIF د فنډونو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلومات د غوښتنې په اړه، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت خواب، 4/13/2012.

عکس 3.10

**د مالي کال په اساس د AIF تخصیصات**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې دي.

a د 2011 مالي کال په رقم کې هغه $101 میلیونه ډالر شامل ندي چې د AIF یوې پروژې پلې کولو لپاره USAID ته انتقال شوي دي.

سرچینې: د سیګار 3/17/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD خواب؛ P.L 113-6، 3/26/2013؛ P.L 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

عکس 3.11

**د AIF بودیجو مجموعي پرتله**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوې دي. د 2011 مالي کال په رقم کې هغه $101 میلیونه ډالر شامل ندي چې د AIF یوې پروژې پلې کولو لپاره USAID ته انتقال شوي دي.

سرچینې: د سیګار 3/17/2013 او 1/17/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DOD خوابونه؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L. 112-10، 4/15/2011.

# د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو د دندې ځواک

د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو د دندې ځواک (TFBSO) د 2006 په جون کې تاسیس شوی او د څو کلنو لپاره یې په عراق کې کار کړی. TFBSO په افغانستان کې په 2010 کې په کار پیل کړی او موخه یې دا ده چې د بې کارۍ د کمولو او د افغانانو لپاره د اقتصادي فرصتونو د پیدا کولو له لارو هیواد با ثباته کړي او له اقتصادي پلوه د تاوتریخوالي مخه ونیسي. د TFBSO په پروژو کې خصوصي پانګونه، صنعتي پراختیا، بانکداري او مالي سیستم پراختیا، د کرنې پراختیا او بیا ژوندي کول، او د انرژۍ د پراختیا لپاره آسانتیاوې شامل دي.[42]

د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د 2013 مالي کال لپاره TFBSO له $117.28 میلیونو ډالرو څخه ډیر تخصیص ورکړي دي، دا ډیریدونکي تخصیصونه نږدې $672.04 میلیونو ډالرو ته رسوي.[43] لدغو پیسو څخه، له $551.11 میلیونو ډالرو څخه ډیرو ژمنه شوي او له $369.97 میلیونو ډالرو څخه ډیر تادیه شوي.[44] دا عکس 3.12 د هر مالي کال پر اساس د TFBSO د پروژو لپاره تخصیص شوي پیسې ښیې، او دا عکس 3.13 د TFBSO د پروژو لپاره د شته و، ژمنه شویو، او تادیه شویو پیسو ډیریدونکی پرتله کول ښیې.

عکس 3.12

**د مالي کال په اساس د TFBSO تخصیصات**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 4/2/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011؛ P.L.112-10، 4/15/2011.

عکس 3.13

**د TFBSO د بودیجو مجموعي پرتله**

(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

سرچینې: د سیګار 4/2/2013 او 1/4/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه؛ P.L. 113-6، 3/26/2013؛ P.L. 112-74، 12/23/2011، P.L. 112-10، 4/15/2011.




**د TFBSO د فنډونو اصطلاحات**

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د TFBSO د فنډونو په اړه له څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلومات د غوښتې په اړه، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونه

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د مخدره توکو د مخنیوی او مخدره توکو سره د مبارزې فعالیتونو فنډ (DOD CN) د مخدره توکو د سوداګرۍ او اړوندو فعالیتونو سره د مبارزې له لارې د افغانستان د ثبات د هڅو ملاتړ کوي. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له DOD CN څخه کار اخلي ترڅو د مخدره توکو د قاچاق پر وړاندې د اردو د عملیاتو ملاتړ وکړي؛ د افغانستان د مخنیوی عملیات پراخ کړي؛ او د افغانستان د قانون د پلي کوونکو ادارو ظرفیت زیات کړي، او پدې کې د افغانستان سرحدي پولیسو لپاره د تخصیصي روزنې، تجهیزات، او تاسیسات برابرول شامل دي.[45]

د DOD CN فنډونه د اردو ټولو خدماتو ته د یوې بودجې په توګه د کانګرس لخوا تخصیص ورکول کیږي. د متحده ایالاتو دفاع وزارت د مخدره توکو سره د مبارزې د سپارلو له مرکزي حساب څخه د اردو د خدماتو او د دفاع ادارو ته فنډونه بیرته پروګراموي چې د فنډونو ژمنې او سپارل تعقیبوي. د هر مالي کال لپاره د متحده ایالاتو دفاع وزارت د افغانستان لپاره د DOD CN د حسابونو په اړه د یو لګښت په توګه راپور ورکړي.[46]

د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د متحده ایالاتو دفاع وزارت راپور ورکړی چې د افغانستان لپاره د DOD CN د 2013 مالي کال لپاره $372.07 میلیونه ډالر لاسته روارې، چې دا له 2004 مالي کال څخه د DOD CN لپاره د ډیریدونکو فنډونو اندازه نږدې $2.68 میلیارده ډالرو ته رسوي.[47] عکس 3.14 د DOD CN تخصیص د هر مالي کال لپاره ښيي, او عکس 3.15 د DOD CN د پروژو لپاره نظامي خدمتونو او دفاعي ادارو ته د تخصیص شوي او سپارل شوي مقدارونو ډیریدونکې پرتله ښيي.




**د DOD CN د فنډونو اصطلاحات**

DOD reported DOD CN funds as appropriated, obligated, or disbursed

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو ورکولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ځواب، 4/13/2010.

عکس 3.14

**د DOD CN د بودیجو مجموعي پرتله**

(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینه: د سیګار 4/1/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD ځواب.

عکس 3.15

**د DOD CN د بودیجو مجموعي پرتله**

(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

[a] DOD د پوځي خدماتو او دفاعي ادارو ټولې بودیجې د مقید کیدو او مصارفو لپاره بیا پروګرام کوي.

سرچینې: د سیګار 4/1/2013 او 1/2/2013 معلوماتي غوښتنو ته د DOD ځوابونه.




## د ESF د فنډ اصطلاحات

USAID د ESF د فنډونو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوي، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی.

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګول شوې دي

سرچینه: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ځواب، 4/15/2010.

## د اقتصادي ملاتړ فنډ

د اقتصادي ملاتړ فنډ (ESF) پروګرامونه له هیوادونو سره مرسته کوي ترڅو خپلې لنډې او اوږدې سیاسي، اقتصادي، او امنیتي اړتیاوې پوره کړي او دا د متحده ایالاتو له ګټو سره مرسته کوي. د ESF پروګرامونه د تروریزم پر وړاندې د پروګرامونو ملاتړ کوي؛ ملي اقتصادونه ځواکمن کوي؛ او د لا ډیر شفاف او حساب ورکوونکي حکومت لپاره د اغیزمن، د لاس رسي وړ، او خپلواک قانوني سیستم د پراختیا لپاره مرسته کوي.[48]

د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د ESF د 2013 مالي کال د فنډ د پای اندازه معلومه شوې نده. USAID راپور ورکړی چې د ESF لپاره د ډیریدونکي فنډ اندازه له $15.05 میلیاردو ډالرو څخه زیاته شوې ده. لدې پیسو څخه، نږدې $12.90 میلیارده ډالرو ژمنه شوې، چې لدې څخه $10.61 میلیارده ډالر تادیه شوي.[49] دا عکس 3.16 د هر مالي کال لپاره د ESF تخصیص ښیي.

USAID راپور ورکړی چې د 2013 تر مارچ پورې ډیریدونکې ژمنې، د 2012 د دسمبر تر 31 پورې پر ډیریدونکو ژمنو باندې نږدې $2.98 میلیونه ډالر زیات شوي. د 2013 د مارچ تر 31 پورې، د ډیریدونکي تادیاتو، د 2012 د دسمبر تر 31 پورې پر ډیریدونکو تادیاتو له نږدې $232.60 میلیونو ډالرو څخه ډیر زیات شوي.[50] دا عکس 3.17 د ESF د پروګرامونو د تخصیص شوي، ژمنو شویو او تادیه شوی د ډیریدونکو پرتله کولو اندازه ښیي.

عکس 3.16

**د مالي کال په اساس د ESF تخصیصات**
(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. د 2011 مالي کال په شمیر کې هغه $101 میلیون ډالر شامليږي چې د افغانستان زیربنا بودیجې څخه ESF ته انتقال شوی و. د 2013 مالي کال د تخصیصاتو وروستی شمیره نده ټاکل شوې.

سرچینه: د سیګار 4/18/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب.

عکس 3.17

**د ESF د بودیجو مجموعي پرتله**
(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. په یادو شمیرو کې د 2011 مالي کال هغه 101 میلیونه ډالر هم شامل دي چې د افغانستان د زیربنا له بودیجې څخه ESF ته لیږدول شوي وې. د 2013 مالي کال د تخصیصاتو وروستۍ شمیره نده ټاکل شوې.

سرچینې: د سیګار 4/18/2013 او 1/3/2013 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه.

## د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون پلې کول

د متحده ایالاتو د نړیوال مخدره توکو او د قانون پلې کولو چارو دفتر (INL) د قانون د حاکمیت د پراختیا ورکولو او د مخدره توکو له تولید سره د مبارزې او قاچاق یو حساب اداره کوي، چې د نړیوال مخدره توکو کنترول او د قانون پلې کولو (INCLE) د حساب په نوم دی. INCLE د INL د څو پروګرامونو، پشمول د پولیسو، مخدره توکو سره مبارزې، او د قانون حاکمیت او عدالت ملاتړ کوي.[51]

د 2013 د مارچ تر 31، د INCLE لپاره د 2013 مالي کال د فنډ پر اندازې باندې پریکړه نه وه شوې. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د INCLE لپاره ډیریدونکی فنډ پیسې له $3.58 میلیاردو ډالرو څخه زیاتې وې. لدې پیسو څخه، نږدې $3.49 میلیارده ډالرو ژمنه شوې ده، چې لدې څخه نږدې $2.58 میلیارده ډالر تادیه شوې دي.[52] دا عکس 3.18 د مالي کال لپاره د INCLE تخصیص ښیې.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړی چې د 2013 د مارچ تر 31 پورې، ډیریدونکې ژمنې د 2012 د دسمبر تر 31 پر ډیریدونکو ژمنو باندې نږدې $247.71 میلیونه ډالر زیات شوې. د 2013 د مارچ تر 31، ډیریدونکې تادیات، د 2012 د دسمبر د 31 پر ډیریدونکو تادیاتو نږدې $68.37 میلیونه ډالر زیات شوې.[53] دا عکس 3.19 د INCLE د تخصیص شویو، ژمنه شویو، او تادیه شویو ډیریدونکو پرتله کول ښیې.




**د INL د فنډونو اصطلاحات**

INL د INCLE او نورو INL د فنډونو په اړه لکه څنګه چې تخصیص شوې، ژمنه شوې، یا تادیه شوې راپور ورکړی.

**تخصیصونه:** د ژمنو لپاره ټولې شته پیسې

**ژمنې:** د پیسو د تادیه کولو ژمنې

**تادیات:** هغه پیسې چې لګول شوې

سرچینه: د سیګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت ځواب، 4/9/2010.

عکس 3.18

**د مالي کال په اساس د INCLE تخصیصات**
(په میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي.

[a] دا شمیره هغه ارقام ښیي چې د روانې پریکړې په اساس مقید شوي دي څکه چې د 13 مالي کال د وروستیو تخصیصاتو شمیره نده ټاکل شوې.

سرچینه: د سیګار 4/15/2013 معلوماتي غوښتنې ته د State ځواب.

عکس 3.19

**د INCLE د بودیجو مجموعي پرتله**
(په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. په معلوماتو کې ښایي بین الاداري لیږدونې شاملې وي. د 13 مالي کال د وروستیو تخصیصاتو شمیره نده ټاکل شوې.

سرچینې: د سیګار 4/15/2013 او 1/8/2013 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه.

## د افغانستان لپاره د بیا رغونې نړیواله مرسته

د متحده ایالاتو لخوا پر مرستو برسیره، نړیواله ټولنه د افغانستان د مرستې او بیا رغونې د هڅو د ملاتړ لپاره د مرستو د پیسو ډېره اندازه برابروي. لکه څنګه چې د سیګار په دریو میاشتینیو پخوانیو راپورونو کې راغلې، د نړیوالې ټولنې ډیرې مرستې د وجهې صندوق لخوا اداره کیږي. د وجهې صندوق له لارې برخې اخیستنې سره یوځای کیږي او بیا د بیا رغونې د فعالیتونو لپاره تادیه کیږي. دوه اصلي وجهې صندوقونه د افغانستان د بیا رغونې وجهې صندوق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهې صندوق (LOTFA) دي.[54]

## د افغانستان د بیا رغونې وجهې صندوق

د افغانستان د عملیاتو او پراختیا د بودجې لپاره د نړیوالې ټولنې ډېره لویه برخه اخیستل د ARTF له لارې راځي. له 2002 څخه د 2013 تر مارچ پورې، نړیوال بانک راپور ورکړی چې 33 مرسته کوونکو هیوادونو له $6.94 میلیاردو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې، لدغو څخه نږدې $6.18 میلیارده ډالر وجهې صندوق ته اچول شوي دي.[55] د نړیوال بانک په وینا، مرسته کوونکو هیوادونو د افغانستان د 1392 مالي کال لپاره نږدې $830.35 میلیونه ډالرو ژمنه کړې ده، چې د 2012 د دسمبر له 21 څخه د 2013 د دسمبر تر 20 مودې لپاره دي.[56] دا عکس 3.20، ARTF ته د 1392 مالي کال لپاره 10 غټ بسپنه ورکوونکي ښیي.

عکس 3.20

**د بسپنه ورکونکو په اساس د 1392 مالي کال لپاره د ARTF مرستې، د 2013 کال د مارچ تر 20 پورې** (میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. FY 1392 = 12/21/2012–12/20/2013.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د 2013 کال د مارچ تر 20 پورې، د مالي وضعیت په هکله د اداره کونکي رپوټ،" 1 مخ.

د 2013 د مارچ تر 20 پورې، متحده ایالاتو له 2.04$ میلیاردو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې وه او له 2002 څخه يې 1.74$ میلیارده ډالر ورکړي.[57] متحده ایالاتو او انګلستان د ARTF دوه لوی مرسته کوونکي هیوادونه دي، لکه څنګه چې پدې عکس 3.21 کې ښودل شوې، مغوی یو ځای د ټول فنډ 47% ورکړي.

په ARTF کې برخه اخیستل په دوه چینلونه ویشل شوي، د روانو لګښتونه (RC) کړکی او پانګې اچونې کړکی دي.[58] د 2013 د مارچ تر 20، د نړیوال بانک په وینا، د روانو لګښتونو له لارې د ARTF 2.69$ میلیارده ډالر د افغانستان حکومت ته تادیه شوي دي، ترڅو له روانو لګښتونو سره لکه د ملکي خدمتونو معاشونو سره مرسته وکړي.[59] د روانو لګښتونو کړکی د افغانستان د حکومت د عملیاتو د لګښتونو ملاتړ کوي څکه چې د حکومت کورني عواید اوس هم کم دي چې د روانو لګښتونو ملاتړ وکولای شي. ترڅو دا وکتل شي چې د روانو لګښتونو کړکی په پوره اندازه مرستې ترلاسه کوي، کیدای شي ARTF ته مرسته کوونکي هیوادونه له نیمې څخه ډېره برخه اخیستنه د پام وړ پروژو لپاره و نه "غواړي" (په نښه کول).[60]

د پانګې اچونې کړکی د پراختیایي پروژو د لګښتونو ملاتړ کوي. د 2013 د مارچ تر 20 پورې، د نړیوال بانک په وینا، د پانګې اچونې د کړکی له لارې له 2.91$ له میلیارده ډالرو څخه ډیرو ژمنه شوې ده، لدغه څخه 1.91$ میلیارده ډالر تادیه شوي دي. نړیوال بانک د 22 روانو پروژو راپور ورکړی چې ټول ژمنه شوی ارزښت يې نږدې 1.86$ میلیارده ډالر دي، لدغه څخه نږدې 856.00$ میلیونه ډالر تادیه شوي دي.[61]

عکس 3.21

**دARTF هغه مرستې چې د بسپنه ورکونکو لخوا ورکړ شوي دي. 1381 لمریزکال (2002) - د 2013 کال د مارچ 20** (سلنه)

**ټول ورکړ شوي:** 6.2$ میلیارده ډالر




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د 2013 کال د مارچ تر 20 پورې، د مالي وضعیت په هکله د اداره کونکي رپوټ،" 4 مخ.

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي خیریه صندوق

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) LOTFA اداره کوي ترڅو د افغانستان د ملي پولیسو معاشونه ورکړي او د کورنیو چارو وزارت ظرفیت ډیر کړي.[62] د وروستیو شته معلوماتو پر اساس، له 2002 څخه، مرسته کوونکو هیوادونو LOTFA ته له 2.75$ میلیاردو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې ده، چې لدغه څخه نږدې 2.75$ میلیارده ډالر ورکړ شوي دي.[63] د LOTFA شپږمه دوره د 2011 د جنورۍ په 1 پيل شوې او د 2013 تر مارچ پورې يې دوام درلود. د شپږمې دورې په 24 میاشتو کې، UNDP د افغانستان حکومت ته نږدې 1.03$ میلیارده ډالر سپارلې ترڅو د ملي پولیسو او مرکزي بندیخانې د ریاست د کارکوونکو معاشونه ورکړي او نور اضافي 22.55$ میلیونه ډالر يې د ظرفیت د لوړولو او د LOTFA د نوښتونو لپاره ورکړي.[64] د 2012 د دسمبر تر 31 پورې، مرسته کوونکو هیوادونو د LOTFA د شپږمې دورې لپاره له 1.22$ میلیاردو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې ده. لدغو پیسو څخه، متحده ایالاتو له 394.56$ میلیونو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې ده، او جاپان له 485.27$ میلیونو ډالرو څخه ډېره ژمنه کړې ده. د هغوی ګډې ژمنې د LOTFA د شپږمې دورې نږدې 72% جوړوي.[65] د وجهي صندوق له پیل څخه متحده ایالاتو له 950.22$ میلیونو ډالرو څخه ډیر LOTFA ته ورکړي دي.[66] د وروستیو شته معلوماتو پر اساس، دا عکس 3.22 له 2002 څخه د LOTFA تر ټولو څلور ستر مرسته کوونکي هیوادونه ښيي.

عکس 3.22

**د LOTFA سره د بسپنه ورکونکو مرستې د 2002 کال څخه، د 2012 کال د دسمبر تر 31 پورې** (سلنه)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي. EC/EU = اروپايي کمیسیون/اروپايي ټولنه. په "نورو" کې 18 بسپنه ورکونکي شامل دي.

سرچینې: UNDP، "د LOTFA 2012 کلنۍ پروژې د پرمختګ رپوټ،" 24 .مخ، 3/17/2013؛ د UNDP لخوا د LOTFA کلنۍ او درې میاشتنې رپوټونو په اړه د سیګار تحلیل، 4/20/2013.

# د امنیت منځپانګې


| | |
|---|---|
| د متحده ایالاتو بسپنه ورکوونه | 81 |
| د متحده ایالاتو روانې بودیجې مرسته ANSF ته | 82 |
| د دې ربعې مهمې پیښې | 83 |
| د لیږد بهیر | 86 |
| د متحده ایالاتو ځواکونه | 86 |
| د افغان ملي امنیتي ځواکونو پیاوړتیا او پرسونل معلومات | 87 |
| افغان سیمه ایز پولیس | 88 |
| د افغان عامه محافظت ځواک | 90 |
| د افغان ملي امنیتي ځواکونو ارزونې | 91 |
| د دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت ارزونې | 93 |
| افغان ملي اردو | 94 |
| افغان ملي پولیس | 100 |
| د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو طبي/صحي پاملرنې | 104 |
| د ناچاودو توکو لرې کول | 104 |
| د مخدره توکو ضد | 104 |

# امنيت

د 2013 کال د مارچ 31، د امريکا متحده ايالاتو کانګرس د افغان ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) د ملاتړ په موخه تر 54 ميليارد ډالرو ډېرې پيسې ځانګړې کړېدي. د نومورې بسپنو لويه کچه (52.7 ميليارد ډالره) د افغانستان د امنيتي ځواکونو د صندوق (ASFF) له لارې ځانګړې شوي او د افغانستان د ګډ امنيتي انتقال قوماندانۍ (CSTC-A). ته برابر شويدي، د ANSF پرمختګ لپاره د متحده ايالاتو رهبري کونکي مسؤل اداره. د بسپنو هدف د ANSF د جوړوني، تجهيز، روزنه او پياوړتيا ده، چې پکې د افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پوليس (ANP) شامل دي. ASFF ته د ځانګړې شويو 52.7 ميليارد ډالرو له جملې د شاوخوا 44.1 ميليارد ډالرو ژمنه شويده او له هغې جملې د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې 40.0 ميليارده ډالر لګول شويدي.[67]

دا برخه د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو يا ANSF او د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو ارزوني په اړه غږيږي؛ په هغو کې ANSF ته د جوړولو، تجهيزاتو، روزنو او پاېښت په موخه د متحده ايالاتو د بسپنو جاج اخيستل شويدی؛ او د هغو هڅو په اړه نوي خبرونه هم پکې شامل دي چې په افغانستان کې د مخدره توکو د کر او قاچاق د مخنيوي په موخه سر ته رسيږي. په دې برخه کې همداراز هغه ننګونې په ګوته شويدي چې افغان امنيتي ځواکونو ته د 2014 کال تر پای پورې به د امنيتي انتقال په ډګر کې موجود وي.

**د بياپروګرامولو عمل:** د بسپنو د کانګرس په واسطه اصلا نومول شوي اهدافو پرته نورو لپاره کارولو ته اجازه ورکوي. د خرنګوالو پورې اړه لري، د بياپروګرامولو لپاره تصويب ممکن د دفاع وزارت دننی وي يا کانګرس پکې دخيل وي.

**فسخ:** د کانګرس په واسطه په تيره کې چمتو کړی شوي بوديجې واک ردوي. د 1974 د ساتنې کنټرول قانون ځانګړې کوي چې ولسمشر ممکن کانګرس ته وړانديز وکړي چې بسپنې فسخ شي. که چيرې دواړه شوراګانو د دوامداره غونډې په 45 ورځو کې د فسخ پروپوزل تصويب نکړ (د قانون په واسطه پاس کول نو هرډول ساتل کيدونکې بسپنې بايد د ژمنه کيدو لپاره چمتو کړی شي.

سرچينې: د دفاع کسبولو پوهنتون، "10 درس: مالي مديريت: د پروګرام/بوديجې پلي کول،" په 4/12/2013 کې خپور شوی؛ د متحده ايالاتو سنا قاموس، په 4/12/2013 کې خپور شوی.

## د متحده ايالاتو بسپنه ورکوونه

د 2013 کال مارچ په 26 رييس جمهور اوباما قانون کې د "يو کړی شوي او نور روانو تخصيصونو قانون، 2013" لاسليک کړ. دا قانون په 2013 مالي کال کې د ASFF لپاره 5.12 ميليارد ډالر چمتو کوي. دا مقدار د دفاع وزارت (DOD) د 2013 مالي کال غوښتل شوي بوديجې غوښتنې څخه 625 مليون ډالر کم و. پدې لړولو کې 100 مليون ډالر د ANA زيربنا او د 525 مليون ډالرو عمومي کمول د "پلي کيدو نه شتون له امله" شامل دي.[68] پدې کې کوم داسې مقدار ندی شامل چې د بوديجې جلا کولو په واسطه ممکن اغيزمن شوی وي.

د ASFF د تير کال بسپنه ورکوونه هم کم کړی شوې. DOD د ASFF د 2011 مالي کال 1 ميليارد ډالر بيا پروګرام کړې. برسيره پردې، DOD د ASFF د 2012 مالي کال او د 2013 مالي کال تخصيصونو 1 ميليارد ډالر بيا پروګرام کړي، کانګريس د نورو 1 ميليارد فسخ چمتو کړې. دا بدلونونه د ASFF د 2012 مالي کال مقدار 11.2 ميليارد ډالرو څخه 9.2 ميليارد ډالرو ته کموي.[69]

## د افغانستان لپاره د قانون او نظم خيريه بوديجه

لکه څنګه چې د دې راپور (مخ 67) د بسپنو برخې دريځ کې په نښه شوي، د افغانستان لپاره د قانون او نظم خيريه بوديجه (LOTFA) يو څو ملته خيريه بسپنه ده، چې د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) له لارې اداره کيږي، ترڅو د ANP معاشات او د ANP

# امنیت

نور اړوند لګښتونه ورکړي، د کورنیو چارو وزارت ظرفیت لوړ کړي او د ټولنې پولیسي نوښتونو لپاره. د 2002 کال راهیسې، ډونر هیوادونو دې بسپنې ته د 2.7$ ملیارد څخه ډیرې ورکړي، چې په کوم کې متحده ایالات، ترټولو لوی اعانه ورکونکي له 950$ ملیون څخه ډیرې چمتو کړي. د متحده ایالاتو د LOTFA له لارې چمتو کړی شوي ډیری بسپنې د ASFF څخه دي (پدې برخه کې د ANP معاشات وګورئ، مخ 101).

پدې ربع کې، LOTFA د افغانستان د پولیس افسرو او زندان پرسونل د معاش او اجرت اړتیاو پوره کولو ته ادامه ورکړه، د ملګرو ملتونو عمومي منشي مطابق. د UNDP د تحقیق او پلټنې دفتر پر LOTFA یو تحقیق بشپړ کړ او لنډیز یې ډونرانو ته توضیح کړ. د دې په بسپنه کوونې عمل طمع شوی.[70] سیګار هغه مهال دا تحقیق نه و لیدلی کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ورکول کیده.

## د NATO ANA خیریه بودیجه

د امنیت په برخه کې د متحده ایالاتو چمتو کړی شوي بسپنې برسیره، چې ډیری یې د ASFF له لارې جاري شوي، ناټو هم د هغې د ANA خیریه بودیجې له لارې بسپنه چمتو کوي. د دې بودیجې له لارې، 22 هیوادونو (په شمول د غیر ناټو هیواد جاپان) له 2007 راهیسې نږدې 715 ملیون ډالر ورکړي، که څه هم ځینې وختونه په کارولو کې د محدودیت سره. د ANA خیریه بودیجې ورکړه افغان دولت ته مستقیم کومک ندی. دا بسپنې د متحده ایالاتو په واسطه د ناټو او غیر ناټو ډونرانو پرځای اداره کیږي او ASFF له لارې د ANA پیاوړتیا لپاره ورکول کیږي (لکه معاشات او انګیزشي طرحې)، لوژستیکي ملاتړ، او غیر تکراري لګښتونه (لکه تجهیزات). د DOD د عمومي پلټونکي دفتر دامهال د NATO ANA خیریه بودیجه پلټي؛ طمع کیږي نوموړې پلټنه د 2013 کال اوړي کې بشپړه شي.[71]

## د متحده ایالاتو رواني بودیجې مرسته ANSF ته

د 2009 کال مارچ 21 راهیسې، د 2012 کال دسمبر 31 په اوږدو کې، متحده ایالاتو د ASFF څخه د افغانستان دولت رواني بودیجې مرستې په مستقیم ډول 3.38 ملیارد ډالر چمتو کړي؛ 1.95 ملیارد ډالر یې په مستقیم مرسته کې د 2013 لپاره پلان شوي، مګر تراوسه ندي لګول شوي. ډیری لګول شوي او پلان شوي بسپنې (3.75 ملیارد ډالر) د افغان دولت عملیاتي بودیجې ملاتړ لپاره دي چې معاشات ورکړي، لکه څنګه چې په انځور 3.23 کې ښودل شوي. پاتې (1.59 ملیارد ډالر) د پیاوړتیا اړوند لګښتونه پوښي لکه د ودانیو او تجهیزاتو ترمیم او محافظت، او د اوبو او بریښنا خدمات.[72]

نور رواني بودیجې مرسته د دې لپاره چمتو کیږي چې افغانان د خپل مالي مدیریت وړتیا او ظرفیت ته وده ورکولو ته دوام ورکړي. پداسې حال کې چې د دې پانګو لید او د دوی کاروونې محدودول د متحده ایالاتو بسپنه ورکوونې خطر ډیروي، دا د افغان دولت ظرفیت هم ډیروي چې د ANSF راتلونکي اړتیاوې پیژندلو او ورکولو لپاره لوی مقدار اجرا او چمتو کړي.

انځور 3.23

**د افغان حکومت سره د ASFF مستقیمې مرستې** (میلیون ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي؛ SY=افغان لمریز کال؛ FY=افغان مالي کال؛ په "نورو" کې زیاتوالی د غیرمستقیمه مرستو څخه مستقیمو مرستو ته د پیسو لیږد ته اشاره کوي.

سرچینه: د سیګار 4/16/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

## د دې ربعې مهمې پیښې

په امنیت کې د دې ربعې ډېرې مهمې پیښې د ایتلافي ځواکونو څخه ANSF ته د امنیت مسؤلیت لیږد پورې اوړند دي. پدې پیښو کې شامل دي: د ناټو په مشرۍ د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) د قوماندې بدلون، د کورنیو چارو وزارت د ANP لپاره نوی 10 کلن لید؛ د متحده ایالاتو نوي دفاع وزیر او ولسمشر حامد کرزي لومړی ناسته؛ او د ANSF د اندازې په اړه خبرې، په راتلونکي کلونو کې د متحده ایالاتو نظامي ځای، او په ځینې ولایتونو کې د متحده ایالاتو ځانګړي ځواک شتون. د امنیت چاپیریال کې نور اړوند مهمو پیښو کې د ANSF مرګ ژوبلې ډېریدل، د داخلي بریدونو موجود ګواښ، او د ایتلاف مشرۍ څخه د ANSF مشرۍ ته د ولایتونو او ولسوالیو اخر ته دوهم، امنیتي لیږد شامل دی.



**جنرال جوزیف ایف ډانفورډ** د 2013 کال مارچ په 18 د ANSF روزنه ګوري. جنرال ډانفورډ د 2013 کال فبروري کې د ایساف او USFOR-A قومانده په غاړه واخیسته. (د NTM-A عکس)

## جنرال ډانفورډ د ایساف قومانده په غاړه اخلي

د فبروري 10 په مراسمو کې، د ایساف او متحده ایالاتو ځواکونو تلونکي قوماندان جنرال جان آر آلین واکې راتلونکي قوماندان جنرال جوزیف ایف ډانفورډ Jr ته وسپارله.
د متحده ایالاتو او ناټو مشرانو د جنرال آلن څخه په افغانستان کې د هغه د 19 میاشتو قوماندې کار لپاره ستاینه وکړه. جنرال ډانفورډ په خپلو توضیحاتو کې وویل، "نن ورځ د بدلون په اړه نده، دا د دوام په اړه ده."[73]

## د نوي پوليس نوښت

د 2013 کال فبروري په 5 د کورنيو چارو وزير د وزارت او ANP لپاره د پوليسو هماهنگۍ، نړيوالې ادارې ته د 10 کلن ليد طرحه وړاندې کړه، د ملگرو ملتونو عمومي منشي مطابق. نوموړې ستراتيژي د دې لپاره رامنځته کړی شوی وه چې پوليس د امنيتي ځواک څخه د قانون پلي کولو او ټولنې پوليسي ځواک ته واړوي. دې د آلمان دولت په واسطه بسپنه شوي د ملگرو ملتونو پرلاره اچول شوې دموکراتيک پوليسي پروژه تعقيبوله. درې کلنه پروژه، چې د ښځو او ماشومانو توسعې باندې تاکيد کوي، د دې لپاره ډيزاين شوې چې افغانانو ته ځواک ورکړي لانور هم د پوليس مسؤل گڼلو او د ټولنې ترتيباتو مسالو کې فعال شي.[74]

په فبروري کې د کورنيو چارو مشر چاراواکو توركيه ته هم سفر درلود چې هلته د 10 ورځو سفر پرمهال د ټولنې پوليسي نوښتونه وگوري. د LOTFA بسپنو نوموړی سفر حمايه کړ.[75]

## د دفاع وزير ولسمشر کرزي سره وليدل

د 2013 کال مارچ په 10 د دفاع وزير چوک هاګل په کابل کې د ولسمشر کرزي سره وليدل. ناستې د ولسمشر کرزي په واسطه جنجالي يا د شخړې توضيحات تعقيبول چې ويل يې متحده ايالاتو د طالبانو سره توطيه کوله چې د تاوتريخوالي کچه لوړه وساتي ترڅو د 2014 کال وروسته په افغانستان کې د متحده ايالاتو نظامي شتون باوري کړي. وزير د دې توضيحاتو په اړه افغان ولسمشر سره وغږيده او د نوموړي تور څخه يې انکار وکړ. وزير دا هم وويل چې د طالبانو سره هرډول مذاکره "بايد افغان دولت وکړي."[76]

## متحده ايالات، ايتلاف، او د ANSF ځواک ثبات تر 2018 پورې

لکه څنگه چې په ټول افغانستان کې د امنيت مشري ليږد د ايتلاف څخه افغانانو ته دوام لري، پاليسي جوړونکي او نظامي مشران بايد د راتلونکي کلونو په اوږدو کې د افغان او ايتلافي ځواکونو سمه موازنه ملاحظه کړي. په 2012 کې په شيکاگو کې د ناټو لوړپوړي، د ايساف شريک هيوادونو مشرانو په 2017 کې ANSF د لانور مالي پياوړي 228,500-ځواک ته کمولو پلان طرح کړ. په هرصورت، پدې ربعه کې، د متحده ايالاتو چاراواکو د ANSF اوسنی پای-ځواک د 352,000 هدف ساتل تر 2018 پورې وړانديز کړ.

د 2013 کال فبروري په 22، په بروسل کې د ناټو دفاع وزيرانو په يوه غونډه کې دفاع وزير ليون پنيټا وويل چې د افغان ځواکونو کمولو پلان به پرمخ لاړ نشي او د 2018 په اوږدو کې به د 352,000-شمير ANSF وساتل شي. هغه دا هم وويل چې متحده ايالات به د پسرلي او اوړي جنگي موسمونو په اوږدو کې په افغانستان کې د 60,000 عسکرو ځواک وساتي او د 2014 کال په فبروري کې به د متحده ايالاتو دا شمير 34,000 ته راټيټ کړي. طمع کيږي د متحده ايالاتو ځواکونه د افغان ټولټاکنو دورې، 2014 پورې نوموړې کچه وساتي او بيا نهايي وتل.[77]

د 2013 کال مارچ په 5 د متحده ايالاتو مرکزي قوماندې (CENTCOM) قوماندان جنرال جيمز ميټس د سنا مسلح ځواکونو خدماتو کميټې ته وويل چې هغه په افغانستان کې د 2014 څخه وروسته د 20,000 ايتلافي سرتيرو ځواک وړانديز کړی —چې 13,600 به يې د متحده ايالاتو وي. د فبروري په ناسته کې د ناټو دفاع وزيرانو د متحده ايالاتو 9,500 او

6,000 ايتلافي سرتيرو پرېښودلو په اړه خبرې وکړې.[78] کله چې دا راپور مطبوعاتو ته ورکول کيده نو د 2014 کال وروسته د ايتلافي ځواک په اړه نهايي پريکړه نه وه شوې.

د 2013 کال مارچ په 8، د المان لومړي وزير اعلان کړ چې هالند به د 2013 کال جولای مياشت کې د افغان پوليسو روزنې دنده پای ته ورسوي.[79]

## د متحده ايالاتو ځانګړي ځواکونه په وردګ کې

د متحده ايالاتو ځانګړي ځواکونه د افغان ادعاو پراساس وردګ پرېږدي چې دوی اوسيدونکي ازارکړي او وژلي دي. ولسمشر کرزي وويل چې يو افغان-امريکايی اوسيدونکی چې اصلا د کندهار څخه دی په وردګ کې د ځانګړي ځواکونو ډلې برخه وه او "د افغان وګړو حق يې له حده ډير تريپښو لاندې کړی."[80] په يوه بيلګه کې، هغه په نښه کړې چې ځايی اوسيدونکو وروسته له هغې شکايت وکړ چې د يوه محصل مړی وموندل شو او ادعا يې وکړه چې نوموړی محصل دوه ورځې دمخه د خپل کور څخه امريکايی ځواکونو وړی و.[81] د ايساف مقاماتو ويلي چې په سيمه کې د متحده ايالاتو سرتيرو پورې اړوند د ناوړه ګټه اخيستنې يا وژنې په اړه هيڅ شواهد ندي موندل شوي، مګر د ايساف/افغان ګډ کميسيون د ادعاو لانور څيړلو لپاره جوړ شوی و.[82] د 2013 کال فبروري په 24، ولسمشر کرزي اعلان کړ چې ايساف به په وردګو کې د "امريکايی ځانګړي ځواکونو په واسطه د ازار او ازيت په اړه د ځايی تکراري شکايتونو" راپورونو په تعقيب د ځانګړي ځواکونو ټول عملياتونه ودروي.[83] کرزي د دفاع وزير(MOD) ته وويل چې باوري شي د متحده ايالاتو ټول ځانګړي ځواکونه د ولايت څخه په دوه اونيو کې وتلي دي.[84]

د 2013 کال مارچ په 25، د متحده ايالاتو يوه مشر چارواکي وويل چې ايساف او افغان دولت يوه "مناسب حل" ته رسيدلي دي. نوموړي چارواکي وويل، "دا د وردګو ولايت څخه د متحده ايالاتو ځواکونو بشپړ وتل نه و؛ دا په پای کې د وردګ په يوه کوچنۍ برخه کې د متحده ايالاتو امنيتي ځواکونو څخه افغان امنيتي ځواکونو ته ليږد و."[85] ولسمشر کرزي د دغه لړې کيدو درناوی وکړ او وې ويل چې افغان ځواکونه به "په سيمه کې د امنيت چمتو کولو لپاره پرمخ لاړ شي."[86]

انځور 3.24

**په افغانستان کې د متحده ايالاتو د پوځ مړينې: د 2012 کال د جنوري له پيل څخه د دسمبر تر31 پورې**




يادونه: په "غير دښمن" کې هغه مړينې شامل دي چې د ټکر، ژوبلې، ناروغي، قتل، يا ځان وژنې له امله شوي وي.

سرچينې: DOD، د دفاعي پيښو د تحليل سيستم، د لاسرسی نيټه 4/17/2013؛ DOD، "په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لوري د پرمختګ په اړه رپوټ،" 12/2012، 35–34 مخ؛ DOD، "څرګند داخلي بريد د 2 امريکايانو او 2 افغانيانو د مړينې لامل شو،"

## داخلي بريدونه

د داخلي بريدونو (په دريشي کې افغانانو بريدونه د هغوی په ايتلافي ملګرو) شمير زيات شوی، په 2008 کې د دوه بريدونو څخه 46 بريدونو ته په 2012 کې[87]. د 2012 کال بريدونو د 62 ايتلافي سرتيرو مړينې پايله درلوده چې 35 يې د متحده ايالاتو پرسونل و.[88] دا د متحده ايالاتو له 11% سلنې څخه ډيره د ټولې مرګ ژوبلې او 15% سلنه د متحده ايالاتو ټولې مرګ ژوبلې چې په 2012 کې د دښمن حملاتو څخه پايله کيږې، جوړوي، لکه څنګه چې په انځور 3.24 کې ښودل شوي. برسيره پردې، د ANSF پرسونل (يا د ANSF پرسونل په حيث افراد) په واسطه د ANSF په نورو پرسونل داخلي بريدونه په 2008 کې د درې څخه 29 ته په 2012 کې رسيدلي (د سپتمبر پای په اوردو کې).[89]

پدې ربعه کې، داخلي بريدونو دوام درلود. د مارچ په 8، دوه د متحده ايالاتو سرتيري او دوه افغان سرتيري وژل شوي او د متحده ايالاتو 10 سرتيري هغه مهال ټپي شول چې يوه افغان چې دريشي په غاړه وه پرهغوی ډزې وکړې. د پيښې په اړه د مطبوعاتو ارقام مطابق، ايتلافي ځواکونو په چټکۍ سره ځوابي ډزې وکړې او بريد کونکی يې وواژه.[90] دا په 2013 کې دريم داخلي بريد و. د دې کال په جلا پيښو کې، د جنوري په 7 يو برېتانوي سرتيری وژل شوی او د مارچ په 8 د متحده ايالاتو يو قراردادي وژل شوی.[91]

د متحده ايالاتو او ايتلافي ځواکونو په هدف کې نيولو لپاره داخلي بريدونو برسيره، د افغان پوليسو او سرتيرو په واسطه په خپلو همکارانو داخلي بريدونو دې ربعه کې دوام درلود. د پام وړ، 17 د متحده ايالاتو روزل شوي افغان سيمه ايز پوليس (ALP) پرسونل په غزني کې د فبروري په 27 هغه مهال ووژل شول چې له دوی څخه يو يې دوی روږدي او وې ويشتل، د دوی وسله يې پټه کړه او وتښتيده، د مطبوعاتو راپور مطابق.[92] طالبانو د نوموړي بريد پړه پرغاړه واخيسته.[93] په يوه پيښه کې د مارچ په 21 د ALP يوه غړي په بادغيس کې د افغان پوليسو پنځه پرسونل ووژل.[94]

## د ليږد بهير

د DOD مطابق، د 2013 کال فبروري پورې د پنځه برخو څخه څلور(جغرافيه ايی سيمې) د ANSF مشرۍ امنيت ته انتقال شوي او برخه 4 بهير دې ربعه کې پيليږي. د 2013 کال فبروري پای پورې، ANSF د هيواد 405 ولسواليو څخه 312 ولسواليو کې امنيت په غاړه اخيستی چيرې چې نږدې 87% سلنه افغانان اوسيږي. د افغانستان ټولو 34 ولايتونو 23 يې په بشپړ ډول انتقال کې و او په ټولو 34 ولايتونو کې سيمې د انتقال په ځينې مرحلو کې وې.[95]

د DOD مطابق، د دې لپاره چې د ليږد په سيمو کې د امنيت ساتلو څخه اطمينان لاسته راشي، ايساف به ANSF ته روزنه، مشورې او نور ملاتړ چمتو کولو ته دوام ورکړي. څنګه چې د ANSF وړتياو وده وکړه، ايساف په خپل ملاتړ تنظيم کړي، ترڅو ANSF ته اجازه ورکړي د عملياتو مشري پرغاړه واخلي. DOD په نښه کړې چې د ياغيتوب ضد عمليات په ډيره کچه د افغان پلان شوي، چمتو شوي او اجرا شوي البته د ايتلاف امنيتی ځواک مرستندويه ډلو په واسطه چمتو کړی شوي ملاتړ او مشورې سره. پدې ملاتړ کې د ډز، هوای، الوتکو، روغتيای لګښت او د سړک د غاړې ماينونو ضد ملاتړ شامل دی چې د ANSF وړتياوې لوړوي چې لاتر اوسه هم د پرمختګ په حال کې دي. د ليږد دې دورې پرمهال، ايتلافي ځواکونه به خپل دريځ بيا برابر کړي ترڅو ANSF ته اوضاع برابر کړي چې د 2014 پای کې بشپړ امنيتي مسؤليت په غاړه واخلي، د پاتې ايتلافي سرتيرو د وتلو څخه مخکې.[96]

د DOD مطابق، 5 پړاو به پدې پسرلي کې اعلان شي او هغه ټکی به په نښه کړي چې ANSF به د ايساف په ملاتړي رول کې د هغوی د روزنې-مشورې مرستې دندې له لارې د 100% نفوس لپاره عملياتي مشري پرغاړه واخلي. 5 پړاو به د ليږد بهير کې اخرنی پړاو وي او طمع کيږي چې د 2013 کال په اوړي کې پلي شي.[97] پدې کې د 11 ولايتونو ټولټال 91 ولسوالۍ شامل دي، اساسا د پاتې ختيځ پولې سيمو سره، لکه څنګه چې په انځور 3.25 کې ښودل شوي.

## د متحده ايالاتو ځواکونه

د متحده ايالاتو مرکزي قوماندې مطابق، 70,000 امريکايی ځواکونو په افغانستان کې د 2013 کال مارچ تر 31 پورې خدمت کاوه. د دوی تقريبا 48,200 يې ايساف ته ګومارل شوي و او 1,800 يې د ناټو روزنيزې دندې —افغانستان NTM-A)/CSTC-A) ته. د متحده ايالاتو پاتې پرسونل، 7,500 يې د متحده ايالاتو ځواک— افغانستان ته ګومارل شوي و او 12,500 يې "نور نظامي پرسونل" ته نومول شوي و.[98] د 2013 کال اپريل تر 15 پورې،

# امنیت

انځور 3.25

**هغه سیمې چې افغان مشرتابه امنیت ته د لیرد په بهیر کې دي**




یادونه: په یادو برخو کې ښارونه، ولسوالۍ، او ولایتونه (یا د دوی برخې) شامل دي. 1 برخه د 2011 په جولای کې، 2 برخه د 2011 په نومبر کې، 3 برخه د 2012 کال په جولای کې، او 4 برخه د 2013 کال په فبروري کې پیل شوې ده.

سرچینه: ناټو، "افغان مشرتابه ته لیرد: انتقال،" د لاسرسۍ نیټه 4/18/2013.

د متحده ایالاتو ټولټال 2,072 نظامي پرسونل په افغانستان کې مړه شوي چې د دوی 83% سلنه په عملیاتو کې وژل شوي او 18,404 د آزادۍ دوام عملیاتو برخې په حیث زخمي شوي و.[99]

## د ANSF ځواک او پرسونل معلومات

په فبروري کې، بیا د دفاع وزیر لیون پنیټا وویل چې د 2018 په اوږدو کې د 352,000-پیاوړي ANSF ملاتړ کول "یوه پانګوونه ده چې د لوی ارزښت رامنځته کول به وي ځکه چې دا به د خورا لوی انعطاف پزیرۍ اجازه موږ ته راکړي کله چې زموږ سرتیري ووزي."[100] دا د 228,500-پیاوړي ANSF څخه یو بدلون دی چې د ایساف ګډون کونکي ملتونو مشران ورسره د ناټو د مۍ 2012 شیکاګو ناسته کې مخ وو.[101] پدې ربعه کې د ANSF ځواک 332,753 و (181,834 افغان ملي اردو او هوای ځواک ته مقرر شوي او 150,919 افغان ملي پولیسو ته).[102] دا د ANSF ځواک د مارچ 2012، 337,516 څخه 4,763 لږ او د نهایي وسعت هدف څخه 19,247 لږ دي، لکه څنګه چې د بل مخ په جدول 3.2 کې ښودل شوي.

# امنیت

جدول 3.2

**د ANSF ګومارل شوی ځواک، د 2013 کال فبروري 18**

| د ANSF ودانۍ | اوسنی هدف | د 2/2013 پورې دریځ | د اوسني قوت او هدف شوي نهایی قوت ترمنځ توپیر |
|---|---|---|---|
| افغان ملي اردو | د 2012 کال دسمبر پورې 187,000 | 175,441 | -11,559 |
| افغان ملي پولیس | د 2013 کال فبروري پورې 157,000 | 150,919 | -6,081 |
| افغان هوای ځواک | د 2014 کال دسمبر پورې 8,000 | 6,393 | -1,607 |
| **ټولټال ANSF** | **352,000** | **332,753** | **-19,247** |

سرچینې: DOD، "په افغانستان کې د امنیت او ثبات پرورانديې وده،" 12/2012، 56 مخ؛ CSTC-A د سیګار 1/2/2013، 1/4/2013، 1/6/2013، 4/1/2013 معلوماتو غوښتنو ته خوابونه.

## د سیګار پلټنه

پدې ربعه کې، سیګار د ANSF مجاز، ګمارل شوي او روزل شوي شمیرو لپاره د معلوماتو ګټورتوب او اعتبار ټاکلو په اړه یوه پلټنه پیل کړه. دا پلټنه به په ANSF د معلوماتو راټولولو لپاره میتودولوژي هم وګوري، په شمول د هغې چې د دفاع وزارت راټول شوي معلومات بیاکوري او اعتبار ورکوي. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 32 مخ وګورئ.

د 2012 کال اکتوبر باندې د ANSF د 352,000 پرسونل "روزل او ځای کولو" هدف سرته ونه رسیده، که څه هم DOD راپور ورکړی چې ANSF د 352,000 هدف "ګمارل لاسته راوړی دی.[103] د دې کانګرس ته د 2012 کال دسمبر راپور کې، DOD په نښه کړې چې د ANSF پرسونل راپور ورکړی شوی شمیر په 2012 کې هغه مهال راټیټ شو چې د ANA ځواک څخه ملکي پرسونل لرې کړی شو. DOD دا هم وویل چې د ANSF پرسونل 352,000 ځواک پوره کولو نیټه د 2014 کال دسمبر میاشت ده: 187,000 په ANA کې تر د 2012 دسمبر پورې، 157,000 ملي پولیس تر 2013 فبروري پورې او 8,000 افغان هوای ځواک تر 2014 دسمبر پورې. په هرصورت، د DOD مطابق، د دې ټولو پرسونلو روزلو، تجهیز او ځای پرځای کولو لپاره نیټې پدې ترتیب دي: د 2013 کال دسمبر د ANA او ANP لپاره او د 2017 کال دسمبر د افغان هوای ځواک لپاره.[104]

د ANSF پرسونلو سم او واقعیی محاسبه اړینه ده ترڅو اطمینان لاسته راوړو کې مرسته وکړي چې د ANSF ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو بسپنې د قانوني او وړ لګښتونو لپاره لګول شوي. په هرصورت، سیګار او نورو راپور ورکړی چې د ANSF ځواک تشخیصول د ننګونو سره مخ دی. متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونه افغان ځواکونو باندې تکیه کوي چې د دوی خپلو پرسونلو شمیر راپور ورکړي، چې ډیری وختونه په غیرمتمرکز، بې ربط او متناقض سیستمونو کې د پرسونل لاسي چمتو شوي ثبت څخه راوړل کیږي. تیره ربعه کې CSTC-A راپور ورکړ چې د پرسونلو شمیر اعتباري کولو هیڅ ډول مناسب سیستم شتون نه درلود.

## افغان سیمه ایز پولیس

افغان محلي پولیس (ALP) د دې راپور حکومتدارۍ برخه کې د کلي ثبات عملیات شرح کوي دا د ایساف او ځانګړي عملیاتونو ګډ کاري ځواک —افغانستان (SOJTF-A) د یاغیتوب ضد ستراتیژي برخه ده.[105] پدې ربعه کې د ALP — "ساتونکو"— شمیره 21,656 وه. چې د دوی، نږدې 97% سلنه یې په بشپړ ډول روزل شوي او ټاکل شوي دي.[106] پدې ربعه کې ALP په 104 ساحو کې عملیاتي وه.[107]

د DOD مطابق، د طالبانو مشران د ALP د یاغیتوب وړتیا پرورانديې ترټولو لوی ګواښ ګڼي ترڅو خلک کنټرول او افغان دولت وګواښي. یاغیان د ANSF نورو واحدونو په پرتله د ALP په واحدونو 10 چنده ډیر بریدونه کوي. په هرصورت، DOD په نښه کړې، چې د ALP د وخت 80% سلنې څخه ډیر د دې بریدونو پرورانديې خپل ځان څخه په بریا سره دفاع کوي.[108]



**د ANA** ځانګړي ځواکونو یو سرتیری د ALP احتمالي نوماند سره د 2013 کال اپریل په 4 هلمند ولایت کې ځیري. د ALP. ANSF محدود شتون سره په کلیوالو سیمو کې امنیت چمتو کوي. (د متحده ایالاتو د مرین قل اردو عکس)

انځور 3.26

**د افغان محلي پولیسو مهال ویش: تاریخچه، وده، او لویې پیښې**




.Sources: SOJTF-A, response to SIGAR vetting, 4/12/2013; Human Rights Watch, "Just Don't Call It a Militia," 9/2011, pp. 5–8

د ALP غړي په محلي توګه ګمارل شوي، د سپین ګیرو په واسطه وړاندیز شوي او د دوی خپلو کلیو ساتنې ته ګمارل شوي. څکه چې دوی سیمه ایز څواک دی، نو ALP د طالبانو په واسطه د نفوس پروړاندې "یو څانګړی غزیدنه" ښودلې "که چیرې کوم څوک د سیمې نه وي نو ژرترژره به د بهرني په حیث وپیژندل شي."[109] برسیره پردې، ALP د ټول ANSF ترټولو سخت روشونه لري، د SOJTF-A مطابق.[110] DOD په نښه کړې چې د ALP ټول غړې پدې وروستیو کې له سره ازمول شوي. یوازې 5% سلنه یې د ALP لیکو څخه ایستل شوي چې ډیری یې د مخدره توکو کارولو لپاره و.[111]

ALP په 2010 کال اګست کې د رامنځته کیدو راپدیخوا وده کوي. لکه څنګه چې په انځور 3.26 کې ښودل شوي، مګر ننګونې پرځای پاتې دي. د DOD مطابق، د ALP اصلي ننګونه د "کورنیو چارو وزارت د پروګرام ملاتړ او اداره کولو وړتیا" ده.[112] DOD دا هم په نښه کړې چې د کورنیو چارو وزارت "دغه ستونزې پیژندلې او د [ناټو ځانګړې عملیاتو واحد قوماندې-افغانستان (NSOCC-A)] سره د زغملو لوژستیک رامنځته کولو او د کورنیو چارو وزارت کې ظرفیت ملاتړ لپاره کار کوي ترڅو د ALP اړتیاوې پوره کړي."[113] برسیره پردې، NSOCC-A د کورنیو چارو وزارت سره د ALP روښونو اصلاح شوې سند ته وده ورکولو لپاره کار کړی چې د ALP پروګرام تر 2025 پورې غزوي، چې د ALP احتمالي ساتونکو لپاره د حد اکثر عمر د 45 څخه تر 50 پورې ډیروي او ALP د افغان یونیفارم پولیسو (AUP) یوه جز په حیث ټاکي، د SOJTF-A مطابق. اخرنۍ مرحله یې طمع کیږي چې د ALP رسمي کول وي، دریځ یې ANSF ته لوړ شي، او د ALP مشري د دې وړ شي چې د AUP زیربنا د ورکړې او لوژستیکي سیستمونه وکاروي. د اصلاح شوې روښونو سند د ALP ساتونکو د ټرون اعظمي حد هم د یو کال څخه درې کلونو ته غزوي. نوموړې اسناد دامهال د کورنیو چارو وزارت کې بیاکتل کیږي، او طمع کیږي چې په اپریل کې خپاره شي.[114]

د 2013 کال مارچ په 31 متحده ایالاتو د ALP ملاتړ لپاره ASFF ته 139.9 ملیون ډالر تضمین کړي. د دې مقدار، 47.7 ملیون ډالر یې افغان مالیې وزارت ته مستقیمه مرسته ده او 91.6 ملیون ډالر یې "قسمي" بسپنې دي چې د متحده ایالاتو څواکونو په واسطه د ALP

ملاتړ لپاره کارول شوي.[115] د SOJTF-A مطابق، یوځل چې د ALP ساتونکي وروزل شي وروسته بیا دوی د کورنیو چارو وزارت کارمندان کیږي، یو کلن تړون لاسلیک کوي، نیمه وخت دنده او د پولیسو اساسي معاش نږدې 60% سلنه معاش ورکول کیږي (شاوخوا 120 ډالر په میاشت کې).[116]

د امنیت شورا ته د هغې خورا اخرني راپور کې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي وویل "پداسې حال کې چې د نوښت د دې لپاره اعانه شوی چې په ځینې سیمو کې ثبات ته وده ورکړي او وده کونکي حساب ورکوونه کې پرمختګ، خو د ارزولو، قوماندې او کنټرول او په محلي کچه نظارت پورې اړوند د پالیسو ناکافي پلي کولو اندیښنې پرځای پاتې دي." عمومي منشي دا هم په نښه کړي چې د ملګرو ملتونو مرستندویه دنده-افغانستان (UNAMA) ALP پورې اوړند 55 پیښې ثبت کړي چې په 2012 کې یې د 62 ملکي مرګ ژوبلي پایله درلوده (24 مړینه او 38 ټپي کیدل).[117]

## د افغان عامه محافظت ځواک

د افغان عامه محافظت ځواک (APPF) د کورنیو چارو وزارت واک لاندې یو دولتي نهاد دی چې په افغانستان کې امنیتي خدمات چمتو کوي. د ولسمشر کرزي د 2010 فرمان په تعقیب کې چې د ټولو ملي او نړیوال خصوصي امنیتي شرکتونو (PSCs) منحل کول و، افغان دولت د مرحله شوي لیږد پروسې لپاره عامه امنیتي شرکت ته، یوه اتصالي ستراتیژي پلي کړه. د لیږد برخې په حیث، د APPF څخه طمع کیده چې په مارچ 2012 کې د پراختیایی او بشردوستانه پروژو امنیتي مسؤلیت پرغاړه واخلي او مارچ 2013 کې د نظامي تاسیساتو امنیت.

پدې ربعه کې، سیګار د اداري د 2012 مارچ میاشتې ګواهي او د هغې د 2012 جون میاشتې راپور باندې یو روان تحقیق پیل کړی چې APPF ته د PSCs څخه د هغې د پروژې لپاره د USAID د امنیت لیږد فعالیتونو احتمالي هڅې ارزوي. دا تحقیق به لاندې موارد په نښه کړي:

- د USAID انتخاب شوې پروژو لپاره د امنیتي خدماتو لګښتونه او APPF ته هرډول د لیږد هڅه چې د بیارغونې پروژو لپاره د ټول امنیت لګښت یې درلود.
- د امنیت لګښتونو او مشرې کونکي امنیتي خدماتو بیاکتلو ته د USAID میکانیزمونه
- د بیارغونې پروژو باندې د APPF د لیږد اغیز

تحقیق به دا هم وټاکي چې ایا د انتخاب شوې پروژو لپاره د USAID پلې کونکو شریکانو په مناسب ډول د افغان دولت مجوز شرکتونه کارول.

د 2013 کال مارچ په 6، APPF ته ګمارل شوي پرسونل شمیر 16326 و د تیرې ربعې راهیسې 15% سلنه ډیروالی د CSTC-A مطابق. د دوی څخه 1158 یې افسران و، 1217 خوردظابطان (NCOs)، او 13951 ساتونکي و.[118] د APPF لپاره تقریبا 23000 پرسونلو هدف ټاکل شوی دی.[119]

### د سیګار پلټنه

پدې ربعه کې سیګار د اداري د 2012 کال مارچ ګواهي او د هغې د 2012 کال جون راپور باندې یوه روانه تعقیبي پلټنه پیل کړې، چې د PSCs څخه APPF ته د هغې د پروژو لپاره د USAID د امنیت لیږد فعالیتونو احتمالي هڅې ارزوي. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 30 مخ وګورئ.

# امنیت

## د ANSF ارزونې

د ANA او ANP ارزونې د متحده ایالاتو د هڅو کفایت ښودنه کوي او د وسعت په واسطه، د متحده ایالاتو بسپنه ورکوونه د ANSF د جوړونې، روزنې، تجهیز او ثبات لپاره. دا ارزوونې د دواړو متحده ایالاتو او افغان ذینفع ته د دې ځواکونو دریځ باندې منظم تازه خبر هم چمتو کوي لکه څنګه چې لیږد دوام لري او افغانستان د خپل امنیت لپاره مسؤلیت پرغاړه اخلي. سیګار د نږدې نه د دې ارزونو نظارت او راپور ورکوونې ته دوام ورکوي.

د ANA او ANP واحدونو د ظرفیت ارزونه کې، د ایساف ګډې قوماندې (IJC) د قوماندان واحد ارزونې اسباب (CUAT) کاروي، چې پنځه پوړونه لري:[120]

- **له سلاکارانو سره خپلواک:** په دې حالت کې واحد د ماموریتونو د پلان او اجرا وړتیا لري، د قوماندې مراعات او تر لاس لاندو کسانو کنټرول وکولای شي، د چټک غبرګون له ځواکونو او طبي مرستو لپاره همغږۍ او خبرداری ورکړی شي، استخباراتي معلومات راوایستلای شي او د یوه پراخ استخباراتي سیستم تر سیورې لاندې عملیات تر سره کوي.
- **له سلاکارانو سره اغیزمن:** واحد اغیزمنه پلان جوړونه، همغږي، او مدیریت اجرا کولای شي او د عملیاتو او حالاتو په اړه رپوټ برابرولای شي. مشران، غړي او واحد له اخلاقي قوانینو پیروي کوي او افغان حکومت ته وفاداري لري. ایتلافي ځواکونه د واحد غړو ته ځیني وخت یواځې محدودې لارښوونې ورکوي او د اړتیا په وخت کې پیاوړي کوونکي اقدامات سر ته رسوي. ایتلافي ځواکونه یواځې په خپلو مواقعو کې ملاتړ اجرا کوي.
- **له ملګرو سره اغیزمن:** واحد د پلان جوړونې، همغږي، مدیریت او د وضعیت او عملیاتو په اړه رپوټ جوړونې په برخه کې ورځنیو څارنو ته اړتیا لري؛ همداشان له نورو واحدونو سره همغږي او مفاهمه؛ او د تیارۍ د اغیزمنو رپوټونو چمتو کول. رهبران، غړي، او د واحد ډیری برخه له اخلاقي قوانینو پیروي کوي او افغان حکومت ته وفاداري لري. د ANSF "پیاوړي کوونکي" واحد ته ملاتړ چمتو کوي او ورسره ایتلافي ځواکونه کولای شي د ملاتړ بشپړولو ته تقویوي اهتمامات برابر کړي.
- **له ملګرو سره د ودې په حال کې:** دا واحد د پلان جوړونې، همغږۍ، مدیریت، او د وضعیت او عملیاتو په تړاو رپوټ جوړونې برخه کې مرستې او همکارۍ ته اړتیا لري؛ همداشان له نورو واحدونو سره د همغږۍ او مفاهمې لپاره؛ او د اغیزمنو رپوټونو چمتو کولو مرستو او همکارۍ ته اړتیا لري. رهبران، غړي، او د واحد ډیری برخه له اخلاقي قوانینو پیروي کوي او افغان حکومت ته وفاداري لري. ځیني پیاوړي کوونکي اغیزمن شتون لري او ګڼ ملاتر برابروي. ایتلافي ځواکونه پیاوړي کوونکي او ګڼ ملاتړ چمتو کوي.
- **تاسیس شوي:** واحد د جوړښت په درشل کې دی خو په لږه کچه د پلان جوړونې، همغږۍ، مدیریت، یا د عملیاتو او وضعیت د رپوټ ورکولو وړتیا لري؛ حتی د ملګري واحد د مرستې او موجودیت په صورت کې. دغه واحد په لږه کچه له نورو واحدونو سره د همغږۍ او مفاهمې وړتیا لري. رهبري او غړي کیدی شي له اخلاقي قوانینو پیروي ونکړي یا به افغان حکومت سره وفاداري ونلري. د واحد د پیاوړي کوونکو ډیری برخه موجوده نده او یا په ټیټه کچه شتون لري. دغه پیاوړي کوونکي لږ او یا هیڅ ملاتړ هم واحد ته نشي برابرولای. ایتلافي ځواکونه د ملاتړ ډیری برخه برابروي.

**پیاوړي کوونکي:** ځانګړي شوي واحدونه چې د محاربې واحدونو ملاتړ کوي لکه انجینري، ملکي چارې، نظامي اطلاعات، چورلکه، نظامي پولیس، استخبارات، څار، او د کشف پانګې.

سرچینه: DoD، "مولن په افغانستان کې له سرحدي پوستو څخه لیدنه کوي،" 4/22/2009 په 1/4/2012 کې خپور شوی.

## امنیت

انځور 3.27

**د ربعې په اساس، د ANSF واحدونو ته د CUAT نمرې، 2013**




سرچینه: د سیګار 4/17/2013 بررسۍ ته د DOD ځواب.

### د سیګار پلټنه

په یوې نوې پلټنه کې، سیګار هغه میتودونه او اسباب ارزوي چې د ANSF عملیاتي مؤثریت اندازه کولو او څیړلو لپاره کارول شوي، په شمول د هغې کوم ته چې دا میتودونه او اسباب په نامتناقض ډول پلي شوي، اعتباري او ور دي. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 32 مخ وګورئ.

د دې راپور دورې پرمهال، د ANA د واحدونو ټولټال شمیر له 292 څخه 302 ته لوړ شوی. د IJC مطابق، دا لوړیده د نوي واحدونو ځای پرځای کیدو پایله ده، چې ډیری یې 215 قل اردو کې دي.[121]

د ANP لپاره، د واحدونو ټولټال شمیر د 536 څخه 528 ته راټیټ شوی. د IJC مطابق، "د پولیسو ځانګړي واحدونه" ندي راپور شوي، نو دا دې راپور دوره کې نه څرګندیږي.[122] څکه چې هر واحد د CUAT هرې دوره کې ندی راپور شوی، IJC د "دورې پرتله کولو کې ور دورې" ته خورا اخرنۍ ارزوونې (د تیرو 18 میاشتو) کاروي. کله چې دا ډول پرتله شو، د ANA نور 9 واحدونه او د ANP نور 11 واحدونه د "سلاکارانو سره خپلواک" ارزول شوي و، لکه څنګه چې په انځور 3.27 کې ښودل شوي. د خورا ورستیو ارزونو مطابق، د ANA ټولو واحدونو له 78% سلنې څخه ډیر دوه ترټولو لوړو کچو ته ارزول شوي و: نږدې 21% سلنه د "سلاکارانو سره خپلواک" و او نږدې 58% سلنه "د سلاکارانو سره اغیزمن" و. د 5% سلنې څخه کم واحدونه په تیرو 18 میاشتو کې نه و ارزول شوي. د ANP لپاره، د 63% سلنې څخه ډیر واحدونه دوه ترټولو لوړو کچو ته ارزول شوي و: نږدې 27% سلنه د "سلاکارانو سره خپلواک" و او نږدې 37% سلنه "د سلاکارانو سره اغیزمن". و. د ANP د 10% سلنې څخه ډیر واحدونه په تیرو 18 میاشتو کې نه و ارزول شوي.[123]

## د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ارزوونې

د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ارزونې دې ربعه کې پرمختګ ښودلو ته دوام ورکړ. NTM-A د دې دواړو وزارتونو د وړتیاو ارزولو لپاره د وړتیا موخې (CM) نمبر ورکولو له سیستم څخه کار اخلي. دا سیستم د ځلور ابتدايي او دوه ثانوي درجه بندیو په مرسته د ستاف برخې (لکه هغه دفترونه چې د وزیرانو د مرستیال یا معین لخوا یې مشري کیږي) او متقابل کاري سیمې (لکه د عمومي ستاف دفترونه) ارزوي:[124]

- CM-1A: د خپلواکو عملیاتونو وړتیا لري
- CM-1B: یوازې د ایتلاف ترڅارنې لاندې کارونه ترسره کولی شي
- CM-2A: د ایتلاف په لږه مرسته کولی شي کارونه ترسره کړي
- CM-2B: خپل کارونه سرته رسولی شي خو د ایتلاف لږې مرستې ته اړتیا لري
- CM-3: د ایتلاف د پام وړ مرستې څخه پرته خپل ماموریت سرته نشي رسولی
- CM-4: شتون لري خو خپل ماموریت سرته نشي رسولی

پدې ربع کې د دفاع وزارت د ستاف ټولې 46 برخې او متقابلې کاري سیمې و ارزول شوې، په شمول د نوي ارزول شوي ځمکني ځواکونو قومانده، چې په CM-2B یې پیل کړی. اته دفترو پرمختګ کړی، چې پکې شامل دي:[125]

- د لوژستیک قوماندانۍ (CM-1B)
- د عمومي ستاف ارتباطات (CM-2A)
- د عمومي ستاف ځواک جوړښت، روزنه او دوکترین (CM-2A)
- روغتیایی قوماندانۍ (CM-2A)
- د نظامي ملاتړ قوماندانۍ (CM-2A)
- د عمومي ستاف رییس (CM-2A)
- د دفاع وزارت د روغتیای چارو رییس (CM-2B)
- د ستراتیژیکي ارتباطاتو رییس (CM-2B)

د دفاع وزارت دوه دفترونو ټیټه ارزونه لاسته راوړې: د اکتساب اداره (CM-2B ته راټیټه شوه) او د عمومي ستاف لوژستیکي دفتر (CM-3). د دفاع وزارت درې دفترونه CM-4 ارزول شوي، پدې معنی چې دوی نشي کولی خپلې دندې سرته ورسوي، لکه څنګه چې د بل مخ انځور 3.28 کې ښودل شوي. دغه دفاتر د انتل پالیسۍ لپاره د دفاع مرتسیال وزیر، د هوای ځواک قوماندانۍ او د جندر یووالی و.[126]

د کورنیو چارو وزارت د ستاف ټولې 32 برخې ارزول شوې وې؛ ځلورو د تیرې ربعې راهیسې پرمختګ کړی. د افغان سیمه ایز پولیسو لپاره د کورنیو چارو وزارت دفتر د تیرې ربعې راهیسې د ارزونې دوه کټګورۍ وده کړې، د CM-3 څخ CM-2A ته. د قانوني سلاح او افغان ملي عامه نظم پولیسو نورو دفاترو CM-1B ته وده کړې (دوهم ترټولو لوړه د ارزوونې کټګوري). د سرطبیب (طبي) دفتر هم CM-2A ته وده کړې.[127]

انځور 3.28

**د MOD او MOI د ورتيا پراوونو ته نمبر ورکونه، درې مياشتنۍ بدلون**




سرچينې: د سيګار 1/2/2013 او 4/1/2013 معلوماتي غوښتنو ته د CSTC-A ځوابونه.

## افغان ملي اردو

د 2013 کال مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو د ASFF له بسپنو څخه د افغان ملي پوځ د جوړولو، روزلو، او پايښت لپاره $28.9 ميلیارده ډالر مقيد کړي و چې $26.2 ميلیارده ډالر يې مصرف شو.[128]

## د افغان ملي پوځ قوت

د CSTC-A په وينا، د افغان ملي پوځ عمومي ګمارل شوی قوت د 2013 کال د فبروري تر 18 پورې 181,834 پرسونل و (175,441 تنه پوځ او 6,393 تنه هوايي ځواک).[129] دا د تيرې ربعې راهيسې 1,317 ډير دی لکه څنګه چې په جدول 3.3 کې ښودل شوي مګر د 191,592 څخه ټيټ چې د 2012 مې کې راپور ورکړل شوی و.[130]

## د افغان ملي پوځ پايښت

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو د افغان ملي پوځ د پايښت لپاره د ASFF له بسپنو څخه $9.7 ميلیارده ډالر مقيدکړي و چې $9.3 ميلیارده ډالر يې مصرف شول.[131]

د پايښت بسپنو برخې په حيث، متحده ايالاتو افغان ملي اردو ته د تقريبا 1.03 مليارد ډالرو په لګښت مهمات چمتو کړي، د CSTC-A مطابق.[132]

## د ANA معاشات، خواړه او جايزې

د 2013 کال مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو د ANA معاشاتو، خواړو او جايزو ورکړې لپاره د ASFF له لارې نږدې 1.6 مليارد ډالر چمتو کړي (له 2008 مالي کال راهيسې). د ANA، 195000-کسان د ابتدايي معاشاتو، حق الامتياز او جايزو لپاره د اړينې بسپنې تخمين شوی کلنی مقدار 686.1 مليون ډالر دي.[133]

جدول 3.3

**د ANA قوت، درې مياشتنی بدلون**

| د ANA اجزاوې | مجاز Q4 2012 | مجاز Q1 2013 | مجاز درې مياشتنی بدلون | ګومارل شوي Q4 2012 | ګومارل شوي Q1 2013 | ګومارل شوي درې مياشتنی بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 201 قل اردو | 18,421 | 17,821 | -600 | 17,966 | 17,427 | -539 |
| 203 قل اردو | 20,614 | 20,022 | -592 | 20,625 | 19,095 | -1,530 |
| 205 قل اردو | 19,075 | 18,476 | -599 | 19,856 | 18,982 | -874 |
| 207 قل اردو | 14,706 | 14,313 | -393 | 13,261 | 12,803 | -458 |
| 209 قل اردو | 14,852 | 14,458 | -394 | 14,170 | 13,065 | -1,105 |
| 215 قل اردو | 17,542 | 16,933 | -609 | 17,135 | 17,307 | +172 |
| 111 مرکزي فرقه | 9,608 | 9,273 | -335 | 9,152 | 8,654 | -498 |
| د ځانګړي عملياتونو ځواک | 12,525 | 12,261 | -264 | 10,338 | 10,366 | +28 |
| د قل اردو ګانو دبره لوړې قدمې[a] | 44,712 | 37,592 | -7,120 | 36,858 | 37,837 | +979 |
| TTHS[b] | - | - | هيڅ کوم | 15,284 | 16,103 | +819 |
| **د ANA ټولټال شمير** | **172,055** | **161,149** | **-10,906** | **174,645** | **175,441** | **+796** |
| افغان هوايي ځواک (AAF) | 7,639 | 7,639 | هيڅ کوم | 5,872 | 6,393 | +521 |
| **ANA + AAF ټولټال** | **179,694** | **168,788** | **-10,906** | **180,517** | **181,834** | **+1,317** |

يادوني: د Q4 نيټه تر 11/21/2012 پورې ده. د Q1 نيټه تر 2/18/2013 پورې ده.
[a] کې د دفاع وزارت، عمومي کارمندان، او وسطي قوماندانان شامل دي
[b] په کې روزونکي، لنډمهال، نيونکي او زده کونکي شامل دي؛ دا د مجاز پرسونل حساب کې ندي شامل کړی شوي؛ هم 3,802 زده کونکي پکې شامل دي.

سرچينې: CSTC-A، د سيګار 1/2/2013، 1/4/2013، 1/6/2013، 4/1/2013 او 4/16/2013 معلوماتو غوښتنې ته ځوابونه.

CSTC-A ويلي چې د 2012 کال د نومبر له 20 نيټې څخه د افغان ملي پوځ ټول پرسونل (په شمول د افغان هوای ځواک) يو ډول بخششي معاشونه ترلاسه کړي دي. همدارنګه CSTC-A وايي چې د معاشونو د لست شميرې له نهايي شميرو څخه لرې دي ځکه چې د معاشونو د لست سيستم او د پرسونل د محاسبې سيستم تر منځ په رپوټ ورکولو کې تاخير شته دی. د بيلګې په توګه، کوم پرسونل چې له رخصتۍ نه پرته کار ته نه راځي معاش نه اخلي، خو تر څو چې د پرسونل د معاشونو له لست نه ويستل شوی نه وي د افغان ملي پوځ په نهايي مصرف کې شمېرل کيږي.[134]

## د ANA تجهيزات او ټرانسپورټيشن

د متحده ايالاتو د ANA د تجهيزولو هڅې پای ته رسيدو حالت کې دي ځکه چې ټول وسايط او د ارتباطاتو تجهيزات پيرودل شوي او يوازې د 858,920 ډالرو په ارزښت وسلې بايد وپيرودل شي چې د ANA اړتياوې پوره کړي، لکه څنګه چې په جدول 3.4 کې ښودل شوي.[135]

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو د افغان ملي پوځ د تجهيزاتو او ټرانسپورټيشن لپاره د ASFF له بسپنو څخه 10.4$ ميلياردە ډالر مقيد او مصرف کړي.[136]

جدول 3.4

**د متحده ايالاتو بسپنه ورکړل شوي ANA تجهيزاتو لګښت**

| د تجهيزاتو ډول | پيرودل شوي | پاتې چې بايد وپيرودل شي |
|---|---|---|
| وسلې | $878,027,233 | $858,920 |
| نقليه وسايط | $5,556,502,248 | $0 |
| مخابراطي يا ارتباطي تجهيزات | $580,538,328 | $0 |
| **ټولټال** | **$7,015,067,809** | **$858,920** |

سرچينه: CSTC-A، د سيګار 4/1/2013 معلوماتو غوښتنې ته ځواب.

د دې بسپنو زياته برخه د وسلو او اړوندو تجهيزاتو، نقليه وسايط، مخابراتي وسيلو، الوتکې او هوانوردۍ پورې اړوندو وسيلو په اخيستلو لګول شوې دي. د متحده ايالاتو نږدې 80% سلنه د دې کټګورۍ بسپنې د نقليه وسايطو او ټرانسپورټيشن پورې اړوند تجهيزاتو لپاره و، لکه څنګه چې په انځور 3.29 کې ښودل شوي.[137]

د CSTC-A په وينا، دا ربع د افغان هوايي ځواک په اجناسو کې 113 الوتکې شاملې وې، په شمول د روسيه ساخت Mi-لړيو څرخي الوتکې:[138]

- 48 Mi-17s (ترانسپورتي چورلکې)
- 11 Mi-35s (بريدکونکي چورلکې)
- 16 C-27As (بار وړونکي الوتکې)
- 26 C-208s (د سپک ترانسپورت الوتکې)
- 6 C-182s (څلور کسيزه ټريناران)
- 6 MD-530Fs (سپکې چورلکې)

اوس هم بايد 12 د Mi-17 ترانسپورتي چورلکې او 20 د سپک ترانسپورت الوتکې وپيرودل شي.[139] د متحده ايالاتو هواى ځواک يو امريکايي شرکت او د هغې برازيلي فرعي قرارداد کونکي ته 427 مليون ډالر ټاکلي چې د 20 A-29 Super Tocanos رامنځته کړي يو يووستوی انجن، د هوا څخه ځمکې ته جګړه، د سپک ترانسپورت الوتکه د افغان هوايي ځواک لپاره. کله چې تحويل شوي، دا الوتکې به د "جګړې پرمختللي روزنې، څار، نږدې هوايي ملاتړ او د هوايي مخنيوي دندو" لپاره وکارول شي.[140] برسيره پردې، د مارچ په 28، د 20 C-27A باروړونکي الوتکو قرارداد پای ته ورسيد او نوی شوی نه‌دی؛ چې د 20 څخه 16 يې دمخه افغان هوايي ځواک سره دي. پاتې څلور به يې د څلور C-130H باروړونکو الوتکو سره عوض شي.[141]

## د DOD د Mi-17 چورلکو پيردلو باندې د GAO راپور

DOD د 2005 کال راهيسې د ANSF لپاره د روسيې جوړې Mi-17 چورلکې اخلي. Mi-17 د څو-کارونې ترانسپورتي چورلکه ده چې د زوړ شوروي اتحاد په واسطه د افغانستان لوړې ارتفاع نرۍ هوا کې کارونې لپاره جوړه شوې. ANSF د 2012 کال راهيسې نږدې 50 Mi-17 لري، د شاوخوا 80 چورلکو ژر لاسته راوړو هدف سره.[142]

نوي Mi-17 د روسيې دولتي وسلو صادراتو شرکت، Rosoboronexport په واسطه پلورل کيږي، د روسيه څخه د نظامي پای-کارونې توليداتو واکداره صادر کونکی. د متحده ايالاتو د قانون څخه ډيری ځل سرغړونې پايله کې، Rosoboronexport په 2006 کې د متحده ايالاتو بنديزونو سره مخ شوی و. دغه بنديز په 2010 کې وچت کړی شو.[143]

د 2010 څخه مخکې، DOD په رقابتي ډول د متحده ايالاتو شرکتونو له لارې د Mi-17 لړ شمير وپيرود، د چا فرعي قرارداد کونکو چې په روسيه کې د اصلي تجهيزاتو جوړونکي څخه نوي يې واخيستل. په 2010 کې، بحري ځواک په يوه ملکي تنوع کې د 21 Mi-17 لپاره رقابتي پيرودل پيل کړل، مګر د DOD په لارښود دغه غوښتنه ردشوه او د دې مسؤليت اردو ته وليږدول شو. په 2011 کې، اردو د Rosoboronexport سره د 12 اضافي الوتکو اخيستلو شرط سره د 21 Mi-17 نظامي چورلکو پيرودلو قرارداد وکړ. د کانګرس غړو سوريه ته د Rosoboronexport د وسلې پلورلو تور له امله په دې قرارداد او د دې د جوړښت او لګښت لپاره انتقاد وکړ.[144]

د سنا 112-173 راپور کې د ملي دفاع مجوز 2013 مالي کال قانون سره، د سنا د مسلح ځواک خدماتو کميټې د دولت حساب ورکوونې دفتر (GAO) ته لارښود وکړ چې د

انځور 3.29

**د ANA د تجهيزاتو لګښت چې د متحده ايالاتو په مرسته اخيستل شوي، د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې** (سلنه)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي.
سرچينه: د سيګار 4/1/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

### د سيګار پلټنه

په يوه روانه پلټنه کې به سيګار د ANSF لپاره د CSTC-A د ترميمي پرزو لاسته راوړلو، اداره کولو، خوندي کولو او توضيع کولو او د اړتياو تشخيصولو لپاره کاروونې پروسه وارزوي، او د دې ټاکلو لپاره د دننني کنټرول څيړل چې ايا دا د دې پرزو حسابولو او د درغلۍ، ضايع کيدو او ناوړه ګټه اخيستنې څخه مخنيوي لپاره کافي دي. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 34 مخ وګورئ.

Rosoboronexport څخه د دفاع وزارت د Mi-17 چورلکو پیرودل بیاوګوري. GAO وموندل چې د دفاع وزارت بحري ځواک ګمارلی چې د 21 ملکي Mi-17 تقاضا رد کړي ځکه چې روسي چارواکو متحده ایالاتو مقاماتو ته ویلي چې نوموړې چورلکې د نظامي استعمال لپاره نومول شوي، او یوازې د Rosoboronexport له لارې پلورل کیدی شي. GAO دا هم وموندل چې دفاع وزارت بدیل مفهوم د Mi-17 پیرودلو لپاره ندی ټاکلی د دې تاییدولو وروسته چې روسیه به دا یوازې د Rosoboronexport له لارې وپلوري. په هرصورت، GAO په نښه کړې، چې یوه نظامي څېړونکي ټاکلې چې د Mi-17 پیرودلو لپاره Rosoboronexport ته ورکړ شوی قیمت (17.5 ملیون ډالر) مناسب و او قرارداد د Mi-17 تیرو قراردادونو په پرتله د تخنیکي معلوماتو ته لوی لاسرسی او د خوندیتوب وده شوي بیمې وړاندیز کوي.[145]

د مطبوعاتو یوه حساب مطابق، د دفاع وزارت معین آشتون کارټر د اپریل په 3 د کانګرس غړي خبر کړي چې د روسیې څخه د Mi-17 پیرودلو ته دوام ورکولو کې ملي ګټه وه ترڅو افغان ځواکونه تجهیز شي.[146]

## د ANA زیر بنا

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه $6.1 میلیارده ډالر د افغان ملي پوځ د زیربناو لپاره مقید کړي ؤ چې $3.9 میلیارده ډالر یې مصرف شوي.[147] د CSTC-A په وینا د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو 213 زیربنایي پروژې پای ته رسولې (د $2.63 میلیارده ډالرو په ارزښت)، 138 نورې پروژې ترکار لاندې دي (د $3.11 میلیارده ډالرو په ارزښت) او 20 پروژې په پلان کې نیول شوي دي(د $321 ملیون ډالرو په ارزښت). د تر کار لاندې پروژو څخه، 37 نوې قراردادونه (د 645 ملیون ډالرو څخه ډیر ارزښت سره) پدې ربعه کې ټاکل شوي و.[148]

د ANA تجهیزولو سره، ANA ته د زیربنا چمتو کولو متحده ایالاتو هڅه هم پای ته رسیدو په حال کې ده. په مجموعي ډول، د ANA زیربنا لپاره 95% سلنه بسپنې هغه پروژو ته تلي چې اوس بشپړې شوي یا د کار لاندې دي. 20 پلان شوي پروژې چې 321 ملیون ډالر ارزښت لري د ANA زیربنا لپاره د متحده ایالاتو نهایي 5% سلنه وړاندې کوي لکه څنګه چې په انځور 3.30 کې ښودل شوي.[149]

پدې ربع کې، د افغان ملي پوځ لویې زیربنایي پروژې پدې ډول وې: په کنړ ولایت کې د 201 قل اردو لپاره د لیوا یوه قشله (د $115.8 میلیونه ډالرو په ارزښت)، په کابل کې د دفاع وزارت د قوماندانیو اوله مرحله (د $89.5 میلیونه ډالرو په ارزښت)، او په کندهار کې د 205 قل اردو لپاره د لیوا یوه قشله (د $89.1 میلیونه ډالرو په ارزښت).[150]

په 2013 مالي کال کې د ANA زیربنا لپاره د DOD لخوا وړاندیز شوي د 190 ملیون ډالرو بودیجه د 2012 مالي کال په پرتله 85% لږه وه. په هرصورت، د 2013 مالي کال لپاره نهایي تخصیص شوی مقدار (90 ملیون ډالر) د غوښتل شوي مقدار څخه 100 ملیون ډالر او په 2012 مالي کال کې ورکړل شوي مقدار څخه 93% سلنه لږ و. د ASFF د 2013 مالي کال بسپنه د ساختماني پروژو لپاره نده، بلکه د قشلو لوړولو او مدرن کولو او د ځواک-محافظت سیسټمونو لپاره ده، او د ایتلافي تسهیلاتو چمتو کول چې هغه مهال یې ANSF ته وسپاري کله چې د متحده ایالاتو ځواکونه وزي.[151]

## د ANA او MOD روزنه او عملیاتونه

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بسپنو څخه د افغان ملي پوځ او دفاع وزارت د عملیاتونو او روزنې لپاره $2.7 میلیارده ډالر مقید او مصرف کړي.[152]

انځور 3.30

**د ANA د زیربنایي پروژو لګښت چې د متحده ایالاتو په مرسته ترسره شوي، د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې** (په میلیارد ډالر)




یادونه: شمیرې په تقریبي ډول لیکل شوي دي.
سرچینه: د سیګار 4/1/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

### د سیګار پلټنه

په یوې روانې پلټنه کې، به سیګار د ANSF زیربنا پروژې اړتیاو لپاره د CSTC-A تصدیق او ملاتړ وازموي. پلټنه به دا هم وارزوي: (1) د ANSF ځواک-قوت پروژیکشن ANSF انعکاس لپاره د متحده ایالاتو او ایتلاف اساسي پلانونه؛ (2) ایا CSTC-A نوي ساختمان ته بدیلونه په بشپړ ډول ملاحظه کړي؛ (3) ایا CSTC-A مناسب معیار ته وده ورکړې او کارولی یې دی ترڅو اطمینان ورکړي چې د ANSF لپاره اوسنی او وړاندیز شوي ساختماني پروژې لازمي، لاسته راتلونکې او د افغان دولت په واسطه د ساتلو وړ دي. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 34 مخ وګورئ.

# امنیت

پدې ربع کې، د CSTC-A په وینا، د افغان ملي پوځ 62,298 پرسونل په بیلابیلو روزنو کې ګومارل شوي ول چې له دې شمیرې څخه 46,264 کسان د سواد زده کولو په روزنه کې بوخت و. برسیره پردې، 8,211 تنه خدمتي پرسونل د جنګیالیو اساسي کورسونو کې معرفي شوي و، 2,090 کسان د افسرۍ روزنې ته معرفي شوي و، او 1,652 کسان د بریدملۍ روزنې ته معرفي شوي و. په نورو روزنو کې د جګړې څانګړي کورسونه لکه د پیاده نظام روزنه؛ د جګړې ملاتړې کورسونه لکه انجینري، زیګنالي، او لوژستیک؛ او د هغو نقلیه وسیلو د ګرځونې کورسونه شامل دي چې ګړندی حرکت لري او د بیلابیلو موخو لپاره جوړ شوي دي چې "Humvees" په نوم پیژندل کیږي.[153]

د CSTC-A په وینا، متحده ایالات د ANA د روزنې لپاره د بیلابیلو قراردادونو بودیجه ورکوي. CSTC-A اټکل کړې ده چې د روزنې دا فعالیتونه پدې ربعه کې تقریبا 106$ میلیونه ډالر لګښت لري (په تیرې ربعه کې راپور شوي د 140$ میلیونه ډالرو څخه ټیټ) البته پدې کې د پرسونل، خواړه، سون مواد، مهمات، او د طبي مرستو لګښتونه شامل دي. CSTC-A اټکل کړې دی چې د دې روزنې لګښت هرکال 560$ میلیونه ډالر دی.[154]

## د دفاع وزارت د روزنیزو نهادونو ارزول

د ظرفیت پړاو (CM) ټاکنې سیسټم د دفاع وزارت عملیاتي ورتیاو ارزولو او همچنان د دفاع وزارت روزنیز نهادونو ارزوونې لپاره کارول شوی. د روزنې ارزوونې هم ورته څلور ابتدایی او دوه منځنې ټاکنې کاروي:[155]

- CM-1A: د خپلواکو عملیاتونو وړتیا لري
- CM-1B: یوازې د ایتلاف ترڅارنې لاندې کارونه ترسره کولی شي
- CM-2A: د ایتلاف په لږه مرسته کولی شي کارونه ترسره کړي
- CM-2B: خپل کارونه سرته رسولی شي خو د ایتلاف لږې مرستې ته اړتیا لري
- CM-3: د ایتلاف د پام وړ مرستې څخه پرته خپل ماموریت سرته نشي رسولی
- CM-4: شتون لري خو خپل ماموریت سرته نشي رسولی

پدې ربعه کې، د دفاع وزارت د 35 روزنیز نهادونو څخه 31 یې ارزول شوي. د 61% څخه ډیرو یې CM-1B یا لوړه کچه لاسته راوړې. درې روزنیز نهادونه د تیرې ربعې راهیسې خورا لوړې کچې ته رسیدلي: په مزار شریف کې د اردو سیمه ایز روزنیز مرکز (CM-1A)، د کابل نظامي روزنیز مرکز د ښځو د روزنې لیوا (CM-1B)، او د کابل نظامي عالي ښوونځی (CM-1A).[156]

## د افغان ملي پوځ د سواد زده کړه

د CSTC-A/NTM-A د سواد زده کړې پروګرام، چې د 2009 کال په اکتوبر کې پیل شو، د ANA د سواد لوی کچې لاسته راوړو غوښتونکی دی. د ANA د سواد زده کړې پروګرام د 312 درسي ساعت درلودونکی نصاب په اساس دی. د CSTC-A په وینا، د دې لپاره چې یو شاګرد له بشپړې بې سوادۍ څخه وظیفوي سواد درلودلو پورې مزل ووهي، باید اووه ازموینې تیرې کړي. د شاګرد کړنه ښیي چې ایا راتلونکي پړاو ته پرمختګ کولی شي که نه. کله چې نوموړی پروګرام پیل شو، پدې ازموینو کې د افغان ملي اردو د بریالیتوب کچه په لاندې ډول وه: 95% د 1 کچې سواد لپاره، 97% د 2 کچې سواد لپاره، او 97% د 3 کچې سواد لپاره.[157]

د 1 سويې په سواد کې زده کوونکی کولی شي یوویستوي لغتونه ولولي یا ولیکي، تر 1,000 پورې وشمیرې او ټولې شمیرې سره جمع او منفي کړي. په 2 کچې کې یو زده کوونکی کولی شي جملې ولولي یا ولیکي، اساسي ضرب او ویش ترسره کړي او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په 3 کچه کې یو کس کولی شي وظیفوي سواد زده کړي او د "لیکل شوي یاچاپ شوي مواد پیژندنه، پوهه، تعبیر، جوړول، اړیکه نیول، شمیرل او کارونه ترسره کړي." د 2013 کال مارچ تر 1 پورې د افغان ملي اردو د 3 کچې څخه فارغ شوي افرادو شمیر 27,111 و. د CSTC-A/NTM-A پروګرام پای ته رسیدو نیټې پورې هدف د 1 کچې 100% او د 3 کچې 50% لاسته راوړه دي.[158]

د 2010 کال څخه راپدیخوا متحده ایالاتو د ANSF لپاره د سواد زده کولو درې قراردادونه بسپنه کړي دي. هره پروژه یو قاعده وي کال او پنځه کلن حد لري د یو کلن انتخاب په توګه چې د هرکال په اګست میاشت کې تمرین ترسره کیږي او اعظمي لګښت یې 200$ میلیونه ډالرو ته رسیږي. د CSTC-A په وینا، دې قرارداد کوونکي 724 د سواد روزونکي د ANA لپاره چمتو کول:[159]

- OT ترینګ سولوشن، یو امریکایي شرکت 254 روزونکي چمتو کول.
- انسایټ ګروپ، یو افغاني شرکت 178 روزونکي برابرول.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیتیوټ، یو افغاني شرکت چې 292 روزونکي یې برابرول.

د روزونکو شمیر په تیرې ربعه کې راپور شوي 1,391 څخه په تیزۍ سره راټیټ شو.[160] CSTC-A وویل چې دا د پروګرام ودې باندې تمرکز کولو ته بدلون له امله و چې اطمینان لاسته راشي په پروګرام کې زده کونکي 3 کچې ته رسي. د دې سرته رسولو لپاره، د ټولګیو شمیر کم کړی شوی دی "یوه هڅه چې مناسب نظارت وسائل شي او د دې اطمینان لاسته راوړل چې نوموړي زده کونکي دمخه پروګرام کې پرمختګ کوي" د دې هدف پروړاندې.[161] CSTC-A وویل چې د ANA پرسونلو سواد زده کړې روزنې لپاره مسؤلیت به د 2013 کال جولای 1 او د 2014 کال جولای 1 ترمنځ ANA ته ولیږدول شي. د ANA روزنیز مراکزو کې د سواد زده کړې روزنې لیږد د 2014 اپریل پورې طمع شوی. په ورته وخت کې، د لیږد وړاندې افغان سواد زده کړې روزونکو لپاره د روزنې چمتو کولو یو نوی قرارداد هماهنګ شوی.[162]

د سیګار پلټنه

په یوې روانه پلټنه کې، سیګار د ANSF د سواد روزنې پروګرام درې قراردادونو پلې کول او نظارت ارزوي. سیګار به دا هم وارزوي چې ایا قراردادکونکي ور ښوونکي او خدمات وړاندې کوي که نه؛ کوم ته چې غزول شوی CSTC-A د قراردادکونکو فعالیت او روزنې لاسته راوړنې نظارت کړې؛ او تر هغه حده چې قراردادونه د ANSF لپاره د سواد ابتدایی او باثبات کچې چمتو کولو هدف پوره کوي. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 35 مخ وګورئ.

## ښځې په افغان ملي پوځ کې

د CSTC-A په وینا، د 2013 کال د فبرورۍ تر 20 پورې، 366 ښځې 254 افسراني، 105 بریدملې، او اووه ثبت شوي پرسونل د افغان پوځ په پرسونل کې شاملې وې. برسیره پردې افغان هوای ځواک کې 46 ښځې شامل دي: 18 افسراني، 21 بریدملې او اووه ثبت شوي پرسونل. روانه موخه داده چې د ښځو شمیر د افغان پوځ او هوایي ځواک په 195,000 پیاوړو سرتیرو کې 10% ته ورسیږي.[163] په هرصورت، د راپور ورکوونې دې دوره کې، ښځې د افغان ملي پوځ او افغان هوای ځواک ګډ قوت 0.2% جوړوي یا د هدف شوي کچې یو په پنځلسو کې.

پدې ربعه کې، د بریدملانو یو کورس چې په ځانګړې ډول د ښځو د روزنې لپاره جوړ شوی و خپل د 70-نفرو سهم ته ونه رسید او 15 ګومارل شوي ښځو کې یوازې شپږو یې د کورس لپاره تعلیمي معیارونه پوره کړل. په هرصورت، پاتې نهه ښځې چې تعلیمي معیارونه یې نه و پوره کړي د موافق ابتدایی محاربې روزنې کورس څخه فارغې شوې. لکه څنګه چې د افسرانو لپاره، 13 ښځې د 2017 افغانستان ملي نظامي اکاډمۍ صنف ته نوملو لپاره انتخاب شوې وې. دوی به په اکاډمۍ کې 16 دمخه موجود ښځو سره یوځای شي چې طمع

کیږي په 2016 کې فارغ شي. برسیره پردې، د ANA د افسرانو اکاډمۍ یو یوکلن کورس په هرکال کې د درې داخلیدو نیټو سره طمع کیږي چې د هر صنف لپاره 400–300 پورې زده کونکي داخل کړي. د دوی، 10% سلنه یې طمع کیږي چې ښځې اوسي، د CSTC-A مطابق.[164]

د ANA د ښځو ګومارلو ورتیا ډیرې مسالو اغیزمنه کړې ده. د CSTC-A مطابق، د دې ترمنځ د ودې او کلتوري خنډونو ننګونې دي چې ښځې په اردو کې خدمت وکړي. که څه هم د روزنې او جندر مناسب موقعیتونه شتون لري، ایتلافي مشاورین مطمیین ندي چې ایا کورنۍ اوس هم د ښځو د ګومارلو ملاتړ ته بې میله دي یا د ANA رهبري دې ته چمتو نده چې نورې ښځې وګماري.[165]

متحده ایالاتو د دفاع وزارت او افغان ملي دفاع پوهنتون ته سلاکاران ټاکلي چې د جندر یوکولو مسالو سره مرسته وکړي. برسیره پردې، د NTM-A سلاکاران او د دوی افغان همکاران د ګومارنې یو پلان باندې کار کوي ترڅو د لیسو زده کونکي د افسرۍ روزنې هدف وګرځوي. نوموړی پلان به یو خلاص کور هم شامل کړي "ترڅو د کورنۍ نارینه غړو ته د تسهیلات وشي چې د غلطې انګیرنې مخه نیولو کې مرسته وکړي."[166]

## افغان ملي پولیس

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بودیجې څخه $14.9 میلیارده ډالر د افغان ملي پولیسو د جوړولو، روزنې، او پایښت لپاره مقید او 13.5 ملیارد ډالر مصرف کړي دي.[167]

### د افغان ملي پولیسو قوت

CSTC-A راپور ورکړی چې، د 2013 کال د فبروري تر 18 پورې، د افغان ملي پولیسو مجموعي شمیر 150,919 و: 103,851 تنه افغان یونیفارم پولیس(AUP)، 22,029 تنه افغان سرحدي پولیس (ABP)، 14,592 تنه د افغان عامه نظم پولیس (ANCOP)، 3,059 تنه د افغانستان د مخدره توکو ضد پولیس(CNPA)، او 7,388 تنه زده کوونکي د روزنې په حال کې دي. لکه څنګه چې په 3.5 جدول کې ښودل شوي دا رقم د تیرې ربعې په پرتله 161 پرسونل کم دی. د افغان ملي پولیسو پرسونل کې (په روزنه کې د هغو پرته) 25,171 تنه افسران، 44,709 تنه بریدملان، 74,151 تنه ګزمه کوونکي کسان شامل دي.[168]

جدول 3.5

**د ANP قوت، درې میاشتنۍ بدلون**

| د ANP اجزاوې | مجاز Q4 2012 | مجاز Q1 2013 | مجاز درې میاشتنۍ بدلون | ګومارل شوي Q4 2012 | ګومارل شوي Q1 2013 | ګومارل شوي درې میاشتنۍ بدلون |
|---|---|---|---|---|---|---|
| AUP | 110,279 | 108,122 | -2,157 | 106,235 | 103,851 | -2,384 |
| ABP | 23,090 | 23,090 | هیڅ کوم | 21,928 | 22,029 | +101 |
| ANCOP | 14,541 | 14,541 | هیڅ کوم | 14,383 | 14,592 | +209 |
| [a]NISTA | - | 9,000 | هیڅ کوم | 5,953 | 7,388 | +1,435 |
| **د ANP ټولټال شمیر** | **-** | **154,753** | **-** | **148,499** | **147,860** | **-639** |
| CNPA | - | 2,247 | - | 2,581 | 3,059 | +478 |
| **CNPA + ANP ټولټال** | **[b] 157,000** | **[b] 157,000** | **هیڅ کوم** | **151,080** | **150,919** | **-161** |

یادونې: Q4 2012 د 11/20/2012 نیټې پورې دی. Q1 2013 د 2/18/2013 نیټې پورې دی

a پرسونل په روزنه کې

b د ANP ټولټال بنې د AUP، ABP، او ANCOP جمع څخه لوړې دي. دا روښانه نه وه چې نور اجزاوې د ANP مجموعې کې شامل کړی شوې وې او که نه.

سرچینې: CSTC-A، د سیګار د 10/1/2012، 1/2/2012 او 1/4/2013 معلوماتو غوښتنو ته ځوابونه.

## د افغان ملي پوليسو پايښت

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحدو ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه $4.8 میلیارده ډالر د افغان ملي پوليسو د پايښت لپاره مقید کړي ؤ چې له دې څخه$4.7 میلیارده ډالر يې مصرف شو.[169]

د CSTC-A مطابق، د پايښت بودیجې د یوې برخې په توګه، متحده ایالاتو افغان ملي پوليسو ته د $288 میلیونه ډالرو په ارزښت مهمات برابر کړي دي.[170]

## د افغان ملي پوليسو معاشونه

د CSTC-A د رپوټ په اساس، د 2008 کال څخه د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، د متحده ایالاتو حکومت د ASFF له لارې $818 میلیونه ډالر د افغان ملي پوليسو د معاشونو او جوایزو لپاره برابر کړي ؤ (جوایز هغه اضافي معاشونه دي چې په جګړو او یا کومه ځانګړې برخه کې د ګډون کونکو سرتیرو لپاره ورکول کیږي). په هر صورت، په دغه شمیره کې د غیر ASFF بودیجې شاملې ندي. د 2002 کال څخه دیخوا، متحده ایالاتو د افغان ملي پوليسو څخه د ملاتړ لپاره د افغانستان لپاره د قانون او نظم خیریه بودیجې (LOTFA) له لارې د $950 میلیون ډالرو څخه ډېر چمتو کړي دي. متحده ایالاتو د LOTFA د مرستو څخه پرته $51.5 میلیونه ډالر د افغان محلي پوليسو د معاشونو او جایزو لپاره چمتو کړي دي.[171]

د CSTC-A په وینا، کله چې افغان پولیس خپل 157,000 پرسونل نهایي قوت ته ورسیږي، نو هرکال به نږدې $628.1 میلیونه ډالرو ته د معاشونو ($265.7 میلیونه ډالر)، جایزو ($224.2 میلیونه ډالر)، او خواړو ($138.2 میلیونه ډالر) لپاره اړتیا ولري.[172]

## د افغان ملي پوليسو تجهیزات او ټرانسپورټیشن

د متحده ایالاتو د افغان ملي پوليسو تجهیز هڅه پای ته رسیدو کې ده؛ یوازې د $8.8 ملیون ډالرو په ارزښت وسلې او وسایط (د ANP تجهیزاتو لپاره د مجموعي بسپنې 0.2% سلنه) باید واخیستل شي، لکه څنګه چې په انځور 3.6 کې ښودل شوي.[173]

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ایالاتو د ASFF له بودیجو څخه $3.5 میلیارده ډالر د افغان پوليسو د تجهیزاتو او ټرانسپورټیشن لپاره مقید او مصرف کړي.[174] د دې بودیجې ډیرې برخې د وسلو او اړوندو وسایلو، نقلیه وسایط، مخابراتي وسایلو او مهماتو په اخستلو کې مصرف شوي.[175] لکه څنګه چې په 3.31 جدول کې ښودل شوي ده پدې برخه کې د متحده ایالاتو ډیرې مرستې د نقلیه وسیلو او د ټرانسپورټیشن اړوند تجهیزاتو لپاره ورکړې شوي دي.

جدول 3.6

**د متحده ایالاتو بسپنه شوي ANP تجهیزاتو لګښت**

| د تجهیزاتو ډول | پیرودل شوي | پاتې چې باید و پیرودل شي |
|---|---|---|
| وسلې | $366,108,080 | $2,853,472 |
| نقلیه وسایط | $2,643,049,123 | $5,960,454 |
| مخابراتي تجهیزات | $201,958,600 | $0 |
| **ټولټال** | **$3,211,115,803** | **$8,813,926** |

سرچينه: CSTC-A، د سیګار 4/1/2013 معلوماتو غوښتنې ته ځواب.

## د سیګار پلټنه

په یوې روانې پلټنه کې، به سیګار د پټرولو، تیلو او غوړ لپاره د افغان ملي پوليسو ظرفیت وارزوي. پلټنه په دوه اصلي مسالو تمرکز لري: د سونګ توکو اړتیاو درستې او د سونګ توکو پیرودلو لپاره حساب ورکوونه. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 34 مخ وګورئ.

انځور 3.31

**د ANP د تجهیزاتو لګښت چې د متحده ایالاتو په مرسته اخیستل شوي دي، د 2013 کال د مارچ تر31 پورې** (سلنه)

**مجموعي لګښت:** $3.2 میلیارد ډالر




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوې دي.

سرچينه: د سیګار 4/1/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

## د افغان ملي پوليسو زيربنا

د CSTC-A په وينا د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو د ASFF له بوديجو څخه $3.5 ميلیارده ډالر د افغان ملي پوليسو د زيربنا لپاره مقيد کړي ؤ چې $2.3 ميلیارده ډالر يې مصرف شوي.[176] د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو د افغان ملي پوليسو د زيربنا 495 پروژې (د $1.57 ميلیارده ډالرو په ارزښت) بشپړې کړې، او د 246 پروژو کار (د $1.30 ميلیارده ډالرو په ارزښت) روان دی، او 22 نورې پروژې (د $157 ميليونه ډالرو په ارزښت) په پلان کې نيول شوي دي لکه څنګه چې په انځور 3.32 کې ښودل شوي.[177]

د ANA په څير د افغان ملي پوليسو زيربنا چمتو کولو ته د متحده ايالاتو هڅه پای ته رسيدو حالت کې ده. په مجموعي ډول، د افغان ملي پوليسو زيربنا لپاره 95% بسپنې هغه پروژو ته تللي دي چې بشپړې شوي يا تر کار لاندې دي. يوازې 22 پلان شوي پروژې (د 157 مليون ډالرو په ارزښت) پاتې دي. دا د افغان ملي پوليسو زيربنا پروژو لپاره د متحده ايالاتو اخرني 5% سلنه بسپنه ورکوونه ده.[178]

پدې ربعه کې، د افغان ملي پوليسو ترټولو لوی رواني پروژې په کندهار او هرات کې د پوليسو روزنې سيمه ايز مراکز (د 62.3 او 62.2 مليون ډالرو په لګښت) او د کورنيو چارو وزارت قوماندانيو کې اداري تسهيلات (د 59.5 مليون ډالرو په لګښت) و.[179]

د دفاع وزارت د 2013 مالي کال د افغان ملي پوليسو زيربنا لپاره د غوښتل شوي بوديجې ټول 50 مليون ډالر تخصيص کړی شوي و.[180]

## د افغان ملي پوليسو روزنه او عملياتونه

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، متحدو ايالاتو د ASFF له بوديجو څخه $3.1 ميلیارده ډالر د افغان ملي پوليسو او د کورنيو چارو وزارت د روزنې او عملياتونو لپاره مقيد کړي ؤ چې له دې څخه $3.0 ميلیارده ډالر يې مصرف شوي.[181] د CSTC-A مطابق، پدې ربعه کې د افغان ملي پوليسو 8,034 پرسونل په بيلابيل روزنو کې بوخت و. د دوی څخه، 910 تنو يې د افسرۍ روزنه ليده او 4,692 تنو يې د بريدملۍ روزنه ليده. د روزنې نور پروګرامونو کې APPF او د طبي روزنې کورسونه شامل و.[182]

NTM-A/CSTC-A د DynCorp نړيوال سره قرارداد کوي ترڅو د هيواد په اوږدو کې په ډيرى روزنيز ساحو کې د روزنې، نظارت او ملاتړ خدمات چمتو کړي. د ASFF-بسپنه شوی قرارداد (دوه اساسي کلونه او يو انتخابي کال) د دفاع وزارت د بهرنی اردو پلورلو قضيې سيستم پراساس دی او 340 نظارت کونکي او روزونکي چمتو کوي په بيله بيا تقريبا 3,000 ملاتړي پرسونل په سيمه ايز روزنيز مراکزو کې او د ملاتړ موبايل يا محرک ډلو کې. د نوموړي قرارداد ارزښت 1.18 مليارد ډالر دی.[183]

## د افغان ملي پوليسو د سواد زده کړه

د NTM-A/CSTC-A's د سواد زده کړې پروګرام، چې د 2009 کال په اکتوبر کې پيل شو، د ANP د سواد لوی کچې لاسته راوړو غوښتونکی دی. د ANP د سواد زده کړې پروګرام د ANA په څير د 312 درسي ساعت درلودونکی نصاب په اساس دی. د CSTC-A په وينا، د دې لپاره چې يو شاګرد له بشپړې بې سوادۍ څخه وظيفوي سواد درلودلو پورې مزل ووهي، بايد اووه ازمويني تيرې کړي. د شاګرد کړنه ښيي چې ايا راتلونکي پړاو ته پرمختګ کولی شي که نه. کله چې نوموړی پروګرام پيل شو، پدې ازموينو کې د افغان ملي پوليسو د برياليتوب کچه په لاندې ډول وه: 90% د 1 کچې سواد لپاره، 90% د 2 کچې سواد لپاره، او 86% د 3 کچې سواد لپاره.[184]

### د سيګار کتنه

پدې ربعه کې، سيګار په کندز کې د افغان ملي پوليسو اصلي سرک امنيتي شرکت ودانی ساختمان کتنه بشپړه کړې. سيګار موندلې چې ممکن پروژه د مهالويش هاخوا وي او باثباته نه وي. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 36 مخ وګورئ.

انځور 3.32

**د ANP د زيربنايي پروژو لګښت چې د متحده ايالاتو په مرسته تر سره شوي، د 2013 کال د مارچ تر31 پورې** (په ميليارد ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي.
سرچينه: د سيګار 4/1/2013 معلوماتي غوښتنې ته د CSTC-A ځواب.

د 1 سویې په سواد کې زده کوونکی کولی شي یووستوي لغتونه ولولي یا ولیکي، تر 1,000 پورې وشمیري او ټولې شمیرې سره جمع او منفي کړي. په 2 کچې کې یو زده کوونکی کولی شي جملې ولولي یا ولیکي، اساسي ضرب او ویش ترسره کړي او د اندازه کولو واحدونه وپیژني. په 3 کچه کې یو کس کولی شي وظیفوي سواد زده کړي او د "لیکل شوي یاچاپ شوي موادو پیژندنه، پوهه، تعبیر، جوړول، اړیکه نیول، شمیرل او کارونه ترسره کړي." د 2013 کال مارچ تر 1 پورې د افغان ملي پولیسو د 3 کچې څخه فارغ شوي افرادو شمیر 27,251 و.[185]

د 2010 کال څخه راپدیخوا متحده ایالاتو د ANSF لپاره د سواد زده کولو درې قراردادونه بسپنه کړي دي. هره پروژه یو قاعده وي کال او پنځه کلن حد لري د یو کلن انتخاب په توګه چې د هرکال په اګست میاشت کې تمرین ترسره کیږي او اعظمي لګښت یې 200$ میلیونه ډالرو ته رسیږي. د CSTC-A په وینا، دې قرارداد کوونکې 742 د سواد روزونکي د ANP لپاره چمتو کول:[186]

- OT ټریننګ سولوشن، یو امریکایي شرکت 290 روزونکي چمتو کول.
- انسایټ ګروپ، یو افغاني شرکت 152 روزونکي برابرول.
- د کاروان د لوړو زده کړو انستیټیوټ، یو افغاني شرکت چې 300 روزونکي یې برابرول.

د روزونکو شمیر په تیرې ربعه کې راپور شوي 1,776 څخه په تیزۍ سره راټیټ شو.[187] CSTC-A وویل چې د ANA پروګرام په څیر دا د پروګرام ودې باندې تمرکز کولو ته بدلون انعکاس و چې اطمینان لاسته راشي په پروګرام کې زده کونکې 3 کچې ته رسي. د دې سرته رسولو لپاره، د ټولګیو شمیر کم کړی شوی دی "یوه هڅه چې مناسب نظارت وساتل شي او د دې اطمینان لاسته راوړي چې نوموړي زده کونکي دمخه پروګرام کې پرمختګ کوي" د دې هدف پرواړندې.[188] CSTC-A وویل چې د ANP پرسونلو سواد زده کړې روزنې لپاره مسؤلیت به د 2013 کال جولای 1 او د 2014 کال جولای 1 ترمنځ ANP ته ولیږدول شي. دANP روزنیز مراکزو کې د سواد زده کړې روزنې لیږد د 2014 اپریل پورې طمع شوی. په ورته وخت کې، د لیږد وړاندې افغان سواد زده کړې روزونکو لپاره د روزنې چمتو کولو یو نوی قرارداد هماهنګ شوی.[189]

## ښځې د افغان ملي پولیسو په لیکه کې

د CSTC-A په وینا د 2013 کال د فبروري تر 20 پورې 1,489 ښځې د افغان ملي پولیسو په پرسونل کې 226 افسرانې، 605 کسه NCOs، او 658 کسه لست شوي پرسونل شاملې وې. دا د تیرې ربعې راهیسې، 32 ډیروالی ښیي. افغان ملي پولیس دا مهال د ښځو لپاره په افغان ملي پولیسو کې 2,995 مجوز پوستونه لري.[190] ټاکل شوي ده چې د 2014 کال تر مارچ پورې 5,000 ښځې د افغان ملي پولیسو په لیکو کې وګومارل شي.[191] د دې راپور ورکوونې دورې پرمهال، ښځې د افغان ملي پولیسو له 1% څخه کمه برخه جوړوي.

د کورنیو چارو وزارت د 2013 کال می لپاره یو کنفرانس پلانوي چې په ترڅ کې ANP ته د ښځو ګومارلو لپاره د مذهبي مشرانو او ټولنې ملاتړ لاسته راوړي د متحده ایالاتو د ملاتړ یوه هڅه د CSTC-A مطابق. برسیره پردې، د NTM-A/CSTC-A څخه د متحده ایالاتو یو سلاکار د کورنیو چارو د بشري حقونو، جندر، او ماشوم حقونو ریاست څاري. CSTC-A په نښه کړې چې د متحده ایالاتو د کابل سفارت دا هڅې د هغې جندر ستراتیژۍ ته یوځای کړي، کوم چې د تمرکز څلور برخو پراساس دي:[192]

- عدالت او امنیت ته لاسرسی
- رهبریت او مدني اشتغال

- اقتصادي پرمختګ
- تعلیم او روغتیا

دا ستراتیژي د ښځو لپاره ملي عمل پلان او د افغانستان ملي پراختیا ستراتیژۍ کې طرح شوي د افغان دولت لومړیتوبونو سره همقطاره ده. دا هڅې نورې ستراتیژیانې هم حمایه کوي لکه د توکیو د دوه اړخیزه ځواب ورکوونې کاري چوکاټ او د متحده ایالاتو ملکي ستراتیژي په افغانستان کې د ښځو سره مرستې لپاره.[193]

## د ANSF طبې/روغتیایي پاملرنه

د CSTC-A مطابق، د دې ربعې په پای کې، د ANSF په روغتیایي سیستم کې له 1,056 ډاکترانو څخه چې اړتیایې ورته درلوده 915 ډاکټر له تیرې ربعې راهیسې 169 کسان ډیر درلود له دې شمیر څخه 706 کسان افغان ملي پوځ او 209 کسان افغان ملي پولیسو لپاره ګومارل شوي و. افغان ملي امنیتي ځواکونو په نورو طبي پرسونل کې له 9,840 کسانو څخه چې اړتیایې درلوده (په شمول د نرسو او طبي کارمندانو) 6,821 کسان درلودل د تیرې ربعې راهیسې 731 نفرو په کموالي سره.[194]

## د ناچاودیدلو مهماتو لرې کول

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د 2002 کال څخه تر 2013 کال پورې په افغانستان کې د وسلو ویجاړولو او ماین پاکولو لپاره نږدې 260$ میلیونه ډالره مرسته چمتو کړې ده، د دې د سیاسي او پوځي چارو د وسلو لرې کولو او لړولو دفتر (PM/WRA) په وینا. د بهرنیو چارو وزارت د وسلو ویجاړولو کنوانسیوني پروګرام له لارې پنځو غیردولتي افغانې موسسو، پنځو نړیوالو موسسو، د ملګرو ملتونو ماین اکشن سرویس، او د متحده ایالاتو دولت یو قرارداد کونکي ته بودیجه ورکوي. دا بودیجې مرسته کوي ترڅو هغې سیمې له ماین څخه پاکې کړي چې د جګړو په ترڅ کې ککړې شوې دي، کومې بیکارې وسلې چې جنګیالي ورڅخه چاودیدونکي توکي ممکن جوړوي ویجاړې او خرابې کړي ، او د افغان حکومت د ماین پاکولو ریاست ته مشورې او لارښونې برابر کړي.[195]

PM/WRA څخه خورا وروستي معلوماتو مطابق، د جنورۍ 1 څخه د 2012 کال تر دسمبر 31 پورې، د متحده ایالاتو بسپنه شوي پاکونکي ملګرو نږدې 41 ملیون متر مربع په ماین ککړه سیمه پاکه کړې.[196] لکه څنګه چې په انځور 3.7 کې ښودل شوي تقریبا 570 ملیون متر مربع ککړې سیمې لاتر اوسه پاتې دي چې باید پاکې شي. PM/WRA د "ماین لرونکې" سیمه د ځمکني ماینونو په واسطه ککړه ساحه تعریفوي او یوه "ککړه ساحه" د داسې ساحې په حیث چې دواړو د ځمکې ماینونو او د جګړې راپاتې چاودیدونکو توکو په واسطه ککړه وي.[197]

## د مخدره توکو ضد

د کوکنارو کښت او نامشروع مخدره توکو قاچاق کمولو ته د نړیوالې ټولنې او افغان دولت هڅو پرته، افغانستان اوس هم د نړۍ 90% سلنه اپیوم تولیدوي. غیرمشروع سوداګري د یاغیتوب بسپنه هم کوي. د متحده ایالاتو د مخدره توکو ضد ستراتیژي د مخنیوي عملیاتو له لارې یاغیتوب ته د پیسو جریان پرې کولو کوښښ کوي.

جدول 3.7

**د کنوانسیوني وسلو له منځه وړلو پروګرام میټریکونه، د 2012 د جنوري 1 څخه تر دسمبر 31 پورې**

| د نیټې حد | تخریب شوي AP/AT | تخریب شوي UXO | تخریب شوي SAA | ټوټې یې پاکې شوي | د ماین ککړه پاکه شوې سیمه (m2) | ککړه پاتې تخمین شوې سیمه (m2) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1/1–3/31/2012 | 2,113 | 62,043 | 467,071 | 3,364,885 | 14,604,361 | 585,000,000 |
| 4/1–6/30/2012 | 1,559 | 28,222 | 20,580 | 3,601,378 | 7,251,257 | 563,000,000 |
| 7/1–9/30/2012 | 5,542 | 165,100 | 121,520 | 2,569,701 | 11,830,335 | 550,000,000 |
| 10/1–12/31/2012 | 2,146 | 62,449 | 22,373 | 3,672,661 | 7,265,741 | 570,000,000 |
| **ټولټال** | **11,370** | **317,814** | **631,544** | **13,208,625** | **40,951,694** | **570,000,000 (پاتې)** |

یادووني: AP/AT = د ټانک ضد/پرسونل ضد مهمات UXO = ناچاودل شوي مهمات SAA = د کوچنی وسلې مهمات ټوټې شوي او راپور کړی شوي ځکه چې د دوی پاکول هم د نورو توکو په څیر ورته پاملرنې ته اړتیا لري ترڅو پورې چې اصلیت یې وټاکل شي.

سرچینه: State، WRA/PM، د سیګار 4/3/2013 معلوماتو غوښتنې ته ځواب.

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې متحده ایالاتو د 2002 کال له پیل څخه چې د مخدره توکو په وړاندې مبارزه پیله شوې $6.4 میلیارد ډالر تخصیص کړي دي. د دې مرستو ډېره برخه د دوو سرچینو له لارې تخصیص شوې وه: د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو مخدره توکو کنټرول او د قانون پلي کولو (INCLE) بانکي حساب ($3.6 میلیارده ډالر)، او د دفاع وزارت د مخدره توکو څخه د مخنیوي او د مخدره توکو په ضد د فعالیتونو (DOD CN) بودیجه ($2.7 میلیارده ډالر).[198]

د INL په وینا، د DOD او State د نړیوالو مخدره توکو او د قانون پلي کولو چارو اداري د افغان کورنیو چارو وزارت او د مخدره توکو په ضد افغان پولیسو (CNPA) سره خپلې مرستې په همغږۍ ترسره کوي. د بیلګې په توګه په ځینو ولایتونو کې، DOD د هغو عملیاتي مرکزونو د جوړولو بودیجه ورکړې ده چې د CNPA د ملي مخنیوی واحد لخوا کارول کیږي؛ او INL د دې مرکزونو د ساتنې بودیجه ورکوي.[199]

## د UNODC د 2013 اپیومو خطر ارزونه

پدې ربعه کې، د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر (UNODC) د افغانستان د اپیومو خطر خپله د 2013 ارزونه خپره کړه. UNODC په ډیری سیمو کې د کوکنارو کښت ډیریدو او د کوکنارو-وده کونکي ولایتونو طمع لري. په ټولو، 12 ولایتونو کې طمع کیږي چې د کوکنارو کښت ډېر شي او په یوه کې د کمیدو طمع کیږي. د نورو 14 څخه طمع کیږي چې د کوکنارو څخه پاک خپل دریځ وساتي او د کوکنارو کښت لرونکي اووه ولایتونو څخه طمع نه کیږي چې په 2013 کې خپل دریځ کې کوم بدلون راوړي. په هلمند او کندهار کې د اپیومو اوسني لوړ نرخ او په 2012 کې د اپیومو لږ محصول له امله د پام وړ ډیروالي طمع کیږي. UNODC خبرداری ورکوي چې ځینې ولایتونه به د کوکنارو څخه خپل پاک دریځ له لاسه ورکړي که د وخت سره سم د له منځه وړل پلي نشي. UNODC دا په سویلي، ختیځې، لویدیزې او مرکزي سیمو کې "د اندیښنې وړ وضعیت" هم په نښه کړې چیرې چې په سیمو کې د کوکنارو کښت ډیریدو طمع کیږي چیرې چې دمخه موجود او هم په "نوي سیمو یا هغه سیمو کې چې د کوکنارو کښت دریدلی و."[200]

UNODC په نښه کړې چې "د بې امنیتۍ، د کرهنیزې مرستې نه شتون او اپیومو کښت ترمنځ قوي ملګرتیا خپل شتون ته دوام ورکوي." هغه کلي د لږ امنیت سره، چې تیرکال یې کرهنیزه مرسته لاسته نه وه راوړې، او هغه چې د کوکنارو ضد خبرتیا کمپاین ورته نه و رسیدلی، په لویه کچه د کوکنارو ودې ته خورا مناسب و. د تیر کال برعکس، بزګرانو په دوامدار ډول د له منځه وړو ویره د کوکنارو نه کرلو یوه دلیل په حیث راپور کړې.[201]

## د کوکنارو له مینځه وړل

INL د افغان دولت ترمشرۍ لاندې د کوکنارو له مینځه وړلو (GLE) پروګرام ته بودیجه ورکوي. INL ویلي چې د GLE پروګرام له لارې په 2012 کال کې 9,672 هکتاره ځمکې له کوکنارو څخه پاکې شوې دي.[202]

INL همدارنګه د مخدره موادو پروړاندې مبارزې افغان وزارت (MCN) سره کار کوي تر څو ولایتونه له کوکنارو څخه پاک کړي او همداسې یې وساتي. د بیلګې په توګه، INL د MCN د شوکړنو نوښت (GPI) ته بودیجه ورکوي کوم چې له والیانو سره مرسته کوي د جوایزو له لارې په خپلو ولایتونو کې د کوکنارو د کښت کمولو ګټې وګوري. د INL په وینا، د GPI پراختیایي پروژو کې یو ولایت سره هغه وخت $1 میلیون ډالر مرسته کیږي چې له کوکنارو څخه پاک وي او یا په هماغه کال کې د کوکنارو کرل شوې ځمکو ساحه یې له 100 هکتارو څخه کم وي. په 2012 کال کې، 17 ولایتونه د GPI جایزو ته نومول شوي دي، چې د 2011 کال له شمیر سره مساوي ده. INL وایي چې په 2007 کال کې د GPI له پیل نه تردې دمه پورې، له 100 نه زیاتې پراختیایي پروژې د ښوونځیو، سړکونو، پلونو، کرهنیزو پروژو، او طبي تسهیلاتو په شمول په 33 ولایتونو کې یا خو بشپړې شوې دي یاهم تر کارلاندې دي.[203]

INL د مخدره توکو په ضد د عامه پوهاوي پروګرام بودیجه هم ورکوي ترڅو د ټول ملت دمخه کرهنې موسم عامه پوهاوي او کوکنار کښت کونکي سیمو کې د رسنیو کمپاین له لارې په ولایتونو کې د کوکنارو څخه پاک دریځ وده کول دوام ومومي. برسیره پردې، INL د آغا خان نهاد سره مرسته کوي ترڅو په شپږو کلیدي ولایتونو کې د ټولنو او محلي انجیو ګانو سره کار وکړي او د کوکنارو سره تړاو نه درلودونکي کارونو په رامینځته کولو سره د کوکنارو کښت له مینځه یوسي.[204]

## د افغانستان د مخدره توکو پرضد مبارزې پولیس

د CSTC-A مطابق، پدې ربع کې، د افغانستان د مخدره توکو په ضد پولیسو (CNPA) په لیکو کې 3,059 کسان ګومارل شوي و.[205]

NTM-A او د مخدره توکو د قانون پلي کولو اداره (DEA) د CNPA لپاره سلاکاران او لارښونکي چمتو کوي. د CSTC-A په وینا، NTM-A، 16 سلاکاران چمتو کوي او DEA 33 د مخدره توکو ضد روزونکي چمتو کوي (چې 20 تنه یې په یو وخت کې په هیواد کې وي). د CSTC-A په وینا، د متحده ایالاتو یوه کمپنۍ د CNPA سره د مرستې لپاره 37 تنه کارکونکي چمتو کوي.[206] برسیره پردې INL د CNPA د مخنیوي ملي واحد روزنې ته بسپنه چمتو کوي او د دفاع وزارت د ځانګړې دندې وزر ته بسپنه ورکوي (چې د INL چورلکو په واسطه هم حمایه کیږي). د دفاع وزارت د CNPA تاکتیکي عملیاتو/اطلاعاتو یوځای کولو مرکز ته هم بسپنه چمتو کوي چې د مخدره توکو د قاچاق شبکې هدف نیسي.[207]

### د سیګار پلټنه

په یوې روانې پلټنې کې، به سیګار په نښه کړي چې د مخدره توکو مخنیوي عملیاتو لپاره د هوای–چلند ځوابې ملاتړ تر کوم حده د متحده ایالاتو مرسته یې چمتو کوي، د افغان ځانګړې دندو وزر ته د متحده ایالاتو دولت ادارو د مرستې نظارت ټاکل، او د مخدره توکو ضد هڅو لپاره د هوای–چلند ملاتړ چمتو کولو ته د باثبات وړتیا وده کې پایه شوی د متحده ایالاتو مرستې خیړل. د اضافي معلوماتو لپاره، 2 برخه 33 مخ وګورئ.

INL د تحقیقي او ستراتیژیکي نظارت، لوژستیک، میشته کولو، خوارو، او سونګ توکو او په بیله بیا د مخنیوي عملیاتو ساحو څخه او ورته د ټرانسپورټیشن چمتو کولو په واسطه د CNPA د مخنیوي ملي واحد او ځانګړي تحقیقي واحد د مخنیوي فعالیتونه حمایه کوي.[208]

## د مخنیوی عملیاتونه

د DOD په وینا، د 2013 کال د جنوري له 1 څخه د مارچ تر 28 پورې، ANSF د متحده ایالاتو او ایساف سره د مخنیوي 50 عملیاتونو سرته رسولو لپاره ملګرتیا کړې ده د پیرې، ګزمې او څیړنې ګډ عملیاتونه، او د توقیف عملیاتونو سنجول. دې عملیاتونو د 57 توقیف پایله درلوده او په زرهاو کلوګرام تاریاکو او تاریاکو پورې اړوند کیمیکلز د نیولو یا ضبطولو. له 2008 کال راهیسې، د افغان او ایتلافي د مخنیوي مجموعا 1,650 عملیاتونو د 2,245 توقیفونو او د لاندې کچې قاچاق شوي مخدره توکو د نیول کیدو پایله درلوده:[209]

- 730,076 کیلو ګرام حشیش
- 346,059 کیلوګرام تریاک
- 43,432 کیلوګرام مورفین
- 25,308 کیلوګرام هیرویین
- 412,082 د مخدره توکو پورې اړوند کیمیاوي مواد

د DOD په وینا، د متحده ایالاتو پوځ پدې عملیاتونو کې د عمومي لوژستیکي او استخباراتي ملاتړو سربیره ځمکنۍ بیرنۍ مرستې رسولې. DEA په ټول هیواد کې ځانګړو واحدونو ته مشورې ورکولې ترڅو د تحقیقاتو او قانون پلې کولو ظرفیت تاسیس کړي. برسیره پردې، د متحده ایالاتو اطلاعاتي ټولنې ایتلافي همکارانو ته د هدف او څیړنیز ملاتړ چمتو کړی.[210]

لکه د تیرو ربعو په شان، د مخنیولو ډیر عملیاتونه په سهیلي او سهیل لویدیځو سیمو کې ترسره شوي، کومه سیمه چې د اوپیاتونو ډیره برخه کښت، پروسس، او له افغانستانه بهر ته لیږدول کیږي. د DOD په وینا، په دغو سیمو کې افغان ځواکونه په ډیریدونکي توګه د ګزمو او پوځی عملیاتونو مشري کوي. DOD ویلي چې افغان ځانګړي واحدونه د هغوی ایتلافي همکارانو په واسطه مرسته شوي، خپل تحقیقونه د کنوانسیوني (قراردادي) نظامي عملیاتو سره یوکوي ترڅو قاچاقچیان د یاغیتوب سره په تړاو کې هدف ورګرځوي.[211]

افغان کنوانسیوني او ځانګړو واحدونو د بین الاداري عناصرو لکه ګډ بین الاداري وظیفوي ځواک–نیکسس (CJIATF-N) او د بین الاداري عملیاتونو د همغږۍ مرکز (IOCC) په ګډون سره یو شمیر عملیاتونه ترسره کړي دي. CJIATF-N او IOCC د بیلابیلو پوځي او د قانون پلی کونکو ادارو څخه لاسته راغلي معلومات منسجم کوي ترڅو د تریاکو-یاغیانو فاسدو عناصرو په وړاندې عملیاتونه اسانه کړي. د DOD په وینا، ټول عملیاتونه د متحده ایالاتو او ایتلافي ځواکونو د قوماندانانو لخوا همغږې او ملاتړ کړای شوي دي.[212]

# د حکومتولۍ منځپانګې

| | |
| --- | --- |
| مهمې پېښې | 109 |
| پخلاینه اوبیا یوځای کیدل | 109 |
| ملي او سیمه ایزه حکومتولي | 113 |
| د قضا اصلاحات او د قانون حاکمیت | 123 |
| د فساد پر وړاندې | 126 |
| بشري حقونه | 132 |

# حکومتولي

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، امريکا د افغانستان د حکومتداري او اقتصادي ملاتړ لپاره 23$ میلیارده امریکايي ډالر برابر کړي دي. د دې فنډ ډیری برخه، له 15 میلیاردو امریکايي ډالرو څخه ډېر، د اقتصاد ملاتړ فنډ (ESF) ته تخصیص ورکړ شوی، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د امریکا د نړیوالې پراختیايي اداري (USAID) لخوا اداره کیږي.[213]

## مهمې پېښې

د راپور ورکولو پدې دوره کې د افغانستان چارواکو، سیاسي ګوندونو، او مدني ټولنې پر امنیتي او سیاسي سپارلو باندې کار کاوو چې په پای کې به په 2014 کې د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) د ماموریت پای او د افغانستان د ولسمشری ټولټاکنې وي. د ملګرو ملتونو (UN) عمومي منشي خبرداری ورکړی چې د افغانستان سیاسي رهبران باید په نږدې راتلونکي کې ځینې مهمې پریکړې وکړي. ډېر ژر، ولسمشر حامد کرزی باید د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره، هغه اداره چې ټولټاکنې اداره کوي، نوی ریس وټاکي. پارلمان هم باید د ټولټاکنو د عملیاتو د پلان کولو او چمتووالي لپاره اړوند قوانین تایید کړي.[214] د افغانستان حکومت په دریو نورو مهمو برخو کې یووازې محدود پر مختګونه درلودل — له طالبانو سره د سولې د پروسې تاسیسول، د قانون د حاکمیت بنستیز کول،او د پراخ فساد مخه نیول و.

## پخلاینه او بیا یوځای کیدل

پدې ربع کې، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وینا د افغانستان حکومت تر ډېرې کچې دا هڅه کوله چې د سولې د عالي شورا تر لاندې د پخلاینې احتمالي پروسې بڼه تعریف کړي. په فبروری کې، د افغانستان او پاکستان حکومتونو پلانونه اعلان کړل ترڅو د قطر په دوهه کې د خبرو یو دفتر پرانیزي،او ژمنه یې وکړه چې هر ممکنه کار به ترسره کړي ترڅو له طالبانو سره سوله ایزه جوړه وشي. امریکا د خبرو د دې دفتر لپاره پخوا ملاتړ څرګند کړی او پردې یې ټینګار کړی چې اړینه ده ترڅو افغانستان د پخلاینې د پروسې مشري وکړي. د فبروری په 14، پاکستان د اعتماد د کچې د ډېریدو لپاره پاکستان اعلان وکړ چې د افغانستان د طالبانو 26 غړي یې آزاد کړي دي چې له پاکستان سره په بند کې و.[215] د مارچ په 31 ولسمشر کرزي په دوهه کې د قطر له امیر، شیخ حماد بن خلیفه الثاني، سره د دفتر د پرانیستلو په اړه وکتل، مګر له غونډې وروسته هیڅ پرمختګ اعلان شوی ندی.[216] څو ورځې وروسته افغانستان پر پاکستان تور ولګاوو چې د سولې پر هڅو باندې یې د نه منلو شرطونه ایښې. د دوو ګاونډیو هیوادونو ترمنځ د اړیکو پریکیدل، د میز خبرو ته د طالبانو راوستلو هڅې له تهدید سره مخ کړي.[217]

## د سولې عالي شورا

پدې ربع کې، د سولې عالي شورا د کورنې او نړیوال ملاتړ ترلاسه کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ چې دا به د پخلاینې د اړینو شرطونو لپاره زمینه برابره کړې. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، له طالبانو سره د ډاډ تر لاسه کولو لپاره، شورا د افغانستان له حکومت او د ملګرو ملتونو د امنیت له شورا سره کار وکړ ترڅو د ملګرو ملتونو د 2082 له لست څخه د طالبانو د لوړ پوړو غړو نومونه وایستل شي. دا غړې د دې لپاره غوره شوي چې دوی د پخلاینې له پروسې سره د یو ځای کیدلو خپله لیوالتیا څرګنده کړې.[218]

د سولې عالي شورا او د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام (APRP) ګډې دارالنشا د افغانستان له مدنې ټولنې سره کار وکړ ترڅو د پروسې لپاره ملې توافق تاسیس کړې. په جنوری کې، شورا او دارالنشا د مدنې ټولنو له استازو سره غونډه وکړه ترڅو د سولې لپاره د لارې پر نقشې او د راتلونکې لپاره پر یوه ګډ میکانیزم باندې خبرې وکړې. شورا او دارالنشا د یاغیانو د غړو لپاره د خبرو د موقعیتونو پر خوندې لارو، ولایتې ارزونې، لوړ پوړو غړو بیا یو ځای کیدل، او نورو ډاډ تر لاسه کولو مسلو باندې خبرو ته هم دوام ورکړ.[219]

## د افغانستان د سولې او بیا یو ځای کیدلو پروګرام

د دې ربع په لمړیو دوو میاشتو کې د بیا یو ځای کیدلو هڅې نړدې بشپړې دریدلو ته راغلې، ځکه چې د پروګرام ګډې دارالنشا مالي حسابونه نشو همغږې کولای. د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP)، چې د APRP د عملیاتو ډیر فند اداره کوې، له ګډې دارالنشا څخه غوارې ترڅو وکولای شي چې د فنډونو 80% حساب ورکړې مخکې تر دې چې د ډونرانو پیسو ایستلو ته اجازه ورکړې. ګډه دارالنشا ډیرى وختونه لدې 80% اړتیا سره ستونزه لرې. د ولایتې دارالنشا ګډ تیمونه (PJST) باید په هر ربع کې خپل حسابونه همغږې کړې او دارالنشا ته راپور ورکړې. دا یوه دوامداره ستونزه ده مګر روزنه یې آسانه کوې. پردې برسیره، UNDP د APRP د کارې پلان خپل تایید ځنډولی، چې باید د فنډ له توزیع وړاندې اجرا شوی وای. په پایله کې، د کارکوونکو معاشونه ندې ورکړ شوې. دا مسله د ربع په پای کې حل شوې. UNDP کارې پلان تایید کړ، د APRP تخنیکې کمیټې د پروګرام د 1392 مالي کال بودجه تایید کړه، او د سولې عالي شورا او ګډې دارالنشا د توزیع شویو فنډونو 80% همغږې کړې. دې د بیا یو ځای کیدلو فنډونو ته اجازه ورکړې ترڅو ساحې ته لار پیدا کړې.[220]

پدې ربع کې، یوواړې 208 بیا یو ځای کیدونکې له APRP سره یو ځای شوې، دا له پخوانیو 12 میاشتو څخه ډیر کم و چې په هر ربع کې یې اوسط 597 و. د مارچ تر 29 پورې، په APRP کې 6,409 بیا یو ځای کیدونکې ثبت و، لکه څنګه چې پدې عکس 3.33 کې ښودل شوې، ډیر له شماله او لویدیځ څخه و. د بیا یو ځای کیدونکو ډیرى چې پدې ربع کې پروګرام ته راغلې هغه پخوانې توقیف شوې و چې د پروان (DFIP) له توقیف خانې څخه آزاد شوې. نږدې 900 اضافې یاغیان د خبرو په بیلا بیلو پړاونو کې و ترڅو د ربع په پای کې پروګرام ته راشي.[221]

---

**د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام:** د یاغیانو د بیا یوځای کولو د هڅولو او اداره کولو لپاره د افغانستان د حکومت اصلي پروګرام. دا پروګرام د طالبانو د غړو او د حکومت مخالفو نورو عناصرو لپاره یوه لار برابروې چې له تاوتریخوالې لاس واخلې او د افغانستان د ټولنې ګټور غړې شي. پروګرام هڅه کوې چې هغو انفرادي کسانو ته چې په سوله ایزه توګه بیا ټولنې ته راځې پراختیایي فرصتونه ورکړې. یوه ګډه دارالنشا، چې د څو ادارو یو دفتر دی او د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک لخوا استازیتوب لرې، دا پروګرام اداره کوې.

سرچینه: UNDP، "د افغانستان د سولې او بیا یوځای کیدلو پروګرام ته د UNDP ملاتړ،" 5/2011، لاس رسی 7/17/2012.

عکس 3.33

**د سيمه ايزې قوماندې په اساس بيا يو ځای شوي کسان، مارچ 2012 – مارچ 2013**




سرچينه: د سيګار درې مياشتنی رپوټ، 1/30/2013، 97.مخ؛ د سيګار 4/2/2013، 1/2/2013، 10/2/2012، 7/5/2012، او 3/30/2012 معلوماتي غوښتنو ته د State ځوابونه.

د دې راپور ورکولو په وخت کې، د دوامدارو ننګونو بر سيره، ګډې دارالنشا 14 ولايتونو ته د بيا يو ځای کېدلو ماموريت د تخار، کنر، لغمان، ننګرهار، وردګ، غزني، دايکندي، ارزګان، سرپل، جوزجان، کندز، لوګر، پکتيکا، او هيلمند ولايتونو ته تر سره کړی. ګډه دارالنشا دا اټکل کوي چې 208 کسان يې بايو ميټريکي ثبت کړي او د ولايتي دارالنشا ګډ ټيمونو په ټول هيواد کې يو ځای کېدونکو ته د انتقالي مرستو 164 بستې توزيع کړې.[222]

## د شخړې د حلولو ملي ستراتيژي

APRP لا تر اوسه د شخړې د حلولو ملي ستراتيژی نده تطبيق کړې ترڅو د بيا يو ځای کېدونکو احتمالي شکايتونه حل کړي. که څه هم ګډې دارالنشا د 2012 په جون کې ستراتيژي تاييد کړې، مګر دا روښانه نده چې آيا ګډه دارالنشا، د شخړو د حلولو خپلواک کميسيون، يا د افغانستان کومه بله اداره دا ماموريت لري چې له ياغيانو سره د شخړو د هڅو مشري وکړي. د UNDP يوې ارزونې دا وموندله چې د بيا يو ځای کېدلو هڅې د شخړو د تحليل او د فرصتونو د نقشو له وسايلو څخه ډېر کار نه اخلي.[223]

## د بيا يو ځای کېدلو د ظرفيت لوړول

د ولايتي دارالنشا ګډ ټيمونو ظرفيت، ورتيا، او د فعاليتونو کچه په ټول هيواد کې اوس هم توپير لري. د ولايتي دارالنشا ګډ ټيمونه د APRP د ګډې دارالنشا لخوا جوړ شوي تر څو د ولايتونو په کچه د APRP او بيا رغونې پروګرامونو له تطبيقولو سره مرسته وکړي.[224] پدې ربع کې د APRP د مالي بنديز له کبله، د دې ربع په لمړنيو دوو مياشتو کې په ولايتونو کې فعاليتونه په ټپه ولاړ و، او په هغو ولايتي دارالنشا ګډو ټيمونو کې لږ پرمختګ شوی

چې اوس هم ستونزې لري. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، په هغو ولایتونو کې چې والیان د APRP ملاتړ کوي او د سولې د ولایتي شوراګانو (PPC)، ولایتي دارالنشا ګډو ټیمونو، او د ولایتي امنیتي کارکوونکو تر منځ همغږي شتون لري، APRP په مناسبه توګه ښه کار کوي او د بیا یو ځای کیدونکو شمیره هم تر ډیرې کچې لوړه ده. دا حالتونه تر ډیرې کچې په شمال او لویدیځ کې شتون لري. د ولایتي دارالنشا هغه ګډ ټیمونه چې د بیا یو ځای کیدلو د هڅو په ملاتړ کولو او اداره کولو کې بریالی نه وي، ډیری وختونه یې په خپلو عملیاتي ساحو کې له کم امنیت څخه تاوان لیدلی، سیمه ایز طالبان جنګیالي د پخلاینې لپاره لیواله ندي، او والي او ولایتي شورا مناسب ملاتړ ندی برابر کړی.[225]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د APRP او د افغانستان د حکومت د امنیتي ځواکونو تر منځ همغږي ښه شوې. مګر، د همغږی کچه په اړوندو شخصیتونو پورې اړه لري او د ولایتونو تر منځ توپیر لري. کله چې مهم ولایتي چارواکي د بیا یو ځای کیدلو ملاتړ کوي، APRP د احتمالي یو ځای کیدونکو په ارزونه کې او نورو فعالیتونو کې ډیره بریالی ده.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان امنیتي وزارتونو د ارزونې پروسه ډیره ښه کړې ده. د امنیتي وزارتونو ولایتي استازې په پاملرنې سره د هر احتمالي یو ځای کیدونکي ارزونه کوي او د ولایتي حکومت او د هغې ټولنې چې بیا یو ځای کیدونکي غواړي ورسره یو ځای شي له معلوماتو څخه کار اخلي. کله چې د سیمیزې ارزونې پروسه بشپړه شي، د ارزونې فورمې کابل ته لیږل کیږي، چیرته چې ملي امنیتي وزارتونه اضافي ارزونه تر سره کوي.[226]

پدې ربع کې، UNDP د APRP د یوې ارزونې پایلې خپرې کړې. ارزونې د ولایت په عملیاتو کې څو ځایونه د ښه کیدلو لپاره پیژندلي. ګډه دارالنشا او UNDP یو کاري ګروپ جوړ کړی ترڅو سپارښتنې تطبیق کړي. ګډې دارالنشا د UNDP په مرسته د PJSTs او د PPCs ارزونه هم ترسره کړې، ترڅو کمزورې ولایتي پروګرامونه وپیژندل شي او خبر ورکړي چې خپلې هڅې ښه کړي. ګډې دارالنشا د پروان او بامیان په ولایتونو کې نوي PPCs او PJSTs پرانیستلې ترڅو سیمیزه او ولایتي بیا یو ځای کیدل ښه کړي. ګډې دارالنشا 75 اضافي د ټولنې مشران او د کلیو سپین ګیري هم د سولې ملاتړ پروګرام ته راوړي، چې ټوله شمیره یې 158 ته زیاته شوې. د سولې ملاتړ کوونکي پخپلو ټولنو کې د سولې لپاره کار کوي، عامه آګاهي ترسره کوي، او د سولې د هڅو ملاتړ کوي.[227]

د امریکا مرکزي قوماندانی (CENTCOM) پدې وروستیو کې د PJST د ظرفیت د لوړولو د نوی پروګرام جوړول تایید کړي، چې د امریکا د دفاع وزارت د افغانستان د بیا یوځای کیدلو د پروګرام د فنډ لخوا یې ملاتړ کیږي. د امریکا چارواکو سیګار ته ویلي هغوی تمه لري چې یو قرارداد به په جون کې وړاندې شي.[228]

## د بیا یو ځای کیدلو د پروګرام فنډ ورکول

ګډه دارالنشا د UNDP تر نظارت لاندې د APRP بودجه تطبیقوي. د بشپړو شویو فنډونو وروستي شمیرو ښودلې چې له 173.5$ میلیونو امریکایي ډالر چې APRP له 12 ډونرو هیوادونو څخه تر لاسه کړي دي، د 2012 تر دسمبر پورې 71.6$ میلیونه امریکایي ډالر لګولي، چې د ټول لګښت 41.2% ده. دا د افغانستان د 1391 په مالي کال تر 48.5% د تطبیقولو تر اندازې یو څه کمه وه. له 173$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه، امریکا یوازې 50$ میلیونه امریکایي ډالر ورکړي دي.[229]

# حکومتولي

## د ټولنې بیا رغونې پروګرامونه

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، APRP هغه انفرادي کسان هڅولي چې کیدای شي پرته لدې به هغوی خپله وسله پر ځمکه کې نږدي، د هغوی او د هغوی د ټولنو لپاره اقتصادي او ټولنیز ملاتړ برابریږي ترڅو له خپلو ټولنو سره بیرته یوځای شي. د APRP د ټولنې بیا رغونې پروژې لکه د مینونو پاکول، کرنه، واړه پورونه، او د مهارتونو او سواد زده کړې پروژو څخه کار اخیستل کیږي ترڅو احتمالي یو ځای کیدونکي وهڅول شي چې پروګرام ته راشي او ټولني لدې پروګرام څخه ملاتړ وکړي. د دې ربع په پای کې، ګډې دارالنشا راپور ورکړی چې د APRP له پیل څخه له 70% څخه ډیر یو ځای کیدونکو او د یو ځای کیدونکو په ټولنو کې له 1,785,000 څخه ډیرو خلکو، د ټولنې د بیا رغونې له پروژو څخه ګټه اخیستې.[230]



**کله چې یې خپلې وسلې وسپارلې**، پخواني افغان باغیان د غور ولایت په انګر کې د بیا یوځای کیدلو په لمانځنه کې یو ځای لمونځ کوي. (د ISAF عکس)

## ملي او سیمه ایزه حکومتداري

د فبروری په 12، د همغږی او نظارت ګډ بورد، چې د پریکړې نیولو لویه اداره ده چې د کوربه توب معاونیت یې د مالیی وزارت (MOF) او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نړیوال معاونت ماموریت (UNAMA) کوي، د ملي لمړیتوبونو څلور پروګرامونه یې تایید کړي: فعال او اغیزمنه حکومتداري؛ اوبه او طبیعي سرچینې؛ د کرنې د محصولاتو او د مارکیټ هر اړخیزه ملي پراختیا؛ او په ملي کچه د انرژی برابرول. د کابل په 2012 کنفرانس کې، افغانستان نړیوالې ټولنې ته ژمنه ورکړې چې 22 ملي لمړیتوبونو پروګرامونو ته به پراختیا او بشپړ کړي چې د حکومتداري د ودې د پراختیا او ښه والي لپاره دي. د 2013 د مارچ تر 30 پورې، دوه پروګرامونه لا د تایید په تمه و: د فساد پر وړاندې، او قانون او عدالت د ټولو لپاره.[231]

## د کرزي د فرمان تطبیقول

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، کله چې د 2013 د جولای په 26 د فساد پر وړاندې د مبارزې 45 فرمان صادر شو، د افغانستان حکومت ورته د تطبیقولو لپاره ډیرې سرچینې ټاکلې دي. د ولسمشر د اداري چارو دفتر (OAA) راپور ورکوي چې د دې فرمان د 164 مادو له 91 تر 100% پورې په لمړیو دریو میاشتو کې بشپړې شوې. د دې لپاره چې د فرمان ماموریت بشپړ شوی وي، ځینو وزارتونو نا تمامه کارونه بشپړ کړل او اړیکي او ملګرتیا یې له نورو وزارتونو او د اداري چارو له دفتر سره ښې کړې. د فرمان له خپریدلو وروسته په لمړنیو څلورو میاشتو کې، د مرکزي حکومت استازو د ولایتونو او ولسوالیو مرکزونو ته سفر وکړ ترڅو د موکلینو اندیښنې واوري او کابینې ته یې راپور ورکړی.

د افغانستان د فساد پر وړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې (MEC) د مارچ په میاشت کې راپور خپور کړ او د اداري چارو دفتر د احصایې په اړه یې پوښتنه کړې. MEC لیکلي چې ډیری مادې طرزالعملي دي، او له تطبیق کوونکو ادارو څخه غواړي چې یو پلان وړاندې کړي یا یو راپور ورکړي، نه دا چې په حقیقت کې هغوی باید وړاندیز شوي نوښت تطبیق کړي. دې کمیټې ویلې چې پخپله د اداري چارو دفتر اشاره کړې چې نشي کولای چې له وزارتونو څخه ټول اخیستل شوي راپورونه تایید کړي. امنیتي اوضاع د دې دفتر د ارزونې ټیمونو ته دا اجازه نه ورکوي چې ټولو ولایتونو ته سفر وکړي او ارزونه ترسره کړي.[232]

# حکومتوالي

## ټولټاکنې

سره لدې چې ټولټاکنې په مخکې دي، پدې ربع کې پارلمان د ټولټاکنو په قانون کې هیڅ بدلون ندی راوړی. د قانون دوه مسودې اوس د دې ادارې سره دي، یو یې د وزیرانو شورا د اجرایي څانګې لخوا، او بل یې د همکارۍ د شورا لخوا، چې د مخالفینو او نورو سیاسي رهبرانو یوه سسته اتحادیه ده وړاندې شوی. دا دوه وړاندیزونه باید سره همغږې شي ترڅو د ټولټاکنو د شکایتونو او د پارلمان د چوکیو د شمېرې طرزالعملونه واضح شي. که د ټولټاکنو د قانون بدلونونه تایید شي، دا بدلونونه باید د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون (IEC) له اصلاح شوي جوړښت سره برابر شي، چې په قانون باندې یې پارلمان خبرې کوي.[233]



د افغانستان د خپلواک کمیسیون **کارکوونکي** د ټولټاکنو زاړه مواد د له منځه وړلو لپاره راټولوي، دا د 2014 د ولسمشرۍ او ولایتي شورا د ټولټاکنو د چمتووالي لپاره یو احتیاطي ګام دی. (د UNDP عکس)

## د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون

پدې ربع کې، د افغانستان حکومت د ټولټاکنو د یوه څواکمن سیستم د جوړولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړی. د جنوری په 23، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون ویلې چې د کاغذ پر اساس د رای ورکونکو د ثبتولو پروسه به د 2014 د اپریل د ولسمشرۍ او ولایتي شورا د ټولټاکنو لپاره د 2013 په اپریل کې پیل شي. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون پلان لري چې له 2.5 میلیونو څخه تر 3.5 میلیونو د رای ورکونکو نوي کارتونه توزیع کړي، دا کمیسیون وایي چې دا به د رای ورکونکو شمېره ډېره کړي او د رای ورکولو د تقلب مخه به ونیسي. نوي کارتونه به هغو احتمالي رای ورکونکو ته چې د 2011 له ټولټاکنو څخه د 18 کلنو عمر ته رسیدلي، هغو کسانو ته چې په تیر کې یې څانونه ندي ثبت کړي، هغو کسانو ته چې زاړه کارتونه یې ورک شوي یا یې د ټولټاکنو خپلې حوزې ته بدلون ورکړی، هغو کسانو ته چې له بهر څخه بیرته افغانستان ته راغلي، او هغو کسانو ته چې کارتونه یې ډېر خراب شوي ورکړي.[234]

د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د نوي کارتونو د ثبتولو د پروګرام ټول لګښت له $15 تر $20 میلیونو امریکایي ډالرو اټکل کړی. کمیسیون ادعا کوي چې د ثبت د پروسې د تر سره کولو لپاره له وړاندې فنډ او تخنیکي ظرفیت ته اړتیا لري.[235]

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټولټاکنو بنسټ وویل چې د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون پلان به هغه وخت کار وکړي چې د ټولټاکنو چارواکي او کارکونکي په مناسبه توګه روزل شوي وي تر څو د پیژندنې جعلي کارتونه وپیژني او د انفرادي کسانو مخه ونیسي چې دوه ځلې رای ورنکړي.[236] رای ورکونکي اجازه لري چې له خپلو زړو کارتونو څخه کار واخلي، او د کابل د یوه تلویزیون په پروګرام کې د کمیسیون ریس وویل چې دا اداره به ونشي کولای چې جعلي کارتونه وپیژني ځکه چې کمیسیون د زړو کارتونو د ثبت معلومات نلري.[237]

د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون په وینا، نوي کاغذي کارتونه به یوواړې په هغو ځایونو کې وویشل شي چې د پیژندلو بریښنایي کارتونه چې "اې-تذکره" ورته ویل کیږي نه وي توزیع شوي، په تیرو ربعونو کې، د اې-تذکرې د سیستم د پروسې، طرزالعملونو، او تخنیکي اړخونو تاسیسول له خنډونو سره مخه شوي و. په پایله کې، د جنوری په 31، ولسمشر کرزي یو فرمان صادر کړ او د کورنیو چارو وزارت (MOI)، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره (IDLG)، او د احصایې مرکزي ریاست (CSO) ته یې دنده ورکړه چې د 2013 د مارچ تر 21 پورې د بریښنایي کارتونو توزیع پیل کړي.

د 2013 په فبروری کې، د کورنیو چارو وزارت په ټول هیواد کې د ثبت د 401 ټیمونو د تاسیس لپاره د کارکونکو په استخدامولو پیل کړل چې له وګړو څخه د اړینو شخصي معلوماتو په را ټولولو پیل وکړي ترڅو د پېژندنې بریښنایي کارتونه جوړ کړي. د مارچ په 23، د کورنیو چارو وزارت د کابل په ولایت کې یې د اي-تذکرې د ثبتولو هڅه پیل کړه. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون بیا وروسته اعلان وکړ چې دا به د رای ورکونکو ثبتول د مې تر 26 پورې وځنډوي ترڅو فعالیتونه د اي تذکرې له تطبیقولو سره همغږې کړي او د کارتونو امنیتي ځانګړتیاوې ښه کړي. د ملګرو ملتونو په وینا، د اي تذکرې موخه دا ده چې د 2014 د مارچ تر 14 پورې د پېژندنې 14 میلیونه کارتونه توزیع کړي.[238]

د ربع په پای کې، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د عملیاتو یو هر اړخیز پلان چمتو کاوو چې د رای ورکولو پر طرزالعملونو، عامه پوهاوي، د رای ورکولو په اړه روزنه، د تقلب د مخنیوی طرزالعملونه، او د رای ورکولو د مرکزونو لپاره امنیت باندې به کار وکړي.[239]

## د ټولټاکنو امنیت

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، پدې ربع کې، د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د افغانستان امنیتي ځواکونو ته د رای ورکولو د مرکزونو لست تیار کړ او سپارښتنه یې وکړه چې د 2013 د دوبې تر پایه دې امنیتي ارزونه بشپړه کړي.[240] د امریکا د دفاع وزارت کتلې چې د ټولټاکنو د کمیسیون، د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو او د نړیوالو ادارو تر منځ د پلان کولو پروسه ځنډنی پر مخ ځي. آیساف د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو سره د هغوی د ټولټاکنو د امنیت په پلان کولو کې مرسته کوي او د ټولټاکنو په وخت کې به امنیتي مرسته برابره کړي. د آیساف دا ملاتړ به تر ډیرې کچې د لوژستیکي، استخباراتو او لارو پرانیستلو په برخو کې وي. آیساف به د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته بیړنی امنیتي مرسته هم برابره کړي که ورته اړتیا وي. د امریکا دفاع وزارت اټکل کړی سره لدې چې د امریکا د ځواکونو شمیره ټیټیږي، امریکایي ځواکونه کولای شي د 2014 په ټولټاکنو کې که څه هم بې امنیتی را منځ ته شي مناسب امنیتي ملاتړ برابر کړي.[241]

## د USAID د ټولټاکنو ملاتړ

USAID د امریکا د هڅو مشري کوي ترڅو د افغانانو اړین ظرفیت ته پراختیا ورکړي ترڅو بریالی ټولټاکنې ترسره کړي. له 2009 څخه تر 2013 پورې، USAID د افغانستان د ټولټاکنو د چمتووالې لپاره 179$ میلیونه امریکایي ډالر برابر کړي دي. USAID به خپله بودجه او پروګرامونه ډیر کړي ترڅو د 2014 د ولسمشری او ولایتي شوراګانو ټولټاکنې، او د 2015 پارلماني ټولټاکنې تر پوښښ لاندې راوړي. په مرسته کې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د عملیاتي پلان د اړینو برخو لپاره دمتخصصینو مشوره او روزنه شامل ده. د USAID له فنډ څخه په کار اخیستنې، پدې ربع کې د ټولټاکنو د سیستمونو نړیوال بنسټ د تقلب د کمولو ارزونه ترسره کړه چې دا به د ټولټاکنو له خپلواک کمیسیون او UNDP سره د هغوی د تقلب پر وړاندې هڅو کې مرسته وکړي. ملي دیموکراتیک انستیتوت له سیاسي ګوندونو او ایتلافونو سره خپلو کارونو ته دوام ورکړ، پشمول د ځانګړو روزنو چې څنګه غړې استخدام او غونډ کړي.[242]

پر دې برسیره، USAID له نړیوالې دیموکراسي څخه یې ملاتړ وکړ چې د مدني ټولنو له سازمانونو او د پارلمان له غړو سره یې څلور لمړنی غونډې تر سره کړي چې د ټولټاکنو په قانون کې اندیښنې وپیژني او پارلمان ته د قانون د ښه کیدو لپاره سپارښتنې برابرې کړي.

پر دې برسېره، د USAID د ټولټآکنو او سیاسي پروسې ټیم په ټول هیواد کې د عامه پوهاوی هڅه پیل کړې ترڅو د ټولټاکنو له برخه اخیستونکو سره اړیکه ونیسې. دې ټیم تر اوسه پورې مزار شریف، جلال آباد، کندهار، پکتیکا، پکتیا، او هلمند ته سفرونه کړي دي.[243]

## ملي شورا

د 2013 د جنوری له 20 څخه د مارچ تر 2 پورې پارلمان رخصت و. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، پارلمان نوې دوره د اداري هیت له ټولټاکنو سره پیل کړه او په بل ربع کې به د ټولټاکنو او کانونو پر قوانینو باندې کار وکړي.[244]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت وویل چې د افغانستان ملي شورا که څه هم ځنډنی ده خو مخ پر ډېریدو ظرفیت او سیاسي وده یې ښودلې ده. د 2012 له جولای څخه د 2013 تر جنوری په دوره کې، پارلمان وروستی بودجه تایید کړې او له وزیرانو څخه یې د هغوی د ناکامی په اړه چې بودجه یې په مناسبه توګه نده تطبیق کړې سوالونه کړې. اوس هم مقننه څانګه د اجرایي څانګې په پرتله کمزورې ده، مګر داسې ښکاري چې د پارلمان غړي هڅه کوي تر څو خپل لاسونه څواکمن کړي. مګر، د کارکونکو ستونزې، فساد، او ټیټه روزنه او تجربه اوس هم د دې اداري پر وړاندې ستونزې دي.[245]

د امریکا دفاع وزارت ویلي چې له ملي بودجې څخه د پارلمان نظارت، کله چې پارلمان ځو ځلې او په بریا سره د اجراییه څانګې د لګښتونو لمړیتوبونه پوښتلي، د دې اداري مخ پر وده یو ښه بیلګه ده. پارلمان د "پیسو کم څواک" لري: د افغانستان اساسي قانون یوازې دا اجازه ورتهورکوي ترڅو د اجراییه څانګې د بودجې وړاندیز یا ومني یا یې رد کړي. مګر پارلمان له هغه څواک څخه چې لري یې کار اخیستی ترڅو اجراییه څانګه اړ باسې چې د لګښتونو پر پلانونو باندې جوړه وکړي. پارلمان د روانو پروژو د ډېر نظارت غوښتنه هم کړې، او اوس په منظمه توګه د بودجې د چمتو کولو او د کارونو د نویو معلوماتو لپاره د مالیې وزارت چارواکي را غواړي.[246]

## د ملکي خدماتو ظرفیت

پدې ربع کې، ملګرو ملتونو او نړیوال بانک ژمنه کړې چې خپل معاشونه د حکومت کارکونکو ته چې د دوی له فنډ څخه ورکول کیږي د حکومت د ملي تخنیکي مرستو د معاشونو له کچې سره برابر کړي. پر نړیوالو ډونرانو باندې انتقاد شوی چې دویمه ملکي اداره یې تاسیس کړې چیرته چې هغه افغانان چې په مستقیمه توګه حکومت ته کار کوي یا د قراردادیانو په توګه له ډونرانو څخه ملاتړ معاش تر لاسه کوي د معاش کچه یې تر ملکي خدماتو 11 برابره ډېره ده. د معاشونو دا کچه د ډونرانو له دوامدارو ډېرو مالي مرستو څخه پرته نشي ساتل کیدای. د حکومت د معاشونو له کچې سره معاشونه برابرول به له 6,000 تر 7,000 کارکونکو باندې په راتلونکو دوو تر دریو کلونو پورې اغیز ولري.[247]

USAID ویلي چې پر امنیتي ننګونو او د روزل شویو او با تجربه کاندیدانو پر کموالي برسیره یې د ملکي خدماتو له کمیسیون سره د خالي بستونو په ډکولو کې مرسته کړې. USAID د کمیسیون د کارونو له نندارتونونو سره په اوو ولایتونو کې مرسته کړې چې وتوانیدل 1,096 ملکي کارکونکي استخدام کړي (64 ښځینه او 1,032 نارینه). کمیسیون د نا امنو ولایتونو په ګاونډیو ساحو کې هم بستونه اعلانوي ترڅو د مجربو کاندیدانو شمیره زیاته کړي. د ولسمشر کرزي د فساد پر وړاندې د ګامونو پر اساس، د ولسمشری 45 فرمان، د نویو ملکي کارکونکو ډېری شمیره به د ټول هیوا په کچه په یوه آزموینه کې چې په کابل

# حکومتولي

کې اخیستل کیږي استخدام شي.[248] د ملکي کارکونکو لپاره د اهلیت پر اساس د استخدام پروسه د ولایتونو د والیانو د معاونینو او ولسوالانو له استخداملو سره پیل شوه. د ملکي کارکوونکو عمومي آزموینه به د 2013 په نیمایي کې تر سره شي.[249]

## ملي بودجې جوړول

پدې ربع کې، د نړیوالې بودجې ملګرتیا، یوه ډله چې موخه یې دا ده ترڅو دا وګوري چې د حکومت بودجه د بې وزلو د اړتیاو پر وړاندې ځواب ویونکې ده، د خپلې خلاصې سروې پایله وړاندې کړې. د ملګرتیا سروې دا وموندله چې افغانستان د بودجې د اصلي اسنادونو د شفافیت، بشپړتیا، ګټور توب، او مهال ویش په برخو کې ډېر پرمختګونه کړي. لکه څنګه چې پدې عکس 3.34 کې لیدل کیږي، افغانستان په 2008 کې له 100 نمرو څخه اته او په 2012 کې له 100 څخه 59 ته پر مختګ کړی دی. له 100 هغو هیوادونو څخه چې سروې شوي، اوسط نمره یې 43 وه. راپور ویلي چې د افغانستان حکومت د بودجې د کال په وخت کې عامو خلکو ته د حکومت د ملي بودجې او مالي فعالیتونو په اړه محدوده اندازه معلومات ورکوي. د نړیوالې بودجې د ملګرتیا په وینا، دا کار وګړي له ننګونو سره مخامخ کوي ترڅو له حکومت څخه د عامه پیسو لپاره حساب واخلي.[250] راپور سپارښتنه کړې چې د افغانستان حکومت دې د خپلې بودجې د ښه کولو په برخه کې ګامونه واخلي، په شمول د:[251]

- د مقننه څانګې د بودجې د نظارت ځواکونه او مسولیتونه دې ښه کړي.
- د پلټل شوي حقیقي لګښتونو، او مایکرو اقتصادي اټکلونو او حقیقي پایلو د توپیرونو، غیر مالي معلوماتو، د فعالیت نښې، او هغه فنډونه چې د بې وزلو لپاره دي، لدغو برخو څخه په ګټې اخیستنې دې د کال د پای د راپورونو هر اړخیز والی زیات کړي.
- د عامه خلکو توان دې ډیر کړي ترڅو پوه شي، بوخت شي، او د بودجې د موضوعاتو په برخه کې د پریکړې اخیستلو د پروسې یوه برخه وي.

عکس 3.34

**د افغان بودیجې بهیر د کیفیت په اړه د سروې ارزونه، 2012–2008**
**(نمرې د 100 نه ورکړ شوې)**




یادونه: نمرې د سروې داسې پوښتنو په کارولو سره ورکړل شوي چې د بودیجې روڼوالی، جامعیت، ګټورتوب، او مهال ویش په اړه پوښتل شوي دي.
سرچینه: د بودیجې نړیواله ملګرتیا، "د بودیجې پرانیستی سروې"، 1/23/2013.

# حکومتوالي

## سیمه ایزه حکومتولي

د جنوری په 8، د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې ادارې د وړتیا د استخدام د پروسې پر اساس، 60 ولسوالان او 17 د ولایتونو معاونین وټاکل. د دې پروسې موخه دا ده چې د هغو فاسدو کارونو چې د تعیناتو پر پروسې اغیز لري مخه ونیسي. د 364 ولسوالیو د ولسوالانو له نیمی څخه ډېر او له 34 څخه د 32 ولایتونو معاونین د وړتیا پر اساس د غوره کولو له پروسې څخه تیر شوي. په وروستیو ټاکنو کې په هیواد کې لمړی ښځه د ثریا شکیب سادات ټاکنه د جوزجان ولایت د فیض آباد ولسوالۍ په توګه ده.[252]

## د افغانستان په جنوب کې د حکومت کنټرول

په جنوب کې ښه امنیت د دې سبب شوی چې د افغانستان حکومت د ښارونو ډېری مرکزونه وساتي، مګر د لرو پرتو سیمو د خلکو پر کنټرول باندې حکومت د یاغیانو له ډلو سره سیالي کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلې چې سیمه ایز اداري چارواکې د کابل له وزارتونو څخه ښه فعالیتونو ته اړتیا لري ترڅو خپل اغیز وساتي او پراخ کړي. سیمه ایز اداري کارکوونکي له تخنیکي پلوه ځواکمن دي، مګر تر ډېرې کچې د سیمه ایزو ارګانونو د ادارې لخوا بې اعتباره ملاتړ، او غیر منظم فنډ د هغوی کارونه له ننګونو سره مخ کړي.[253]

## د هلمند ولایت

د هلمند ولایتي بیا رغونې ټیم (PRT) او د ولسوالیو د ملاتړ ټیم (DST) د ولایت له نوې والي، محمد نعیم بلوچ، د ملي امنیت د ریاست (NDS) تورن جنرال سره یې خپلې کلکې ملګرتیا ته دوام ورکړی. د ولایتي بیا رغونې او د ولسوالی د ملاتړ ټیمونو د هلمند شمال خوا ته د والي د کارونو له خوځښت څخه ملاتړ کوي، او ځانګړی ټینګار یې د کجکي پر پروژې او له مخدره توکو سره پر مبارزې دی. دا هڅې د افغانستان په جنوب کې د امریکا ستراتیژیکي هڅې ځواکمنې کوي، ځکه چې د هلمند شمال لکه د هلمند مرکز په پرتله د امنیت، حکومتولی، یا پراختیا له پلوه پرمختګ ندی کړی.[254]

د هلمند په مرکز او جنوب کې، سیمه ایز چارواکي اغیز منه حکومتولي کوي، او د انګلستان د حکومت لخوا یې د بودجې پر اساس د فنډ مرسته تر سره کیږي. د نوزاد، کجکي، موسی کلا، باغران او واشیر د ولسوالیو مرکزونه د حکومت تر کنټرول لاندې دي، مګر د افغانستان حکومت او ملي امنیتي ځواکونه هڅه کوي ترڅو خپله ولکه لدې حکومتي جزیرو څخه پراخه کړي. د ولایت والي، د شورا غړي، او د اړوندو وزارتونو چارواکي کولای شي ګرمسیر، ناوه، مارجه، نادعلي، لشکر ګاه، او نهر سراج، او تر ډېرې کچې موسی کلا او سنګین ته د سړک له لارې سفر وکړي. چارواکو ځینې وختونه کجکي، خان نشین، او نو زاد ته د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو له کاروان سره په موټر کې سفر کړی، مګر ډېری وختونه د آیساف لخوا د هلیکوپټر په مرسته سفر کوي.[255]

## د کندهار ولایت

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په دوامداره توګه داسې شواهد ګوري چې د افغانستان حکومت خپل ظرفیتونه ښه کوي ترڅو په ټول کندهار کې، او په ځانګړې توګه لکه څنګه چې په مهمو ولسوالیو کې امنیتي لاسته راوړنې لري حکومت وکړي. مګر، د طالبانو پټې حکومتي ادارې په هغو ساحو کې چې حکومت نشته لکه غورک، شوراوک، میانشین، او خاکریز ولسوالیو کې غیر رسمي کنټرول لري.[256]

# حکومتولي

مخ پر ښه کېدو امنیت د حکومت د چارواکو د سفر کولو توان ډېر کړی دی. د ولایت والي په ډېرو ولسوالیو کې په آزاده توګه سفر کوي. د 2013 د مارچ په 24 د ولایت ډېرو چارواکو د نوروز یا بزګر ورځ په خاکریز که ولمانځله، دا په ولایت کې یوه لرې پرته سیمه ده. په تیرو کلونو کې، هغوی مجبوره و چې د کندهار په یوه با امنه سیمه کې لمانځنه تر سره کړي. مګر د ګمان پر اساس د امنیتي خطرونو له کبله، د ټاکل شویو ولسوالیو پر ځای، د ولسوالیو ډېر چارواکي تر اوسه د کندهار په ښار کې ژوند کوي.[257]

## د افغانستان په ختیځ کې د حکومت کنترول

د پکتیا، پکتیکا، او خوست ختیځ ولایتونه اوس هم له بې امنیتی او د مرکزي حکومت له نا مناسب ملاتړ څخه اغیزمن دي. پردې برسیره، د سیمه ایز حکومت چارواکي ډېری وختونه نشي کولای مناسب خدمات وړاندې کړي یا له خپلو موکلینو سره اړیکې پراخې کړي.

د دې ولایتونو په لرو پرتو ولسوالیو کې، په ځانګړې توګه له پاکستان سره په ختیځ او جنوبې سرحدونو کې محدوده حکومتولي شتون لري. د افغانستان چارواکو لپاره ځینې ځایونه ډېر نا امنه دي چې وکولای شي هلته ژوند وکړي او په نورو ځایونو کې چارواکي ګمارل شوي ندي.[258]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د دې لپاره چې ځینې دا ستونزې حل شي، ولایتي حکومتونه تر ډېرې کچې دا توان لري چې پراختیا وهڅوې او د امنیتي خدمتونو سره کارونه همغږې کړي ترڅو ولایتي حکومتونه د سیمه ایزو خلکو سره اړیکې ونیسي. کله چې د افغانستان په ختیځ کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه د یاغیانو پر وړاندې برى تر لاسه کوي، هغوی بیا هڅه کوي تر څو د اوسیدونکو او سیمه ایز حکومت ترمنځ غونډې همغږې کړي.[259]

په پکتیکا کې، له پاکستان سره په ختیځ او جنوبې سرحدونو کې څو ولسوالی او نورې لرې پرتې سیمې د حکومت لږ اغیز لري. د لرې پرته نکه ولسوالی، ولسوال نلرې، او نور ولسوالان له خپلو ولسوالیو د باندې د پکتیکا په مرکز شرنه کې ژوند کوي. د افغانستان حکومت نه په شرنه او نه په ارګون کې فعاله اداري حکومتولي تر سره کوي، او د سروبې، متیه خان، جاني خیل، او سرحوزې په سیمو کې محدود اغیز لري.[260]

پدې ولایتونو کې د ولایت او ولسوالی بیا رغونې ټیمونه پدې وروستیو وختونو کې د عامو افغانانو او د اردو د مشرانو تر منځ د اړیکو د رامنځ ته کولو لپاره هڅې او د عامه پوهاوی یو کمپاین پیل کړی. دا هڅې له 2001 څخه د افغانستان پر پرمختګ او د سپارلو د دورې لپاره د حکومت پر چمتوالې باندې ټینګار کوي. په مارچ کې، د خوست والي د ولایتي شورا، د ولایت د سولې شورا، د حکومت د اړوندو وزارتونو ریسانو، د ښځو د حقونو ملاتړ کونکو، قومي مشرانو، او په ختیځ کې د امریکا د سیمه ایزې قوماندانی د لوړ پوړو ملکي استازو تر منځ د ښار په سالون کې یوه غونډه جوړه کړه. پدې ربع کې، د پکتیکا د ولایتي بیا رغونې ټیم د لمړې ځل لپاره له ولایتي حکومت سره مرسته وکړه ترڅو د افغانستان د 2014 ملي بودجې لپاره خپل لمړنې وړاندیزونه تیار کړي. د بودجې وړاندیز پر وخت وړاندې شو، چې دا به له ولایت سره مرسته وکړي ترڅو د وزارتونو د تخصیص د کچې له پریکړو وروسته، له مرکزي حکومت څخه فنډ تر لا سه کړي.[261]

## د امریکا د ثبات پروګرامونه

### په مهمو ځایونه کې د USAID د ثبات پروګرام

په مهمو ځایونو کې د USAID د ثبات (SIKA) پروګرام موخه دا ده ترڅو د افغانستان د حکومت د ظرفیت د لوړولو له لارې د عامو خلکو داډ نور هم ډیر کړي ترڅو حکومت د ولسوالی په کچه په اغیزمنه توګه کار وکړي، خلکو ته تمه کیدونکي خدمات ورسوي او د خلکو ستونزې حل کړي. دا پروګرام څلور برخې لري: SIKA لویدیځ، ختیځ، شمال او جنوب.

پدې ربع کې، USAID د دې پروګرام لپاره نږدې $81.6 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي، چې لدې څخه $46.8 میلیونه امریکایي ډالر مصرف شوي دي. د SIKA ټوله اټکل شوې بودجه $203.2 میلیونه امریکایي ډالر ده. دا پروژه د ولایت او ولسوالیو له بنسټونه سره مرسته کوي ترڅو د بې ثباتی ستونزې حل کړي او د مخنیوی ګامونه ترسره کړي. د بیلګې په توګه، SIKA لویدیځ په فبروری کې د 30 ولسوالیو د ثبات کمیټو د غړو او نورو تر منځ غونډه جوړه کړه. برخه اخیستونکو ویلي چې د کاري فرصتونو نشتون د سیمه ایزې بې ثباتی سرچینه ده. د نورو وړاندیزونو په منځ کې، هغوی دا نظر ورکړ چې حکومت دې د اوبو لګلولو سیستم بیا ورغوي او د نارینه او ښځو لپاره دې د سواد زده کړې کورسونه برابر کړي، لکه څنګه چې پدې جدول 3.8.[262] کې ښودل شوي، سیګار اوس د SIKA پر پروګرام بیا کتنه کوي.

جدول 3.8

| SIKA-لویدیځ DSC غونډه د ولایتي بې ثباتي پیژندنه | | |
|---|---|---|
| **سرچینې او بې ثباتي** | **اساسي علتونه** | **اصلاحي فعالیتونه** |
| • بې وزلي او د کاري فرصتونو نشتون | • د کرنې سکتور لپاره د حکومت ملاتړ نشتون<br>• د کرنې محصولاتو لپاره د بازار نشتون<br>• د زده کړې مناسب سیستم نشتون<br>• د بې ثباتی بهرنی اغیزې | • د پراختیایي پروژو له لارې کاري فرصتونو برابرول<br>• د اوبو لګولو د سیستم بیا رغونه<br>• د نارینه او ښځو لپاره د سواد زده کړې کورسونو په لارې اچول<br>• د کرنې محصولاتو لپاره بازارموندنه<br>• د افغانستان حکومت به سرحدي پولیس ښه کړي او روزنه ورکړي |

سرچینه: USAID، په مهمو ساحو کې ثبات (SIKA)-لویدیځ میاشتنی راپور، 2013.

## د کلي د ثبات عملیات

د امریکا په مشرۍ او د آیساف او افغانستان لخوا ملاتړ شوی د کلي د ثبات عملیات (VSO) او د افغانستان د سیمه ایزو پولیسو (ALP) پروګرامونه د ځانګړو عملیاتونو ګډ کاري ځواک – افغانستان د یاغیانو پر وړاندې ستراتیژۍ تکمیلي عناصر دي. VSO او ALP یو ځای کار کوي او له سیمه ایزو پولیسو څخه کار اخلي چې سیمه ایز خلک خپل امنیت پخپله وساتي ترڅو د کلي د ثبات عملیات وکولای شي د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي چې خپل شتون او اغیز دې ځایونو ته وغزوي.

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د افغانستان حکومت په هغو ولسوالیو کې چې د کلي د ثبات پروګرام شتون لري ډیر فعاله، ځواب ورکونکی، او له خلکو سره نږدې اړیکې لري.

د کلیو د ثبات له عملیاتو سره دې ولسوالیو د خپل حکومت 90% بستونه ډک کړي دي، چې دا په افغانستان کې له یوه عادي ولسوالی څخه ډېره اندازه ده. ټولنیزې پراختیایي شوراګانې، چې د حکومت او عامو خلکو د اړیکو د زیاتولو لپاره جوړې شوي، د کلیو د ثبات د عملیاتو په ولسوالیو کې یې ډېر خلک حاضر شوي او برخه اخیستې.[263]

ډیری ولایتي او د ولسوالیو حکومتونه د افغانستان د سیمه ایزو پولیسو ملاتړ کوي او ډیری وختونه د پروګرام د پراختیا غوښتنه کوي، ترڅو هغوی وکولای شي په ښه توګه اړین خدمات او توکي برابر کړي. په پیل کې ولسمشر کرزي د کلي د ثبات د عملیاتو او د افغانستان د سیمه ایزو پولیسو په اړه ډاډه نه و، مګر پدې وروستیو کې یې د افغانستان د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته هدایت ورکړی ترڅو دا پروګرام د بدخشان او نورستان په ولایتونو کې، په ځانګړې توګه د وردوج او کامدیش په ولسوالیو کې پلې کړي. د امریکا دفاع وزارت ویلې چې په تکتیکي کچه به پدې ځایونو کې د کلي د ثبات عملیاتو او د سیمه ایزو پولیسو دا پروګرامونه په بشپړه توګه له آیساف څخه پرته پیل شي.[264]

## د امریکا د عامه ادارو د ظرفیت لوړولو پروګرام

د افغانستان د بشري قوا پراختیا د امریکا د بیا رغونو د هڅو یوه مهمه موخه ده. امریکا څو پروګرامونه تطبیقوي ترڅو د افغانستان د ملي، ولایتي او سیمه ایزې حکومتدارۍ ظرفیت ته وده ورکړي. دا لاندنۍ برخه دې ځینو هڅو ته کتنه کوي.

## د افغانستان مدني ټولنې د پراختیا نوښت

د USAID د افغانستان د مدني ټولنې د پراختیا نوښت (I-PACS)، په افغانستان کې د فعالې سیاسي مدني تولنې پراختیا هڅوي. د دې پروګرام له لارې، USAID په ټول هیواد کې د مدني ټولنو سازمانونو ته تخنیکي مرستې، د ظرفیت لوړول او فنډونه برابروي. په 2013 مالي کال کې، I-PACS د دې مرستو د ملاتړ لپاره خپل فنډ $11.6 میلیونه امریکایي ډالرو ته زیات کړ، چې $6.5 میلیونه امریکایي ډالر یې مصرف شوي. USAID دیموکراسی د اصولو اساسي خبرتیا او د هغوی ونډه په دیموکراتیک جوړښت کې د نشتون مسلې باندې د I-PACS له لارې کار کوي. په ورته توګه، USAID کار کوي ترڅو د افغانستان د حکومت په اړه د وګړو پوهه او ډاډ زیات کړي.[265]

## د فعالیت پر اساس د حکومتولی فنډ

د فعالیت پر اساس د حکومتولی فنډ د ولایتونو والیانو ته عملیاتي بودجه برابروي ترڅو له وګړو سره د هغوی اړیکو ته پراختیا ورکړي او د هغوی د اداره کولو هر اړخیز ظرفیت زیات کړي. د هر ولایت والي دفتر په اوسط ډول په هر کال کې له $200,000 تر $370,000 امریکایي ډالر ترلاسه کوي. هغه والیان چې ډېر فعالیت کوي ډېر فنډ تر لاسه کوي مګر هغه والیان چې کم فعالیت کوي لږ فنډ تر لاسه کوي.[266] دا پروګرام په هر دفتر کې سیمه ایز مشاروین هم استخداموي ترڅو مشوره او نظارت برابر کړي. د کارکونکو ټیمونه په هر ربع کې د دفترونو ارزونه کوي. کله چې دا فنډ په 2009 کې پیل شو، دفترونو خپلې بودجې مرکزي حکومت ته نه چمتو کولې او وړاندې کولې. د USAID په وینا، د محاسبې د اساسي طریقو پر اساس اوس ټول دفترونه له کښته و پورته ته په پلان کولو او د بودجې د جوړولو په پروسه کې کار کوي او دایې زده کړې دي چې فنډ اداره او ولګوي.[267]

## د USAID د RAMP-UP او د کابل د ښار نوښت

د USAID د افغانستان د سیمه ایزو ښاروالیو پروګرام د ښاري نفوسو لپاره (RAMP-UP) او د کابل د ښار نوښت (KCI) پروګرامونه د کابل په ښار او نورو ښاري مرکزونو کې د ښاروالیو له ادارو سره مرسته کوي ترڅو د ښاروالی د چارواکو ظرفیت زیات کړي، د ښاروالیو د خدماتو رسول ښه کړي، د اقتصادي ودې نوښت ملاتړ وکړي او عواید زیات کړي.[268]
د 2013 د مارچ تر 31، USAID له 210.1$ میلیونو امریکایي ډالرو څخه زیات د RAMP-UP لپاره او 41.4$ میلیونه امریکایي ډالر یې د KCI لپاره مکلف کړي دي.
USAID د دې پروګرامونو ځینې اړوندې لاسته راوړنې یادښت کړي:[269]

- KCI د عامه نظر خپله دریمه کلنی سروې بشپړه کړي او په کابل کې یې درې پارکونه او د خدماتو یو مرکز پرانیستی.
- RAMP-UP مرسته کړې چې د جامدو کثافاتو د اداره کولو سیستم د کندهار ښاروالی ته وسپارې، د ختیځ په 10 ښاروالیو کې یې د فعالیت پر اساس د بودجې د جوړولو سیستم پیل کړی، د شمال د نهو ولسوالیو د عوایدو په ډېرولو کې یې مرسته کړي، او د لویدیځ په څلورو ولسوالیو کې یې د مشورې بوردونه جوړ کړي.

د USAID په وینا، د RAMP-UP او KCI لخوا پیل شوي نوښتونه، لکه د جامدو کثافاتو ټولول، د عامه پوهاوي پروګرامونه، د ډونر سره همغږي، او د پارک ساتنه اوس د ښاروالیو د ادارو لخوا پخپلواکه توګه پرمخ وړل کیږي. کله چې پروګرامونو بشپړیدو ته نږدې کیږي د ښاروالی نور فعالیتونه به هم د ښاروالیو ادارو ته وسپارل شي. دې لپاره چې خپلو وګړو ته ډېر حساب ورکوونکي وي، څو ښاروالی، لکه د کابل، کندهار، او لشکر ګاه، پدې ورسیتو کې یې د وګړو د خدمتونو مرکزونه پرانیستې، لکه "د ټولو کارونو لپاره د یوه مرکز" په ټوګه د وګړو لپاره یو دفتر دی چې د ښاروالی معلومات را ټول کړي، د خدمتونو غوښتنه وکړي، او فیسونه او مالیه ورکړي. ورته مرکزونه به ډېر ژر په نورو ښاروالیو کې پرانیستل شي.[270]
USAID ویلې چې د RAMP-UP اصلي ننګونې دا دي چې د افغانستان له بیرو کراسي سره کار کوي، چیرته چې سیاسي او قومي جوړښتونه ډېر پیچلې دي. د افغانستان چارواکي ډېری وختونه د ډیرو بیلا بیلو ادارو خدمت کوي چې هغه بیا ډېری وختونه له یو بل سره مخالفت کوي. پردې برسیره، وروسته لدې چې دوه کاله ورانديې فنډ ډېر کم شو، ځینې افغان چارواکي له پروګرامونو څخه کم ملاتړ کوي. مګر، نور ښاروالان او د هغوی کارکوونکي لدې پروژو څخه اوس هم ملاتړ کوي.[271]
د افغانستان له پورته و ښکته ته د حکومت جوړښت د سیمه ایزو حکومتونو د بودجې جوړولو پر وړاندې یو خنډ دی. د مالیې وزارت اوس هم د ټولو ښاروالیو لپاره کلنی بودجې تایید وي، دا دې وزارت ته د بودجې د پریکړو په نیولو کې ډېر ځواک ورکوي. مګر، USAID ویلې چې ښاروالی اوس دا ځواک لري چې خپل عواید ټول کړي او لدې عوایدو څخه کار واخلي ترڅو خدمات وړاندې کړي پرته لدې چې دا عواید د مالیې وزارت ته وسپاري.
د مالیې وزارت او والیان دا صلاحیت نلري چې د ښاروالی پر بشپړې شوي بودجې باندې امضا وکړي.[272]

## د مطبوعاتو پراختیا

د USAID د افغانستان د مطبوعاتو پراختیا او توان ورکولو پروژه (AMDEP) هڅې کوي چې د تخنیکي ملاتړ، د تجهیزاتو نوي کول، مخامخ روزنه، او د سوداګرۍ د پراختیا له لارو

د سیمه ایزو خپلواکو مطبوعاتو ظرفیت لوړ کړي. د 2013 د مارچ تر 31 پورې، USAID د AMDEP لپاره $31.8 میلیونه امریکایي ډالر مکلف کړي دي.[273]

نی، د پروژې لپاره د افغانستان یو فرعي قراردادي، د افغانستان د ژورنالیستانو اوسنی اتحادیې د یوه چت تر لاندې یو ځای کړې دي: چې د افغانستان د ژورنالیستانو فیدراسیون دی. د USAID په وینا، دې یو ځای کیدلو د اتحادیو تر منځ ښو معلوماتو شریکولو او د حکومت له استازو سره ډیر منظمو خبرو اترو ته اجازه ورکړې. نی دا مرسته هم کړې چې د افغان ژورنالیستانو لپاره نظام نامه جوړه کړي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت (MOIC) او د افغانستان د ژورنالیستانو فیدراسیون به دا نظام نامه سیمه ایزې مشورې ته د معلوماتو راټولولو لپاره وړاندې کړي.[274]

انتر نیوز، یوه نړیواله موسسه چې AMDEP هم تطبیقوي، د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژی (MCIT) او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته د طیف په اداره کولو کې تخنیکي ملاتړ او مشوره برابروي ترڅو د افغانستان مطبوعات وکولای شي د ټیکنالوژی له پلوه پر مختللي نشرات وړاندې کړي. دې ملاتړ د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژی او د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارتونو تر منځ زیاتو اړیکو ته لار پرانیستې چې دې کار د معلوماتو او معلوماتي ټیکنالوژی، د طیف د ادارې او سپارل، د ملي سایبر د امنیت ستراتیژۍ، او لکه څنګه چې د افغانستان حکومت غواړي ډیجیتل تلویزیون ته خوځښت وکړي، د یوه قانون مسودې جوړولو ته اجازه ورکړې.[275]

انتر نیوز او نی د مطبوعاتو د عادلانه مقرراتو لپاره یو ځای کمپاین کوي. پدې ملاتړ کې د عامه اړیکو فعالیتونه، هڅول، او د مطبوعاتو د عملي سرچینو پراختیا، لکه حقوقي روزنه او مواد، د خبرونو یو اخبار، د ژورنالیستانو پر وړاندې د تاوتریخوالي معلوماتي بانک، او د مطبوعاتو لارښود شامل دی.[276] نی د عدلیې وزارت په هغې کمیټې کې چوکی لاسته راوړې چې د ټولو قوانینو، پشمول د مطبوعاتو قانون، معلوماتو د لاس رسي قانون، او د مطبوعاتو د قرارداد قانون ارزونو مسولیت لري. USAID ویلي چې دې ملګرتیا د یوه کاري ګروپ په جوړولو کې مرسته کړې چې مدني ټولنه او مطبوعاتو مشران پکې برخه لري ترڅو د معلوماتو د لاس رسي قانون کتنه وکړي او سپارښتنې وړاندې کړي.[277]

## د قضا اصلاح او د قانون حاکمیت

افغانستان د یوه مجرب او دوامداره قضا سیستم د تاسیسولو کې اوس هم د ستونزې سره مخ دی. د افغانستان د اعتبار نظارت موسسې په وینا، افغانستان د قضا په سیستم کې پراخ فساد د دې سبب شوی چې له 50% ډیر افغانان عنعنوي محکمو څخه چې د طالبانو لخوا اداره کیږي کار واخلي. بې امنیتی او د محکمو نشتون هم افغانان اړ باسي چې د ټولنیزو شوراګانو او عنعنوي طریقو په لټه کې شي تر څو عدالت تر لاسه کړي.[278] له ملي لمړیتوبونو پروګرامونو څخه یو هم چې د همغږی او نظارت ګډه کمیته نده توانیدلې بشپړ کړي د "قانون او عدالت د ټولو لپاره" ده.[279]

### د جنايي اجراتو قانون

پدې ربع کې، د افغانستان حکومت یو ځل بیا و نشو کړای چې یو نوی قانون تایید کړي. د 2010 د کابل په کنفرانس کې حکومت ژمنه وکړه چې د 2011 په پیل کې به نوی قانون نافذ کړي. د 2012 په جون کې د افغانستان د عدلیې وزارت تعدیل شوې مسوده پارلمان ته وړاندې کړه. د امریکا او د افغانستان د قضا متخصصین، او په نړیواله ټولنه کې نورو پر

مسودې نیوکې کړې، او ویلې چې دا د قانون د حاکمیت د یوه بریالي سیستم اساس نشي کیدلای. د دې ربع په پای کې، د پارلمان یوې کمیټې پر مسودې باندې بیا کار کاوو. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، امریکا لدې کمیټې سره د قانون د تعدیلونو او اصلاحاتو په برخو کې کار کوي.[280]

## د امریکا د قضا سکتور روزنه

پدې ربع کې، د قانون د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) د قضا سکتور د ملاتړ پروګرام (JSSP) د امریکايي قراردادي شرکت (PAE) څخه د روزنې د برخې مسولیت واخیست. دا د امریکا لخوا تمویل شوی او د IDLO لخوا اداره شوی پروګرام به د قضا د روزنې د سپارلو پروګرام (JTTP) په نوم یادیږي. دا بدلون څکه راغلی چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د نړیوالو مخدره توکو او د قانون د پلي کولو د چارو دفتر (INL) پریکړه وکړه چې د امنیت د سپارلو دوامداره پروسه دا معنی لري چې د قضا بریالی او دوامداره روزنه به د افغانستان د عدلیې وزارت لخوا د بهرنۍ خدمت په پرتله په ښه توګه تر سره شي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې افغانستان د IDLO د عامه نړیوال سازمان یو غړی دی. IDLO د قانون د حاکمیت په کار کې تخصص لري. پدې موخه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت پریکړه وکړه چې IDLO به تر یوه امریکايي قراردادي په ښه موقف کې وي چې د افغانستان له حکومت څخه اړین بنسټیز ملاتړ تر لاسه کړي ترڅو د افغانانو په مشرۍ د قضا سکتور روزنه تر سره کړي. JTTP به د څارنوالانو، مدافع وکیلانو، قاضیانو، او جنايي تحقیق کونکو د قانوني روزنې پروګرام په برخه خپلو کارونو ته دوام ورکړي، او د افغانستان د عدلیې وزارت به وکولای شي چې د 2014 په پای کې یې پخپله پر مخ یوسي. د 30 میاشتو قرارداد د $47.7 میلیونه امریکايي ډالرو لپاره دی.[281]

د JSSP ډیری فعالیتونه له پروګرام سره دوام مومي او هڅې یې د افغانستان د عدلیې وزارت لپاره د ظرفیت لوړول او تخنیکي مرستو برابرولو په برخو کې دي، د افغانستان د حکومت د ظرفیت لوړولو لپاره دي ترڅو جنايي قضیې تعقیب کړي، د قضیو د اداره کولو سیستم یوځای کول وهڅوي، او د قانون جوړونې د اصلاحاتو په برخه کې مرسته وکړي.[282]

## د مخدرو توکو پر وړاندې د قضا مرکز

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، په کابل کې د مخدره توکو پر وړاندې د قضا په مرکز (CNJC) کې تحقیق کونکي او څارنوالان تر ډیرې اندازې په لوړه کچه کارونه پر مخ وړي. هغه قضیې چې په CNJC کې محاکمه کیږي د افغانستان د مخدرو توکو پر وړاندې د قانون تر لاندې راځي. د قضا متخصصین چې په CNJC کې کار کوي په منظمه توګه د شواهدو د اندازې ارزونه کوي، د قضیې د جوړښت په اړه ستراتیژۍ طرح کوي، او اغیزمنه جنايي قضیې جوړوي. وروستی شته احصاییه ښیي چې د 2011 له اپریل څخه د 2012 تر مارچ پورې، د CNJC په ابتداییه محکمه کې د بندی کولو کچه 97% و. پدغه موده کې، 44 افغان حکومتي چارواکي د مخدرو توکو په جرمونو بندي شوې.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د CNJC د محکمې پروسه له فساد څخه کمه اغیزمنه شوې او د قضا د سکتور په پرتله ډیره فعاله، عادلانه، او رڼه ده. د بیلګې په توګه، په فبرورۍ کې، د CNJC ابتدايي محکمې، حاجي لعل جان، بندي کړ، د امریکا لخوا نومول شوی د مخدرو توکو ستر قاچاقبر، هغه څوک چې د افغانستان د چارواکو لخوا له خپلو دوو

### د سیګار پلټنه

سیګار د JSSP یوه پلټنه تر سره کوي. سیګار دا پلان هم لري چې په افغانستان کې د امریکا د دفاع وزارت د قانون حاکمیت ساحوې څواک او د USAID د قانون د حاکمیت ثبات پروګرام ارزونه وکړي، چې دا دواړه غواړي د قضا کارکونکي وروزي. پلان شوې پلټنه د دې راپور د 2 برخې په 35 پاڼه کې تشریح شوې.

ملګرو سره د مخدرو توکو په قاچاق کې نیول شوی. ټولو درېو ته د 20 کلونو لپاره د بند جزا ورکړ شوه. که څه هم لعل جان له سیاسي لوړ پوړو سره قومي او سیاسي اړیکي لري، مګر هغه بیا هم ونیول شو او بندي شو.[283]

INL $31 میلیونه امریکایي ډالر لګولي ترڅو په کابل کې د CNJC د تاسیساتو د ودانولو، عملیاتو او ساتنې ملاتړ وکړي. INL $18.8 میلیونه امریکایي اضافي ډالر د امریکا د عدلیې وزارت (DOJ) د هغو پروګرامونو لپاره وسپارل چې د استادی، روزنې، او مشورې خدمتونه پر مخ وړي، چې ډیرى برخه یې د افغانستان د جنایي عدالت د وظیفوي ځواک پولیسو، څارنوالانو او قاضیانو ته ځي، هغه کسان چې په CNJC کې کار کوي.[284] د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د CNJC دوام مستقیماً د افغانستان د حکومت پر توان پورې اړه لري چې مرکز په بودجې کې راوړي، اوس په بهرنی بودجې که دی. INL له خپلو اړوندو ادارو او نړیوالو شریکانو سره همغږي کوي ترڅو دې بدلون ته د رسیدلو لپاره یوه پروسه جوړه کړي. د دې لپاره چې د کورنیو چارو وزارت ته په بریا وسپارل شي، INL، د امریکا د عدلیې وزارت او د انګلستان سفارت کار کوي ترڅو عملیاتي لګښتونه کم کړي او داسي ګامونه اخلي چې تاسیسات د بریښنا سیمه ایزې شبکې سره ونښلوي. پردې برسیره، د دې لپاره چې د CNJC عملیات دوام ومومي، له سترې محکمې، د لوی څارنوال له دفتر (AGO)، او له کورنیو چارو وزارت څخه د قضا متخصصین په CNJC کې د پولیسو، څارنوالانو، او قاضیانو د تخصصي پرمختګ نظارت کوي.[285]

## د توقیف د مرکز سپارل

د ژورو او لوړو پوړونو خبرو څو لړی، پشمول د 2013 په جنوری کې امریکا ته د ولسمشر کرزي د سفر په وخت د ولسمشرانو اوباما او کرزي ترمنځ یوه غونډه، په پایله کې یوه موافقه تر سره شوه چې په پروان کې د امریکا د توقیف تاسیسات د افغانستان حکومت کنترول ته وسپارل شي. په پروان کې د توقیف تاسیسات د افغانستان حکومت تر کنترول لاندې. د 2013 د مارچ په 25، امریکا او افغانستان د تفاهم یو یادښت باندې لاسلیک وکړ چې د ټولو افغان توقیف شویو کارونه به افغانستان ته وسپارل شي. د سپارلو غونډه په هغه ورځ تر سره شوه. د افغانستان چارواکو په پروان کې د دې تاسیساتو نوم د افغانستان د ملي توقیف د تاسیساتو په نوم بدل کړ.

له سپارلو وروسته، ټول توقیف شوي د افغانستان تر پاملرنې او کنترول لاندې دي. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د افغانستان او امریکا تر منځ د توقیف شویو د سپارلو په اړه خبرې ښه پرمخ تللي دي. د افغانستان د ارزونې بورد، چې یوولس افغانان به وي، اوس به د سپارلو سپارښتنې کوي. افغانانو ژمنه کړې چې هغه توقیف شوي چې د امریکا لخوا د دایمي امنیت لپاره تهدید په نښه شوي وساتي. د افغانستان د حکومت لخوا له توقیف شویو سره د چلند په اړه هم ډیرې اندیښنې شتون لري، لکه څنګه چې د دې برخې د بشري حقونو برخه کې ور باندې خبرې شوي.[286] امریکا به د افغانستان د ملي اردو د توقیف خانو د عملیاتو قوماندانی تمویلولو ته دوام ورکړي او د امنیتي ځواک له مرستو به کار واخلي ترڅو روزنه، مشوره او مرستې برابرې کړي. د دې ربع په پای کې، امریکا د پروان او څرخي پله د تاسیساتو د ودانولو لپاره له$250 میلیونه امریکایي ډالرو څخه ډیر ورکړي دي. امریکا ژمنه کړې چې $39 میلیونه امریکایي اضافې ډالر به د پروان د توقیف تاسیساتو د ملاتړ لپاره برابر کړي.[287]

# حکومتوالي

## د فساد پر وړاندې

پدې ربع کې، د ملګرو ملتونو د مخدرو توکو او جرمونو دفتر (UNODC) او د فساد پر وړاندې د افغانستان د نظارت عالي اداري (HOO) يوه سروې خپره کړې چې د افغانستان په حکومت او پراخ اقتصاد کې يې د فساد پر خطر او پراخوالي باندې ډېر ټينګار کړی. په 2012 کې، له سروې شويو څخه نيم افغانانو راپور ورکړی چې د عامه خدمتونو د غوښتنې لپاره يې رشوت ورکړی. عامه چارواکو ته د ورکړ شوي رشوت ټول لګښت 3.9$ ميلیارده امريکايي ډالرو ته رسيږي. که دا سمه وي، دا شميره به د افغانستان له کورنيو عوايد څخه چې 2.4$ ميليارده امريکايي ډالر دي بيخې ډېره وي. د UNODC د 2009 د سروې پر اساس په حقيقت کې د 40% زياتوالې استازيتوب کوي. په 2009 کې، هغو افغانانو چې رشوت ورکړی ويلي چې هغوی په اوسط ډول په هر کال کې 4.7 رشوتونه ورکړي. په 2012 کې، هغو افغانانو چې رشوت ورکړی ويلي چې پدغه کال کې يې په اوسط ډول 5.6 رشوتونه ورکړي. له 2009 څخه، د يوه رشوت اوسط لګښت 29% ته له 158$ امريکايي ډالرو څخه 214$ امريکايي ډالرو ته زيات شوی دی. په روزنه کې، هغو کسانو شميره چې ښوونکي ته يې د رشوت ورکولو راپور ورکړی له 16% په 2009 کې 51% په 2012 کې زيات شوی.[288]

## د افغانستان د لوی څارنوال دفتر

سياسي کمه اراده او د مناسبو سرچينو نشتون د افغانستان د لوی څارنوال په دفتر کې د فساد پر وړاندې د اداري (ACU) توان اوس هم ډېر محدود کړی ترڅو د لوړ پوړو چارواکو يا د هغو انفرادي کسانو چې ښې اړيکي لري تحقيق وکړي او محاکمه کړي. پدې ربع کې MEC راپور ورکړی چې د افغانستان د لوی څارنوال دفتر هغه نوښتونه چې MEC پخپلو سپارښتنو کې په نښه کړي هغو ته يې لمړيتوب ندی ورکړی، او دغه وجه ده چې اوس هم ډېر فساد شتون لري.[289] په تير ربع کې، د فساد پر وړاندې د اداري ريس وروسته له هغه چې څارنوالانو هغه ته الکهول ورکړل او بيايې ورڅخه فلم واخيست چې د لوی څارنوال په اړه يې نا سمې خبرې کولې له دندې ګوښه شو. د امريکا د عدليې وزارت له نوي ريس سره د مثبتو اړيکو راپور ورکړی دی. مګر، د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې اوس هم وختې دی تر څو دا وويل شي چې په رهبری کې بدلون به د فساد پر وړاندې د ډېرو محکمه کولو سبب شي. INL او د امريکا د عدليې وزارت غواړي چې د فساد پر وړاندې اداره کې د څارنوالانو روزنې ته دوام ورکړي، مګر د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د فساد پر وړاندې اداره او د لوی څارنوال په دفتر کې په عمومي توګه به د څارنوالانو اساسي خپلواکي او د قضيو په اداره کولو کې فساد به په راتلونکي کې هم ستونزه وي.[290]

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ليدلي چې د فساد پر وړاندې اداره د کابل بانک په قضيه کې د 21 تورنو کسانو محاکمه کول تر سره کړي. د مارچ په 5، د بانک د قضيې ځانګړې محکمې دواړه د بانک موسس او پخواني عمومي ريس د باور ماتولو لپاره بندي کړل. دا کسان د پنځو کلنو لپاره بندي شول او ورته وويل شول چې ټول 808$ ميليونه امريکايي ډالر بيرته راوړي. محکمې ونشو کړای چې د نورو ډېرو مهمو جرمونو لکه د پيسو مينځل، تقلب، او جعلي کارونو په اړوند د جرم حکم صادر کړي، چې دې به تر 20 کلنو د بند جزا درلوده او دا حکم به يې کړی وای چې د هغوی شتمني ضبط شي. د مارچ په 16، د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د لمړني حکم پر وړاندې د استيناف غوښتنه وکړه ځکه چې دې حکم ونشو کړای چې په مناسبه توګه شواهد په پام کې ونيسي چې کيدای شول د بانک دوه لوړ

پوړې چارواکي د ډېرو مهمو جرمونو په اړوند محاکمه شي. دا روښانه نده چې د استيناف کومه محکمه به دا استيناف په غاړه واخلي، مګر د 2013 د مئ تر 15 پورې بايد حکم صادر شي. امريکا د دې استيناف ملاتړ کوي، که څه هم پدې پوهيږي چې د استيناف په پروسه کې کېدای شي اوسنی بند بيرته واخيستل شي. پدې ربع کې د کابل بانک قضيه يووازينی قضيه وه چې محاکمه شوې، چې پکې مهم سياسي مشران، د حکومت لوړ پوړې چارواکي، يا د تجارت مشران چې ښې اړيکې لري شامل و.[291]

که څه هم د امريکا د عدليې وزارت د ټيټ پوړو چارواکو چې د فساد په قضيو کې پې لاس درلود د قضيو د محاکمه کولو تعقيبول محدود او بې اعتباره دي، ځينو سيمه ايزو قضيو اطمينان ساتلی. په کنړ کې، د څوکی ولسوالی د پوليسو قوماندان د رشوت په اخيستلو محاکمه شوی او د دوه نيمو کلونو لپاره بندي شوی. د ټولې قضيې کشف، تحقيق، او محکمه کول د افغانستان د چارواکو لخوا ترسره شوی، هغوې تر يوې اندازې د تحقيق له عصري تخنيکونو څخه کار واخيست ترڅو د بند جزا تر لاسه کړي. پدې ربع کې، په لغمان، مزار شريف، پکتيکا او نورو ولايتونو که هم د فساد محکمې تر سره شوې. د امريکا د عدليې وزارت ولايتونو ته لاس رسي، د فساد لدغو قضيو څخه يې پوهه محدوده کړې، مګر پدې حقيقت چې دا تر سره کېږي او افغانان يې مشري کوي د افغانانو د ظرفيت د لوړيدو نښه ده.[292]

## د ځانګړو قضيو کميټه

پدې ربع کې، هغه کسان چې د داود خان د اردو روغتون په قضيې پورې تړاو لري په کومو لوړ پوړو چارواکو باندې رسمي تور لګول شوی ندی، په 2012 کې د ځانګړو قضيو د کميټې لخوا لمړی قضيه د تحقيق او محکمه کولو لپاره پيژندل شوې وه. د امريکا د دفاع وزارت په وينا، پدې قضيه کې پرمختګ اوس هم ځنډنی دی. د روغتون لوړ پوړې اداري چارواکي، په ځانګړې توګه، تورن جنرال ضيا يفتلي، په اړه تحقيقونه دوام لري، مګر ډېر شک شتون لري چې آيا کوم کس به کوم وخت د دې ټولو تورونو په اړه محکمه شي. د افغانستان د دفاع وزارت يووازې يوه محکمه کول پدې قضيه کې خپلواکه تعقيب کړې. پدې کې هغه ټيټ پوړې چارواکي شامل و چې د پاملرنې نه کولو او له صلاحيت څخه ناوړې ګټې اخيستنې د وړو تورونو چې د تاريخ تير شويو دواګانو چې ارزښت يې $120 امريکايي ډالره و له کبله بندي شوي.[293]

## د مهمو جرمونو وظيفوي ځواک

د تحقيق فدرال دفتر (FBI) د 2013 په فبروری کې د مهمو جرمونو له وظيفوي ځواک (MCTF) سره خپل ماموريت پای ته ورساوو. FBI ډاډه و چې دا ځواک د ظرفيت لوړولو خپلو موخو ته رسيدلی. له سياسي او مالي مناسب ملاتړ سره، دا ځواک دا توان لري چې د فساد پر وړاندې يوه اغيزمنه اداره و اوسي. مګر، د افغانستان د لوی څارنوال دفتر اوس هم هغه اړينه سياسي اراده نلري چې د MCTF لخوا د فساد جوړې شوي قضيې محاکمه کړي. د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د فساد پر وړاندې د اداري ريس تر اوسه د فساد د قضيو د محاکمه کولو زياته ليواليتا او توان ندی ښودلی. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د MCTF راتلونکي روښانه نده ځکه چې د قانون او سياست له اړخه کمزورې ښکاري.[294]

وروسته لدې چې د افغانستان د لوی څارنوال دفتر ونشو کړای په مناسبه توګه ډيری پخوانی قضيې محاکمه کړي، د ځانګړو قضيو کميټه (SCC) د 2011 په دسمبر کې د افغانستان او نړيوالې ټولنې د ميکانيزم په توګه جوړه شوه ترڅو په مهمو عامه قضيو کې د افغانستان د لوی څارنوال دفتر د هڅو ملاتړ وکړي. SCC د دې لپاره نده چې د قضيو تحقيق او محاکمه ترسره کړي مګر د دې لپاره جوړه شوې چې ACU ته هغو مهمې قضيې چې ځانګړې پاملرنې ته اړتيا لري وروپيژني او سپارښتنه وکړي او بيا د دې قضيو پرمختګ تعقيب کړي. په SCC کې د نړيوالو مشاورينو، پشمول د امريکا د کارکونکو ونډه داده ترڅو د افغانستان د لوی څارنوال له دفتر سره مرسته وکړي چې د ځانګړې پاملرنې لپاره قضيې غوره کړي او که ملاتړ کونکي شواهد شتون ولري د تحقيق او محاکمې لپاره يې سرچينې برابرې کړي. پردې برسيره، نړيوال مشاورين د افغانستان د لوی څارنوال له دفتر سره مرسته کوي ترڅو د خپل تحقيقونو او محاکمه کولو ستراتيژۍ جوړه کړي. د افغانستان د لوی څارنوال له دفتر سره د نړيوالو برخه اخيستل دا مرسته هم کوي چې که د پام وړ د قضيو له پرمختګ سره مرسته کولای شي د نړيوالې ټولنې په واک کې معلومات هم تر لاسه کړي.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو د غوښتنې په اړه، امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځواب، 3/26/2013 او 7/5/2012.

# حکومتوالي

## د نظارت او ارزونې کمیټه

پدې ربع کې د نظارت او ارزونې کمیټې (MEC) درې راپوروونه خپاره کړې. لمړی راپور د ولسمشر کرزي د حکومتولي او فساد په اړه د ولسمشری 45 فرمان د تطبیق په اړه و، چې تیر کال صادر شوی. دې راپور دا وموندل چې د افغانستان حکومت د فرمان د 38 مادو په تطبیقولو کې توپیر لرونکې پایلې درلودې، چې د فساد پر وړاندې د مبارزې هڅې به پراخې کړي. له 38 مادو څخه، اته تطبیق شوي دي، 23 تر یوې کچې تطبیق شوي دي او اوه ندي تطبیق شوي. د بیلګې په توګه، MEC وموندل چې له روښانه راتلونکي څخه پرته افغانان اوس هم په توقیف کې ساتل کیږي، چې دا د قضیو د تحقیق او محاکمه کولو د واټنونو یوه بیلګه ده. دې کمیټې دا هم وموندل چې د کابل له هوايي ډګر څخه د نغدو پیسو د قاچاق په اړه د فرمان پالیسي په اغیزمنه توګه تطبیق شوې نده.[295] په دویم راپور کې د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د کمیسیون د سپارښتنو او نښو پنځمه ټولګه وه. په سپارښتنو کې، MEC وړاندیز کړی چې د حکومت ټول بنسټونه چې له بنسټیزو پروژو سره کار کوي باید د فساد د راپور ورکولو میکانیزم، لکه د "تیلفون کولو مرکز" تاسیس کړي. دا وړاندیز یې هم کړی و چې د ملګرو ملتونو د مهاجرینو عالي کمیشنری دې د مهاجرینو د چلند د جنايي پلټنې پایلې خپرې کړي ترڅو د هغو تورونو په اړه چې د افغانستان د حکومت د لوړ پوړو چارواکو د دوه ځلي معاشونو او د کرایې د سهولتونو په اړه دي، د حل لار پیدا شي.[296] دریم راپور د MEC د سپارښتنو د توپیر لرونکو پایلو سروې کړې. دې راپور وموندل چې د قضا سکتور او د فساد پر وړاندې د نظارت عالي اداري لکه د حکومت د نورو ساحو په څیر له فساد سره د مبارزې ورته بریا نده لرلې.[297]

## د فساد پر وړاندې د نظارت عالي اداره (HOO)

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، پدې ربع کې د فساد پر وړاندې د نظارت عالي ادارې خپلو موخو ته د رسیدلو لپاره د فساد سره د مبارزې په برخه کې کمه بریا درلوده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د امریکا د عدلیې وزارت له HOO سره ډیر محدود کار کړی.[298] مګر، USAID ویلي چې د دې ادارې د فساد پر وړاندې پروګرام مرسته کوي چې د شتمنی په ثبتولو او د وزارتونو په ارزولو کې د HOO ظرفیت زیات کړي.[299]

## د افغانستان د فساد پر وړاندې له ادارې سره د USAID مرسته

پدې ربع کې، USAID راپور ورکړی چې د افغانستان دفساد پر وړاندې اداري (4A پروژې) سره یې مرستې دوام درلود ترڅو د عملیاتو په څو برخو کې د HOO ظرفیت ښه کړي.[300]

- **په انټرنټ کې د شتمنی ثبتول:** د افغانستان قانون غوښتنه کوي چې عامه کارکونکي دې خپله شتمنی اعلان کړي، مګر پدې ورستیو کلونو کې هغې هڅې چې د شتمنیو دقیق او پراخ ثبت تر سره شي له خنډ سره مخ شوي. د دې لپاره چې د شتمنی د ثبتولو پروسه آسانه شي، پدې ربع کې د 4A پروژې په انټرنټ کې یو سیستم جوړ کړی چې تمه کیږي د 2013 د اپریل په نیمی کې به ورڅخه کار واخیستل شي.
- **د فساد د ارزونې پر وړاندې کمزورې:** 4A پروژې د HOO د فساد د مخنیوی د ریاست ټول کارکوونکي په وزارتونو کې د فساد د ارزونې پر وړاندې د کمزورۍ په اړه روزلي. ریاست پدې هم موافقه کړې چې د عامې روغتیا او د کانونو او منرالونو د وزارتونو په

په 2012 کې، کورني امنیت، کورنی دفاع، او بهرنې عملیاتو د نظارت او حکومت د اصلاح د امریکا د ولسي جرګې کمیټې د کابل د داود خان د اردو په روغتون کې چې کوم غلط کارونه ترسره شوي، په اړه یوه اوریدنه کړې. په 2011 کې، مطبوعاتو د کابل د داود خان د اردو په روغتون کې د ناروغانو لپاره د ډیر بد حالت په اړه راپور ورکړی و. پراخ فساد د امریکا د فنډونو د کمولو او د روغتیا د موادو چې د روغتون د عملیاتو د ملاتړ لپاره و د غلا کولو لپاره لار پرانیستله. پردې برسیره، ډیری وختونه ناروغانو ته پاملرنه نده شوې ځکه چې هغوی یا د هغوی کورنیو ونشو کړای د روغتون کارکونکو ته رشوت ورکړي. د افغانستان په دفاع وزارت او ملي اردو کې چارواکو، پشمول د ملي اردو سر طبیب، تورن جنران ضیا یفتلي، پدې توطیه کې لاس درلود. د امریکا د اردو ځینې چارواکې هم تر نیوکو لاندې راغلي چې د تحقیق او د توطیې د مخې نیولو لپاره یې نور کار ندی کړی.

سرچینه: "د داود خان د افغانستان د ملي اردو روغتون: څه شوي او څه کارونه خراب شوي؟،" د 112 کانګرس د 2012 د جولای 24 په دویمه غونډه کې د ولسي جرګې د ملي امنیت، کورني دفاع، او بهرني عملیاتو لپاره د فرعي کمیټې، او د نظارت او حکومت اصلاح د کمیټې پروړاندې اوریدنه کې، pp. 2–4.

**د افغانستان د فساد پر وړاندې اداري (4A) سره مرسته:** د USAID دا پروژه د افغانستان د حکومت د فساد پر وړاندې اداري، د نظارت او فساد پر وړاندې د نظارت عالي اداري (HOO)، هغه وزارتونه چې عامو خلکو ته مهم خدمات رسوي، او د مدني ټولنو هغو سازمانونه ته چې د عامه فساد سره د مبارزې په کارونو بوخت دي ستراتیژیک، تخنیکي او د اداري ظرفیت د لوړولو ملاتړ برابروي.

سرچینه: USAID، "د افغانستان د فساد پر وړاندې اداري سره مرسته،" 12/2012، لاس رسی 4/23/2013.

غوره شویو کاري پروسو کې ارزونې تر سره کړې. پدې ربع کې، د عامې روغتیا وزارت لپاره د روغتونونو او دواګانو په اړوندو مسلو ارزونې تر سره شوې، مګر د کانونو او منرالونو په وزارت کې د ارزونې کارونه ندي تر سره شوي.

- **د استخدام او انتخابولو پالیسی:** په جنوری کې، د 4A پروژې د HOO د استخدام او انتخابولو په پالیسی کې ځینې نیمګړتیاوې له منځه یووړې.

له HOO سره پر کارونو برسېره، 4A د فساد پر وړاندې له ځو نورو هڅو ځخه هم ملاتړ کوي. پدې ربع کې، دې پروژې د آریانا له تلویزیوني شبکې سره کار وکړ چې د فساد پر وړاندې 10 پروګرامونه خپاره کړي، چې د عامه خدماتو د نشتون او کیفیت په اړه یې د وګړو نظرونه ثبت کړل، ورپسې له اړوندو وزارتونو ځخه چارواکې را وغوښتل شول چې د لمړنیو خدمتونو د نیمګړتیاو په اړه توضیح ورکړې. دې پروژې د پارلمان د ښځو د فساد پر وړاندې له کمیټې سره هم کار کړی ترڅو د هغوی د قانون جوړونې ظرفیت د نظارت، بودجې جوړولو، او د ګټو د مخالفت په ساحو کې زیات کړي.[301]

## د افغانستان په امنیتي ځواکونو کې فساد

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د افغانستان دفاع وزارت پخپلو ځواکونو کې د فساد د له منځه وړلو په برخه کې یو څه پرمختګ کړی دی. مګر، د ملي امنیت شورا دفتر اوس هم د افغانستان د دفاع وزارت د شفافیت او حساب ورکولو دفتر ته هدایت نه ورکوي او ورسره کار نکوي چې څنګه د افغانستان د دفاع وزارت د شفافیت او د حساب ورکولو له کاري ګروپ ځخه کار واخلي. د دفاع وزیر او د شفافیت او حساب ورکولو دفتر پریکړه وکړه چې د کاري ګروپ غونډې وکړي او د دفاع په وزارت کې د فساد پر وړاندې اصلاحات راوړي. د پاملرنې وړ ده چې پدې ربع کې د افغانستان دفاع وزارت په لوړه کچه د فساد درې غونډې کړې دي، چې مشري یې د وزیر یا دویم معاون لخوا ترسره شوې.[302]

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت هم د فساد پر وړاندې پخپلو هڅو کې پر مختګ کړی، مګر د افغانستان د دفاع تر وزارت یو څه ځنډنی و. بیا هم، وزیر د دې هڅو او په ځانګړې توګه د خپل عمومي پلټونکي په ملاتړ کې خپل آواز اوچت کړی. د امریکا د دفاع وزارت په وینا، د افغانستان د کورنیو چارو وزات عمومي پلټونکي بیا له خپله ځانه اراده او د شخصیت ځواک ښودلی، چې د کورنیو چارو په وزارت کې د فساد پر وړاندې ځینې اصلاحات رواړی دي.[303]

## CJIATF-شفافیت

د ګډو ادارو وظیفوي ځواک (CJIATF)-شفافیت، د آیساف د ځو ادارو ډله چې په 2010 کې جوړه شوی ترڅو د فساد هڅې همغږې کړي، خپلې موخې یې کمې کړې او د افغانستان په ملي امنیتي ځواکونو کې د شفافیت او حساب ورکولو په هڅولو باندې کار کوي. CJIATF-شفافیت کار کوي ترڅو د 2014 له پای ځخه وړاندې د فساد پر وړاندې غوره شوې نوښتونه وییژنې او وسپارې. د سپارلو پدې هڅو کې د ناټو د افغانستان د تحول له وظیفوي ځواک او نورو نړیوالو ملګرو سره نږدې کار کول شامل دي ترڅو معلومه شي چې ځوک به په راتلونکې کې اوسنې ماموریت د دندو ترسره کول او بشپړولو کارونه پر غاړه واخلي.

### د سیګار پلټنه

لکه څنګه چې د نړیوال امنیت مرستندویه ځواک (ISAF) په 2014 کال کې خپل ماموریت پای ته رسوي، سیګار د سپارلو یوه پلټنه ترسره کوي. دا پلټنه به وګوري چې آیا د امریکا د حکومت ادارې د سپارلو پلان پر ځای لري او آیا دا پلانونه د شتمنیو د سپارلو پروسه، د افغانستان د حکومت توان د دې شتمنیو د ساتلو، او دا چې د امریکا لخوا د ټولو تمویل شویو پروژو او شتمنیو تر کومې کچې هر اړخیزه لست جوړ شوی او مستند شوی. د لا نورو جزییاتو لپاره د دې راپور په دویمه برخه کې دا پاڼه 32 وګورئ.

د امریکا د دفاع وزارت په وینا، وظیفوي ځواک آیساف او د افغانستان رهبران هڅولې چې د فساد پر وړاندې د سپارلو د بوردونو له لارو د فساد پر وړاندې او تنظیم شوي جرمونو مسلې د امنیت د سپارلو په پروسه کې راوړي. دا بوردونه په هغو ولایتونو او ولسوالیو کې د فساد ارزونه کوي چې د سپارلو د تیریدو په پلان کې دي. پردې برسیره، بوردونه هغه مفسد چاروا‌کي په نښه کوي چې د سپارلو په مهمو بستونو کې دي. د افغانستان د حکومت سیاسي اراده او ظرفیت به د وظیفوي ځواک د فساد پر وړاندې د هڅو او په راتلونکو کې د دایمي پایلو د تر لاسه کولو ښکارندوی وي.[304]

## فساد او د ګمرکونو عواید

په ګمرکونو کې تقلب او فساد اوس هم ډیره ستونزه ده چې د افغانستان د حکومت مالي دوام یې له تهدید سره مخ کړی ځکه چې په سرحدونو، د ګمرکونو په ډیپوګانو او هوایي ډګرونو کې د ګمرکونو را ټول شوي عواید ورکیږي. د فساد د زیاتوالي له کبله په 2012 کې د ګمرکونو عواید کم شوي. مګر، پدې ربع کې د افغانستان حکومت ځینې مهم ګامونه اخیستې ترڅو د فساد مخه ونیسي.[305]

د افغانستان د مالیی وزارت د افغانستان د ګمرکونو او د عوایدو د دفتر پراخ اصلاحات پیل کړي. د دې لپاره چې د ګمرک چاروا‌کي ونشي کړای د فساد سیمه ایزه شبکه جوړه کړي، د افغانستان د مالیي وزارت ډیری شمیر لوړ پوړي چاروا‌کې بدل کړل او د ولایتونو د ګمرک رییسان یو بل سره بدل کړي. د مالیی وزیر د نویو لوړ پوړو چاروا‌کو په توان باندې ډاډ څرګند کړی. د ربع په پای کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لپاره لا وختې وه ترڅو، پدې پوه شي چې دا خوځښت څومره اغیزمن و، مګر دا د فساد د کموالی امکانات لري.[306]

د دې کال په فبرورۍ کې، د مالیي وزارت د سرحدونو، هوایي ډګرونو، او د ګمرکونو د ډیپو ګانو په اړه د ولسمشر د اجرایي کمیسیون (PEC) فرمان امضا کړ. له PEC څخه د تیر کال په اوږده موده کې کار نه و اخیستل شوی. PEC د څو ادارو یوه نوې اداره ده چې دنده یې د فساد د کارونو پیژندنه، د وزارتونو تر منځ د اصلاحاتو سپارښته، او د هڅو همغږی ده تر څو عواید زیات شي او په عین وخت کې د فساد فرصتونه محدود شي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، PEC د دې ربع په پای کې کار نه و پیل کړی، مګر کله چې په کار پیل وکړي او په اغیزمنه توګه ورڅخه کار واخیستل شي، کیدای شي تر ډیرې کچې د دې سکتور شفافیت او حساب ورکول ښه کړي.[307]

د افغانستان حکومت د سرحدونو د اداره کولو ماډل (BMM) د تطبیقولو پراخولو ته هم دوام ورکړی. BMM غواړي چې په سرحدونو کې ونډې او مسولیتونه روښانه کړي ترڅو د سرحدونو په دروازو کې د حکومت د غیر ضروري ادارو شمیره کمه کړي. د ربع په پای کې، BMM د سرحدونو په دریو دروازو کې کار کاوه، او تمه کیږي چې څلورې نورې دروازې به د 2013 په جولای کې له BMM څخه کار واخلي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د BMM پراخول به د ډونرانو د راتلونکو مرستو لپاره د IMF یوه نښه وی.[308]

USAID د افغانستان له حکومت سره کار کړی ترڅو د کابل د هوایي ډګر د ګمرک په انګړ کې د خطر د اداره کولو یو آزمیښتي پروګرام پیل کړي. تمه کیږي چې پروګرام د لوړ خطر کارګو د تفتیش لپاره په نښه کولو سره سوداګری عصري کړي او د تفتیش لپاره به د کارګو د اتومات غوره کولو له لارې فساد کم کړي.[309]

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا،اوس د ګمرک د معلوماتو لپاره اتومات سیستم (ASYCUDA) د سرحدونو په مهمو دروازو او د ګمرکونو په ډیپوګانو کې کار کوي. پروګرام دې ته اجازه ورکوي چې له یوه مرکزي موقعیت څخه د ګمرکونو معلومات تعقیب او پلټنه وکړي. د پروګرام بریښنايي سیستم د کاغذ پر اساس د سیستم په پرتله د ډېر شفافیت او حساب ورکولو اجازه ورکوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د کار اخیستونکي د نه پاملرنې، په لرو پرتو سرحدونو کې د بریښنا نشتون، او فساد له کبله ډیری کارګو د ASYCUDA په سیستم کې هیڅ نه راوستل کیږي.[310] عکس 3.35 په هغو ځایونو کې چې ASYCUDA کار کوي ښيي.

عکس 3.35

**په افغانستان کې د ګمرکاتو ASYCUDA سیسټم پلي کول**




سرچینه: UN، ASYCUDA افغانستان، د لاسرسي نیټه 4/17/2013.

# حکومتوالي

د امریکا حکومت له افغانستان څخه د نغدو پیسو د وتلو په اړه له اوږدې مودې څخه زیاته اندېښنه درلودلې ده. د 2011 په جولای کې، سیګار د امریکا د حکومت د هڅو په اړه چې د افغانستان په اقتصاد کې د امریکا د فنډونو پر بهیر نظارت خواکمن شي، پشمول د ډېرو نغدو پیسو د شمیرلو ماشینونه ترڅو د کابل په نړیوال هوایی ډګر کې د نغدو پیسو بهیر په ښه توګه منظم کړي، راپور ورکړی. په تیر ربع کې پدې پسې یوه ځانګړي راپور موندلي چې د نغدو پیسو د شمیرلو له ماشینونو څخه تر اوسه د پلان شویو موخو لپاره کار ندی اخیستل شوی.

سرچینه: کانګرس ته درې میاشتینی راپور، 1/30/2013, pp. 44–45.

د افغانستان د ګمرکونو عصري کولو او اصلاح د هڅو له پروسو سره د امریکا څو اداري ملاتړ کوي. د افغانستان لپاره د USAID د سوداګرۍ لاس رسی او آسانتیا پروګرام مرسته کوي ترڅو د افغانستان د حکومت ډېرى اصلاحات تطبیق کړي. د امریکا د کورنی امنیت وزارت (DHS) د ګمرکونو او سرحدونو خوندي کول د CENTCOM لخوا تمویل شوي د سرحد د اداره کولو وظیفوي ځواک (BMTF) اداره کوي. په مستقیمه توګه د ګمرک له چارواکو سره په مرکزي دفترونو او د سرحد په کچه کارکوي تر څو په ښو کارونو او تطبیقولو کې وروزي. د DHS د کورني امنیت تحقیق کونکي (HSI) د امریکا د کابل سفارت د هڅو مشري کوي ترڅو له هیواد څخه بهر ته د ډیرو پیسو لیږلو مخه ونیسي. پدې ربع کې، HSI په عزیزي بانک او د افغان یونایتد بانک په څانګو کې د نغدو پیسو د حسابولو درې ماشینونه نصب کړي چې د بانک له کارکونکو سره د 10,000$ یا ډیرو امریکایي ډالرو اچول او ایستل مستند کولو کې مرسته وکړي. هغه ټول معلومات چې له معاملاتو څخه (د لړی شمیره، بایو ګرافي، او نور) را ټولیږي، مالي معاملاتو او د افغانستان د راپور تحلیلولو مرکز (FinTRACA) ته به تحلیل لپاره راپور ورکړ شي.[311]

## بشرې حقونه

پدې ربع کې ملګرو ملتونو عمومي منشي د افغانستان د بشري حقونو په اړه د توپیر لرونکي پرمختګ راپور ورکړی. د 2012 په فبرورۍ کې یونما په وسله ایزه جګړه کې د ملکي وګړو د خوندي کولو خپل کلنی راپور خپور کړ. راپور په 2012 کې د 2,754 ملکیانو وژل او د 4,805 ملکیانو زخمي کیدل ثبت کړي. دا د 2011 په پرتله د ملکیانو په قربانیانو کې 4% کموالی و، په شپږو کلنو کې دا لمړی کموالی دی. بل لور ته، د ښځو د حقونو د فعالینو خوندیتوب او د افغانستان د توقیف په مرکزونو کې د بندیانو شکنجه کول اوس هم ډیره د اندیښنې وړ موضوع ده.[312]

## توقیف شوي

د یونما په وینا، د افغانستان د توقیف په مرکزونو کې اوس هم شکنجه یوه لویه ستونزه ده. د 2013 په جنورى کې، یونما له توقیف شویو سره د څلند په اړه د 2012 د جنورى پخپل راپور پسې بل راپور خپور کړ. راپور وموندل چې له 635 توقیف شویو څخه چې مصاحبه ورسره شوې نیمو یې د افغانستان د ملي پولیسو، ملي امنیت، ملي اردو او سیمه ایزو پولیسو په تاسیساتو کې شکنجه لیدلې ده. پدې شکنجه کې عموماً د توهین ډوله استنطاق کولو تخنیکونه و چې افغان استنطاق کونکو قصداً توقیف شویو ته درد او رنځ رساوو ترڅو له هغوی څخه اقرار یا معلومات ترلاسه کړي. یونما لیدلي چې له 105 توقیف شویو ماشومانو څخه چې مصاحبه یې ورسره کړې، 80 ماشومانو (76%) شکنجه یا ناوړه چلند لیدلی، د یونما د تیر راپور په پرتله دا 14% زیاتوالی دی.[313] یونما معتبر او د باور وړ شواهد هم موندلي چې له 79 توقیف شویو څخه 25 توقیف شویو سره چې مصاحبه شوې (31%) هغه کسان چې د نړیوالو له اردو ځواکونو یا بهرنیو استخباراتي ادارو څخه د افغانستان ساتلو ته سپارل شوي و د افغانستان د ملي پولیسو، ملي امنیت، یا ملي اردو لخوا یې شکنجه لیدلې. یونما ویلې چې آیساف د نړیوال قانون پر اساس مقررات پر ځای لري، او دا غوښتنه کوي چې انفرادي کسان باید هغو تاسیساتو ته و نه سپارل شي چیرته چې د شکنجې او ناوړه چلند خطر شتون ولري.[314]

یونما با اعتباره تورونه هم تر لاسه کړي چې 81 انفرادي کسان چې په کندهار کې د افغانستان ملي پولیسو ته سپارل شوي د 2011 له سپتمبر څخه د 2012 تر اکتوبر پورې لا درکه شوي. د 2013 تر جنورى پورې د دې انفرادي کسانو موقعیت معلوم نه و.[315]

# حکومتولي

د یونما د راپور په ځواب کې، ولسمشر کرزي د حقیقت موندلو یو هییت جوړ کړ ترڅو د شکنجې د تورونو تحقیق وکړي. د 2013 په فبرورۍ کې، هییت د افغانستان د ملي پولیسو او ملي امنیت د چارواکو لخوا پر افغان توقیف شویو له شکنجې کار اخیستل او ناوړه چلند تایید کړ. د هیت په وینا، نږدې 48% لدغو څخه چې مصاحبه ورسره شوې ویلې دي چې هغوی شکنجه شوي او 66% ویلې چې هغوی مدافع وکیل ته لاس رسی نه‌درلود. د ستونزو د حلولو لپاره، هییت د افغانستان ادارو ته 11 سپارښتنې وړاندې کړې.[316]

د یونما راپور د افغانستان په تاسیساتو کې د شکنجو خوارلس بیلابیل ډولونه تشریح کوي، پشمول د: ځړول (له چت څخه د لاسونو له بندونو یا له یوه زنځیر څخه چې په دیوال بند دی، یا د اوسپنې له میلې څخه یا بل کوم شي څخه ځړول، چې د قربانې د پښو ګوتې یوازې په ځمکه لګیږي یا بیخې په هوا کې وي او د هغه د بدن وزن د ډېر وخت لپاره د هغه د لاسونه پر بندونو وي)؛ د اوږده وخت لپاره په کیبل، پیپونو، ربړي پیپونو یا په لرګي وهل (پشمول د پښو په تلو او پښو وهل)؛ توقیف شوی په سوک او پښو وهل؛ د تناسلي اعضاو پیچل؛ د بریښنا شوک، ستونزمن حالتونه، د اوږد وخت لپاره تر سړې هوا لاندې راوستل؛ د وژلو تهدید او یا د توقیف شویو پر وړاندې جنسي تاوتریخوالی.

سرچینه: یونما، "د افغانانو په ساتنه کې د جنګ له کبله له توقیف شویو سره چلند: له یوه کال څخه وروسته،" د 2013 جنورۍ، p. 4.

## د ښځو د امن کورونه

د افغانستان حکومت د ښځو د امن کورونو اداره کول اوس هم متناقض دي. هغه ښځې چې د امن کورونو ته اړتیا لري ډېرې وختونه ورته لاس رسی نلري. په 13 ولایتونو کې د ښځو 25 د امن کورونه شتون لري. لدغو امن کورونو څخه INL د 10 د تمویلولو فنډ ورکوي. د INL لخوا تمویل شوي د امن کورونه په بشپړه توګه افغانان کارکونکي لري او پر مخ یې وړي. هغه ولایتونه چې د امن کورونه نلري، لکه کندهار او ارزګان، انجوګانې هڅه کوي ترڅو د جنسیت پر اساس د تاوتریخوالې قربانیان هغه نږدې ولایت ته یوسي چې د امن کور لري. مګر، په هغو ولایتونو کې چې د امن کور نشته، ښځې چې د امن خوندې کور ته اړتیا لري ډېرې وختونه ورته پاملرنه نکیږي یا سیمه ایزې انجوګانې سرچینې نلري چې مداخله وکړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د نورو امن کورونو لپاره، په ځانګړې توګه په لرو پرتو سیمو کې اړتیا شته.[317]

پولیسو او څارنوالانو د امن کورونو راجع کولو لپاره خپلې غوښتنې زیاتې کړې دي، او په پایله کې ښځې د امن له کورونو او چې څنګه دا کورونه کولای شي هغوی له ناورینه او فیزیکي تاوان څخه خوندي وساتي ډېرې خبر دي. عموماً ښځې د ښځو د چارو د وزارت (MOWA)د ښځو پر وړاندې د محکمه کولو د ادارو یا د پولیس لخوا د امن کورونو ته راجع کیږي.[318]

کله چې حکومت اعلان وکړ چې د امن ټول کورونه به ملي کړي او د امن شته کورونه یې له فاحشه خانو سره ورته وګڼل، په 2011 کې د افغانستان د حکومت او د امن کورونو د برابرونکو اړیکې خرابې شوې. د امن کورونو او د افغانستان د ښځو د چارو وزارت، هغه افغاني اداره چې د امن کورونو د عملیاتو نظارت دنده لري، د دوی ترمنځ شک شتون لري. مګر، اړیکې مخ پر ښه کیدو دي.[319]

د افغانستان د ښځو چارو وزارت یوازې هغه وخت چې دا وزارت ورته اجازه ورکړي ښځې د امن له کور څخه وتلای شي. دا کار د ښځو پر وړاندې تر هغه وخته خنډ دی مګر که هغوی واده وکړي یا خپلې کورنی ته بیرته ورشي. د ښځو د چارو ولایتي ریاستونو (DOWAs)، چې د ښځو د چارو وزارت تر صلاحیت لاندې راځي، په ټول هیواد کې یې اغیز ډېر توپیر لري. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په جنورۍ کې ویلي چې، وروسته لدې چې په یوې ځوانې انجلی باندې د دایکندي د ښځو د چارو ریاست په دفترونو کې جنسي تیری وشو، هغه د خوندیتوب په لټه کې شوه. پدې ولایت کې د امن کور نشته، څکه نو هغه باید تر هغه وخته پدې دفترونو کې پاتې شوې وای ترڅو چې هغه د امن کور ته وړل شوې وای یا بیرته خپلې کورنی ته سپارل شوې وای. داسې ادعا کیږي چې په دفتر کې د هغې په لمړی شپه د DOWA محافظینو وربانديې جنسي تیری کړی. د دې ربع په پای کې، ولایتي چارواکو د پیښې تحقیق تر سره کاوه. بل لور ته، د کندز د ښځو د چارو ریاست د غلطو تورونو پر وړاندې چې له ښځو یې د فاحشو په بنه کار اخیست د ښځو له امن کور څخه په بریا دفاع کړې. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې امنیت د ښځو چارو د ریاستونو پر وړاندې یو

لوی خنډ دی ترڅو د امن له کورونو څخه ساتنه او ملاتړ وکړي. په 2012 کې، د ښځو چارو ریاست دوه رییسان د لغمان په ولایت کې له ښځو سره د هغوی د کار کولو له کبله په جلا پیښو کې ووژل شول.[320]

## مهاجرین

پاکستان د نږدې 1.7 میلیون افغان مهاجرینو لپاره چې په پاکستان کې اوسیږي پخپلو سرحدونو کې یې د اوږدې مودې اوسیدلو لپاره موافقه نده کړې. کیدای شي د نوي حکومت تر منځ ته راتلو پورې به هیڅ کومه پریکړه پدې اړه و نه نیول شي. مګر، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، داسې نه ښکارې چې په نږدې راتلونکې کې دې پاکستان ډیره شمیره مهاجرین په زور وباسي. د 2012 په دسمبر کې، پاکستان موافقه وکړه چې د مهاجرینو لپاره د ثبت کارتونو ته د 2013 تر جون پورې اجازه ورکړي. د پاکستان د حکومت ویاندویانو ویلې چې دا هیواد منې چې د مهاجرینو بیرته ستنیدنه باید پخپله رضا وي او دا چې په زور ایستل به تر سره نشي.[321]

## د انسانانو قاچاق

افغانستان د انسان د قاچاق پر وړاندې پلان په اصلاح کولو کې ځینې پرمختګونه درلودل، مګر نور کارونه باید ترسره شي. د 2012 په جون کې، د انسانانو د قاچاق په راپور کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت افغانستان د سرچینې، ترانزیت او د سفر د هیواد په بڼه پیژندلی چې د نارینه و، ښځو، او ماشومانو باندې په زور کار کیږي او جنسي قاچاق ترسره کیږي. د دریم پر له پسې کال لپاره، افغانستان په دویمه درجه د نظارت په لست کې راغلی، چې دویمه ټیټه درجه ده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلې چې په هغو وختونو کې به هیوادونو ته تر ټولو ټیټه درجه ورکړ شي چې د انسانانو د قاچاق خپل پلان یې نه وي اصلاح کړی. د افغانستان د انسانانو د قاچاق پر وړاندې عالي کمیسیون خپلو دریو میاشتینیو غونډو ته دوام ورکړی او د افغانستان د لوی څارنوال دفتر هم ځینې قاچاق کونکي د 2008 د قاچاق پر وړاندې د قانون پر اساس محاکمه کړي، مګر د دغو قضیو د استیناف غوښتنه شوې.[322]

امریکا د څو پروګرامونو د روزنو او پراختیا په ملاتړ کې کار کوي ترڅو د هغو حالتونو مخه ونیسي چې د انسان پراخ قاچاق ته لار پرانیزي. هغه دفتر چې د انسانانو د قاچاق څخه نظارت او مبارزه کوي د هګر نړیواله موسسه په هغو هڅو کې تمویلوي چې د افغانستان د مدني ټولنې او د حکومت تر منځ د قاچاق پر وړاندې اړوند فعالیتونه همغږې کوي. دا دفتر په هیواد کې د هګر نړیوالې موسسې د قاچاق د مهمو ځایونو او د دې منطقې ځانګړې ستونزې د بنې او کچې پیژندلو په برخو کې تحقیق هم تمویلوي. د امریکا بهرنیو چارو وزارت نظر ورکړی چې دې تحقیق تر 18 کلنو پورې د قاچاق شویو هلکانو د بیرته راوړلو د یوه ماډل د جوړولو خبر ورکړي، لدې ماډل څخه به له خطر سره په یوه ټولنه کې د یوه آزموېښتي پروژې په بڼه کار واخیستل شي.[323]

# حکومتولي

## د مطبوعاتو آزادي

په فبرورۍ کې، د مدني ټولنو او مطبوعاتو د نظارت سازمانونو حکومت وهڅاوو چې ډېر ژر معلوماتو ته د لاس رسي د قانون مسوده، چې عامو خلکو ته د حکومت معلوماتو ته اجازه ورکوي، پارلمان ته د تایید لپاره ولیږي. د پرمختګ لپاره د مدنې ټولنو او د مطبوعاتو ملاتړ، د قانون مسوده د 2012 کال له فبرورۍ څخه د عدلیې وزارت سره د تقنیني کتنې لپاره پرته ده. د افغانستان پر شفافیت د نظارت اداري ویلي چې د وګړو لخوا د حکومت معلوماتو ته لاس رسی نشتون، د دې سبب شوی چې د عامو خلکو لخوا نظارت کمزوری وي او د فساد د ودې لپاره یې زمینه برابره کړې.[324]

پدې ربع کې، بې پولې راپور ورکونکو د نړیوالو مطبوعاتو د آزادۍ خپل کلنی لست خپور کړی. دې راپور له 179 هیوادونو څخه افغانستان ته 128 درجه ورکړې، دا له تیر راپور څخه 22 درجې پرمختګ دی. راپور ویلي چې په 2012 کې هیڅ ژورنالیست ندی وژل شوی او د مطبوعاتو د کارکوونکو نیول را ټیټ شوي. راپور اشاره کړې چې حکومت د هغو کسانو په اړه چې د ژورنالیستانو د تاوتریخوالې په اړوند تورن دي د معافیت مسله نده حل کړې. پردې برسیره، د بهرنیو ځواکونو وتل او په ګاونډي هیواد پاکستان کې د حالت خرابیدل دا معنی لري چې پرمختګونه له خطر سره مخ دي.[325]

## د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون (AIHRC) که څه هم ډېرې کمیشنران شتون نلري اوس هم خپلو کارونو ته دوام ورکوي. د 2013 د مارچ تر 22،د نهو کمیشنرانو له بستونو څخه، پنځه بستونه خالي پاتې و. د 2011 په جنورۍ کې، یو کمیشنر په ځانمرګي برید کې ووژل شو. د 2011 په دسمبر کې، ولسمشر کرزي پریکړه وکړه چې د دریو کمیشنرانو دورې تمدید نکړي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون دا پریکړه هم کړې چې خپل یو کمیشنر د 2012 په سپتمبر کې له معلوماتو څخه د غلط کار اخیستلو په اړه له دندې ګوښه کړي. راپور ورکړ شوی چې ولسمشر کرزي د افغانستان د بشري حقونو د کمیشنرانو د نوماندانو یو لست جوړ کړی مګر داسې ویل کیږي چې دا کسان د بشري حقونو مناسبه تجربه نلري. د دې ربع په پای کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د مدني ټولنو سازمانونه او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون یو ځای کار کوي ترڅو ولسمشر کرزي ته د تجربه لرونکو کاندیدانو لست وړاندې کړي.[326]

# اقتصادي منځپانګې


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 137 |
| نړیوال بانک 'افغانستان په لیږد کې، د 2014 څخه اخوا ته کتنه' | 138 |
| اقتصادي نقشه | 139 |
| بودیجه | 140 |
| د متحده ایالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتیژي | 141 |
| درې میاشتنی سرټکی: د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ په اړه تازه خبرې | 143 |
| بانکداري او مالیه | 144 |
| د طبیعي زیرمو پراختیا | 146 |
| کرهنه | 149 |
| اساسي خدمتونه/پراختیا | 152 |
| ترانسپورتیشن | 158 |
| زده کړه | 160 |
| کار | 162 |
| روغتیا | 163 |
| د خصوصي سکتور پراختیا | 168 |
| سوداګري | 171 |
| مخابرات | 171 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د 2012 کال د مارچ تر 31 پورې، متحده ايالاتو په افغانستان کې د حکومتولۍ او اقتصادي پراختيا څخه د ملاتړ لپاره نږدې 23$ ملياره ډالر چمتوکړې دي. د دې مرستو ډيره برخه د څلورو لويو پروګرامونو او بانکي حسابونو له لارې ورکړ شوي ده: د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو اداره، د اقتصادي ملاتړ صندق، د دفاع وزارت د قوماندان بيړنی غبرګون پروګرام، د سوداګرۍ ثبات عملياتونو لپاره وظيفوي ځواک، او د بهرنيو-دفاعي چارو وزارتونو تر ګډ اثر لاندې د افغانستان د زيربنا پروګرام چې د د فاع وزارت د افغانستان د زيربنا بوديجې لخوا لګښت ورکول کيږي.[327]

د خدماتو سکتور چې د مخابراتو، ترانسپورت، او دولتي خدماتو لخوا مشري کيږي، د اقتصادي ودې تر ټولو مهم چلونکی ګڼل شوی، پداسې حال کې چې رغونه د صنعتي سکټور څخه وړاندې تلې ده. د نړيوال بانک په وينا، قانوني کرهنه د GDP د ودې دويم ډير مهم لامل دی، خو د هوا په بدليدو سره نوسان کوي. د کان کيندنې توليدات تر اوسه لا محدود دي، خو بالاخره د GDP په وده کې 3–2% برخه اخلي.[328]

د 2002 کال څخه راهيسې د افغانستان اقتصاد د نړيوال پوځ د مصارفو او پراختيايي مرستو سربيره په اوسط ډول هر کال 9% وده کړې ده. اټکل شوې ده چې د 2014 کال څخه وروسته چې نړيوال ځواکونه بيرته ځي، دا وده هم کمه شي. په داسې يو هيواد کې چې د غربت لوړه کچه، بيکاري، د خوارو نشتون، او د کوکنارو کرهنې څخه رنځ وړي د مرستو کموالی به د حکومت د مصارفو او عايداتو ترمينځ يوه لويه خلا رامينځته کړي.[329]

پدې ربع کې، د متحده ايالاتو او نړيوالو هڅې دوام درلودې ترڅو له افغانستان سره مرسته وکړي چې د ليږد څخه وروسته د ملي امنيت بشپړ مسوليت په غاړه واخلي او 2014 کال څخه وروسته چې ايتلافي ځواکونه وځي د "انتقال په لسيزه" کې د اقتصادي انقباض کچه ټيټه کړي. پهرصورت، سيګار ته د متحده ايالاتو حکومت ځوابونه ښيي چې د امنيت نشتون لاهم په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنيزه پراختيا پروژو کاميابه پلي کولو په وړاندې يو غښتلی خنډ دی.

## مهمې پيښې

پدې ربع کې درې مهمې پراختياوې ترسره شوې. لومړی، د کابلبانک ځانګړې محکمه د دې بانک اصلي طرح کونکو په شمول د 21 کسانو په اړه فيصلې خپرې کړې چې په دې توطيه کې يې لاسونه درلودل. په هرصورت، ګوته نيونکي وايي چې مجرمينو ته سمه سزا نده ټاکل شوې.[330]

دويم، USAID د افغان حکومت سره يوه دوه اړخيزه موافقه لاسليک کړه چې له مخې به يې د ملي صنايعو شرکت، د افغانستان برېښنا شرکت ته، مستقيمه مرسته ورکوي څو د هلمند ولايت په کجکي بند کې دريم توربين نصب کړي. که څه هم په 2008 کال کې د انګلستان دولت لخوا په ډېر لګښت توربين بند ته ورسول شو، خو هيڅکله هم نصب نه شو.[331] USAID ويلي چې DABS کولی شي د نصبولو مسوليت په غاړه واخلي، خو وړاندې د سيګار يوه پلټنه په ګوته کړې ده چې DABS د برېښنا سوداګريز کولو لپاره د وسايلو د نصب او مديريت لپاره کافي ظرفيت نلري.[332]

دريم، د څارنې او همغږۍ ګډ هييت (JCMB) د ملي اولويتونو د شپږ پاتې پروګرامونو څخه څلور نور يې هم تصويب کړ چې پدې سره د ملي اولويتونو منل شوي پروګرامونو شمير 20 ته ورسيد.[333] JCMB د پريکړه نيونې لوړ رتبه هييت دی چې د افغان ماليې وزارت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مارموريت مشر لخوا يې په ګډه مشري کيږي، مسوليت لري تر څو د پراختيايي پروګرامونو په برخه کې د افغانستان او متحده ايالاتو د ستراتيژيو تر مينځ همغږي رامينځته کړي. NPPs، په 2008 کال کې د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي حاصل دی چې په سلهاوو دوه اړخيزه او څو اړخيزه پراختيايي پروژې داسې سره يو ځای کوي چې د لاښه پايښت لپاره د افغان بوديجې له لارې پلي کړای شي.[334] پدې ربع کې څلور تصويب شوي پروګرامونه دا دي: د اوبو او طبيعي زيرمو ملي پراختيا، د کرهنې جامع توليدات او د مارکيټ ملي پراختيا، د ملي برېښنا رسونه، او اغيزمن او ګټوره حکومتولي. تمه کيږي چې د NPPs دوه پاتې پروګرامونه د دې کال په وروستيو کې JCMB ته وړاندې کړای شي.[335]

په نورو پراختياو کې، نړيوال بانک د ليږد په اړه د هغو مطالعو وروستی رپوټ خپور کړ چې په 2011 کال کې يې د بن کنفرانس څخه وړاندې پيل کړی و؛[336] د ماليې وزارت د کابل بانک اخيستلو لپاره يوه داوطلبي رد کړه؛[337] او د وزيرانو شورا د کان کيندنې قانون يوه بياکتل شوې مسوده تصويب کړه.[338]

## نړيوال بانک 'افغانستان په ليږد کې، د 2014 څخه اخوا ته کتنه'

نړيوال بانک د افغانستان د ليږد په اړه خپل يو جامع معاينې په ترڅ کې ګنو ننګونو ته اشاره کړې ده. د 2002 څخه راهيسې د افغانستان ګړندی اقتصادي او ټولنيز پرمختګ د مرستو سره تړاو درلود. پداسې حال کې چې د دولت عايداتو وده کړې خو بياهم اړتياوې نه پوره کوي.[339] نړيوال بانک اټکل کوي چې افغانستان د خپل ملي عايداتو او مصارفو تر مينځ د موجوده خلا ډکولو لپاره تر 2021/2022 کاله پورې هر کال $7 ملياره ډالرو ته د مستقيمه مرستې په توګه اړتيا لري چې $5 ملياره ډالر يې د امنيتي پايښت لپاره لګول کيږي. حتی د دې مرستې سره به د افغانستان مالي پس منظر غير ثابته او د ګواښ سره مخ وي.[340]

دولت او نړيواله ټولنه دواړو په خپل مالي طرح کې ياده کړې چې د عينک مسو کان او حاجي ګک د اوسپنو کان توليدات به په 2017 کال کې پيل شي.[341] پهرصورت، په افغانستان کې قانوني، لوژستيکي، او امنيتي ننګونې کيدای شي دا نيټه وځنډوي. دا مسايل په 149–146 مخونو کې څېړل شوي.

په هغو هيوادونو کې چې ورته شرايط لري د نړيوال بانک تجزيې ښودلې چې د برياليتوب لپاره سياسي ځواک او ثبات اړين دي. په‌هرصورت، د بانک د رپوټ په اساس افغانستان پدې برخو کې مخ په شا روان دی. د بيکارۍ کچه چې اوس 8% اټکل شوې، د لېږد سره کيدای شي زياته شي، ځکه چې د کار زياته برخه چې د خدماتو او رغونې څانګې وې، د بهرنيو مرستو پورې تړاو درلود. ډېر بد ګوزار به يې هغه 48% کاري ځواک وي چې نيمايي کارونه لري(په اونۍ کې په اوسط ډول 35 ساعتونه کار کوي). ډېر کارونه چې د مرستو په پيسې رامينځته شوي "ناڅاپي" کارونه دي: د روزانه کار، خواړه، پيسې د کار لپاره پروګرامونه. کله چې نړيوال ځواکونه او د ولايتي بيارغونې ټيمونه افغانستان پريږدي دا کارونه به په اول قدم کې له لاسه ووځي. علاوه پردې، د نړيوال بانک په وينا، لکه څنګه چې د بهرنيو مرستو زياته برخه ناامنه ولايتونو ته ځانګړې شوې وه، نو د مرستو راکميدو سره به ناامنه ولايتونه د امنو ولايتونو په پرتله زيات اغيزمن شي.[342]

نړيوال بانک سپارښتنه کوي چې بسپنه ورکونکي بايد په مرستو کې د ډېر کموالي څخه ډډه وکړي، چې پدې سره کيدای شي افغان حکومت دې ته اړ شي چې د امنيتي او ملکي مصارفو لپاره سخت بوديجوي پريکړې ونيسي. همدارنګه دا کيدای شي ناڅاپي اقتصادي ستونزې لکه د افغاني پيسو د ارزښت کميدنه او د کار بازار بې ثباته کيدنه راولاړ کړي. په مرستو کې تدريجي کموالی د مرستو په وخت او بوديجه کې د وړاندوينې لپاره وخت ورکوي او هم د اوږدمهاله اقتصادي پلان په جوړونه کې مرسته کوي.[343]

## اقتصادي نقشه

د 2002 کال څخه راهيسې د افغانستان اقتصاد د پام وړ وده کړې. د GDP کلنۍ وده يې 9% شوې چې د ګنو ګاونډيو هيوادونو څخه زيات او يا برابر ده.[344] لکه څنګه چې په 3.9 جدول کې ليدل کيږي نړيوال بانک په 2012 کال کې د غنمو او حبوباتو بې سارې حاصل له امله د افغانستان ريښتونی GDP وده 10.3% اټکل کړی، پداسې حال کې چې تورم په نسبي ډول ټيټ پاتې شوی دی.[345] جدول ښيي چې تجزيه کونکو په بيلابيلو لارو د افغانستان اقتصادي وده تجزيه کړې خو عمومي تګلاره يې يوه ده. نړيوال بانک اټکل کوي چې GDP تر 2018 کاله پورې به 6% ته او په اوږدمهال کې 5% ته راټيټ شي.[346]

3.9 جدول

**اقتصادي بڼې، په رپوټ ورکولو کې بدلونونه**

| | 2011 مالي کال | | | | 2012 مالي کال* | | | | 2013 مالي کال* | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | CIA | ADB | IMF | WB | CIA | ADB | IMF | WB | CIA | ADB | IMF | WB |
| د GDP واقعيي، % بدلون | 5.8 | 7.2 | 5.8 | 7.3 | 11 | 11.9 | 5.2 | 10.3 | N/A | 3.3 | 6.5 | N/A |
| انفلاسيون، % | 13.8 | 11.8 | 11.8 | 11.3 | N/A | 6.2 | 6.6 | 6.5 | N/A | 6.1 | 6.7 | N/A |
| سړي سر عايد GDP، په ډالرو | 1,000 | N/A | N/A | 543 | 1,000 | N/A | N/A | 528 | N/A | N/A | N/A | N/A |

نوټ: * اټکل شوی

سرچينې: نړيوال بانک، سيګار ته ايميلي پيغام، 1/2013؛ "افغانستان په لېږد کې تر 2014 کال وروسته کتنه". 2/28/2013، د لاسرسي نېټه 3/18/2013. نړيوال بانک، "GDP سرانه عايد (روان امريکايي ډالر)،" د لاسرسي نېټه 4/10/2013. IMF، "نړيواله اقتصادي نظريه،" 10/2012، د لاسرسي نېټه 4/9/2013؛ CIA، "نړيوال فکټ بوک،" 3/27/2013، د لاسرسي نېټه 4/9/2013؛ ADB "د اسيايي پراختيا کتنه" 2013، د لاسرسي نېټه 4/9/2013.

## بوديجه

د 1392 مالي کال مجموعي بوديجه د 1391 مالي کال په پرتله چې $6.07 مليارده ډالر وه، $7.04 مليارده ډالر ټاکل شوې (12-مياشتنی پرتله). بوديجه دوه اساسي برخې لري: عملياتي بوديجه ($3.77 مليارده ډالر)، چې د دولت روان لګښتونه امنيت، معاشات، عملياتونه او ساتنې، پانګونه، او داسې نور_ ورکوي او انکشافي بوديجه ($3.27 مليارده ډالر)، چې د بسپنه ورکونکو په مرسته پروژو او پروګرامونو ته چې د دولت لخوا پلي کيږي مصرف ورکوي.[347]

د 1392 مالي کال انکشافي بوديجه د 1391 مالي کال څخه 37% زياته ده.[348] په تيره ربع کې سيګار ومونده چې په تاريخي ډول دولت په 1390 مالي کال کې د انکشافي بوديجې لږه برخه، 52% مصرف کړې وه. DOD په افغانستان کې د امنيت او ثبات په لوري د مختګ په اړه کانګرس ته خپل رپوټ کې دا انديښنه څرګنده کړې ده.[349] د بوديجې کمزوری مصرف يو له هغو انديښنو څخه ده چې بسپنه ورکونکي افغان حکومت ته د لازياتو مستقيمو مرستو ورکولو په اړه يې لري. سيګار يوه روانه پلټنه لري چې په ترڅ کې به يې د USAID هغه هڅې وارزوي چې د مستقيمه مرستو په اداره او حساب ورکونه کې د افغان حکومت د وړتيا معلومولو لپاره يې کاروي. د دې پلټنې په اړه د لازياتو معلوماتو لپاره د 2 برخې، مخ وګورئ 32.

د افغان حکومت مالي کال له هجري کال سره سمون خوري خو په وروستي کال (1391) کې به يواځې يو ځل دا کل د 2012 د مارچ له 21 بيا د همدې 2012 کال د دسمبر تر 20 پورې وي تر څو د مرسته کونکو له مالي کلونو سره په سمه توګه مطابقت ومومي. دغه يواځني نهه مياشتني مالي کال هغه بدلون ته زمينه برابره کړه چې اوس به د دسمبر له 20 د دسمبر تر 20 دوام کوي. د "12 مياشتو پرتله" هغه متن ته راجع کيږي چې د پرتلې کولو له نورمال شوي فورم سره سمون خوري.

## مالي پايښت

د افغانستان د مالي پايښت نسبت ملي عايدات تقسيم پر عملياتي لګښتونه په نړۍ کې يو له ټيټو نسبتونو څخه دی.[350] که څه هم د افغانستان کلنۍ خالص عايدات د 2006 کال څخه تر 2011 کال پورې د $0.6 څخه $2 ته زيات شوی، چې ډيری برخه يې د ماليو او ګمرکاتو له امله وه، پدې دوره کې د دې هيواد د عامه مصارفو کلنۍ مجموعه د $5.8 مليارده ډالرو څخه $17.4 مليارده ډالرو ته زيات شوی دی. د دې مصارفو مجموعه د 2006 کال څخه 2011 کاله پورې $72.9 مليارده ډالرو ته رسيږي. د دې مصارفو يوازې 10% ($7.3 مليارده ډالر) د افغانستان ملي عايداتو لخوا تامين شوې. پاتې يې د متحده ايالاتو ($46.3 مليارده ډالر) او پاتې نړيوالې ټولنې لخوا ($19.3 مليارده ډالر) تامين شوې.[351]

"افغانستان به دوامداره نړيوالو مرستو ته په راتلونکې لسيزې کې اړتيا ولري چې خپل خصوصي سکتور ته وده ورکړي او د جنوبي اسيا له مخ په ودې اقتصاد سره خپل تواميت پراخ کړي."

سرچينه: سپينه ماڼی "فکټ شيټ: افغانستان،" 2/12/2013.

## د عايداتو ټولول

د مجموعي عايداتو 68% د ماليو څخه راټوليږي.[352] د ماليې وزارت پدې ربع کې د ګمرکاتو، عايداتو، عامه شتمنۍ، او داخلي تفتيش او اداري رياستونو په مشري کې هر اړخيزه بدلونونه راوستل. دا بدلون، د "لا تکړه، ځواکمن او د اعتماد وړ مشرتوب" له لارې په 10 ولايتونو کې د ګمرکاتو رييسان بدل کړ څو په ټول هيواد کې د عايداتو کچه لوړه شي او مالي پايښت ته لاره هواره شي. وزارت تمه لري چې پدې بدلون سره به د اداري فساد مخه ونيسي او ستړې ګټې لاسته راوړي.[353]

که څه هم د عايداتو په راټولولو کې متوقع ودې رامينځته شوې، متحده ايالات او ايتلافي ملګرو يې باور لري چې په روان او متوسطو شرايطو کې به افغانستان ونشي کولی څو د خپل مصارفو بشپړ کولو لپاره کافي عوايد لاسته راوړي. نړيوال بانک اټکل کوي چې تر 2021/2022 کاله پورې به دا مالي خلا د GDP له 25% سره برابر شي او وايي چې نړيوالې ټولنې ته ښايي تر څو دا خلا ډکه کړي.[354]

پدې ربع کې، USAID او د متحده ایالاتو د ګمرکاتو او پولو د ساتنې اداره د افغان ګمرکاتو رياست سره مرسته کوي چې د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې بارونه په اغیزمن ډول تفتيش کړي. د ګمرک چارواکي موخه لري چې د سرکښو سوداګرانو لخوا د اداري فساد مخه ونیسي او هم قانوني سوداګرۍ ته لاره هواره کړي. State ويلي چې د يادو هڅو په نتيجه کې د دې هوایي ډګر له لارې سوداګري 36% زياته شوې ده. تمه کیږي چې په 2013 کال کې د ګمرکاتو عايدات دوه ملیارده افغانيو ته ($36.9 میلیونه ډالر) زيات شي، چې د 2012 کال په پرتله 43% زیاتوالی ښيي.[355]

## د متحده ایالاتو د اقتصادي ملاتړ ستراتيژي

په افغانستان کې د متحده ایالاتو د اقتصادي ليږد ستراتيژي داده چې د 2014 کال له پای ته رسیدلو سره د نړیوال مرستندویه ځواکونو له وتلو او د بسپنه ورکونکو د مرستې متوقع کمښت له امله منفي اقتصادي اغیزې کمې کړي. دا همدارنګه د افغانستان سره مرسته کوي تر څو د پایداره ودې لپاره خپلې زیرمې په کار واچوي.[356] د ستراتيژيکې ملګرتيا تړون له لارې چې د 2012 کال په مې کې لاسلیک شو، متحده ایالاتو ژمنه کړې چې تر 2024 کاله پورې د افغانستان سره امنيتي او اقتصادي مرسته وکړي. که څه هم افغان دولت وړاندیز کړی و چې هر کال $2 ملیارد ډالر اقتصادي مرسته ورکړ شي، خو متحده ایالاتو په تړون کې کوم مقدار ندی ټاکلی.[357] متحده ایالات تمه لري چې د 2024 کال څخه وروسته افغان حکومت د خپل عملیاتي مصارفو لپاره عايدات تولید کړي.

د متحده ایالاتو اقتصادي مرستې د عامه او خصوصي سکتور پر پراختيا، د خصوصي پانګه اچونې پر پراختيا، د خواړو مصونیت، او د کاري موقو پر موندلو تمرکز کوي. لکه څنګه چې د راتلونکې پانې په 3.36 شکل کې ښودل کیږي، متحده ایالاتو د افغانستان سره د مستقیمو مرستو کچه په تدريجي ډول زيات کړی. د حکومت حساب ورکونې دفتر د یو رپوټ په وینا، متحده ایالات په نظر کې لري د عایداتو تولید، د خدماتو وړاندې کول، او د سوداګرې دوستانه چاپیریال رامینځته کولو لپاره په مرکزي او ملي کچه د افغان دولت ظرفیت زيات کړي. متحده ایالات همدارنګه د وريښمو نوې لارې له نوښت سره مرسته کوي، داسې یوه پالیسي چې د پایښت او جامع اقتصادي پرمختګ لپاره جوړ شوی او د افغانستان سره مرسته کوي چې په تدريجي ډول د سیمې په اقتصاد کې خپل ځای ونیسي.[358]

وروسته برخه په لویو اقتصادي سکتورونو کې پرمختګونه او د متحده ایالاتو په مرسته هڅو ته اشاره کوي: بانکداري او مالیه، طبیعي زیرمې، کرهنه، او د بریښنا، ترانسپورتيشن، روغتیا او زده کړې په شمول اساسي خدمتونه.

شکل 3.36

**د USAID مستقيمه مرسته، 2002–2011** (ميليون ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي.

[a] د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې د 2012 مالي کال د USAID ډيرى بسپنه ورکوونه د مستقيم مرستې لپاره نده مقيد شوې.

سرچينې: د سيګار 4/18/2013 او 4/11/2013 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه.

## په افغانستان کې د ځمکې اصلاحاتو پروژه

USAID د ځمکې اصلاحاتو ودې ته په دې موخه ادامه ورکړې ده، چې د خصوصي سکتور پانګونې او د کار پيدا کولو لپاره د شتمنيو پيژندنه او د پلې کيدو وړ قانوني حقونه اړين دي. په 2010 کال کې، د کرهنې، اوبه لګونې او مالدارۍ وزارت د افغان ځمکې واکمنۍ رامينځته کړه څو پانګه اچونکي وهڅوي چې دولتي ځمکې د کرهنې لپاره اجاره ونيسي. د دې موخې پرمختګ لپاره، د 2011 کال په مارچ کې USAID په افغانستان کې د ځمکې اصلاحات پروژه پيل کړه. د دې هڅې لپاره د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې $30.6 ميليونه ډالر مقيد شوي و.[359]

LARA د جلال آباد ښاروالۍ سره کار کاو تر څو د شتمنيو د ثبت سيستمونو او د شتمنيو بريښنايي اسناد چمتو کړي. USAID سيګار ته رپوټ ورکړى چې د ځمکې-نوم سافټ وير پروګرام بشپړ شوى او په جلال آباد کې د لارا په دفتر کې د ازمايښت لپاره نصب شوى، او له 2,000 څخه زياتې برخې چې د ښاروالۍ د مالي نقشې سره نښليدلې دي پکې داخل شوي دي. USAID رپوټ ورکړى چې د افغان ځمکې واکمنۍ سره د لارا يوځاى کيدلو څخه وروسته د دولتي ځمکو عايدات زيات شوي دي د 2011 کال څخه وړاندې هر کال 7 ميليونه افغانۍ ($127,872) او په 2012 کال کې چې لارا په کار پيل کړى 175 ميليونه افغانۍ ($3.2 ميليونه ډالر) او د لازياتو ګټو تمه هم کيږي.[360]

# د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ په اړه تازه خبرونه

د ریوټ پدې دوره کې، سیګار د State سره یوځای تعقیب کړه چې د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ پلي کولو لپاره چې د 2012 کال په جولای کې د افغانستان او نړیوالې ټولنې لخوا مطرح شوی و، کوم عملي ګامونه پورته شوي دي. سیګار ومونده چې افغان دولت او نړیواله ټولنه زیاتیدونکی پرمختګ لري.

چوکاټ د دې لپاره جوړ شوی و چې تر 2015 کال پورې افغانستان سره د نړیوالو پراختیایي مرستي تنظیم کړي. د دې چوکاټ په اساس، نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې د افغانستان سره د مستقیمه مرستو زیاتولو او د افغان ملي لومړیتوبونو پروګرام سره د مرستو برابرولو له لارې به د مرستو اغیزمنتیا زیاته کړي. پهرصورت، نړیواله ټولنه وایي چې "د افغانستان څخه د دوی پایداره ملاتړ دې پورې تړلې دی چې افغان حکومت تر کومه حده د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې په چوکاټ کې کړې ژمنې پلي کوي".[361]

ژمنې دا دي چې د پراختیا او حکومتولۍ په پنځو برخو کې ځانګړې ګامونه چې په چوکاټ کې ورته "شاخصونه" ویل شوي دي پورته کړي:

- واقعي ډیموکراسي او منصفانه ټاکنې
- حکومتولي، د قانون حاکمیت، او بشري حقونه
- د عامه مالیې او سوداګریزه بانک لرنې انسجام
- دولتي عایدات، د بودیجې اجرا، او فرعي ملي (محلي) حکومتولي
- جامع او پایداره وده او پراختیا

د بیلګې په توګه، د لومړی لوبې ساحې موخه دا ده چې د افغان اساسي قانون په اساس په 2014 او 2015 کلونو کې جامع، د اعتبار وړ، او روڼ ولسمشري او پارلماني ټاکنې ترسره شي. شاخصونه یې دا دي چې د 2013 کال په لومړیو کې د ټاکنې لپاره جامع مهال ویش وټاکل شي او ډاډه کړي چې "د ټاکنې جوړښت په مصون، مشارکتي، او روڼ دود جوړ شوی او ټاکنې به په بریالی توګه په خپل وخت ترسره کیږي".[362]

چوکاټ د افغان دولت څخه غواړي چې د حکومتولۍ او پراختیا شاخصونو ترلاسه کولو لپاره چې د پنځو ساحو په هره برخه کې ښودل شوي، کاري پلان او مهال ویشو چمتو کړي. همدارنګه چوکاټ افغان دولت او نړیواله ټولنې ته دنده سپاري چې د یو بل محاسبې لپاره "د څارنې یو منظم او شفاف بهیر" رامینځته کړي. د څارنې میکانیزم درې عناصر لري:

- دایمي کمیټې او د څارنې او همغږۍ ګډ هییت به په منظم ډول پرمختګ وارزوي.
- په 2013 کال کې د لوړ رتبه چارواکو یوه ناسته جوړیږي چې وروسته به په هر دویم کال کې سره کښیني تر څو پرمختګ وارزوي او د ضرورت په وخت کې شاخصونه تازه کړي.
- په 2014 کال کې د وزارتونو په کچه یوه ناسته جوړیږي چې وروسته به په هر دویم کال کې سره کښیني، تر څو پرمختګ وارزوي، شاخصونه تازه، او د سرچینو اړتیاوې وارزوي، او د نړیوالو ژمنې نوي کړي.

افغان دولت د 2012 کال د جولای په 31 د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ پلي کولو لپاره د خپلې "طرحې پاڼې" مسوده اعلان کړه. دا طرح د افغان دولت څخه غواړي چې د حکومتولۍ او پراختیا د پنځو واړو ساحو لپاره کاري پلانونه بشپړ او د څارنې لپاره یې د افغان دولت په چوکاټ کې د همغږۍ میکانیزمونه معلوم کړي.

د 2012 کال د اکتوبر په 14 افغان د مالیې وزیر د ټوکیو تخنیکي کمیټې په لومړی ناسته کې د پلي کولو پلانونه وړاندې کړ. دا پلانونه د پنځو ساحو څخه درې ساحې یې په پام کې نیولې وې: ډیموکراسي او ټاکنې، د قانون حاکمیت او بشري حقونه، او پایداره وده او پراختیا. د 2013 کال په فبروري کې، افغان حکومت دوه پاتې کاري پلانونه هم نړیواله ټولنې ته د تصویب لپاره وړاندې کړ. په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت په وینا بسپنه ورکونکو پدې پروګرامونو کې د اساسي لومړیتوب ټاکلو څخه وروسته دواړه یې تصویب کړه. د State په وینا، افغان دولت د ټوکیو اصلاحاتو د پرمختګ څخه د څارنې او نړیواله ټولنې ته د خپلو موندنو وړاندې کولو ابتدایي مسولیت په غاړه لري.[363]

JCMB د 2013 کال د فبروري په ورستیو کې ناسته درلوده او کاري پلانونه یې وڅیړل. د JCMB د ریوټ په اساس، درې لومړی وړاندې شوي کاري پلانونه وڅیړل شو تر څو د نړیواله ټولنې اندیښنې او نظریاتو ته پکې ځای ورکړ شي. په دې ناسته کې نړیوالې ټولنې د افغان دولت سره موافقه وکړه چې د تخنیکي اوږده مباحثې په ځای په بحراني، او لوړې سویې شاخصونو خبرې وکړي. نړیواله ټولنه به د افغانستان پرمختګ د لوړ رتبه چارواکو په ناسته کې چې د 2013 کال د جولای په 3 دایریږي، او وروسته بیا د وزیرانو په ناسته کې چې په 2014 کال ترسره کیږي وڅیږي، چې وروسته به د اړتیا په صورت کې شاخصونه، د زیرمو اړتیا، د افغانانو او نړیواله ټولنې ژمنې، له شرایطو سره برابر کړي.[364]

په همدې وخت کې، متحده ایالات د خپل "جوایزو پروګرامونو" په مرسته چې د څو اړخیزه میکانیزمونو له لارې لکه د نړیوال بانک ARTF، ورکول کیږي افغان دولت هڅوي تر څو پر خپل ژمنو عمل وکړي.[365] افغانستان ته د جوایزو پروګرام هغه وخت سپارل کیږي چې د ټاکل شوو معیارونو سره سم لاسته راوړنه ولري.[366] په کابل کې د متحده ایالاتو سفارت به په خپل وار سره، د هغو تشریحي معیارونو په نشتون کې چې د نړیواله ټولنې او افغان دولت لخوا منل شوي وي، د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ له 16 واړه شاخصونو څخه به څارنه او ارزونه ترسره کړي.[367]

د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ یو مهم هدف دا دی چې د افغانستان او نړیواله ټولنې اړیکه د اخیستونکی او بسپنه ورکونکي څخه د مالک او ملګری اړیکې ته بدل کړي.

## بانکداري او ماليه

د خصوصي سکتور پراختيا د ټينګ مالي بنسټونو تاسيس ته اړتيا لري تر څو پانګه چمتوکړي او د اسبابو او خدماتو لپاره د پيسو تبادله اسانه کړي. په هرصورت، د افغانستان مالي سکتور ډير وروسته پاتې دی. دا د محدودې پانګې په چمتو کولو سره د افغانستان د خصوصي سکتور په وده کې لوړه برخه اخلي.[368] بانکي سکتور تر اوسه لا د 2010 کال سقوط ته نږدې کابل بانک شتمنۍ ندی ترلاسه کړی، او د پياوړی مالي نظارت، د اداري فساد ضد کړنې، او له خطرسره د مخامخ کيدو کمولو په شمول اصلاحي ګامونو ته اړتيالري.[369] DOD خبرداری ورکړی چې که څه هم د بانکدارۍ نوی قانون پلان کړای شي بيا هم په بانکي سکتور کې د مشرتابه او مسلکي ظرفيت د نشتون په صورت کې د خوښې وړ اصلاحات نشي رامينځته کيدای.[370]

### د غزول شوي اعتبار سهولت برابرول

د خزانې په وينا، د پيسو نړيوال صندق رهبري بورډ لخوا د افغانستان سره د غزول شوي اعتبار سهولت څيړنه او د مرستو د تاديې څيړنه چې ټاکل شوې وه د 2012 کال په دسمبر کې تر سره شي د افغانستان د کمزورۍ کړنې له امله و ځنډول شو.[371] د ECF، $129 ميليونه ډالر درې کلنه قرضه چې د 2011 کال په نومبر کې لاسليک شو، د شرايطو په اساس ورکول کيږي. د تاديو سپارنه دې پورې اړه لري چې افغانستان د بانکدارۍ او مالي جوړښتونو په برخه کې ځانګړي اصلاحات رامينځته کړي. د دې هوکړه ليک لاسليک کولو څخه وروسته، IMF دوه ځل $18.2 ميليون ډالره پيسې سپارلي دي. لومړی ځل د 2011 کال په نومبر، او دويم ځل يې د 2012 کال په جون کې برسيره پردې ورکړ شو چې د افغانستان اصلاحات د IMF لخوا ورو او کمزوری ارزول شوي و.[372]

د IMF غړي د 2013 کال د جنوري 19 څخه د فبرورې تر 2 پورې د کابل څخه ليدنه وکړه تر څو د ECF دويم او دريمې څيړنې لپاره چې ټاکل شوې ده په پسرلی کې ترسره شي د پرمختګ وضعيت په اړه خبرې وکړي. لکه څنګه چې افغان دولت د معيارونو په پوره کولو کې پاتې راغلی، نو د خزانې په وينا کيدای شي د څيړنې او تادياتو بهير چې په پسرلی کې ټاکل شوې ده وځنډول شي.[373]

### کابل بانک

د کابلبانک په اړه د سترې محکمې ځانګړی هييت د 2013 کال د مارچ په 5، د هغو کسانو په تړاو چې د کابل بانک په غلا کې تورن و، خپلې پريکړې واورولې. د توطيې دوه مشران، پخوانی رييس شيرخان فرنود او پخوانی اجرايي رييس خليل الله فيروزي، په امانت کې د خيانت په جرم محکوم او په اعظمي ډول پنځه کاله د بند سزا ورکړ شو. فرنود ته حکم وشو چې $278 ميليون ډالره او فيروزي ته امر وشو $530 ميليونه ډالر بيرته وسپاري.[374] دوی د اختلاس، جعل کاري، او د پيسو غير قانوني ليږلو جرمونو څخه تبريه کړای شول کوم چې کيدای شو د زياتې مودې بند سزا ورکړ شي.[375] دا معلومه نده چې آيا د 2011 کال څخه راهيسې کوم وخت فرنود او فيروزي په خپلو کورونو کې د نظر بند په توګه تير کړي چې د ورځې لخوا ووځي او د شپې لخوا په توقيف کې وي، د دوی په بند کې شميرل کيږي که نه.[376]

مسعود غازي، د نوی کابلبانک د منقوله شتمنيو اجرايي رييس ته امر وشو چې $5 ميليونه ډالر بيرته وسپاري او په درې کاله بند محکوم شو. د افغانستان بانک پخوانی

رييس، عبدالقدير فطرت چې متحده ايالاتو ته تښتيدلې دی، د قانون نه پلي کولو مجرم پيژندل شوی او په غايبانه توګه په دوه نيم کاله بند محکوم شو. د دولت د مالي انتقالاتو د تحليل او رپوټ ورکولو اداري پخوانی رييس، مصطفی مسعودي په دې جرم 24,000 افغانۍ ($500 ډالر) جريمه شو چې د پيښې په اړه يې مقاماتو ته خبر نه و ورکړی. د بانکدارۍ او نظم 16 نورو چارواکو ته د درې مياشتو څخه تر دوو کالو پورې سزا ورکړ شو.[377]

MOF په وياړ سره وويل چې دا سزاوې ښيي چې دولت کولی شي د اقتصادي-مالي جرمونو په وړاندې مبارزه وکړي.[378] خو د اداري فساد په ضد د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کميټه بيا مجرمينو ته د سپکو سزاو په اړه خپله انديښنه وښوده چې د دوی په اند د مراتبو سلسله او کړي جرمونو سره يې انډول ندي.[379] کوم متن چې بيا د قضاييه هييت دلايل څرګندوي تر اوسه لا ندی خپور شوی.[380]

MEC همدارنګه د تور او سزا عمومي بڼه نامناسبه وبلله او زياته يې کړه چې د دوسيې قاضيانو ونه شو کولی چې د افغانستان د پيسو ناقانونه انتقال په ضد او جنايي قانون په اساس د اموالو د مصادرې حکم وکړي چې پدې سره به دولت ته ګرانه وې څو غلا شوې پيسې بيرته لاسته راوړي.[381] د لوی څارنوال دفتر موافقه وکړه او د 2013 کال د مارچ په 16 يې د استيناف لپاره نوم ليکنه کړې ده. پدې سره دوسيه بيا پرانيستل کيږي، د استيناف محکمې چارواکي کولی شي د سترې محکمې پريکړه تاييد، تورونه سرچپه، يا هم سختې فيصلې وکړي. تمه کيږي چې د استيناف محکمه د نوم ليکنې څخه تر 60 ورځو پورې دايره شي. وروسه له هغه نه،ستره محکمه پنځه مياشتې وخت لري چې وروستی څيړنه وکړي او پريکړه وکړي.[382]

کابلبانک په افغانستان کې د بانکي خدماتو تر ټولو څخه لوی چمتو کونکی و، او د افغان حکومت لخوا يې د ملکي معاشاتو ډيره برخه ويشله.[383] په 2010 کال کې د بانک سقوط ته نږدې وضعيت روښانه کړ چې ميليونه ډالر غلا شوي دي. تيره ربعه افغان حکومت د "غير قرضي مهمو ادعاو" يوځای کولو څخه وروسته لکه له اجازې پرته د پيسو تادېې او د مصارفو ادعا، د $982 پر شميرې باندې تازه قرضونه هم علاوه کړه.[384] د غلا شوې پيسو 92% څخه زياته برخه 19 کسانو او شرکتونو ته ورکړ شوي دي.[385]

د دې ورک شوو پيسو تاوان چې د افغانستان مجموعي 6–5%، GDP کيده د افغانستان مرکزي بانک د افغانستان بانک لخوا ورکړ شو.[386] د IMF' د ECF اهتماماتو په اساس له دولت څخه غوښتل شوی چې مرکزي بانک ته بيرته شتمني ورکړي؛ ورک شوي شتمني بيرته لاسته راوړي او د کابلبانک بحران مسولو کسانو څخه حساب واخلي؛ د افغانستان مرکزي بانک له لارې د بانکدارۍ اصلاحات او څارنه پياوړی کړي؛ د عامه پيسو مديريت او روڼوالي ته وده ورکړي؛ او د پيسو ناقانونه انتقال او ترهګرو ته د پيسو ورکولو په وړاندې مبارزه وکړي.[387]

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، ټول $138 ميليونه ډالر بيرته اخيستل شوي دي، چې د تير ربعې سره کوم تو پير نلري. علاوه پردې، د مالي شخړو هوارولو کميسيون چې ټاکل شوی و هغه ملکي دوسيې فيصله کړي چې د کابلبانک د املاکو مديريت له لارې نشي حل کيدای، ټول نهه دوسيې چې ورسپارل شوې وې حل کړې، او په هره دوسيه کې يې د املاکو مديريت په خوښه چلن وکړه. پهرصورت، د State په وينا دا کميسيون بايد د بياپرداخت کولو هوکړې نهايي کړي. د املاکو مديريت شپږ نورې دوسيې نهايي کوي تر څو FDRC ته يې وسپاري.[388]

### خصوصي پانګه اچونکو ته د نوی کابل بانک خرخول

د کابل بانک له ړنګېدو وروسته دولت نوی کابل بانک تاسیس کړ چې د یو 'پلبانک' په توګه د کابلبانک منقوله شتمني او سپارل شوي پیسې وساتي. د NKB خصوصي کول د ECF یو معیار دی؛ MOF په نظر کې لري د 2013 کال تر پایه پورې NKB خصوصي یا هم منحل کړي. د علاقې ښودلو لپاره د 2012 کال د نومبر تر 27 پورې نیټه ټاکل شوې وه.[389] پنځه د علاقې ښودنه لاسته راغلې وې خو یوازې یوه یې داوطلبي وکړه چې هغه هم د MOF لخوا رد شو. وزارت نوی ستراتیژي لا نده اعلان کړې.[390]

## د طبیعي زیرمو پراختیا

افغان حکومت او نړیواله ټولنه د اقتصادي پراختیا څخه د ملاتړ لپاره په ځانګړې ډول د مرستو کمیدو څخه وروسته د افغانستان پر طبیعي زیرمو په خاصه بیا کانونو باندې ډېر حساب کوي. که څه هم کان کیندنې تر اوسه پورې د هیواد په GDP کې یوازې 1% برخه اخیستې، افغان حکومت تمه لري په عینک (مس) او حاجي ګک (اوسپنه) پروژو کې د پراخه پانګه اچونې څخه زیات عواید تر لاسه کړي. پهرصورت، سیګار په ثابت ډول افغان حکومت ته خبرداری ورکړی چې په لنډ وخت کې به ونشي کولی چې د 1$ تریلیون ډالرو په ارزښت د منرال، سکاره، پترول، او طبیعي ګاز له زیرمو څخه کافي عواید لاسته راوړي، ځکه چې د دې عوایدو لپاره د پام وړ زیربنایي پانګونو ته اړتیا شته دی.[391] د کانګرس څېړنیزو خدماتو رپوټ وایي حتا که چیرته د افغانستان طبیعي زیرمې هم په بریالی توګه استخراج شي او اقتصاد یې هم په سیمه کې خپل ځای ونیسي بیا به هم "افغانستان د ناځرګنده دلایلو لپاره بهرنیو مرستو ته اړتیا ولري."[392]

متحده ایالاتو د DOD د سوداګرۍ ثبات وظیفوي ځواک د عملیاتونو له لارې د افغان حکومت سره مرسته کوي تر څو د کانونو په سکتور کې پانګه اچونه راجذب کړي. د ګڼو سیمو داوطلبیو په اړه چې په تیره ربعه کې شوې وې د TFBSO په مرسته خبرې اترې پیل شوي دي. مرسته به تر 2013 کال پورې چې افغانستان د داوطلبیو نوی دوره پیل کوي دوام وکړي. د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، د 6.8$ میلیون ډالرو څخه چې د کان کیندنې سکتور پراختیا لپاره ټاکل شوي وې، TFBSO 4.8$ میلیون ډالر یې مقید کړي، او له دې څخه یې 2$ میلیونه ډالر سپارلي دي.[393]

### د منرالونو نوی قانون

پدې ربع کې، افغان کابینه د منرالونو نوی قانون وروستی مسوده چې د IMF او د ټوکیو دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ معیار دی، تصویب کړه.[394] د قانون تازه کول پدې موخه ترسره شوه چې افغان زیرمې خوندي شي، پانګه اچونکې وهڅول شي، او مقررات د نړیوالو غوره تجربو سره برابر شي.[395] د TFBSO په وینا، د دې قانون ځنډول د خصوصي سکتور پانګه اچونکو کارونه له خنډ سره مخ کړي و، چې د دوی په اند د کان کیندنې شرکتونو ته د امنیت څخه سیاسي او قانوني ثبات ډېر ارزښت لري.[396]

د کابینې غړو پخوانی تکرار د دې لپاره رد کړی و چې د داوطلبۍ/مزایدې بهیر، د څېړلو حقونو پر خبرو اترو، او د نړیوالو شرکتونو د ونډې په هکله یې اندیښنې درلودې.[397] په وروستی مسوده کې ګڼ شمیر مسایل چې مخکې یې په هکله موافقه شوې وه، په نښه شوې وې. د بیلګې په توګه، نوی مسوده په ټولو داوطلبیو کې د کشف او

استخراج حقونه سره نه يوځای کوي کوم شی چې نړيوال پانګه اچونکي يې غوښتنه کوي. د دې په ځای دا نوې مسوده وايي چې که چيرته يو پانګه اچونکي ته د کشف او استخراج حقونه هم ورکړ شي په هره پيښه کې بيل بيل معلوميږي. همدارنګه ټولې شتمنۍ، د اندازې په نظر کې نيولو څخه پرته، داوطلبۍ ته وړاندې کوي او غوښتنه کوي چې د استعمال په ځای د کان کيندنې صنعتي پروژې داوطلبۍ ته وړاندې کړای شي.[398]

د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې د منرالونو قانون به اوس پارلمان ته وړاندې شي.[399] TFBSO خبرداری ورکړی چې که چيرته د کشف او استخراج حقونه سره يوځای نشي ګڼ شمير شرکتونه په نوي داوطلبيو کې ګډون نه کوي او د شته داوطلبيو قراردادونه به لاسليک نکړي. د پارلمان وروستی ملاحظات تر اوسه لا ندي ټاکل شوي.[400]

## د کانونو وزارت او د افغانستان جيولوژيکي سروې سره مرسته

پدې ربع کې، TFBSO د جيولوژي رپوټونو، د زلزلي معلومات، د ځاګانو او توليداتو په ياد داشت ليکنه کې د کانونو او پټرول وزارت او د تيلو او ګاز د معلوماتو مديريت لپاره د افغانستان جيولوژيک سروې سره خپلې مرستې ته ادامه ورکړه. برسيره پردې، TFBSO په لوګر ولايت کې د افغانستان د شمالي عينک برمه کولو پروګرام سره مرسته وکړه، تر څو د MOMP او AGS ظرفيت لوړ او د مسو بالقوه کان په اړه نتايج لاسته راوړي. د AGS کار کونکو ته د ځمکنۍ جيوفزيک، برمه کول، او د سمپل چمتو کولو په برخو کې روزنه ورکړ شوه؛ د دې پروګرام د معلوماتو نتايج په راتلونکې داوطلبيو کې د کارولو وړ دي.[401]

همدارنګه TFBSO او د متحده ايالاتو جيولوژيکي سروې د MOMP او AGS سره مرسته کوي ترڅو د متحده ايالاتو کانونه، او رسمي ناستې وګوري، او د زيرمو د پراختيا لپاره په اړوندو نړيوالو غونډو کې برخه واخلي.[402]

## MIDAS

د USAID لخوا د افغان پايښت لپاره د کان کيندنې پانګه اچونه او پراختيا پروژه د 2013 کال د مارچ په 31 لاسليک شوه. $45 ميليون ډالر غيرمستقيمه او $45 ميليونه ډالر مستقيمه مرسته به د MOMP ظرفيت زيات کړي تر څو د بهرنيو مرستو له کميدو سره دولتي عايداتو ته وده ورکړي. د MIDAS غير مستقيمه مرسته په دريو ابتدايي برخو پاملرنه کوي: د قانون او مقرراتو اصلاح، د MOMP سره تخنيکي مرسته، او د وړو او متوسطو پانګه اچونو پراختيا. مستقيمه مرسته به د اړتيا په صورت کې د جيوساينس برخې څيړنو او نورو برخو سره مرسته وکړي. تر اوسه کومه مرسته نده سپارل شوې.[403]

## عينک د مسو کان: تازه خبرونه

چيناميتالورجيکل ګروپ سره په 2007 کال کې قرارداد لاسليک شو چې د لوګر ولايت د مس عينک کان د استخراج کار پيل کړي، خو تر اوسه يې لاندې پيل کړی. پهرصورت، د کان په شاوخوا کې د فرعي زيربنايي تسهيلاتو کار پدې ربع کې پيل شو. پدې کې 512 نقشه درلودونکی پلاټونو ښارګوټی شامل دی چې د کان په سبب بې ځايه شوو کسانو ته سپارل کيږي. په ښارګوټي کې به د کسانو لپاره جومات، ښوونځي، پلونه، روغتيايي مرکز، سړک، او د خريدارۍ سيمې په نظر کې ونيول شي. هره کورنۍ ته به 450 متر مربع ځمکه (چې د يو ايکړ نهمه برخه کيږي) ورکړ شي.[404]

پخپله د کان را ایستنه به په سیمه کې د لرغونو آثارو، د ځمکې په اخیستلو کې ستونزې، د ابتدايي زيربنا نشتون، او امنيتي اندیښنو له امله نوره هم وځنډېږي. د State په وینا، د داخلې وزارت او MOMP ندي توانيدلي چې د سیمې امنيتي مسايلو ته په سمه توګه رسيدنه وکړي.[405] State همدارنګه خبرداری ورکړ چې د نور ځنډ امکان شته دی. MCC کولی شي په 2013 کال کې د قرارداد په اړه له سره مذاکره وکړي، او کیدای شي خپله زياته پانګه اچونه وځنډوي ترڅو د افغانستان د 2014 کال ولسمشري ټاکنو پایلې او د لیږد څخه وروسته امنيتي وضعيت روښانه شي.[406]

د دې ناڅرګنده ټکو سربیره، افغان دولت لاهم د خپل راتلونکي عايداتو په ارزولو کې د عینک پر عایداتو تکیه کوي. نړیوال بسپنه ورکونکې ټولنه هم دا اټکل شوي عايدات د راتلونکې مرستو په محاسبه کې کاروي. د قرارداد خپور شوی لنډیز په اساس، ټاکل شوې ده چې دولت ته 19.5% یا 808$ میلیون ډالر په پیشکي بڼه د حق الامتياز په توګه، 400 میګاواټ د سکاره سوځونکي بریښنا مرکز، او یو بل د سکارو کان ورکړ شي.[407]

## حاجي ګک د اوسپنو تيرې کان: تازه خبرونه

د حاجي ګک د اوسپنو تيرې د امتياز لپاره د قرارداد مذاکرې رواني دي. MOMP د کان درې بلاکه د هند هيواد یو اووه غړی لرونکی شرکت سره لاسلیک کړی چې مشري يې د ستيل اتوريټي انډيا لميټډ په نوم یو دولتي شرکت کوي. (SAIL) د 2011 کال په نومبر کې، او یو بلاک يې د کیلو ګولډماینس په نوم کاناډايي شرکت سره لاسلیک کړې دی. د State په وینا، هندي او کاناډايي شرکتونو د خپل پانګه اچونې لپاره شرط ایښی و چې د منرالونو بیاکتل شوی قانون تصويب کړای شي.[408]

د یو کان کیندنې شرکت خپرونه د ځرګندو شرطونو په اړه د افغان دولت نه ختمیدونکې مذاکراتو څخه ګیله کړې ده. لیکنه وايي، حکومت ټینګار کوي چې اړوند شرکتونه دې د قرارداد لاسلیک کولو څخه تر شپږ میاشتو پورې استخراج پیل کړي یا به قرارداد ورسره پای ته ورسول شي. دولت همدارنګه په هر شپږ میاشت کې ثابت توليد غواړي او هر کال د شپږ میلیون ټنه صادراتو غوښتنه کوي. د موخو نه تر لاسه کول به هم د قرارداد پای ته رسولو لامل شي.[409] یاده خپرونه رپوټ ورکوي چې د هند دولت د SAIL په مشري د شرکتونو مجموعې ته د قرضې له ورکولو ډډه کړې چې په دې سره به دوی ته ستونزمنه وي چې د کان په سیمه کې د زیربنا او لوژستيکي تسهیلاتو لپاره قرض لاسته راوړي او پانګونه وکړي.[410]

## هايدروکاربن

د ګاز او تیلو د پراختيا په برخه کې د افغانستان هڅې په دوو ساحو تمرکز کوي: افغان تاجک حوزه او د آمو سيند حوزه، چې دواړه د افغانستان په شمال کې دي. پدې ربع کې TFBSO د MOMP او افغان جيولوژيکي سروې سره خپلې مرستې ته ادامه ورکړه تر څو دې سکټور ته پراختيا ورکړي.

## د آمو دريا حوزې توليد: تازه خبرې

اټکل شوې ده چې د آمو دريا حوزه 87 میلیون بیرل اومه تیل لري. د چاینا نیشنل پترولیم کارپوریشن وطن انرژي افغانستان لميټډ. په 2012 کال کې د دریو بلاکونو څخه شاو خوا

5,000 بیرل تیل تولید کړی و. TFBSO رپوټ ورکړی چې CNPCI-W د 2013 کال په جنوري/فبروري کې 500 ټنه اومه تیل(شاوخوا 3,665 بیرل) تولید درلود چې په بدل کې یې 45,000$ ډالر حکومت ته د حق الامتیاز په توګه ورکول کیږي. دولت رپوټ ورکړی چې که څه هم CNPCI-W کولی شي خپل تولید ته ادامه ورکړي، په روان وخت کې تولید بند کړی دی او د خپل تولیداتو لپاره اخیستونکی لټوي. افغانستان د تیلو تصفیه کولو ظرفیت نلري، ځکه CNPCI-W دې ته اړ شوې دی چې د سیمې تصفیه کونکو سره نمایشي هوکړه لیکونه لاسلیک کړي.[411]

د آمو دریا څخه د دولت عایدات به په راتلونکی کې د تولیداتو کچه او د بازار بیو پورې تړاو ولري. CNPCI-W پلان لري په 2013 مالي کال کې 1.75 میلیون بیرل تولیدات ولري. د قرارداد د شرایطو په اساس حکومت به د تولید 15% بیه د حق الامتیاز په توګه، 20% د مالیې عایداتو په توګه، او وروسته له هغه څخه چې د امتیاز حق وضع شي او CNPCI-W هم خپل عملیاتي لګښتونه پوره کړي، بیا نو حکومت په ګټه کې 70–50% شریک ګڼل کیږي.[412] TFBSO د آمو دریا قرارداد مدیریت لپاره د آمو دریا پټرولیم چارواکو سره تخنیکي مرستې کوي. همدارنګه د هایدروکاربن موجود او راتلونکو قراردادونو د مدیریت لپاره د یو لوی افغاني ادارې په جوړولو کې مرسته کوي.[413]

## د افغان تاجک حوزې (I پړاو) تازه خبرې

پدې ربع کې د افغانستان بین الوزارتي کمیسیون د MOMP د قرارداد ارزونې ټیم ته واک ورکړ تر څو د ډرګن آیل، ترکش پټرولیم کارپوریشن، کویت انرژي، او غضنفر ګروپ سره د افغان تاجک حوزې هغه دوه بلاکونو د کشف او تولید په اړه یو مشترک قرارداد لاسلیک کړي چې د 2012 کال په نومبر کې یې ورکړی و. د TFBSO سلاکارانو د مذاکراتو په ترخ کې د CET سره تخنیکي، قانوني، او سوداګریزه مرسته کوي. د قرارداد له ورکولو څخه وروسته به مالي تشریحات یې د لاسرسی وړ وګرځي.[414]

## کرهنه

کرهنه د افغانستان په اقتصاد کې ستر عامل دی. اتیا سلنه افغانان په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه له دې سکتور څخه ګټه تر لاسه کوي.[415] GDP یا د سړي سر عاید په برخه دوهم ځای قانوني کرهنه لري. کاري ځواک ته د خپل ارزښت د ورکړې له لارې، کرهنه کولای شي د GDP د ودې لپاره اغیزمنه وي، همداشان غذایي امنیت ډاډمن کړي او لا ثابتې کاري موقع رامنځ ته کړي.[416] له 2002 کال راهیسې، USAID خپلې 15% کرهنیزو پروګرامونو ته ځانګړې کړیدي، چې له افغانستان سره یې له 2007 کال راهیسې د کرهنیزو محصولاتو په دوه برابرولو کې مرسته وکړه.[417]

په دې ربع کې، JCMB د کرهنې په تړاو دوه NPP ګاني تصویب کړې چې یوه د ملي اوبو او ملي سرچینو د پراختیا او بله د جامع ملي کرهنیزو تولیداتو او بازار پرمختیا ده.[418]

## د ملي اوبو او طبیعي زیرمو پراختیا

د کرهنې او کلیوالي پراختیا په ګروپ کې د ملي لومړیتوبونو څلورو پروګرامونو څخه یو دا و چې د افغانستان په اکرو-ایکو سیستم باندې د وچکالۍ او بیدیاګرځیدنې اغیزه وارزوي. د حکومت په وینا، په شمال، لویدیځ، او سهیل کې 75% ځمکې د بیدیاګرځیدنې څخه

اغيزمنې کيږي. دا پروګرام موخه لري چې د افغانستان د اوبو د زيرمو په سمه توګه مديريت او کارونه وکړي ترڅو کرهنيز توليدات وده، پاکو اوبو ته لاسرسي زياته، او کليوالي سيمو ته برېښنا چمتو شي. دا پروګرام په نظر کې لري چې د وزارتي او بنيادي ظرفيت په زياتولو، د اوبه لګونې پراخولو، د طبيعي زيرمو ساتلو، او کليوالي سيمو ته د اګروبيزنسس لپاره برېښنا چمتو کولو له لارې دا موخې لاسته راوړي. افغانستان د دې NPP لپاره په دريو کلونو کې $1.87 مليارد ډالر بوديجه ټاکلې ده. دې پروګرام $1.15 مليارد ډالر خوندي کړي، او $714.6 ميليون ډالر کسر لري. دا بوديجه به په مستقيمه توګه د افغانستان بيارغونې خيريه صندق يا کوم بل ځانګړې حساب له لارې ورکول کيږي.[419]

## جامع ملي کرهنيز توليدات او د مارکيټ پراختيا

د جامع ملي کرهنيزو توليداتو او د مارکيټ پراختيا پروګرام موخه د پايدونکي کرهنيزو توليداتو پياوړتيا ده چې د خوړو تامين، اقتصادي ودې، د کر کيلې سره د اړتياو راکمول او د قانوني موادو د توليد لپاره هڅونې پکې شاملې دي. حکومت په پام کې لري چې د بزګرانو او د خوړو سوداګريزو توليدونکو لپاره غوره مقرراتي چاپيريال رامنځ ته کړي چې ورسره کريډټ ته لاسرسی پياوړی شي، د ځمکې مالکيت، کليوالي زيربناوې، د خوړو د پروسس او ذخيرې آسانتياوې، او د سوداګريزو پراختياو نور خدمتونه. د حکومت د وزارتونو ظرفيت به همداشان پياوړې شي څو د پروګرام د پلې کولو برسيره مناسبې پاليسۍ او مقررات رامنځ ته کړي.

افغانستان دې NPP ته په دريو برخو کې تر $1.13 مليارد ډېره بوديجه ځانګړې کړېده. د ژوند لپاره خواړه، د خوړو زون، او د مارکيټ او تشبثاتو پرمختيا. حکومت يوازې $270 ميليون ډالر تامين کړيدي، چې د $859 ميليون ډالرو کمښت په ګوته کوي. USAID به په 2013 کال کې له بوديجې بهر $10 ميليونه مرسته برابره کړي او د خوړو د زون پروګرام ته به په 2014 کال کې د بوديجې دننه $10 ميليون ډالر ورکړي، چې د مخدره موادو پرضد په مبارزې به تمرکز کوي او له کندهاره به پيل شي. د NPP لپاره د بوديجې له لارې دا مرستې به د ARTF يا نورو ځانګړو حسابونو له لارې ولګو ل شي.[420]

USAID د کرهنې سکتور ته د ګڼو پروګرامونو له لارې مرستې چمتو کوي. هغه درې عمده لومړيتوبونه چې تر $350 ميليون ډالرو يې ټوليز ارزښت زيات دی دا دي:[421]

- د کرهنې د پرمختيا بوديجه يا ADF او د کرهنيز کريډټ پياوړتيا يا ACE
- د اقتصادي متبادلو پرمختياو خوځښت شمال، شرق او غرب (IDEA-NEW)
- د سوداګريزې باغداري او کرهنيز مارکيټنګ پروګرام يا CHAMP

## د کرهنې د پرمختيا بوديجه يا ADF او د کرهنيز اعتبار پياوړتيا يا ACE

د کرهنې د پرمختيا بوديجه او د کرهنيز کريډټ پياوړتيا (ADF-ACE)، د $150 ميليون ډالرو د کرهنيز کريډټ پروژه ده چې دوه بشپړونکي فعاليتونه لري چې د کرهنې وزارت له هڅو د قرضو له رامنځ ته کولو او د هغو د مديريت په برخه کې د ظرفيت له جوړولو ملاتړ کوي. ADF د کرهنې د ارزښت د کړيو ، فارمي ذخيرو، د اجارې شرکتونو او غذايي پروسيسرونو په برخه کې د قرضې د رامنځ ته کولو په موخه تاسيس شوي وه چې په خپل وار بزګرانو ته کرهنيز کريډيټونه چمتو کوي. ADF-ACE د مالي قرضې د محصولاتو په

برخه کې نهه ابتکارات طرح او عملي کړل. يو په هغو کې د ښځو لپاره منحصره و. د ADF د ټوليز 75$ ميليون ډالرو له مجموعي څانګړني، د 2013 کال د مارچ تر 30، 64.6$ ميليون ډالرو ژمنه وشوه چې 53.7$ ميليونه ولګول شول (9$ ميليونه يې د بوديجې په چوکاټ کې).[422]

ACE، د تخنيکي مرستو برخه، د ADF د قرضو د ټولو فعاليتونو مديريت کوي او د کرهنې وزارت په ظرفيت جوړونې کې هم برخه اخلي. د 2013 کال د مارچ تر 30، د 46$ ميليون ډالرو له قرضې 16,000 بزګرانو ګټه پورته کړه چې د سيګار د تيرې ربع له رپوټ څخه 1,000 زيات شويدي. د دې برياو سره سره، USAID روښانه کړه چې افغان سياسي او قانوني موانعو د ADF قانوني راجستيريشن وځنډاوه او د قرضو بوديجو ته يې لاسرسی محدود کړ. چې ورسره د تصويب شويو قرضو او ګټه اخيستونکو شميره هم کمه شوه.[423]

## د اقتصادي متبادلو پرمختياو خوځښت شمال، شرق او غرب

د اقتصادي متبادلو پرمختياو خوځښت شمال، شرق او غرب (IDEA-NEW) د اقتصادي همکاريو هغه پنځه کلن پروګرام دی چې اقتصادي مرستې او د کوکنارو کښت ته اقتصادي متبادلې لارې د ختيځ په څانګړو ولايتونو کې په لار اچوي او همداشان يې د هيواد په شمال او لويديځ کې په پام کې لري. د 2013 کال د مارچ تر 30، USAID له IDEA-NEW پروګرام سره د 127.1$ ميليون ډالرو ژمنه وکړه او له هغې جملې يې 118.2$ ميليونه ولګول. IDEA-NEW له بزګرانو سره مرسته کوي څو قانوني کرهنيزو توليداتو ته يې وهڅوي او د سوداګريزو فرصتونو د زياتولو، مالي خدمتونو ته د لاسرسي پراخولو، او د کليدي سيمه ايزو صنايعو او سوداګريزو دهليزونو لپاره د ارزښت-کړې د پراختيا له لارې پياوړتيا رامنځ ته کړي. دا همداشان د مارکيټونو د معلوماتو له لارې او د خرڅلاو د پياوړتيا له لارې د پانګونکو، سوداګرو او پيرودونکو تر منځ اړيکې تامينوي.[424]

له يوې پراخې کتنې وروسته، IDEA-NEW له زيربنايي فعاليتونو، ضمانتي پروګرامونو، او له بزګرانو سره د توليد د کچې په تړاو کارونو لرې کړای شوه. او په ځای يې، د ارزښت له کړۍ سره يې خپلې هڅې متمرکزې کړې، او له سوداګرۍ، کوپراتيفونو، ټولنو او د فارمي خدمتونو له مراکزو او نورو منځګړو سره يې خپلې اړيکې زياتې کړې.[425]

USAID رپوټ ورکړ چې تر 950,000 ډيرو کورونو له IDEA-NEW څخه مستقيمه ګټه تر لاسه کړه، چې په پايله کې يې تر 46,000 ډيرې بشپړې دندې او 4.35$ ميليون ډالري کرهنيز صادرات لاس ته راغلل. په داسې حال کې چې څارنه تر اوسه هم يوه ننګونه ده. د سيګار کتنې د اغيزمنې پلټنې يوه مهمه برخه ده، خو د ولايتي بيارغونې ډلو او جګړه ايزو ځواکونو له افغانستان وتل به ساحې د لاسرسي او مصونيت په تړاو انديښنې لا هم زياتې کړي.[426] سيګار د دې ستونزې په تړاو په دوامداره توګه خپلې انديښنې روښانه کړيدي.

## سوداګريزه باغداري او د کرهنيز مارکيټنګ پروګرام

سوداګريزه باغداري او د کرهنيز مارکيټنګ پروګرام يا CHAMP د 40.3$ ميليون ډالرو په ارزښت هغه پروګرام دی چې په 2010 کال کې پيل شوی دی، موخه يې د بزګرانو د نيالګيو مرسته او د ميوو او انګورو باغونو لا ګټه ور توب دی. CHAMP له بزګرانو سره په ګډه په دې کار کوي چې د کرهنې کيفيت ښه کړي او د صادراتو او سوداګريز دهليزونه پياوړي

کړي. دا پروګرام همداشان له بزګرو سره په دې کار کوي چې د ذخيره کولو، ګيډۍ کولو، سړو ذخيرو او ليږد لارې چارې تقويه کړي.[427]

د CHAMP په مرسته شاوخوا 6,000 هکتاره ځمکه د نويو سوداګريزو ميوه اي او د انګورو باغونه رامنځ ته شول، چې تر 18,000 ډير بزګران ورڅخه ګټه پورته کوي. د 2013 کال د مارچ تر 30، USAID د 24.3$ ميليون ډالرو ژمنه وکړه او له هغې جملې يې شاوخوا 23.3$ ميليونه ولګول. په داسې حال کې چې نا امني اوس هم د CHAMP لپاره ستره ننګونه ده چې د بشپړې پلې کونې او د موادو د توضيع په برخه کې پرته ده. ياغي ډلې د بزګرو او CHAMP د کارکونکو لپاره ګواښونه کوي چې په ځانګړې توګه په کندهار، هلمند، زابل، وردګ لوګر او غزني ولايتونو کې ليدل کيږي.[428]

## بنسټيز خدمات/ پراختيا

له 2002 کال راهيسې، متحده ايالاتو د بريښنا زياتولو، سړکونو او پلونو جوړولو او روغتيايي او تعليمې پياوړتيا ته بوديجه برابره کړيده. په دې برخه کې د متحده ايالاتو هغه هڅې روښانه کيږي چې بنسټيزو خدماتو د پياوړتيا په برخه کې د دولت توان زياتوي لکه بريښنا، ترانسپورت، روغتيا او تعليم.

### انرژي

په دې ربع کې، له انرژۍ سره تړلې NPP تصويب شوه- د انرژۍ د تامين ملي ستراتيژي يا NESP. NESP د څلورو NPP ګانو له جملې دريمه ده چې د زيربناو د پراختيا په ټولګي کې شامله ده، چې د زيربناو د پانګونې، د منرالي سرچينو پراختيا، د اقتصادي ودې ګړندي کولو ته سيمه ايز تواميت پکې شامل دي. دا به د افغانستان د بريښنا سکتور له ماستر پلان سره په همغږيتوب په مخ ځي. د NESP له لارې، به افغانستان د بريښنا د تامين په کړۍ کې لومړنۍ پانګونې ترسره کړي، او د حکومت ظرفيت او حساب ورکونه به د خپلو هغو موخو په تړاو پياوړي کړي چې غواړي هر کال د انرژۍ د تامين په لور 10% پرمختګ وکړي. په خپلې درې کلنې بوديجې کې چې د 2013 په جنوري کې پيل شويده 3.48$ مليارد ډالر شامل دي چې تر اوسه افغانستان 1.98$ مليارد ډالر ترلاسه کړيدي او د 1.49$ مليارد ډالرو کمښت په خپل ځای پاتې دی. د مرستې دغې برخې په اړه چې د بوديجې له لارې به ولګول شي تر اوسه پريکړه نده شوي.[429]

د افغانستان پرمختيا ته بريښنا مهمه ده. د افغانستان له حکومت سره په همکارۍ او د هغو له دولتي لومړيتوبونو په منلو، متحده ايالاتو د انرژي جامع سکتور پراختيا ته له 2002 کال راهيسې د يوه مهم لومړيتوب په سترګه ګوري. له 2011–2002 کال پورې، USAID په يواځې نږدې 2$ مليارد ډالر د ESF له لارې په دې لګولي دي چې جنراتورونه، سبستيشنونه او د ليږد لينونه جوړ کړي او دې سکتور ته تخنيکي مرستې چمتو کړي. په پلان کې ده چې لږ تر لږه 900$ ميليون نور ډالر به په کمو کلونو کې ولګوي.[430] DOD برسيره پر دې 292$ ميليون ډالر د CERP له لارې د بريښنا پروژو ته ورکړيدي او 530$ ميليون ډالر يې د AIF له لارې ورکړيدي چې د DOD او بهرنيو چارو وزارت له لورې يې په ګډه مديريت کيږي.[431] د دغو مرستو په پايله کې بريښنا ته د افغانانو لاسرسی چې په 2001 کال کې 5% وو په 2012 کال کې 30% ته لوړ شو.[432]

شکل 3.37

**د انرژۍ په سکتور کې د USAID روانې او بشپړې شوې پروژې**




سرچينې: د آسيا پراختيايي بانک، TA7637 ”(AFG) د بريښنا سکټور ماسټر پلان،“ 11/2012؛ د سيګار 7/13/2012 معلوماتي غوښتنې ”PTEC ډشبورډ“ ته د USAID ځواب.

اقغانستان نهه بيل بريښنايي سيستمونه لري. دوه لومړني هغه دا دي: د شمال ختيځ بريښنا سيستم يا NEPS او د سويل لويديځ بريښنايي سيستم يا SEPS. USAID په دواړو سيستمونو کې د بريښنا رسونې د زياتولو او ارتباط درى پروژې په لاس کې لري. لکه په 3.37 شکل کې چې روښانه شويده.[433]

## د شبرغان پروګرام

USAID د دوو ميکانيزمونو له لارې د شبرغا په پروګرام کې خپله ونډه پلې کوي: د شبرغان د ګاز د پرمختيا پروژه يا SGDP چې د 90 ميليون ډالرو په ارزښت د بوديجې له لارې لګول کيږي، او د شبرغان د ګاز د توليد د فعاليتونو پروژه چې 35 ميليون ډالرو په ارزښت د بوديجې له چوکاټه بهر لګول کيږي.[434] د بهرنيو شخصي پانګونو شرکت د هغو 300 ميليون ډالرو شخصي مرستو ملاتړ کوي چې 200 MW د ګازي بريښنايي ماشين لپاره ورکول کيږي؛ د اسيا پراختيايى بانک يا ADB به د ليږد د ټرلو لينونو له جوړولو ملاتړ وکړي.[435]

د SGDP د بیارغوني او برمه کاري لپاره دواطلبي په دې ربع کې پرانیستل شوه؛ ارزونې د پرمختګ په حال کې دي. د قرارداد هوکړه به د تمې پر اساس د 2013 په جون کې وشي. همداشان، USAID روښانه کړه چې د پروژې وسعت به تر څلورو ځاګانو پورې وي. د برمه کولو شرکتونه دې کار ته د ورېږ پانګونې په سترګه ګوري کله چې سیاسي او امنیتي خطرونو سره پرتله کیږي.[436]

په شبرغان کې په نورو پرمختیاو کې TFBSO د متراکمو طبعي ګازو یا CNG د ستیشن د داوطلبي عملیاتو په تړاو د MOMP ارزونه کوي. چې TFBSO مرسته ورکړه او په 2012 کال کې MOMP ته تسلیم شوه. خصوصي پانګونکي په سیمه کې د فعالیتونو د ممکنه پراختیا په اړه پلټنه کوي. CNG تر پټرول 50% ارزانه دي؛ که چیرته د پام وړلوړه کچه ولري نو په وارداتي تیلو به د افغانستان تکیه راکمه کړي.[437] د 2013 د مارچ تر 31، TFBSO د 11.2 میلیونو ژمنه وکړه او د دې هڅو لپاره یې $345,000 ورکړل.[438]

## د کندهار-هلمند بریښنا پروژه

د کندهار-هلمند بریښنا پروژه یا KHPP، لکه په 3.38 شکل کې چې ښودل شویدي، په سویل ختیځ افغانستان کې د یاغیانو ضد ستراتیژۍ د یوه مهم عنصر په سترګه ورته کتل کیږي. په پام کې ده چې د بریښنا رسول به په یوه مهال کې په کندهار کې زیات کړي او د وګړو لپاره به یې نور هم د لاسرسي وړ وګرځوي. په 2010 کال کې USAID د 266$ میلیون ډالرو قرارداد له بلک ایند ویتچ سره د بریښنا د سب ستیشنونو د رغولو په برخه کې لاسلیک کړ، او په کندهار ښار کې یې د منځني ولتاژ د توضیح سیستم پرمختیا ته کار وکړ، همداشان د کجکي د دریم ټوربین د نصب او د ډیزلي جنراتورونو د طرح او نصبولو مسله هم په پام کې وه. DOD د پیسو ورکړې ته د دې لپاره ژمن دی او همداشان د متحده ایالاتو د پوځ د انجنیرانو د قطعې له خوا نور نصب شوي جنراتورونو ته به هم تر 2014 کال پورې د AIF له لارې پیسې ورکړي. د تیلو سبسیډي به پراخه شي، خو USAID تمه لري چې د افغانستان ملي لګښت به کم شي ځکه DABS هغه اړین ګامونه نیولي دي چې د تیلو د دوامداره لګښتونو لپاره اړین عواید تامین کړي.[439] د 2013 کال د مارچ تر 15، USAID د KHPP لپاره د ESF له بودیجې 229.6$ میلیون ډالره ځانګړې کړیدي له هغې جملې 152.2$ میلیون ډالر لګول شویدي.[440]



د هلمند ولایت د کجکي هایدروالکتریک ستیشن **د توربین هال** دوه تربینونه لري چې یو یې په چپ لورې کې لیدل کیږي. متحده ایالات به د هغه دریم توربین نصبولو ته هم مرسته چمتو کړي چې په 2008 کال کې تسلیم کړای شو. (د بهرنیو چارو وزارت تصویر)

شکل 3.38

**د کندهار-هلمند د بریښنا پروګرام**




سرچینه: د سیګار 11/6/2012 معلوماتي غوښتنې "KHPP ډشبورډ،" ته د USAID ځواب.

د اولسمشر کرزي د غوښتنې په ځواب کې چې د 2013 کال د واشنګټن په سفر کې یې وکړه، اولسمشر اوباما د کجکي په بند کې د KHPP له قرارداد څخه د دریم ټوربین د نصبولو خبره راپورته کړه. په عوض کې یې USAID د MOF د بودیجې له لارې د 80–60$ میلیون ډالرو مرستې خبره ومنله چې DABS به ټوربین پرې نصب کړي.[441] د 2013 کال د اپریل په 9، سیګار د USAID هغه پلانونه اعلان کړل چې له مخې به یې مستقیمې مرستې چمتو شي او د دې مدیریت ته یې د DABS ظرفیت وآزمایه، او د پیسو د مدیریت په تړاو یې د DABS د ملاتړ په برخه کې خپل تدابیر په ډاګه کړل.

USAID له DABS سره مرسته کوي چې د ټوربین د نصب لپاره قرارداد اعلان او عملي کړي. د پلي کولو نوې ستراتیژۍ به د رقابت لپاره مهال ویش د 2015 کال پای ته بدل کړي. د بلک اینډ ویچ قرارداد، چې تخنیکي مرستې هم پکې شاملې دي د 2013 د سپټمبر په 30 پای ته رسیږي. له دې سره به DABS ته د قراردادي له تللو مخکې د نصبولو لپاره لږه موده پاتې شي.[443] د USAID په وینا به د KHPP نور ټول اجزا له دې موډې سره د تمې په اساس بشپړ شي.[444]

د متحده ایالاتو ځواکونه-افغانستان، د متحده ایالاتو د انجینیرانو قطعه، او USAID د SEPS په چوکاټ کې د بریښنا زیربناو سره په تړلو مسلو سره په ګډه کار کوي. به دې ربع کې هم KHPP د لوژستیکي ستونځو حللولو ته هڅې رواني وساتلې. USAID رپوټ ورکړ چې تر 100 زیات هغه کانتینرونو کې چې د بیړۍ له لارې راوړل کیږي د دریو میاشتو ځنډ رامنځ ته شو چې له وسایلو او تجهیزاتو بار وو او د نوي ګمرکي مقرراتو، اعتراضونو او نارازیو له کبله د پاکستان په سرحد کې ایسار شول. د افغانستان لوري ته په پوله کې، اته اونۍ د 14 زیانمنو شویو ترانسفارمرونو په ترمیم ولګیدې چې د هغو غلو له خوا چې

مسي برخې یې غلا کړې وې خرابې شوې وې. برسېره پر دې، DABS د کیفیت د کنټرول په برخه کې له ستونزو سره مخامخ ده، له دې امله د کندهار د برېښنا د توضیع په برخه کې ستونزې موجودې دي. د DABS له کارکونکو سره USAID په دې موخه کار کوي چې د هغوی ظرفیت لوړ کړي او هغوی د برېښناد توضیع د سستم په پراختیا او ساتلو کې په مستقیمه توګه شامل کړي.[445] نورې پروژې د مهال ویش سره سم یا تر هغو مخکې روانې دي، لکه د برېښنا کوټ په سبسټېشن کې د 10.5 MW ډیزلي برېښنا جوړول، چې تر مهال ویش څخه 68 ورځې مخکې وه.[446]

## د برېښنا د لیږد پراختیا او نښلونې پروګرام

د برېښنا د لیږد پراختیا او نښلونې پروګرام یا PTEC د متحده ایالاتو په مرسته هغه پروګرام دی چې د برېښنا د پراختیا، لیږد او توضیع سیستمونو لپاره طرح او پیاوړی شوی دی. په مستقیمه توګه د انرژي رسولو د ملي پروګرام ملاتړ کوي چې د افغانستان د انکشافي ملي ستراتیژۍ یوه برخه ده. دا ستراتیژي د برېښنا د بل او د برېښنا د زیاتیدونکې اړتیا او جمع کولو پیاوړتیا رامنځ ته کوي.

د PTEC یو اصلي جز د کابل او کندهار تر منځ لیږدونکی لین دی چې NEPS او SEPS سره نښلوي. د 530 کیلومترو په اوږدوالي دا نښلونه د کجکي د برېښنا ماشین سره په ګډه، 2010 کال کې د کندهار د یوائنۍ ممکنې، اوږدمهالې حل لارې په توګه وپیژندل شوه چې په کندهار کې به ګران او نه پایدونکې مطمینې برېښنا ځای ناستی شي. PTEC به په څو پړاونو کې پلي شي. ADB د لومړنیو 40 کیلو مترو مسولیت لري، د کابل-ارغندي د فرعي سټیشن نښلونکی USAID به له ارغندي تر غزني د 120 کیلومترو رغونې ته بسپنې چمتو کړي او DABS ته به د بودیجې په چوکاټ کې پیسې برابرې کړي. USAID د DABS د داوطلبۍ غوښتنه تصویب کړه په داسې حال کې چې د متحده ایالاتو د پوځ د انجینرانو قطعه له ارغندي تر ګردیز او پل علم پورې د لیږد په رغولو کې کارکوي.[447]

DABS ته به د PTEC د اټکل شوي ټولیز 814 میلیون ډالرو لګښت له جملې 417 میلیون ډالر د افغانستان د زیربناوو د ګډو تمویلونکو خیریه بودجې یا AITF له لارې ولیږدول شي چې د ADB له لارې پلي کیږي. ADB د 2010 په دسمبر کې AITF تاسیس کړ، تر څو دوه اړخیزه، ګڼ اړخیزه او شخصي قراردادیانو ته موقع ورکړي چې د ADB د مالي زیربناو په پانګونو کې برخه واخلي. USAID د انتقال په هوکړې کار کوي. په نورو پرمختیاو کې د ظرفیت جوړونې او سوداګریز کولو په پروژې کې د داوطلبي غوښتنې د DABS له خوا خپرې او د USAID له خوا تصویب شوې. تمه کیږي چې د 2013 په مې کې به ورکړل شي. USAID همداشان د سالنګ تونل د فرعي سټیشن په طرح او انکشاف کې مرسته کړیده ،همداشان یې له جلال آباد څخه د حصار شاهي صنعتي پارک ته د لوړ ولټاژ لین او د NEPS موجودې زیربناوې هم ځواکمنې کړې دي.[448]

## د DOD له لورې تمویل شوي پروګرامونه

په دې ربع کې DOD د انرژۍ سکتور د لومړیتوبونو ګڼې پروژې پلې کړې چې پیسې یې د AIF د 2012 او 2013 مالي کال له بودیجې تر لاسه کیدې. چې په هغو کې دا شامل وو:

- د کندهار د برق د ستونزې حل
- د کندهار-دوراېي د جنکشن د لیږد لینونه
- د چاریکار-بازارک او چاریکار-محمودراقي د لیږد لینونه او د برېښنا فرعي سټیشنونه

### د سیګار پلټنه

په دې ربع کې سیګار د متحده ایالاتو په مرسته له هغو پروژو پلټنه خپره کړه چې د DABS سوداګریز کولو په موخه تر سره کیږي، دوی وموندل چې د کندهار–DABS چې د سیخونو په برخه کې مسولیت په غاړه واخلي، په خپلواکه توګه د سیستمونو د تجهیزاتو اداري، نصبولو، عملیاتو، او لاس ته راوړنې په برخه کې محدود ظرفیت لري. د نورو معلوماتو لپاره د 2 برخې، 26 پاڼه وګورئ .

## د کندهار د برېښنا د ستونزې حل

دا پروژه د کندهار ښار لپاره د ډيزلي جنريټرانو تيل برابروي تر هغې چې KHPP بشپړيږي. د 2012 مالي کال پيسې 79.8 ميليون ډالر پاتې دي. د 2013 مالي کال اټکل شوی لګښت 100 ميليونه اټکل شوی دی چې 90 ميليون ډالر يې د تيل او 10 ميليونه د ساتنې او عملياتو يا O&M لپاره ځانګړې شويدي.[449] DOD په پام کې لري چې د تيلو پيرودلو ته دوام ورکړي او تر 2015 مالي کال پورې O&M ته ملاتړ چمتو کړي.[450] برېښنا ته د ياغيانو ضد ستراتيژۍ د يوې ترينګلې ستراتيژۍ په بڼه کتل کيږي او هڅه کيږي چې د اقتصادي ودې او د ښاريانو د ژوند د کيفيت د اوچتولو له لارې ثبات ته لار هواره کړي. د DOD په وينا د کندهار د برېښنا د ستونزې هواری د افغانستان د برېښنايي کولو د پلان او د افغانستان لپاره د بهرنيو چارو وزارت په پراختيايي پروګرام کې مهم بلل کيږي.[451]

د 2012 کال په جولای کې د سيګار د 2011 مالي کال د AIF پروژې وموندله چې، د تيلو د معادلې سرچينې تر موندلو پورې چې وکولای شي ډيزلي جنراتورانو ځای ونيسي او يا کندهار ته د وارېديدونکو تيلو مقدار زيات شي، داسې په پام کې ندي چې د برېښنا د حل لپاره لګښتونه راکم شي.[452]

## د کندهار-دورايي د جنکشن د ليږد لينونه

د SEPS د پراختيا د يوې برخې په توګه، دغه پروژه له کندهار څخه د دورايي تر جنکشن پورې د ليږد د لينونو د نصب او ترميم هڅو ته دوام ورکوي او په ميوند او پاشمول کې د فرعي سټيشنونو په جوړولو يا بيارغولو کې مرسته کوي. د 2012 مالي کال په پيسو کې د دغې پروژې لګښت 40 ميليون ډالر پاتې شوی دی. چې کانګرس ته د 2012 مالي کال د پای په رپوټ کې DOD روښانه کړه چې له هغې جملې 115,000 ډالر پاته دي. د ليږد دا لينونه به د هغو اړتيا و په کمولو کې مرسته وکړي چې د افغانستان په سويل او سويل ختيځ کې د برېښنا د يوه مطمين سيستم لپاره ليدل کيږي او د PTEC د هغې پراخې پروژې په برخه کې چې SEPS او NEPS سره نښلوي پراخه ونډه لري.[453] DOD په پام کې لري چې اقتصادي وده، امنيت، ثبات او د ظرفيت جوړونې هڅې د DABS لپاره تر سره کړي څو د برېښنا سوداګريز کيدل پياوړي کړي چې ورسره به د پام وړ عوايد تر لاسه شي او په دې برخه کې لويې لاس ته راوړنو ته ورسيږي.[454] DOD وايي چې د دې پروژې د دې لپاره اړين دی څو په کجکي بند کې د دريم ټوربين د نصب چارې بشپړې شي.[455]

## د چاريکار-بازارک او چاريکار-محمودراقي د ليږد لينونه او د برېښنا فرعي سټيشنونه

په دې پروژه کې به 52 کيلومترو په اوږدوالي لينونه نصب شي چې له چاريکار تر بازارک او له چاريکار تر محمودراقي به دوام وکړي، او د NEPS د پراختيا لپاره به درې فرعي سټيشنونه هم جوړ کړي. کانګرس ته د DOD د څرګندونو پر بنسټ د ې پروژې ته د 48 ميليونو ځانګړې شوې مرسته د 2013 مالي کال څخه ليرديدلې ده او 22 ميليون ډالره نور پرې حواله شول چې ټوليزه اټکل شوی لګښت يې 71 ميليون ډالره کيږي. کلنی اټکل شوی لګښت يې 580,000 ډالر بلل کيږي.[456] DOD کانګرس ته روښانه کړه چې دا پروژه به 1.15 ميليون افغانانو ته په دريو ولايتونو کې مطمينه برېښنا برابره کړي او د خصوصي سکتور له ودې سره به مرسته وکړي، په ځانګړې توګه په کرهنې، پروسس کولو، توليد او د کانونو سکتور په برخه کې.

DOD وايي چې DABS به د O&M ملي مسولیت په غاړه واخلي او همداشان به د بشپړو شويو زيربناو د پياوړتيا لپاره، او د دې وړتيا به ولري چې ځواکمنو عايداتي سرچينو او ظرفيتونو په برخه کې يې مرسته وکړي.[457] پهرصورت، لکه چې وړاندې وويل شو، سيګار د DABS ظرفيت په اړه اندېښنې څرګندې کړې، او نورو پلټنو ښودلې ده چې افغانستان د O&M د ژمنو بشپړولو ته اړينې سرچينې په واک کې نلري.[458]

## د برېښنا په سکتور کې د CERP پروژې

د CERP پيسې د DOD له لورې په هيواد کې د ټيټې کچې پريښنايي پروژو په برخه کې لګول کيږي، لکه د جنراتورانو نصبول، د برېښنايي تختو سيستمونه او ګټورې پايې. د 2013 مالي کال په لومړۍ ربع کې، د CERP د برېښنا پروژو کې اتو نويو پروژو ته د پيسو ژمنه وشوه. (ارزښت يې 56,312$) د دې نويو پروژو تر ټولو پراخه (28,500$) به په پروان کې د برېښنا پايې او لينونه بيارغول شامل دي چې د نظامي ګاډو په واسطه ويجاړ شوي دي او 18 کورونه او يو مسجد يې اغيزمن کړی دی. دا پروژه به د 12 اونيو لپاره 45 کسان په کار وګماري.[459]

## ترانسپورټيشن

د افغانستان د ترانسپورټي زيربناو نه شتون د سوداګرۍ او اقتصادي ودې مخه نيسي.[460] دغه هيواد د نړۍ په هيوادونو کې د سړکونو يو تر ټول خراب سيستم درلودونکې دی. تر 100 ميلو د ريل پټلۍ کمه لاره لري، او د نړدې سمندري لارې 2,000 کيلومتره واټن لري چې په وچه کې د ګيرو مخ په وده هيوادونو کې تر ټولو ډير واټن بلل کيږي.[461] برسيره پردې ګاونډي هيوادونه د افغان توکو په ليږد کې په خپلو پولو کې تل ستونزې رامنځ ته کوي.[462]

د افغانستان زيربنايي کمښت د خدمتونو او کرهنې سکتور په برخه کې په ځانګړې توګه ستونزې راولاړوي چې اوسمهال د GDP تر ټولو ستره برخه جوړوي. هغوی همداشان استخراجي صنعت څخه ملاتړ کوي چې افغان حکومت او نړيوال مرستندويان تمه لري چې راتلونکی کې به عوايد ترې لاس ته راوړي او د کميدونکو نړيوالو مرسته تشه به ډکه کړي.[463] د نړيوال بانک د تحليل له مخې د ترانسپورټي سکتور رغونه د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره اړينه ده.[464] په دې ربع کې، متحده ايالاتو د ترانسپورټي قوانينو د پراختيا لپاره خپلې هڅې رواني ساتلې دي او د وزارت د ظرفيت لوړول او له نړيوالو معيارونو سره يې مطابقت ته کارکوي.

## سړک

د افغانستان د 39,000 کيلومترو په اوږدو ډېری سړکونه بيارغونې ته اړتيا لري، د نړيوال بانک په وينا افغانستان د سړکونو پايدونکې بيارغونې ته 3 مليارد ډالرو ته اړتيا لري. ټاکل شويده چې په 2014 کال کې به د سړکونو شبکه 46,000 کيلومترو ته ورسيږي.[465]

په لومړني توګه متحده ايالاتو د سړکونو بيارغونې ته د ESF او CERP له لارې مرسته کړيده. له 2002 کال راهيسې، USAID 2.1 مليارد ډالر د سړکونو او پلونو جوړولو ته ځانګړي کړيدي چې په افغانستا کې د USAID د ټول لګښت 25% جوړوي.[466]

USAID وايي دغو پروژو تر 2,000 کيلومترو زيات سړکونه بشپړ کړي او پايښت ته يې مرسته کړيده.[467]



**د سیمې اوسیدونکې د سړک** د پراختیا په پلان غږیږي. (د USAID تصویر)

د نړیوال بانک په وینا د مرسته کونکو کارونه د سړکونو په رغونه او بیارغونه کې د O&M پر خلاف تر سره شویدي. د افغانستان د 2011/2012 د O&M اساسي بودیجې په برخه کې یواځې 28 میلیونه ځانګړي شوي دي چې د 290 میلیون ډالرو د اړتیا اټکل کیده. تمه کیږي چې دغه شمیره به په 2014 کال کې 394 میلیونو ته لوړه شي. د O&M شدید کمښت د ترانسپورتي سکتور په ودې کې د مرسته کونکو پانګه اچونه ګواښوي.[468]

USAID د نویو سړکونو په ودانولو کې د پانګه اچونې بنې ته پلان جوړوي. د دې پر ځای به دا اداره د O&M د پیاوړتیا له لارې پر پایښت تمرکز وکړي، او د افغان حکومت ظرفیت او بنسټیز سمون چې ورسره به د رغونې کیفیت سم شي او په ترانسپورتي زیربناوو به عملیات پیل شي. دا کار به د متحده ایالاتو په مرسته تر سره شي. د ترانسپورت وزارت، د سړکونو د سکتور د پایښت یا RSS د راتلونکې پروژې له لارې چې په هغه کې به له بودیجې بهر او د ګڼو مرسته کونکو د بودیجې دننه مرسته شامله وي تر څو د وزارتونو د رغونې پلانونو ته وده ورکړي، ځانګړتیاوې او سټنډرډونه په پام کې ونیسي، د وسایطو د نظارت او مقررو عملیات؛ د لومړیتوب وزارتونه؛ لکه د سړکونو اداره، د سرکونو پیسې، د ترانسپورټ بنسټ.[469]

RSS به لنډمهاله اړتیاو ته د بودیجې د باندې 5 میلیون ډالره برابر کړي چې د O&M د بیرني حساب له لارې به تر سره شي. په منځني مهال به 33 میلیونو ته ورسي، د بودیجې دننه د O&M پروګرام به د ADB د AITF له لارې تر سره شي. همداشان 33 میلیونه به د عامه فوایدو وزارت د ځارنې او مدیریت د ظرفیت لوړولو کې ولګول شي. په اوږد مهال کې به RSS د سړک ادارې، د سړکونو بسپنې، او ترانسپورت انستیتیوټ ته 35 میلیون ډالره تخنیکي مرسته تر سره کړي. AITF به د نویو سرکونو رغولو ته پیسې د افغان حکومت وړتیاو ته په پام کې نیولو سره چې آیا د موجودو آسانتیاو پوره ساتنې ته وړتیا لري که نه تر سره شي.[470]

برسيره پر دې DOD د CERP مرستې د خپل ماموريت د ملاتړ په خاطر د سړکونو د رغولو په پروژو لګوي. د CERP 509 ميليون ډالره له 2005 کال راهيسې د افغانستان د سړکونو په پروژو لګيدلي دي؛ د 44 ميليون ډالرو په ارزښت 44 پروژې همدا اوس روانې دي.[471] د 2013 مالي کال په لومړۍ ربع کې د سړکونو د رغولو د 11 هغو پروژو ژمنه وشوه چې CERP په پيسو به تر سره کيږي. (ارزښت يې $830,249) د دغو پروژو تر ټولو ستره هغه د پکتيکا د هغې لويې لارې ترميم وو چې په ولايت کې د سوداګريز مهم ارزښت لرونکې ده.[472]

د 2013 کال په جنوري کې کانګرس ته د افغانستان د زيربناو د پلې کولو پروګرام په رپوټ کې، DOD د 2011 مالي کال په بسپنه کې د سړکونو يوه روانه پروژه په ګوته کړه. (د 22 ميليون ډالرو) او دوه داسې چې د 2012 مالي کال په بسپنو روانې دي (45.6 ميليون).[473] DOD د سړکونو هغو پروژو له څارلو او پايښت لاس په سر شوی چې دوی افغان حکومت ته له رغولو وروسته تسليم کړيدي. که چيرته د بيارغونې دوام ته اړتياوي، حکومت کولای شي د غوښتنې د معياري پروسې له لارې د CERP بسپنو ته درخواست وکړي.[474]

## ريل

متحده ايالات او نړيوال ملګري له افغان حکومت سره د اورګادي د سکتور په وده کې مرسته کوي، موخه د يوه پايدونکي او ګټور سيستم رامنځ ته کول دي اوسمهال، افغانستان د ريل پټلۍ پراختيا ته عملياتي تجربه او ظرفيت نلري. يوازېني بشپړه شوې ريل پټلۍ د 75 کيلومترو په اوږدوالي له حيرتان څخه چې د ازبکستان سرحد دی تر مزار شريف پورې غځيدلې ده.[475]



**يو پوليس د افغانستان په شمال کې**
د ريل پټلی په اوږدو کې په ګزمه بوخت دی.
(د AFP تصوير)

د متحده ايالاتو په مرستو کې د عامه فوايدو له وزارت سره د افغان ريلوې ادارې په جوړولو کې مرستې هم شاملې دي او د ريل پټلۍ يوه ملي پلان ته وده ورکول يې هم يوه برخه ده. متحده ايالاتو همداشان د ګڼو ريل پټليو "بندرونو" يا د بارونو د تسليمۍ سيمې د سړکونو، تجهيزاتو، او جوړښتو سره ارزولې دي.[476] د DOD په پيسو د افغانستان د ريل پټلۍ ملي پلان يا DOD مطالعه روانه ده. د متحده ايالاتو د حکومت يوه کاري ډله او د عامه فوايدو او کانونو او پټروليم وزارتونو مسولين د اسناد، موډلونو او تحليلونو لنډيزونه په خپلو مطالعو کې شامل کړيدي. وروستی رپوټ به د تمې له مخې د 2013 په جولای کې خپور شي.[477]

د 2013 کال د مارچ په 20، له تاجکستان او ترکمنستان سره هغه تفاهم ليک لاسليک کړ چې له مخې به يې يوه نښلونکي ريل پټلۍ رامنځ ته شي، چې د سوداګرۍ او صادراتو لپاره به ډير فرصتونه رامنځ ته کړي. وړانديز شوې 400 کيلومتره ليکه به اتامورات-امام نظر په ترکمنستان کې له اکينه-اندخوی سره په افغانستان کې ونښلوي چې وروسته به د کندز د شيرخان بندر له لارې د تاجکستان پاينډژ ته ورسيږي. د تفاهم ليک پر بنسټ ويل شويدي چې د رغونې کار به د 2013 په جولای کې له ترکمنستان څخه پيل شي.[478]

## زده کړه

له 2002 کال راهيسې، USAID د ښوونځيو د ودانولو، د نصاب پرمختګ او روزنو په پلې کولو کې له معارف سره مرسته کړيده. USAID د معارف د روانو لومړيتوبونو پروګرامونه چې ESF له لارې لګيدلې دي په دې ربع کې دا دي:

- اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي ښونې او روزنې يا BELT
- د لوړو زده کړو پروژه يا HEP
- د افغانستان امريکايي پوهنتون يا AUAF

## اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي ښونې او روزنې

اساسي زده کړې، سواد، تخنيکي-مسلکي ښونې او روزنې يا BELT د بوديجې دننه هغه درې کلنه (د 2011 کال د دسمبر څخه د 2014 تر اوکتوبر پورې) پروژه ده چې 173 ميليون ډالر پرې لګيږي او باکيفيته اساسي زده کړو ته د لاسرسي پراختيا ده چې په ټولنيزه توګه په هغو سيمو کې ترسره کيږي چې د دولت له لاسرسي د باندې دي. دا پروګرام تخنيکي-مسلکي تعليمات او روزنې او همداشان د سواد زده کړې پروګرامونه برابروي. د 2013 کال د مارچ تر 31، USAID د 20 ميليون ډالرو مرسته ځانګړې کړيده او له هغې شميرې شاوخوا 4.7 ميليون ډالر لګيدلي دي.[479]

تخنيکي مسلکي زده کړې او روزنې يا TVET د BELT په تعقيب عملي کيدونکې برخه ده. د دې موخه به افغان ماشومانو او ځوانانو ته د باکيفيته تعليماتو او روزنو چمتو کول وي چې دوی په کار ورپوهي. په ځانګړې توګه په لرې پرتو سيمو کې د نجونو لپاره. USAID او د معارف وزارت د اجرايي پړاوونو په هغې مجموعې هوکړه کړيده چې د ترسره کيدو په صورت کې به د بوديجې له لارې د بسپنو په مصرف کې مرسته وکړي. USAID تمه لري چې د پلې کولو لاسليک به د 2013 په مې کې وکړي او د TVET ښونځې به د 2013 کال تر پايه وپيژندل شي.[480] د پلې کيدو هوکړه ليک به د اجرايي پړاوونو، د تصديق موخې او له هر پړاو سره د مرستو کچه روښانه کړي. USAID به په پروګرام کې د برخه اخيستونکو ښونځيو ځانګړنې او شميرې په ډاګه کړې، خو ټاکنه به يې د معارف وزارت په اختيار کې وي.[481]

BELT TVET د دې هڅو يو بله برخه ده څو د TVET روزونکو ته د کيفيت او پروفشنليزم په اړه زده کړې ورکړي. موخه دا ده چې له دې سره لوړې، ثانوي، او له ثانوي ورسته زده کونکي له معتبرو او منل شويو مهارتونو سره فارغ کړې او د معارف په وزارت کې به د TVET د منلو يو ملي سيستم چې د معادلې درجې په توګه ومنل شي رامنځ ته کړي.[482]

## د لوړو زده کړو پروژه

د USAID په وينا، په 2006 کال کې د HEP د پروژې له پيل راهيسې، دې پروژې د لوړو زده کړو له وزارت سره په بريالۍ توګه د دغه وزارت د ستراتيژيک پلان د عملي کيدو په برخه کې مرسته کړيده. د 2013 کال په اګست کې به د HEP وروستی پړاو هم بشپړ شي، چې د وزارت د ظرفيت لوړولو ته د مسلکي روزنو، د کيفيت تضمين او اعتبار موندنې په برخه کې کار کوي او د نصاب بياکتنه، د پوهنتونونو مشارکت، اکاډيمکي پاليسۍ او مقررات يې په پام کې دي. USAID ويلي دي چې په داسې چاپيريال کې چې له قانوني او امنيتي ننګونو سره مخ دی، HEP د پايلو د پام وړ اسناد چې موثريت يې ثابته کړي لاس ته راوړې ندي. په داسې حال کې چې، USAID د HEP د تعقيبي ارزونې لپاره په طرح کار کوي (2013–2017) چې دا به د معلوماتو په راټولولو او پايلو مطالعې کې زياته پاملرنه جلب کړي.[483] 2013 کال د مارچ تر 31، USAID د HEP له لارې 21.2 ميليون ډالر ځانګړې کړل او له هغې جملې يې 12.4 ميليون ډالر ولګول، چې په تيرې ربع کې بدلون نه په ګوته کوي.[484]




**د متحده ايالاتو سفير جيمز کونينګام** د امريکايي پوهنتون په هغه غونډه کې خبرې کوې چې د لوړو زده کړو او د افغانستان د ښځو د اقتصادي ودې په نړيوال مرکز کې يې خپل ملاتړ اعلان کړ. (د بهرنيو چارو وزارت تصوير)

## د افغانستان امريکايي پوهنتون

په تيرو پنځو کلونو کې (د 2008 له اګست څخه د 2013 تر جولای پورې)، 42 ميليون ډالر د افغانستان امريکايي پوهنتون يا AUAF ته د انګليسي ژبې ليسانس او ورپسې زده کړو پروګرامونو لپاره ځانګړي شويدي چې البته په بشري علومو باندې خاص تمرکز لري. په ليسانس زده کړو کې يې سوداګريز مديريت، معلوماتي ټکنالوژي او کمپيوټر ساينس، سياسي علوم او عامه اداره او جمعي ارتباطات شامل دي. AUAF همداشان په سوداګريز مديريت کې د ماسټرۍ سند ورکوي. د 2013 د مارچ تر 31، USAID د دغو هڅو په تړاو 39.6 ميلون ډالره ځانګړي کړل او 37.6 ميليونه يې ولګول، په دې کې له تيرې ربع څخه کوم بدلون ندی راغلی.[485]

## کارګران

د افغانستان د کار په مارکيټ د ليږد د بهير ارزول ستونزمن دی، ځکه د نړويوال بانک په وينا په دې برخه کې محدود او انحصاري معلومات په لاس کې دي. په 2009 کال کې يواځې 6.8% افغانان وزګار ښودل شوي وو، خو په حقيقت کې تر 48% زيات وزګار وو (چې په اوسط ډول يې په اونۍ کې تر 35 ساعتونو لږ کار کاو). په تاوتريخوالو کې ښکيلو ولايتونو کې وزګاري تر نورو کمه ښودل شوې خو لږ مصروفيت پکې زيات دی. نړيوال بانک اټکل کوي چې دا د موقتي کاري فرصتونو له کبله چې د ولايتي بيارغونې ډلو له خوا په همدې سيمو کې رامنځ ته شوې وه په علت لوړ وو.[486]

## د کار مارکيټ سروې

سيګار په تير کې هم په ټوله د افغانستان د عالي تحصيلاتو د نصاب ټيټ کيفيت په ډاګه کړی وو. USAID له افغان حکومت او نورو سره په ګډه کار کوي څو د هيواد د عامه سکتور له تخنيکي ښونځيو سره مرسته وکړي چې د سوداګري او صنايعو په تړاو اړين مهارتونه ور زده کړي. په 2012 کال کې، USAID د افغان حکومت له هغو هڅو سره همغږي اعلان کړه چې موخه يې د زده کړو او صنعتي اړتياوو انډول په پام کې نيول وو او په شپږو ښاري سيمو کې يې د وړو او منځنيو کچو تشبثاتو د کار مارکيټ سروې تر سره کړه.

USAID په يوې دوه کلنې دورې کې د څلورو سروې ګانو پلې کول پلان کړل؛ چې دوه پکې بشپړ شول. USAID په دې ربع کې رپوټ ورکړ چې دريمه سروې له دې کبله تر سره نه شوه چې له پلې کونکې ادارې سره قرارداد لغو شو او د بندولو امر يې وشو.[487]

## د افغانستان کاري ځواک پراختيايي پروګرام

د افغانستان کاري ځواک پراختيايي پروګرام يا AWDP د USAID له خوا په دې موخه په لاره اچول شويدی چې 25,000 افغان ښځو او نارينه و ته د کار په مارکيټ ولاړې مسلکي روزنې او تعليمات ورکړې، له سوداګريزې پراختيا ملاتړ وکړې، د سوداګرې ادارې روزنيز پروګرامونه عملي کړې، د مالي کريډيت او په کار ګمارنې خدمتونه چمتو کړې. AWDP هڅه کوي چې لوړ بې روزګارې راکمه او د تخنيکي او ماهرو افغانانو شمير لوړ کړي او روزل شوي افغان سوداګريز مديران زيات کړې. د دې پروګرام موخه د کار زيرولو آسانتياوې، د پرمختللي کاري ځواک او نيمه مسلکي کاري ځواک پراختيا او ځانې کارونه زياتول دي تر څو د افغانستان له اقتصادي ودې ملاتړ وشي.[488]

AWDP همداشان له هغو هڅو ملاتړ کوي چې د تخنيکي/مسلکي ښونکو او روزونکو شميره لوړه کړې. AWDP د عامه او خصوصي ګډون له لارې د دغو روزنو د کيفيت لوړول تقويه کوي او تر څنګ يې هغو ته لاسرسي آسانه کوي. د 2013 کال د جنوري تر 31، AWDP شاوخوا 3.7 ميليون ډالر په هغو 5 ميليونو ډالرو چې په سر کې ژمنه شوې وو زيات کړل. د 2013 د مارچ په 10، AWDP ته 6.7 ميليون اضافي پيسې ورکړل شوې چې ټوليزه شميره يې 11.7 ميليونو ته لوړه کړه.[489]

## روغتيا

د روغتيا په خير په افغانستان کې هيڅ بل سکتور هم په دې کچه ندی رغول شوی. افغانستان له 2002 کال راهيسې په خپلو روغتيايي شاخصونو کې فوق العاده لاس ته راوړنې درلودې. سره له دې چې دا هيواد اوس هم د نړۍ په کچه د مور او ماشوم د تلفاتو لوړه شميره لري. د ژوند تمه د په دې هيواد کې د USAID په مرسته د هغه پروګرام په وينا چې په 2010 افغانانو مرينه مطالعه کړه روښانه شوه چې 20–15 کاله لوړه شويده.[490] سره له دې چې افغان عامه راډيو رپوټ ورکړ چې هغو متخصصينو چې په دې سروې مطالعه کړې د پايلو د اعتبار په تړاو پوښتنې لري، USAID په خپلو معلوماتو ډاډ لري او بدلون يې ندی پکې راوستی.[491]

له 2002 تر 2011 مالي کال پورې، د افغانستان روغتيايي سکتور ته د متحده ايالاتو هغه مرستې چې د افغان حکومت له لارې يا د حکومت له بوديجې بهر لګول شويدي 926 ميليونه ښيي لکه په 3.39 شکل کې چې په راتلونکې پاڼه کې ښودل شوي دي.[492] د عامې روغتيا وزارت چوکاټ کې دننه مرسته کې د متحده ايالاتو په مرسته د جوړو شويو آسانتياو په معاشاتو، طبي او غير طبي اکمالات، داخل خدمت روزنې، د ودانيو ورې بيارغونې، طبي تجهيزات او نظارت او ارزونه شامل دی. له بوديجې بهر مرسته کې درمل او کانتراسپټيف شامل دي.[493]

په افغانستان کې تر 1,970 ډير روغتيايي مرکزونه شتون لري چې متحده ايالاتو له هغې جملې په 1,970 ولايتونو کې 545 مرکزونو ته مرسته چمتو کړې چې 27 غير ولايتي روغتونونه هم پکې شامل دي. متحده ايالاتو همداشان په ولايتي روغتونو او يوه ملي

### د سيګار پلټنه

د سيګار د دې ربع خپره شوې پلټنه د افغانستان مالي وړتيا تر سوال لاندې راولې چې و به توانيږي چې د USAID په مرسته رغيدونکی روغتون به وساتلای شي او د USAID په مرسته پنځو ولايتي روغتونونو ته مناسب کارکونکي وګماري. د نورو معلوماتو لپاره، 2 برخه، 28 پاڼه وګورئ.

شکل 3.39

**د روغتيايي سکتور سره د USAID مرسته 2002 مالي کال-2011 مالي کال، مستقيمه او غير مستقيمه مرسته** (ميليون ډالر)




يادونه: شميرې په تقريبي ډول ليکل شوي دي.

سرچينه: د سيګار 4/11/2013 او 4/1/2013 معلوماتي غوښتنو ته د USAID ځوابونه.

روغتون کي د دريمي کچې مراقبت په تړاو مرستې کړيدي. لکه په.[494] 3.40 شکل کې چې روښانه شويدي. د USAID په وينا، 60% د روغتيايي آسانتياو له مراکزو يو ساعت د پښو مزل په واټن لري پراته دي.[495]

په 2002 کال کې، د عامې روغتيا وزارت له نړيوالې ټولنې سره د اساسي روغتيايي خدمتونو مجموعې يا BPHS په نامه ستراتيژي طرح کړه څو زيان منونکو وګړو ته په مناسب لګښت مرستې برابرې کړي. له دې سره يې په سيمه ايزو روغتيايي خدمتونو کې له غيردولتي موسسو سره قراردادونه وکړل تر څو وزارت ته د افغانستان د روغتيا ساتنې په ملي سيستم د تمرکز فرصت برابر شي. غير دولتي موسسې د افغانستان د 34 ولايتونو په 31 هغو کې کاکوي. په پاته دريو ولايتونو کې د عامې روغتيا وزارت کارکونکې خدمتونه چمتو کوي.[496]

د BPHS تر چتر لاندې د افغانستان د روغتيا ساتنې لومړنى مراقبت شپږ ډوله آسانتياوې لري چې دلته له لومړنيو تر پرمختللو هغو ټول روښانه شويدي:

**روغتيايي پوستې** د لومړنيو روغتيايي مراقبتونو هغه برخه ده چې ټولنې ته غځيدلې ده، په اصل کې د دريو رضاکاره ټولنيزو روغتيايي کارکونکو څخه جوړه ده چې دوه ښځې او يو نارينه پکې شامل دي چې 1,000 تر 1,500 وګړو لپاره له کوره بهر محدود خدمتونه برابروي. په دې خدمتونو کې د ملاريا تشخيص او درملنه، کورنى تنظيم، غذايي بشپړونکي او مشورې شا ملې دي. ښځينې ټولنيز روغتيايي کارکونکي هم ورې ناروغۍ تداوي کوي او

## د سيګار خارنه

په دې ربع کې د سيګار خارنې ومونډل چې د CERP په مرسته د قلعه مسلم روغتيايي کلينيک په سمه توګه په مخ ځي او په اغيزمنه توګه د خپلې ټولنې 4,000 غړو ته خدمت کوي. په 2011 کال کې يې له تاسيس را په دې خوا شاوخوا د 1,500 مريضانو درملنه کړيده. د ډيرو معلوماتو لپاره، د 2 برخې 38 پاڼه وګورئ.

شکل 3.40

**د متحده ايالاتو په مرسته د دريمې درجې پاملرنې روغتونونه**




يادونه: د دريمې درجې پاملرنه په داسې يو مرکز کې ځانګړې مشاورتي پاملرنې ته وايي چې د ځانګړو څېړنو او درملنو لپاره پرسونل او تسهيلات ولري.

سرچينې: د سيګار 4/11/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID ځواب؛ USAID، "د روغتيايي قرارداد ملګرتيا، معلومات پاڼه،" 1/2013، د لاسرسی نېټه 4/16/2013؛ جانس هاپکينز ميډيسن، "د دريمې درجې پاملرنې تعريف،" د لاسرسی نېټه 4/19/2013.

کمزورۍ او روحي وضعيت پېژندنه کوي. ښځينه روغتيايي کارکونکي د اميندوارۍ او ولادت چمتو والي او د نوي زيږيدلي ماشوم اساسي چمتو والي نيسي.[497]

**فرعي روغتيايي مرکزونه** موقتي روغتيايي مرکزونه دي چې د روغتيايي پوستو او BPHS نورو آسانتياو تر منځ خدمتونه برابروي. فرعي روغتيايي مرکزونه يا HSC د 3,000 تر 7,000 کيلوالو خلکو ته روغتيايي خدمتونه برابروي. دا په شخصي کورونو کې موقعيت لري او مريضان بايد تر دوو ساعتونو ډير مزل ورته ونه کړي. HSC دايمي آسانتياوې نه مخکې

پرته ده چې د ټولنو له ژمنو او موجودو اړتیاو سره تړلي. په خدمتونو کې روغتیایي روزنې، معافیت، تر ولادت مخکې مراقبت، کورنی تنظیم، د توبرکلوز موندنه، راجع کول او تعقیب، او د اسهال او سینه بغل تداوي شامله ده. په HSC کې نارینه نرس او یوه ټولنیزه قابله کار کوي او همداشان یو محافظ هم لري.[498]

**اساسي روغتیایي مرکزونه** لومړني سراپا مراقبت پکې تر سره کیږي چې د معافیت، تر ولادت مخکې، د ولادت پر مهال، تر ولادت وروسته او نویو زیږیدلو مراقبت تر سره کیږي، د موقتي کانتراسپتیفونو، د ماشومانو د نارغیو جامع درملنه، د روحي کمزوریو او وضعیت پیژندنه او د راجع کولو او مراقبت شامل دی. اساسي روغتیایي مرکزونه یا BHC تر خپل مسولیت لاندې سیمو کې له روغتیایي پوستو نظارت کوي چې مربوطه ساحه یې د 15,000–30,000 وګړو درلودونکې ده. حد اقل باید یو نرس، یوه ټولنیزه قابله او دوه واکسیناتوران پکې دنده ولري.[499]

**ګرځنده روغتیایي ډلې** د BHC یوه برخه ده چې ورته خدمتونه ورو او لریو پرتو ټولنو ته چمتو کوي. ګرځنده روغتیایي ډلې له یوه نارینه ډاکټر یا نرس، یوه ټولنیزه ښځینه قابله یا نرسه، یو واکسیناتور، او یو ډریور څخه رامنځ ته کیږي.[500]

**جامع روغتیایي مراکز** تر BHC په پراخه کچه فعالیت کوي. هغوی د ماشوم د زیږون پر مهال اختلاطات تر پوښښ لاندې راوستلای شي، د ماشومانو جدي ناروغی، د ملاریا بیلابیلې پیښې، او د رواني روغتیا د مراقبت سراپا خدمتونه چمتو کوي. جامع روغتیایي خدمتونه تر BHC پراخ کارکونکي لري، په هغو کې نارینه او ښځینه ډاکټران او نرسان شامل دي، قابله ګانې، یو ټولنیز-رواني سلاکار او همداشان لابراتواري او فارمسي تکنیشنان پکې کار کوي. د ولسوالۍ له روغتون څخه فزیوتراپیستان د ساحوي لیدنې په ترڅ کې له دې مرکز څخه لیدنه کوي.[501]

**د ولسوالۍ روغتون** د BPHS ټول خدمتونه په لاره اچوي چې په هغې کې لوی جراحي عملیات، ایکسري، عاجل ولادي مراقبتونه، تعقیم، د روغتیا ساتنې جامع مراقبت، او فزیوتراپي درملنې. د ولسوالۍ روغتون د اساسي درملو پراخه کچه وړاندې کوي، د شدیدې سو تغذۍ درملنه او لابراتواري خدمتونه چمتو کوي. په دې کې ښځینه نسایي ولادي متخصصه، یو جراح، د ماشومانو ډاکټر، انستیتیست، د رواني روغتیا ډاکټر، رواني ټولنیز سلاکاران/ناظرین، قابله ګانې، د لابراتوار او ایکسرې ټکنیشنان، یو فارمسست، یو د غاښو ډاکټر او د غاښو ټکنیشن، او دوه فزیوتراپیستان (ښځه او نارینه) شامل دي. د ولسوالي روغتون له 100,000 تر 300,000 کسان تر پوښښ لاندې راولي.[502]

په دې ربع کې د روغتیا سکتور سره تړلي د USAID تر ټولو لوړ لومړیتوبونه دا دي:

- د روغتیایي خدمتونو د مشارکت قرارداد یا PCH
- د روغتیایي پالیسیو پروژه یا HPP
- د مشرتابه، مدیریت، او حکومتدارۍ پروژه یا LMG

## د روغتیایي خدمتونو د مشارکت قرارداد

د 218 میلیون ډالرو په ارزښت د بودیجې له لارې دا پنځه کلن پروګرام (2013–2008) چې د روغتیایي خدمتونو د مشارکت قرارداد نومیږي د عامې روغتیا وزارت له هغو کارونو ملاتړ کوي چې د BPHS او په افغانستان کې د روغتونونو د خدماتو اساسي مجموعې په برخه کې یې کوي. لکه په 163 پاڼه کې چې روښانه شویده، متحده ایالات

د دغو آسانتياو له ډلې 545 يې حمايه کوي. د سيګار يوې پلټنې په دې ربع کې د افغانستان هغه وړتيا وارزوله چې د USAID په مرسته د دوو PCH او پنځو ولايتي روغتونونو په روان ساتلو بريالي کيداى شي که نه. پلټنې وموندله چې د عامې روغتيا وزارت د USAID په مرسته له بشپړيدو وروسته دغه روغتونونه روان ساتلاى نشي او ځيني روغتونونه په اساسي برخو کې د کارکونکو له کمښت سره مخ دي. د 2013 کال د مارچ تر 30، USAID دې پروګرام ته 190.3 ميليون ډالر ځانګړې کړل او له هغې جملې يې 121.3 ميليونه ولګول.[503]

PCH له لومړنيو تر لوړ تخصصي او تشخيصي او درملنې خدمتونه چمتو کوي. دا همداشان د اجتماعي قابله ګانو روزنه يا CME قراردادونه هم په لاره اچوي چې د مور او ماشوم په مړينې کې اغيزمنه تماميږي. په دې ربع کې د CME ګانو 136 شاګردان فارغ او په روغتيايي خدمتونو کې په دنده وګمارل شول، د 17 نادولتي موسسو قراردادونه د 2013 د دسمبر تر 20 وغځول شول، او د CME قراردادونو دوهم پړاو د عملي کيدو په درشل کې دی. USAID د پروګرام د غوره پلي کيدنې په تړاو ګنې ننګونې رپوټ کړيدي،لکه نا‌امني، په خوځنده سيمو کې د هوايي ليږد زياتيدونکې نه شتون، د PCH په لومړيتوبونو کې سياسي مداخله، او په هره کچه د ښځينه صحي کارکونکو نه شتون.[504]

## د روغتيا پاليسي پروژه

د روغتيا پاليسي پروژه يا HPP د 18 ميلون ډالرو هغه 18 مياشتنۍ (د 2012 له جون څخه د 2013 تر نومبر پورې) پروژه ده چې د عامې روغيتا وزارت په ظرفيت جوړونه کې کار کوي چې د عامه او خصوصي ګډون له لارې بنسټيز روغتيايي ضرورتونه روښانه کړي. د 2013 د مارچ تر 31، USAID شاوخوا 8.8 ميليون ډالر دغه پروګرام ته ځانګړې کړل.
HPP د خصوصي سکتور د ظرفيت لوړولو په برخه کې کار کوي څو باکيفيته خدمات وړاندې کړي، HIV پاملرنې او مخنيوي ته پاليسۍ پياوړې کړي، او د ټولنيزو رسنيو د بازار موندنې له لارې رفتاري بدلونونه څواکمن کړي. د HPP په بشپړتيا کې د عامې روغتيا وزارت دننه د يوه عامه خصوصي ګډون واحد جوړول شامل دي، د جمهوريت روغتون سوداګريز ارزښت او وده، او د افغانستان د ټولنيزو بازار موندنې ادارو لپاره تخنيکي مرسته هم شامله ده. د پلې کونې په برخه کې ننګونو کې ناامنه ولايتونه شامل دي، په عامه-خصوصي ګډون کې د قانوني چتر نه شتون، او د افغان حکومت د بيروکراتيکو خنډونو په برخه کې د خصوصي سکتور ستونزې.[505]

## د مشرتوب، مديريت، حکومتدارۍ پروژې

د مشرتوب، مديريت، حکومتدارۍ يا LMG 18 مياشتنۍ (د 2012 له سپټمبر څخه د 2014 تر فبرورۍ پورې)، پروژه ده چې 25 مليون ډالر ارزښت لري. دا د عامې روغتيا او پوهنې له وزارتونو سره په ګډه په ولايتي او مرکزي کچه په افغان روغتيايي او پوهنيزو سيستمونو کې د مشرتوب، مديريت، حکومتدارۍ د ظرفيتونو لوړولو په موخه پلې کيږي. همداشان په پام کې ده چې په عامې روغتيا وزارت کې حساب ورکونه او روڼوالى پياوړى کړي او له دواړه وزارتونو سره د بوديجې په چوکاټ کې مرسته کوي. د 2013 د مارچ تر 31، USAID د دې پروګرام لپاره 16.3 ميليون ډالره ځانګړې کړل او 2.5 ميليونه يې ولګول.[506]

USAID په دې ربع کې رپوټ ورکړ چې د LMG سره ملګرې ټول 14 روغتونونو چې مخکې به یې د خپلو بودیجو د تنظیم هیڅ واک نه درلود 100–76%. ته لوړ شو. دغې ادارې همداشان وویل چې دغو آسانتیایي مرکزونو ادارې کمیټې رامنځ ته کړیدي او څلور په ولایتي کچه یې د مور او ماشوم لپاره څلور روغتیایي کمیټې جوړې کړیدي. د عامې روغتیا وزارت د ولایتي او ولسوالیو د صحي همغږۍ په موخه د ارزونې وسایل او لارښونې برابرې کړیدي، او د رپوټ ورکونې د معیاري تخنیک په برخه کې یې د ټولو 74 ډیپارټمینټونو غړي روزلي دي. USAID پروګرام ته په ولایتي کچه ځانګړی امنیتي ګواښ ندی په ډاګه کړی، خو تاکید کوي چې د متحده ایالاتو د ځواکونو له وتلو سره ځینې امنیتي تشې باید وپلټل شي.[507]

## د خصوصي سکتور پراختیا

متحده ایالات د TFBSO، ESF او CERP له لارې په افغانستان کې د خصوصي سکتور ملاتړ کوي. USAID د اقتصادي ودې پروژو ته لومړیتوب ورکوي، چې د ESF له خوا یې مرسته کیږي او دا دي:[508]

- د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته یا ABADE
- د اقتصادي ودې او حکومتدارۍ لومړیتوبونه یا EGGI
- د افغانستان لپاره د سوداګرۍ لاسرسي او آسانتیاوې یا TAFA I او II

### د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته

د تشبثاتو له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرستې یا ABADE ته USAID د 105 میلیون ډالرو مرسته کوي چې په هغو مرستو تمرکز وکړي چې مولد، او په افغانستان کې راجسترکیدونکې واړه او منځني تشبثات زیات کړي او کارونه رامنځ ته کړي، پانګونه اوچته کړي او کورني تولیدات او خدمتونو پلور پیاوړی کړي. ABADE به د خصوصي سکتور له هغو سوداګرو ملاتړ وکړي چې د پایدونکې اقتصادي ودې لپاره غوره کچه او فرصتونه رامنځ ته کوي. په دې ربع کې ABADE کارکونکي و ګمارل او کاري پلان او اجرایي متریک یې نهایي کړ.[509] ABADE د رپوټ ورکونې په دې دورکې په رسمي توګه کارونه پیل کړ او به کابل، جلال آباد، هرات او مزارشریف کې یې د بالقوه سوداګریزو ملګرو د موندنې په موخه د سرک سر ننداري په لار واچولې.[510]

### د اقتصادي ودې او حکومتدارۍ لومړیتوبونه

د اقتصادي ودې او حکومتدارۍ لومړیتوبونو یا EGGI 92 میلیون ډالري پروژې موخه دا ده چې د حکومت ظرفیت لا پیاوړی کړي څو اغیزمنه عامه مالي اداره رامنځ ته کړي. په دې کې د ملي بودیجې په برخه کې مرستې، د مالیاتو اداره او د عوایدو ټولول هم شامل دي. دوی همداشان په دولت کې د ښځو ګډون ته زیاتوالی په پام کې لري چې په ملکي خدمتونو کې یې ونډه 30% ته لوړه کړي چې د اقتصادي اهدافو اصغري حد دی. د 2013 د جنوري تر 31، 208 ښځې د 2012 مالي کال د انترنشیپ له پروګرامه فارغې شوې، چې له هغې ډلې 76% په دې بریالۍ شوې چې بشپړ کار لاس ته راوړي.[511]

EGGI د پلې کولو په برخه کې له ننګونو سره لا هم مخ دی. د دې پروګرام د ولایتي بودیجې جز د 2013 کال مارچ پورې ټاکل شوې وه. د افغانستان د ملکي خدماتو کمیسیون تر اوسه د استخدام په پروسیژر کې بدلون نهایي کړی ندی چې له بشپړیدو سره به په

حکومت کې د ښځو د انټرنشيپ پروګرام بيا دې ته ژمن شي چې نويو غوښتنو ته ځېلې هڅې ګړندۍ کړي. EGGI همداشان د پيسو له کمښت سره مخ دی.[512]

## د افغانستان لپاره د سوداګرۍ لاسرسی او آسانتيا I او II

د افغانستان لپاره د سوداګرۍ لاسرسی او آسانتيا لومړۍ او دوهمه برخه يا TAFA د 83 ميليون ډالرو ګډه مرسته ده چې د اقتصادي ودې، سوداګرۍ او پانګونې د تقويې لپاره طرح شويده، چې د دولت او خصوصي سکتور لپاره د نړيوال تجارت او ترانزيټ په برخه کې د وضعيت ښه کولو ته کارکوي. TAFA له افغان حکومت سره په دې برخه کې کار کوي: د سوداګرۍ-پاليسي آزادول، ګمرکي ريفورمونه او سوداګريزې آسانتياوې. TAFA نړيوال سوداګريز سازمان ته د افغانستان د لاسرسي د برابرولو او د سيمه ايزو او دوه اړخيزو سوداګري موافقو او د ګمرکونو او صادراتو د پروسيژرونو د ساده کولو له لارې د وريښمو د نوې لارې لومړيتوب تقويه کوي، د 2013 کال د مارچ تر 30، شاوخوا 19.8 ميليون ډالر TAFA II ته ځانګړې شول او 4 ميليونه زيات شول.[513]

په دې ربع کې، TAFA په ګډه له افغان ګمرکي اداري سره په دې برخه کې کار کوي چې ګمرکي پروسيژرونه په شپږو داخلي ګمرکي زيرمو او کابل نړيوال ډګر کې معياري او سمبال کړي. TAFA د خطر د مديريت پياوړتيا ته مرسته او کنټرول تر سره کوي څو د ګمرکونو د اسنادو لپاره اتومات سيستم يا ASYCUDA په دې موقعيتونو کې پياوړی کړي، چې هر کال به په بالقوه توګه د افغان حکومت له 90 تر 100 ميليونو ډالرو ساتنه وشي. برسيره پردې، TAFA د افغانستان بانک او ماليې وزارت سره په دې مرسته کوي چې د ګمرکي مسوليتونو او ماليو ورکړې ته د پيسو د تاديې الکترونيکي سيستم په کار واچوي او ورسره له فساد سره مبارزه وکړي.[514]

د ASYCUDA سافټوير د نړۍ تر 80 ډېرو هيوادونو کې د ګمرکاتو د يوه هر اړخيز او جامع معلوماتي سيستم په ډول کارول کيږي. کمپيوټري کول د ګمرکونو اداره په دې پياوړي کوي چې د ګمرکونو د تصفيې او ساده کونې پروسيژرونه ګړندي کوي او د سوداګرۍ د آسانتياو برابرولو ته له هيوادونو سره مرسته کوي.

سرچينه: UNCTAD، "ASYCUDA څه دی" د لاسرسي نيټه 4/3/2013.

په دې ربع کې، TAFA د خطر د مديريت يو مياشتنی روزنيز پروګرام په کابل نړيوال ډګر کې د ګمرکي مسولينو لپاره په لار واچاوه. روزنه په هغه غوره عملي لارو چارو ولاړه وه چې د لوړ خطر درلودونکو بارونو د څارنې په برخه کې تر سره کيږي، تر څو قانوني سوداګرۍ ته د ګړندي تيريدو زمينه برابره کړي. د USAID په وينا، د خطر مديريت لومړنۍ پايلې ښيي چې د انفرکشن په ريپوټونو کې د پام وړ لوړوالی راغلی دی، چې ورسره د سوداګر د خطر کچه تعينيدلای شي. انفرکشن لرونکي سوداګر بايد تر ډېرې څارنې لاندې ونيول شي، او د قانون تابع سوداګر ته بايد په ليږه کچه بدله ورکړل شي.[515]

د معياري کولو په برخه کې د TAFA کتنې په 2012 کال کې وموندل چې د ګمرکي تصفيې مراحل له 23 څخه 12 ته راکمه شوه چې د سوداګرو تر 40 ميليونو ډير ډالر او وخت خوندي کوي.[516] برسيره پردې د ګمرکاتو له اداري سره د متحده ايالاتو مرستې د دې سبب شوې چې د ګمرکاتو د تصفيې موده چې په 2011 کال کې 24 ساعته وه په 2012 کال کې اوو ساعتونو ته راکمه کړي. د دې برياو سره سره، USAID روښانه کړه چې د ګمرکاتو اداره د بدليدونکو موقفونو په حصار کې ده چې په هر شپږو تر 12 مياشتو کې پيښيږي او د افغان ظرفيت جوړونې په بهير کې د TAFA پرمختګ له ننګونو سره مخ کوي. برسيره پردې، TAFA له افغان حکومت سره تر اوسه هم د ستراتيژيک عيني ټرون پر بنسټ د راتلونکو مرستو د ترکيب پر سر هوکړې ته نده رسيدلې. دې کار په خپل وار د ځانګړې شوې مرستې په لاس ته راوړلو کې TAFA له ستونزو سره مخ کړيده، او په وخت خدمتونو ته يې د ورتياو برابرول له ګواښ سره مخ کړيدي.[517]

په دې ربع کې د خصوصي سکتور د بلې ودې په تړاو، USAID له آغاخان بنیاد سره د نړیوال پرمختیایي تړون یا GDA په برخه کې پرمختګ وکړ چې یوه لویه غیر انتفاعي پراختیایي اداره ده او مقر یې په ژینوا کې دی. د 2013 د مارچ په 24، USAID د آغا خان له انکشافي شبکې سره د سوداګریز انکوبیټر په پلې کولو کې هوکړې ته ورسید، د پانګونې- بسپنې دغه پروژه د MIAD په نامه یادیږي.[518] د 60.9 میلیون ډالرو دا پروژه چې له افغان بودیجې بهر ده د 2013 په مې کې پیلیږي. دا به د خصوصي سکتور په پانګونې اغیزه وکړي څو په بدخشان ولایت کې پایدونکې ټولنیزې او اقتصادي پراختیا ته لاره هواره کړي. دا پروګرام به دوه برخې ولري: یوه یې د MIAD مالي آسانتیاوې دي چې په وړو، منځنیو او لویو کچو تشبثاتو به پانګونه کوي او اقتصادي چلونکو ته به خدمتونه چمتو کوي او بله یې د MIAD د ټولنیزې پرمختیا خیریه مرستې دي چې د کلیوالي پراختیا په برخه کې به د ولسوالیو په سطح حکومتي ادارو ته مشروطې مرستې ورکوي، ټولنیزو خدماتو ته به کارکوي او د سیمه ایز حکومت د ظرفیت جوړونې په برخه کې به مرستې کوي.[519]

USAID به $7.5 میلیون ډالر د MIAD مالي آسانتیاو ته چمتو کړي او آغاخان بنیاد به په منظمه توګه $22.5 میلیونه ډالر ورته برابر کړي. USAID به $22.5 میلیون ډالر د MIAD خیریه مرستو ته ورکړي او آغاخان بنیاد به ورته $7.5 میلیون ډالر ورکړي. د USAID د لومړي کال پروګرام به شاوخوا 5.5 میلیون ډالر وي.[520]

د آغاخان بنیاد به په دې پروګرام د پلې کیدو او پایلو/اغیزو د ارزونې لپاره منظمې څارنې په لاره واچوي. USAID به دغه څارنې له نږدې ارزوي او د هغو د پایلو د تایید لپاره به ساحوي لیدنې په لاره اچوي. USAID به همداشان د اجراتو د ارزونې یو پلان چمتو کړي چې د اجراتو او اغیزو معلومونکي هم پکې شامل دي او د ټولنیزې پراختیا خیریه صندوق ته له راګرځیدلو اقتصادي چلونکو د رامنځ ته شوې ګټې فیصدي روښانوي؛ افغان ګټه اخیستونکو ته د خالصو فعلي اقتصادي چلونکو، او د ټولنیزې پراختیا له پروژه څخه د ګټه اخیستونکو بدخشان میشتو شمیره هم پکې راغلې ده.[521]

## د سوداګریزو او ثبات عملیاتو کاري ځواک

له افغان حکومت سره د طبیعي سرچینو د پراختیا لپاره د مرستې په موخه، TFBSO د خصوصي سکتور له لومړیتوبونو ملاتړ کړیدی. TFBSO د افغانستان امریکایي پوهنتون ته د 5 میلیون ډالرو مرسته په دې موخه وکړه چې په 5,500 متر مربع ځمکه کې په خپل پوهنتون کې د ښځو د اقتصادي ودې په موخه د سټیټ-آف-دې-ارټ نړیوال په نوم مرکز ودان کړي. ټاکل شویده چې دا مرکز به د 2013 په اپریل کې پرانیستل شي چې نړیوال او افغان عمومي او خصوصي سکتورونو سره په همغږۍ کې هڅې وکړي څو په اقتصادي وده کې د ښځو رول پیاوړی شي.[522]

TFBSO په دې ربع کې په 50 کمپنیو مناسبې څارنې عملي او پلان کړې، چې د 2013 د مارچ تر 31 پورې یې د ارزول شوو کمپنیو ټولیز شمیر 650 ته لوړ کړ. TFBSO همداشان د غالیو، زیوراتو او کشمیرې له تولیدونکو او نورو کورنیو تجارتونو سره مرسته کوي تر څو له نړیوالو معیارونو سره برابر شي او نړیوالو مارکیټونو ته لاسرسی ومومي.[523]

## سوداګري

د کانګرس د څېړنيزو خدمتونو د رپوټ له مخې سويلي او مرکزي آسيا ترمنځ د افغانستان جغرافيايي موقعيت، سيمه ايزه اقتصادي بشپړېدنه، لکه وريښمو د نوې لارې لومړيتوب کولای شي خالص پايدونکي ګمرکي عوايد رامنځ ته کړي، د منځ لارې او باثباته افغانستان په تړاو د مرکزي آسيا د هيوادونو د اوږد مهاله علاقې سره سره متحده ايالاتو هڅې ندی بريالۍ شوې چې د افغانستان ټول ګاونډي په دې قانع کړي چې د افغانستان له ثبات سره ځانګړې علاقه پيدا کړي.[524] طلوع نيوز د فبروري په مياشت کې رپوټ ورکړ چې پاکستاني مقاماتو له افغان سوداګرو شاوخوا 50 ميليون ډالر د هغو 3,700 ايسار شويو کانټينرونو په بدل کې اخيستې دي چې د 85 ورځو لپاره په کراچۍ بندر کې درول شوي وو. دغو ځنډونو د توکو او تيلو په آزاده ليږد کې د افغان سوداګرو لګښتونه لوړ کړل.[525]

د 2013 کال د فبروري په 27 د افغانستان او متحده ايالاتو مسولينو په واشنګټن کې سره وکتل، تر څو د متحده ايالاتو-افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې د هغه چتر پرمختګ وارزول شي چې په 2004 کال کې لاسليک شو. په خبرواترو کې د متحده ايالاتو. د غوره والې پراخ سيستمونو، نړيوال سوداګريز سازمان ته د افغانستان لاسرسی، او د روڼ اندو د شتو حقونو ته پيژندنه هم وشوه ، همداشان د سکتورونو سره تړلې ځانګړې هغه ننګونې چې له پانګه اچونې سره تړلي دي او د دواړو هيوادونو تر منځ د پانګونې او سوداګرۍ د ودې په وړاندې خنډونه دي.[526]

## مخابرات

د مخابراتو سکتور په افغانستان کې د خصوصي سکتور په برخه کې تر ټولو ګړندۍ پرمختيا بلل کيږي او د اقتصاد يوه بريالۍ کيسه بلل کيږي.[527] په 2010/2011 کلونو کې مخابراتو د مالياتي عوايدو 45% جوړوله او تمه کيږي چې د اقتصادي ودې او پراختيا په برخه کې په راتلونکې کې هم مخ په وړاندې روان وي.[528]

د 2013 د مارچ په 9، USAID شاوخوا 15.2 ميليون ډالر ځانګړي او ولګول، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ يا MCIT د بوديجې له لارې په دوو پروژو ولګول شول -يوه د ولسواليو مخابراتي شبکه او بله د پاليسۍ د ظرفيت لومړيتوب وو چې دواړه بشپړ شوي دي. MCIT ته USAID کومه روانه مرسته په لاس کې نلري.[529]

د UNAMA په وينا، افغان حکومت په پلان کې لري چې پخپله مخابراتي سټلايت فضا ته واستوي او د داوطلبۍ د يوې رقابتي پروسې له لارې او يا د شته سټلايټونو سره د اړيکې له لارې يې په کار واچوي. نړيوالو کمپنيو حکومت ته وړانديزونه تسليم کړيدي خو د داوطلبۍ رسمي پروسه تر اوسه نده پيل شوې. ګټونکی به ټول لګښتونه په غاړه لري، چې د خدماتو د ورکړې په بدل کې به پيسې تر لاسه کړي.[530]

# 4 د نورو ادارو **ځارنيز** فعاليتونه



# د نورو ادارو د ځارنیزو فعالیتونو منځپانګې


**د ځارنې بشپړ شوي فعالیتونه** **176**

**د ځارنې روان فعالیتونه** **182**


**تصویر په مخکینی پاڼهکې**
افغان سرتیري او پولیس چې د هسپانیې پوځ او ایساف عناصرو لخوا يې ملاتړ شوی، د بادغیس ولایت په مرغاب دره کې د جنګیالیو په ضد د یو عملیات مشري کوي، د 2013 کال اپریل.
(DOD انځور د هسپانیې پوځ په اجازه)

# د څارنې په برخه کې د نورو ادارو فعاليتونه

د سيګار قانوني مسوليت غوښتنه کوي چې د بيارغونيزو پروګرامونو په ادارې کې د ستونزو په هکله دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو ته خبرتيا ورکړي، او د هر ربعې پای ته رسيدو سره تر يو مياشتې پورې د خپل څارنيزو کارونو او د متحده اياالتو د بيارغونيزو هڅو په اړه يو رپوټ کانګرس ته وړاندې کړي. هره ربعه، سيګار د نور څارونکي ادارو څخه غوښتنه کوي چې د خپل څارنې بشپړ شوي او روانو فعاليتونو په اړه تازه خبرونه وروسپاري. په دې برخه کې دا تازه خبرونه شامل دي.

تشريحات ټول لکه څنګه چې تسليم شوي وړاندې کيږي، يوازې د رپوټ نورو برخو سره د برابرۍ لپاره ځينې جزيي بدلونونه راوستل شوي دي: د بشپړ نومونو په ځای د لنډيزونو او مخففاتو کارونه؛ معياري کېپيټلايزيشن، هايفنشين، نقطه ګذاري، او غوره املا؛ او د لومړي کس په ځای د دريم کس جوړونه.

دغه ادارې په افغانستان کې څارنيز فعاليتونه ترسره کوي او پايلې يې سيګار ته وړاندې کوي:

- د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (DOD OIG)
- د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (State OIG)
- د حکومت حساب ورکونې دفتر (GAO)
- د متحده اياالتو پوځ د پلټنې دفتر (USAAA)
- د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده اياالتو ادارې د عمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

## د څارنې بشپړ شوي فعاليتونه

4.1 جدول د بيارغونې په برخه کې ۹ څارنيزې پروژې ښيي چې د شرکت کونکو ادارو لخوا يې څارنه پای ته رسيدلې ده.

4.1 جدول

**په وروستيو کې د متحده ايالاتو د ادارو بشپړ شوي څارنيز فعاليتونه، د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې**

| اداره | د رپوټ شميره | د خپريدو نيټه | د پروژې موضوع |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | DODIG-2013-062 | 3/28/2013 | هغه پاليسۍ او کړنلارې چې د دفاع وزارت د سلاکارانو پروګرام مصارف د DOD له نورو ادارو سره برابرولو لپاره اړين دي |
| DOD OIG | DODIG-2013-058 | 3/22/2013 | د افغان ملي امنيتي ځواکونو د قومانده، کنترول، او همغږۍ سيسټم په پراختيا کې د متحده ايالاتو د هڅو ارزونه |
| DOD OIG | DODIG-2013-053 | 3/13/2013 | د داوود خان په ملي پوځي روغتون کې د طبي وضعيت وده کولو او د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د پايداره طبي لوژستيک برابرولو په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو څارنه |
| DOD OIG | DODIG-2013-052 | 3/8/2013 | په افغانستان کې د پوځي رغونيز پروژو د قرارداد ناسمه څارنه د دې لامل شوې چې د ايتلافي ځواکونو د ژوند مصونيت په وړاندې ګواښ زيات شي |
| DOD OIG | DODIG-2013-040 | 1/31/2013 | د G222 جلا پرزو د لګښت او لاسرسۍ معلوملو لپاره مهمو معلوماتو ته اړتيا شته |
| DOD OIG | DODIG-2013-037 | 1/15/2013 | په افغانستان کې د ځرخي الوتکو ترانسپورټ د قراردادونو د کيفيت تضمين ودې ته اړتيا لري |
| DOS OIG | AUD/MERO-13-20 | 3/2013 | د بيرنۍ کاري پلان بياکتنه-د کابل سفارت |
| GAO | GAO-13-218-sp | 2/11/2013 | افغانستان: د څارنې مهم موضوعات |
| GAO | GAO-13-182 | 1/29/2013 | پوځي پرسونل: DOD د ګومارل شوي ښځينه کارکونکو روغتيا پالنې لپاره ځينې ګامونه پورته کړي خو د جنسي تيريو قرباني شوي ښځينه کارکونکو روغتيا پالنې لپاره لاهم ځينې ګامونه اړين دي |

سرچينې: د سيکار 3/22/2013 معلوماتي غوښتني ته د DOD OIG ځواب؛ د سيکار 3/22/2013 معلوماتي غوښتني ته د DOS OIG ځواب؛ د سيکار 3/25/2013 معلوماتي غوښتني ته د GAO ځواب؛ د سيکار 3/21/2013 معلوماتي غوښتني ته د USAAA ځواب؛ د سيکار 3/21/2013 معلوماتي غوښتني ته د USAID OIG ځواب.

## د متحده ايالاتو دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې، DOD OIG د افغانستان بيارغونې په اړه څلور رپوټونه خپور کړي.

### هغه پاليسۍ او کړنلارې چې د DOD نورو ادارو سره د دفاع وزارت د سلاکارانو پروګرام د مصارفو برابرولو لپاره اړين دي

(د رپوټ شميره. DODIG-2013-062، د 2013 کال د مارچ په 28 خپور شوی)

دا د دفاع وزارت د سلاکارانو په اړه د رپوټونو يوې لړۍ څخه دويم رپوټ دی. په دې رپوټ کې، DOD OIG معلومه کړې ده چې د MODA پروګرام چارواکو د DOD نورو ادارو ته د ګومارل شوي ملکيانو د معاشاتو، جوايزو، او روزنې لګښتونو په برخه کې د بوديجو ويش لپاره مناسب کنترول نلري. د دې پرځای، د پروګرام چارواکو د دې خبرې ډاډه کولو لپاره چې د پوځي ځيل مينځي مصارفو 118 غوښتنو لپاره 19.3$ ميليونه ډالر چې د 2010 مالي کال څخه تر2012 مالي کال پورې خپور شوي د وروستۍ پرداخت له کچې سره برابر دي، د DOD پر نورو ادارو اعتماد کړی دی.

دا ځکه چې د MODA پروګرام چارواکو د ريښتونی لګښت معلومات لاسته راوړلو، د اصلاحاتو ترسره کولو، او د DOD ادارو ته د وروستۍ پرداخت برابرولو لپاره پاليسۍ او کړنلارې جوړې کړې او پلي کړې ندي. په نتيجه کې، د MODA پروګرام چارواکو په MIPRS

56کې چې3.6$ ميليونه ډالر مصرف شوي، 9 MIPRs ته په بالقوه ډول 124,195$ ډالر زياته او 13 MIPRs ته په بالقوه ډول 318,892$ ډالر کمې ورکړې دي. پاتې 34 MIPRs د لګښتونو برابرولو غوښتنې ندي کړي. د اصلاحي کړنو څخه پرته، د MODA پروګرام چارواکي د MODA يا د DOD نورو ادارو تخصيصات له ګواښ سره مخ کوي، چې کيداى شي د نيمګړتياو ضد لايحې څخه د سرغړونې لامل شي.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو د قومانده، کنترول، او همغږۍ سيسټمونو په پراختيا کې د متحده ايالاتو د هڅو ارزونه

(د رپوټ شميره. DODIG-2013-058، د 2013 کال د مارچ په 22 خپور شوى)

DOD OIG معلومه کړه چې د ANA د اغيزمنه قومانديې، کنترول، او د همغږۍ سيسټم په جوړولو کې د متحده ايالاتو هڅې د قومانده او کنترول اساسي وړتيا رامينځته کيدو لامل شو. په افغانستان کې د امنيتي سکتور د ظرفيت پراخولو په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف شديد او پرله پسې هڅې د دې لامل شو چې افغان ملي پوځ تر يو حده پورې د قومانديې او کنترول اغيزمن سيسټم لاسته راوړي، چې برابر، همغږى او د 2014 کال رارسيدو سره سم به د پلانونو او عملياتونو مشري کولو وړتيا ولري. پهرصورت، د ANA د قومانديې او کنترول اغيزمن سيسټم پايښت لاهم کمزورى دى او په لوړه کچه د ايساف مرسته کونکو باندې تکيه لري، او په دويمه درجه، داسې بهرنيو عواملو پورې اړه لري چې کولى شي د هغې د قومانديې او کنترول اغيزمنتيا او ظرفيت راټيټ کړي.

- د نړيوال سوله ساتي ځواکونو مرسته کونکي هغه امکانات دي چې د جنګي عملياتونو د بريا لپاره ځواک زياتوي. د 2014 څخه وروسته دا امکانات ندي معلوم شوي، خو کيداى شي استخبارات، پاملرنه، او د پيژندنې امکانات، د تحليل وړتيا، د IED ضد ټکنالوژي او د ماين پاکولو شتمنى، (د غير مستقيم او هوايي) ډزونو امکانات، ځمکنۍ او هوايي خوځښت، او لوژستيکي پايښت شامل وي.
- په بهرنيو عواملو کې چې کولى شي د ANA د قومانديې او کنترول سيسټم تر اغيزې لاندې راولي د دې مسايلو د ودې اړتيا شامله ده:
  - په ولايتي او ولسوالي کچو کې د افغان حکومت داخلي ظرفيت،
  - له پاکستان سره د پولې مسالې بيا راڅرګندېدل، د اداري فساد کمول، د سيمه ايز امنيت لپاره پر افغان ملي پوليسو اعتبار کول، او پوليس او پوځيانو ته د معاشاتو ورکولو وسيله ډاډمنه کول.

## د داود خان په ملي پوځي روغتون کې د روغتيا پالنې شرايط وده کولو او د افغان ملي امنيتي ځواکونو د طبي لوژستيک د پايداره پراختيا په برخه کې د متحده ايالاتو پوځ او ايتلاف د هڅو څارنه

(د رپوټ شميره. DODIG-2013-053، د 2013 کال د مارچ په 13خپور شوى)

دا د يوې لړۍ څلورم رپوټ دى چې د DOD OIG لخوا خپرېږي او د افغان ملي امنيتي ځواکونو څخه د ملاتړ لپاره د پايداره طبي لوژستيک او د روغتيا پالنې پر امکانات تمرکز کوي. په دې رپوټ کې، DOD OIG، 11 بيلګو ته اشاره کړې ده چې د پلان جوړونې په برخه کې؛ د روغتياپالنې معيارونو چمتوکولو ته، او د داسې وسيلو رامينځته کولو ته چې د دې معيارونو په پوره کولو کې د روغتون لاسته راوړنې ارزوي؛ د متحده ايالاتو طبي

سلاکارانو ته د ګومارنې څخه مخکې روزنې ته؛ د روغتون حفظ الصحه، د کارکونکو حساب ورکونې، او د طبي لوژستیک ملاتړ په شمول د داوود خان ملي پوځي روغتون کې د ناروغانو د درملنې او روغتيا پالنې د ودې لپاره اقداماتو کې پرمختګ ښيي.

که څه هم په 2010، 2011 او د 2012 کال په فبروري کې د DOD OIG د پخوانیو کتنو څخه تر اوسه پورې پرمختګ شوې ده، ایساف، د شمالي اتلانتیک موسسې روزنې ماموریت-افغانستان، او دANA صحيه قوماندانۍ د NMH په شمول د ANA په نورو روغتونونو کې د روغتیاپالنې اغیزمن عملیاتونو او طبي لوژستیک په چمتو کولو کې له ننګونو سره مخ دي. په ځانګړې توګه، ISAF او NTM-A د ایتلاف له طبي مرکزونو څخه NMH ته د ANSF ناروغانو په وخته لیږلو او پریکړه نیولو په برخه کې د پالیسیو او کړنلارو بیاکتنې ته اړتیا لري. برسیره پردې، د NMH په درملتون کې د درملو د کنټرول او امنیت په اړه پرمختګ شوې ده، په دې برخه کې د درمل د غلا او کمزوری مدیریت څخه مخنیوی لپاره لازیات کار ته اړتیا لیدل کیږي. نور داچې، د ناروغانو د څارنې واحدونو په شمول، د طبي اساسي تجهیزاتو د لاسرسۍ او کارونې په اړه د NMH کړنې ودې ته اړتیا لري، تر څو ډاډه شي چې ټول ناروغان کولی شي له دې تجهیزاتو څخه ګټه واخلي.

که څه هم په تیر کال کې د ANA طبي پرسونل عمومي شمیر زیات شو، خو بیاهم په خاصه توګه د نرسنګ او درملتون په برخو کې NMH د پرسونل له کموالي سره مخ دی.

د ANA روغتونونه د طبي تجهیزاتو د پایداره کارونه او ترمیمي پروګرامونو لپاره د طبي تجهیزاتو د ترمیم په برخه کې تکړه تخنیکي کسان نلري. که څه هم د دې پروګرام په برخه کې NMH یو څه پرمختګ کړی و، خو کوم شرکت چې قرارداد لاسلیک کړی و څو په ټول ANA کې د طبي تجهیزاتو لست چمتو کړي، د تکړه تخنیکي کسانو نه درلودلو او ځینو نور نیمګړتیاو له امله د کار پرمخ بیولو څخه پاتې راغی، او په نتیجه کې قرارداد پای ته ورسول شو. کوم زده کونکي چې د پوځي ځواکونو اکاډمۍ د طبي علومو په برخه کې د طبي تجهیزاتو تخنیکي روزنې پروګرام تعقیبوي، تمه کیږي چې د روزنې له بشپړیدو سره به د طبي تجهیزاتو د ترمیم په برخه کې ستونزې یو څه هوارې کړي، دا زده کونکي د 2013 مالي کال په دویمه ربعه کې روزنه پای ته رسوي.

په پای کې، د روغتون پاکولو او ضدعفوني کولو لپاره چې له انتاني ناروغیو څخه مخنیوی وشي، د دیزانفکتانت او نور پاکونکي موادو د رسونې په برخه کې ودې ته اړتیا لیدل کیږي.

## په افغانستان کې د پوځي رغونیزو پروژو له قرارداد څخه ناسمه څارنه د ایتلافي ځواکونو ژوند او خوندیتوب ته د ګواښ زیاتیدو لامل شوی

(د رپوټ شمیره. DODIG-2013-052، د 2013 کال د مارچ په 8 خپور شوی)

د انجینرۍ او چاپیریال لپاره د هوايي ځواکونو مرکز د احتمالي قراردادونو ځانګې چارواکو په افغانستان کې د پوځي رغونیزو پروژو څخه سمه څارنه نده کړې. په ځانګړې توګه، د AFCEE چارواکو د $36.9 میلیونه ډالرو په ارزښت د څلورو پروژو د قرارداد کونکو لخوا ترسره شوي کار د څارنې، ارزونې، او د اسنادو کیفیت په اړه کوم رسمي بهیر په لاره نده اچولې. د AFCEE چارواکو وايي چې دا کار یې ځکه نده کړی چې د خپل قرارداد کونکي په تخنیکي وړتیا یې پوره باور درلوده. برسیره پردې، د AFCEE چارواکو ویلي چې د فیدرال اکویزیشن مقرره د معمارۍ انجینري قراردادونو د کیفیت ډاډه کولو لپاره نه پلي کیږي.

نو په نتيجه کې، د AFCEE لخوا د قرارداد د شرطونو چمتو کول او بياکتنې ناسم بهير و نه شو کولی څو په يو قرارداد کې د بريښناستوتزمن معيارونو د ياديدو مخه ونيسي او په دوو نورو قراردادونو کې د اورلگيدنې ضد غير معياري اهتماماتو ياديدو مخه ونيسي. علاوه پردې، د AECOM پرسونل په بوستيون/ليدرنيک کمپونو کې و نه شو کولی څو په کار کې د پام وړ نيمگړتياوې معلومې کړي. دا نيمگړتياوې د دې لامل شو چې په بوستيون/ليدرنيک کمپونو کې د څلورو بياکتل شوو ودانيو څخه په دوو کې د ايتلافي ځواکونو د ژوند په وړاندې خطر زيات شي، او په يوه کې يې د ودانۍ منل د دولت لخوا شپږ مياشتې وځنډيږي.

DOD OIG د دې نيمگړتياو په اړه يو ځل د 2012 کال په مى کې د افغانستان د کتنې په ترڅ کې او بيا په يوه غونډه کې چې د 2012 کال په جون کې ترسره شوې وه، د AFCEE چارواکو ته وويل. د هوايي ځواکونو د ملکي انجينرۍ مرکز د چارواکو په وينا ټول بريښنايي نيمگړتياوې د 2012 کال تر اکتوبر پورې سمې شوې. برسيره پردې، د هوايي ځواکونو د ملکي انجينرۍ مرکز چارواکو ويلي چې په يوه ودانۍ کې اضافي لوی چراغونه د 2012 کال د اکتوبر په 15 ولگول شو، او د اورلگيدنې ديپارتمنت هم د اورلگيدنې خبرتيا او وظيفه وازمويله خو کومه ستونزه يې ونه مونده. همدارنگه د هوايي ځواکونو د ملکي انجينرۍ چارواکي وايي چې دوی پلان لري د يوې ودانۍ په دويم منزل کې خروجي دروازې نصب کړي؛ پهرصورت، دوی په هيڅ يوه ودانۍ کې د اورلگيدنې ارامونکی سيستم د نصب لپاره کوم پلان نلري.

## د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی دفتر-د مينځني ختيځ سيمه ايز دفتر

پدې ربع کې، State OIG د افغانستان د بيارغونې په هکله يو رپوټ خپور کړی.

### د بيړنی کاري پلان بياکتنه-د کابل سفارت

(د رپوټ شميره. AUD/MERO-13-20، د 2013 کال په مارچ کې خپور شوی)

د دې ارزونې پايلې مهم خو محرم ندي.

## د دولت حساب ورکونې دفتر

پدې ربع کې، GAO د افغانستان بيارغونې په هکله دوه رپوټونه خپور کړي.

## افغانستان: د څارنې مهم مسايل

(د رپوټ شميره. GAO-13-218-sp، د 2013 کال د فبروري په 11 خپور شوی)

د GAO د روان کار په اساس، مهم مسايل د لاندې موضوعاتو په اړه د ځانګړې څارنې غوښتنه کوي:

- د افغانستان امنيتي چاپيريال. د افغانستان امنيتي وضعيت لاهم ثابت ندی چې د داخلي بريدونو زياتوالی يې تر يو حده پورې لامل کيدای شي.
- افغان امنيتي ځواکونو ته د امنيت مشري ليږدول امنيتي ليږد په جريان کې دی، او نړيوال ځواکونه د مشورې او مرستې ماموريت غوره کوي.
- د افغان امنيتي ځواکونو راتلونکی لګښت او پايښت د افغان امنيتي ځواکونو د ودانولو لپاره، د دې ځواکونو په ساتلو او پايښت لپاره د افغان دولت داخلي عايداتو او نړيوالو ژمنو ترمينځ کسر موجود دی، او د تيرو سپارښتنو او د کانګرس يو حکم سربيره DOD لا تر اوسه پورې د دې ځواکونو اوږدمهاله لګښت ندی اټکل کړی.
- په افغانستان کې د تجهيزاتو ويستلو لپاره د DOD پلان جوړونه. DOD د عراق څخه ځينې ترلاسه کړې تجربې په خپل پلان جوړونه کې کاروي او د افغانستان څخه وتلو ته چمتو کيدو لپاره يې ګڼ شمير ګامونه اخيستې دي، خو د زياتو تجهيزاتو د بيرته وړلو لګښت او ګټې يې ندي ارزولي.
- پر مرسته کونکو باندې د افغانستان اتکا د افغانستان داخلي عايدات نشي کولی چې ټول عامه مصارف يې پوره کړي، د همدې امله له 90 سلنو زيات مصارف يې د متحده ايالاتو او نړيوالو ملګرو لخوا چمتو کيږي. نړيواله ټولنې ژمنه کړې چې خپلې مرستې جاري وساتي.
- د متحده ايالاتو د هغو مرستو څارنه او حساب ورکونه چې د افغانستان څخه د ملاتړ لپاره يې ورکوي. متحده ايالاتو د افغانستان دولت مالي ادارې د ظرفيت ودې لپاره او همدارنګه د متحده ايالاتو د مستقيمه مرستې حساب ورکونې ودې لپاره خپل مرستې ته ادامه ورکوي.
- د افغانستان د پراختيايي مرستو څارل او اغيزمن کول. د متحده ايالاتو د مرستو څخه د پروګرام په اساس څارنه ښه شوې ده، خو يو ګډ ډيټابيس کولی شي په افغانستان کې د متحده ايالاتو پراختيايي هڅو ته ګټه ورسوي.
- په افغانستان کې د متحده ايالاتو د قراردادونو څارنه د قرارداد مديريت او بررسي دوامداره پاملرنې ته اړتيا لري.
- په افغانستان کې د متحده ايالاتو راتلونکي شتون لپاره پلان جوړونه. په عراق کې د پوځ څخه ملکي مشرۍ ته ليږد کولی شي په افغانستان کې د ورته پيښو لپاره يو ښه درس شي ځکه چې متحده ايالات پنځه ډيپلوماتيک مرکزونه په پام کې لري، او د متحده ايالاتو پوځي شتون تر مذاکرې لاندې دی.

## پوځي پرسونل: DOD د پوځي ښځو د روغتيايي اړتياو چمتو کولو لپاره ګامونه پورته کړي، خو د جنسي تيريو قربانيانو څخه پاملرنه کول ځينې کارونو ته اړتيا لري

(د رپوټ شميره. GAO-13-182، د 2013 کال د جنوري 29 کې خپور شوی)

په پوځ کې د ښځو دندې د زياتيدو او پراخيدو په حال کې دي. نن سبا پوځي ښځې د جګړې، جګړې څخه ملاتړ، او د ياغيانو ضد عملياتونو لپاره ډير مهم بلل کيږي، او داسې

دندې ترسره کوي چې مخکې يې نشو کولی. د 81-112 عامه قانون، 725 (2011) برخه پر GAO امرکوي چې د ښځو روغتيايي خدمتونو په اړه چې د DOD لخوا د پوځ ښځو ته، د جنسي تيريو قرباني شوي ښځو په شمول، وړاندې کيږي، څيړنه وکړي. پدې ريپوټ کې، GAO ارزوي چې تر کومه حده پورې (1) DOD د ګومارل شوو ښځو روغتيا پالنې ته پاملرنه کوي؛ (2) ښځينه کارکونکو ته د روغتياپالنې خدمتونه د لاسرسۍ وړ دي؛ او (3) هغو ښځينه کارکونکو ته چې د جنسي تيريو قرباني شوي طبي او ذهني روغتيا پالنه د لاسرسۍ وړ دي. GAO د DOD پورې اړوند پاليسي، لارښود، او معلوماتو بياکتنه وکړه. GAO همدارنګه په افغانستان او سمندري بيړيو کې د 15 تاسيساتو په شمول د 18 داسې ځايونو څخه د کتنې پرمهال چې دمګړۍ ښځينه کارکونکي په کار بوختې وې، د روغتياپالنې چمتوکونکو، ښځينه کارکونکي، او نورو سره ليدنه وکړه.

DOD ګامونه پورته کوي څو د ګومارل شوو ښځو روغتيايي اړتياو ته رسيدنه وکړي. د بيلګې په توګه، DOD په ځانګړې توګه د ښځو روغتيايي اړخونو لپاره داسې پاليسۍ او لارښودونه لري چې د دندې په ترڅ کې ښځينه کارکونکو ته روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي. همدارنګه وړاندې له دې چې يوه ښځينه کارکونکې وګومارل شي د داسې حالاتو له نظره معاينه کيږي چې د هغې ګومارنه محدودولی شي لکه اميداوري، او د DOD هغو چاراواکي چې GAO ورسره کتلي وايي چې دا معاينې مرسته کوي څو له ګومارنې څخه وړاندې د ښځينه کارکونکو روغتيا ته پاملرنه وشي. GAO همدارنګه و مونده چې د DOD ځانګې د دندې په ترڅ کې د ښځينه کارکونکو روغتيايي اړتياو ته بياکتنه کوي او د هغو طبي خدمتونو په اړه معلومات راغونډوي چې ښځينه کارکونکو ته چمتو شوي دي.

په 15 انتخاب شوي ځايونو کې چې GAO په افغانستان او لرې پراته سمندري بيړيو کې کتلې دي، د روغتياپالنې چمتو کونکي او زيات ښځينه کارکونکي ويلي چې د روغتيا پالنې شته خدمتونه د ښځينه کارکونکو اړتياوې بشپړ کوي. په افغانستان او لرې پراته سمندري بيړيو کې د روغتياپالنې چمتو کونکي وايي چې دوی د ښځينه روغتياپالنې ټول خدمتونه چې ښځينه کارکونکي يې غواړي، وړاندې کولی شي، او هغه ښځينه کارکونکې چې د GAO سره غږيدلې ده ويلي چې د ښځينه کارکونکو اړتياوې په عمومي ډول پوره کيږي. په ځانګړې توګه، د 92 ښځينه کارکونکو څخه تر لاسه شوي معلوماتو په اساس چې GAO ورسره مرکه کړې ده، 60 ښځينه کارکونکي وايي چې د دندې په ترڅ کې د ښځينه کارکونکو روغتيايي اړتياوې په عمومي توګه پوره کيږي؛ 8 ښځو ويلي چې د دندې په ترڅ کې د ښځينه کارکونکو روغتيايي اړتياوې په عمومي توګه نه پوره کيږي؛ 8 ښځو مخلوط نظر درلوده؛ او 16 ښځو کوم نظر ورنکړ. د مثال په ډول، ځينې ښځينه کارکونکو GAO ته ويلي چې په عملياتي چاپيريال کې د چمتو شوي روغتيايي خدمتونو څخه راضي دي. د هغو ښځو له ډلې نه چې د پوځي روغتيايي خدمتونو څخه ناراضه و، يو تن يې GAO ته د درمل په لاسته راوړلو کې ستونزې په نښه کړې. د هغو په مينځ کې چې مخلوط نظر يې ورکړې و، يو نظر دا و چې د روغتياپالنې نوي کارکونکي د ځينې محدودو کړنلارو لپاره ځانګړي شوي او عملي وړتيا نلري.

DOD د جنسي تيريو قربانيانو ته د طبي او ذهني روغتيا برابرولو لپاره ځينې ګامونه پورته کړي، خو ګڼ شمير فکتورونه شته چې دې خدمتونو ته لاسرسۍ تر اغيزې لاندې راولي. د بيلګې په توګه، دا پاملرنه د خدمت له ډول سره فرق کوي او د عملياتي فکتورونو له امله هم فرق کوي چې د دندې له چاپيريال سره نښتي دي لکه ټرانسپورټيشن او مخابراتي

ننګونې. نور دا چې، د پوځي روغتیاپالنې چمتو کونکي د جنسي تیریو قربانیانو ته د خدمت کولو په وړاندې خپل مسولیتونه سم نه پېژني، ځکه چې دا وزارت د هغو ژوبلو او ستونزو په اړه چې د جنسي تیریو څخه پیدا کیږي یو لارښود ندی چمتو کړی، څو روغتیاپالونکو ته په ډاګه کړي چې د راز ساتنې په نظر کې نیولو سره د جنسي تیریو قربانیانو ته خدمت وړاندې کړي. برسیره پردې، په داسې حال کې چې د ادارو لخوا لومړیو مسولینو ته په کلنۍ ډول تازه روزنې ورکول کیږي، GAO ومونده چې دا مسولین د هغو روغتیاپالنې خدمتونو په اړه خبر نه دي چې د جنسي تیریو قربانیانو ته چمتو دي، ځکه چې ځینې له دوی نه دا روزنې نه بشپړوي. د مسولیتونو په اړه د پوهې څخه پرته، د روغتیاپالنې چمتو کونکي او لومړی مسولین نشي کولی د جنسي تیریو څخه اغیزمنې شوي ښځینه کارکونکو سره سمه مرسته وکړي.

## د متحده ایالاتو د پوځ پلټونکې اداره

USAAA پدې ربع کې د افغانستان د بیارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

## د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو ادارې د عمومي پلټونکي دفتر

پدې ربع کې، USAID OIG د افغانستان بیارغونې په هکله کوم رپوټ ندی خپور کړی.

# د څارنې روان فعالیتونه

د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې، شرکت کونکي ادارې د افغانستان بیارغونې په هکله 28 رواني پلټنې خپرې کړې. دا فعالیتونه په 4.2 جدول کې لست شوي، او د هرې ادارې فعالیتونه په لاندې برخه کې تشریح کیږي.

## د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر

د دفاع وزارت د سیندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملیاتونو په ترسره کولو لاهم د ننګونو سره مخ دی. DOD OIG د دې ننګونو او لوړو خطرونو په پام کې نیولو سره لومړیتوبونه ټاکلي دي. په 2013 مالي کال کې، DOD OIG په افغانستان کې د ملاتړو سرچینو په کارولو سره د سیندونو څخه پورې غاړې احتمالي عملیاتونو په اړه تمرکز کوي. DOD OIG په افغانستان کې د امنیتي ځواکونو بودیجې، پوځي تاسیسات، د پرسونل مصونیت، اداري او اجرایي کارونو څخه او د ایتلافي ځواکونو په مرسته د قراردادونو اداره او څارنې څخه خپل تعقیب ته ادامه ورکوي. برسیره پردې، DOD OIG په افغانستان کې د ځواکونو ایستلو او د عملیاتونو د انتقال مسایلو په اړه هم څارنه کوي.

4.2 جدول

**د متحده ايالاتو د نورو ادارو روانې پلټنې، د 2013 کال د مارچ تر 31 پورې**

| اداره | د پروژې شميره | د پيل نيټه | د پروژې موضوع |
|---|---|---|---|
| DOD OIG | D2013-D000AS-0097.000 | 2/8/2013 | د W58RGZ-09-D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس د Mi-17 د پيلوټ خای تغيرات |
| DOD OIG | D2013-D000AT-0083.000 | 1/3/2012 | د ډاترون ورلډ کمونيکيشن. انکارپوريشن لپاره د بيې سموالی معلومول. هغه قراردادونه چې د متحده ايالاتو پوځ د قرارداد کونکي قوماندې لخوا د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره لاسليک شوي دي |
| DOD OIG | D2013-D00SPO-0087.000 | 12/18/2012 | د 2014 کال څخه وروسته د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مهم پياوړي کونکي امکاناتو ليږد لپاره د پلان جوړونې ارزونه |
| DOD OIG | D2013-D000FL-0056.000 | 12/3/2012 | د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتيک پيمان سازمان (ناټو) د مرسته کونکو هيوادونو د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې سره د هغو مرستو معاينه چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0052.000 | 11/1/2012 | د شين ډنډ د روزنې قراردادونه |
| DOD OIG | D2013-D000AS-0001.000 | 10/5/2012 | د متحده ايالاتو ترانسپورتيشن قوماندانۍ لپاره د هغو قراردادونو مراقبتي جوړښتونه چې د افغانستان د ځرخي الوتکو پروګرام څخه ملاتړ کوي |
| DOD OIG | D2012-D000JA-0221.000 | 9/28/2012 | په بګرام هوايي ډګر، افغانستان کې د ځانګړو عملياتونو ځواکونو لپاره د پوځي ودانيو د پروژو د قرارداد مديريت او څارنه |
| DOD OIG | D2012-D00SPO-0210.000 | 8/21/2012 | د افغان سرحدي پوليسو د روزنې، تجهيز، او مشورې په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو ارزونه |
| DOD OIG | D2012-D000AS-0137.000 | 3/9/2012 | د افغان ملي پوليسو د مشورې/روزنې او لوژستيکي ملاتړ د قرارداد څخه د خارنې بهير او کرنلارې |
| DOD OIG | D2012-D000AT-0129.000 | 3/8/2012 | د افغان ملي امنيتي ځواکونو څخه د ملاتړ لپاره د ډاترون راډيو قراردادونه |
| DOD OIG | D2012-D00SPO-0090.000 | 2/28/2012 | د افغان ملي پوځ په ليکو کې د مشرانو روزلو په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف هڅې |
| DOD OIG | D2012-DT0TAD-0002.000 | 2/14/2012 | د افغانستان په ټاکلو مرکزونو کې د اورلګيدنې مخنيولو معيارونو سره د پوځي ودانيو د توافق تخنيکي ارزونه |
| DOD OIG | D2012-DT0TAD-0001.000 | 2/14/2012 | د افغانستان په ټاکلو ودانيو کې د بريښنا له معيارونو سره د پوځي رغونې د توافق تخنيکي ارزونه |
| DOD OIG | D2012-D000AS-0075.000 | 12/7/2011 | د Mi-17 ترميم او د پيلوټ خای د تغيراتو لپاره وظيفوي فرمان |
| DOS OIG-MERO | 13AUD052 | 2/2013 | په يوروشليم او افغانستان کې د خوځيدنې او سکون امنيتي خدماتو لپاره د 2، 9، 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د ډيپلوماټيک امنيت ادارې د نړيوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه |
| DOS OIG-MERO | 12AUD79 | 12/2012 | په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنيو چارو وزارت د ليږد پلان پلټنه |
| DOS OIG-MERO | 12AUD30 | 12/2011 | په افغانستان کې د مخدره توکو او قانون پلي کولو نړيواله ادارې د چارو اصلاحي سيستم ملاتړ پروګرام پلټنه |
| GAO | 121119 | 3/6/2013 | د بهرنيو چارو وزارت او د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې احتمالي قرارادادونه |
| GAO | 351798 | 1/18/2013 | په افغانستان کې د تجهيزاتو کمول او د مراکزو تړل |
| GAO | 320962 | 1/14/2013 | افغان داخلي بريدونه |
| GAO | 351772 | 10/17/2012 | په افغانستان کې له جګړې څخه وروسته د متحده ايالاتو د پوځونو ونډې په معلومولو کې د DOD کړنلاره |
| GAO | 121096 | 10/11/2012 | د Mi-17 هيليکوپټرو تدارکات |
| GAO | 351743 | 6/19/2012 | په افغانستان کې د سلاکارۍ ډلې |
| GAO | 351747 | 6/11/2012 | افغان عامه محافظت ځواک ته د DOD ليږد |
| USAID OIG | FF100712 | 11/28/2012 | د USAID/افغانستان د ليږد پلانونو پلټنه |
| USAID OIG | FF101412 | 10/14/2012 | د USAID/افغانستان لخوا د دريم هيواد د وګړو کاروونې بياکتنه |
| USAID OIG | FF100612 | 10/9/2012 | د اضافي پرداختونو په برخه کې د USAID/افغانستان د اداري کنترول څخه بياکتنه |
| USAID OIG | FF101112 | 5/1/2012 | د USAID/افغانستان د کندهار هلمند بريښنا نوښت پلټنه |
| USAID OIG | FF101712 | 10/25/2011 | د USAID/افغانستان لخوا د ټاکلو پروژو لپاره د قوماندان بيړنی غبرګون پروګرام د کاروونې بياکتنه |

سرچينې: د سيګار 3/22/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOD OIG ځواب؛ د سيګار 3/22/2013 معلوماتي غوښتنې ته د DOS OIG ځواب؛ د سيګار 3/25/2013 معلوماتي غوښتنې ته د GAO ځواب؛ د سيګار 3/21/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAAA ځواب؛ د سيګار 3/21/2013 معلوماتي غوښتنې ته د USAID OIG ځواب.

لکه څنګه چې لاتراوسه په افغانستان کې ميلياردونه ډالر مصرفيږي، يو مهم لومړيتوب دا دی چې د افغانستان امنيتي ځواکونو د روزنې، تجهيز، او پايښت لپاره د ترسره کيدونکو قراردادونو څخه څارنه او نظارت ته ادامه ورکړ شي. DOD OIG د افغانستان امنيتي ځواکونو د تجهيزاتو لکه چورلکې، الوتکې، مهمات، راډيو، او په شپه کې د ليدنې وسايلو د قراردادونو د اداره او څارنې لپاره ځينې پلانونه په پام کې نيولي. همدارنګه DOD OIG به د ANP روزنې لپاره د قراردادونو د ادارې او اجرا څخه بياکتنه او ارزونې ته ادامه ورکړي.

لکه څنګه چې په افغانستان کې د پوځي ودانيو جوړونه ادامه لري او د ژوند نوي ځايونه، د خوارو او لوبې ځای، طبي کلينيکونه، د مرکزونو پراختيا، او پوليس سټيشنونه جوړوي، DOD OIG به د قراردادونو ادارې او پوځي رغونيزو پروژو څخه شديده څارنې ته ادامه ورکوي. DOD OIG به د شتمنيو حساب ورکونې، لکه د قرارداد کونکي په اداره د دولت شتمني او د پوځ ډير اړين وسايل؛ د افغان دفاع وزارت د مسلکي ظرفيت وده؛ او د مالي اداري پر کنترول باندې خپل تمرکز ته ادامه ورکوي.

DOD OIG د سهيل لويديځ اسيا پلان جوړونې ګډ ګروپ همغږي او فيدرالي او د DOD OCO پورې تړلې فعاليتونو په اړه څارنه په لاره اچولې ده. DOD OIG د سيګار او نورو ملګرو عمومي پلټونکو او د دفاعي څارنې ټولنې له غړو سره يو ځای کار کوي څو په افغانستان کې د څارونکو ټولنو لپاره د پلټنې هغه ستراتيژيک پلان پلي کړي چې په 2013 مالي کال کې خپور شوی. د سيګار په مشرۍ هڅې کانګرس او اساسي سهام لرونکو ته د بيارغونيزو پروګرامونو په اړه اغيزمنه څارنه وړاندې کوي.

## د پلټنې لپاره د عمومي پلټونکې د مرستيال دفتر

د OEF پورې اړوند د DOD OIG لخوا روانه څارنه د رغونيزو هڅو په تړاو د پرسونل مصونيت؛ د متحده ايالاتو د پرسونل لپاره د ځواک ساتنې پروګرامونه؛ د شتمنۍ حساب ورکونه؛ ناسم پرداختونه؛ د رغونيزو پروژو په شمول د قرارداد اداره او په لاره اچونه؛ د افغان پوليسو د روزنې لپاره د قرارداد څخه څارنه؛ په افغانستان کې د لوژستيکو ويشنه؛ بيرته تلونکې عملياتونه، روغتياپالنه؛ د افغانستان امنيتي ځواکونو د مرستو کنترول او لاسته راوړلو پلانونه په نظر کې لري.

## د W58RGZ-09D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس د Mi-17 Cockpit بدلونونه

(د پروژې شميره. D2013-D000AS-0097.000، د 2013 کال د فبروري په 8 پيل شوی)

د W58RGZ-09-D-0130-0102 وظيفوي فرمان په اساس بدلونونه DOD IG د Mi-17 د چلونکي او سپرو د بدلونونو په اړه د وظيفوي فرمان څخه يو تعقيبوي پلټنه تر سره کوي (د پروژې شميره. D2012-D000AS-0075.000). په دې تعقيبي پلټنه کې DOD IG معلوموي چې ايا د DOD چاراوکو د فيدرالي او DOD مقرراتو او پاليسيو په اساس د Mi-17 ډوله الوتکو د بدلون په اړه، د وظيفوي فرمان 0102، W58RGZ-09-D-0130 شميره قرارداد کې نامعينه انتقال او نامعينه مقدار په سمه توګه قرارداد او اداره کړي که نه. د تيرې پروژې په اساس، DOD OIG د پاکستان په ملکيت Mi-17 ډوله الوتکې د ترميم لپاره هغه قرارداد بياکتنه وکړه چې د 0102 وظيفوي فرمان لخوا لاسليک شوی و.

### د ډاترون ورلډ کمونيکيشن، انکارپوريشن لپاره د منطقي بيو ټاکنه. هغه قراردادونه چې د متحده ایالاتو د پوځ قرارداد کونکي قوماندانی لخوا د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره لاسليک شوي

(د رپوټ شميره. 2013-D000AT-0083.000، د 2013 کال د جنوري په 3 پيل شوی)

DOD IG معلوموي چې آيا د متحده ايالاتو د پوځ قرارداد کونکې قوماندانۍ د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره مخابراتي تجهيزات او پرزې د ډاترون ورلډ کمونيکيشن انکارپوريشن څخه په مناسبه بيه اخيستي دي. دا پروژه د يوې لړۍ څخه دويمه پلټنه ده چې د ډاترون ورلډ کمونيکيشن قراردادونو باندې تمرکز کوي. د دې لړۍ لومړی پلټنه D2012-D000AT-0129.000 ده.

### د 2014 کال څخه وروسته د افغان ملي امنيتي ځواکونو د مهم پياوړي کونکي امکاناتو ليږد لپاره د پلان جوړونې ارزونه

(د پروژې شميره. D2013-D00SPO-0087.000، د 2012 کال د دسمبر په 18 پيل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آيا د متحده ايالاتو او ايتلاف موخې، اهداف، پلانونه، لارښودونه، او سرچينې د دې لپاره کافي دې چې افغان ملي پوځ او ملي پوليسو ته د مهمو پياوړي کونکو امکاناتو ليږد اداره، او په لاره واچوي. برسيره پردې، DOD OIG معلوموي چې پياوړي کونکي امکانات به د 2014 کال څخه وروسته کومو پرمختياو ته اړتيا ولري. همدارنګه، DOD OIG معلوموي چې آيا کمونکي کارونه په پلان کې نيول شوي او د ANSF مهمو پياوړي کونکي امکاناتو په اړه چې له 2014 کال څخه وروسته دي يا د پراختيا لاندې وي، څه وايي. په اصل کې، DOD OIG بياکتنه کوي چې د پياوړي کونکي ځواک د کارونو لپاره کوم پلانونه او کړنو ته اړتيا شته څو ANSF د خپلواکو عملياتونو په لاره اچونه او ساتنه سرته ورسوي.

### د دفاع وزارت لخوا د شمالي اتلانتيک پيمان سازمان د مرسته کونکو هيوادونو د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې سره د هغو مرستو معاينه چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي

(د پروژې شميره. D2013-D000FL-0056.000، د 2012 کال د دسمبر په 3 پيل شوی)

د دفاع وزارت تر واک لاندې(کنترولر)/د مالي مامورينو مشر، [USD(C)/CFO] DOD د دې معاينې غوښتنه کړې دی. USD(C)/CFO پلان لري څو ثابته کړي چې د ټولو موادو په اړه دا لاندې جدول په سمه توګه کارول شوې دی:

- د افغانستان ملي پوځ د خيريه بوديجې سره د مرستندويه هيوادونو د مرستو جدول چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي دي
- د افغانستان ملي پوځ د خيريه بوديجې سره د مرستندويه هيوادونو د مرستو د جدول مالي وضعيت چې د پايداره پروژو لپاره د 2012 کال د سپتمبر تر 30 پورې تصويب شوي او د امريکا متحده ايالاتو ته ليږدول شوي دي

DOD OIG معلوموي چې آيا USD(C)/CFO د هغو مرستو سم رسيد او مصارف چې د افغانستان ملي پوځ خيريه بوديجې ته ورکړ شوي دي، چمتو کړي او DOD ته يې وړاندې کړي څو د امريکا او شمالي اتلانتيک تړون او د متحدو ځواکونو د سترو مرکزونو-اروپا د تفاهم ليک په اساس د افغانستان د ملي پوځ د ملاتړ او پايښت لپاره د دې مرستو څخه اجراات وکړي. برسيره پردې، DOD OIG به د مالي رپوټونو داخلي کنترول څخه بياکتنه وکړي، او معلوموي چې د قوانين او مقرراتو سره جوړ راځي که نه. USD(C)/CFO د يادو جدولو مسوليت په غاړه لري. د DOD OIG مسوليت دا دی چې د خپل معايناتو په اساس خپل نظر وړاندې کړي.

## د شين ډنډ د روزنې قراردادونه

(د پروژې شميره. D2013-D000AS-0052.000، د 2012 کال د نومبر په 1 پيل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آيا کوم قراردادونه چې د شين ډنډ په هوايي ډګر کې د ځرخي او غيرځرخي الوتکو په اړه پيلوټانو ته ورکول کيږي د فيدرال او DOD شرطونو سره سم لاسليک شوي دي که نه. په ځانګړې ډول، DOD OIG به معلومه کړي چې آيا د قرارداد شرطونه په نظر کې نيول کيږي، او د قرارداد د څارنې اغيزه ارزوي.

## د متحده ايالاتو ترانسپورتيشن قوماندانۍ لپاره د هغو قراردادونو مراقبتي جوړښتونه چې د افغانستان د ځرخي الوتکو پروګرام څخه ملاتړ کوي

(د رپوټ شميره. D2013-D000AS-0001.000، د 2012 کال د اکتوبر په 5 پيل شوی)

DOD OIG د افغانستان د ځرخي ترانسپورت قراردادونو په اړه د رپوټونو يوې لړۍ څخه دويم رپوټ تر کار لاندې نيولی دی. په عمومي توګه موخه دا ده چې معلومه کړي آيا د متحده ايالاتو د ترانسپورتيشن قوماندانۍ او د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندانۍ چارواکي د قرارداد له کړنلارو او بهير څخه سمه څارنه کوي که څنګه. لومړی پلټنه داوه "د متحده ايالاتو د ترانسپورتيشن قوماندانۍ لپاره د افغانستان د ځرخي الوتکو د ترانسپورت قراردادونه" (D2012-D000AS-0031.000).

## په بګرام هوايي ډګر، افغانستان کې د ځانګړو عملياتونو ځواکونو لپاره د پوځي ودانيو د پروژو د قرارداد مديريت او څارنه

(د پروژې شميره. D2012-D000JA-0221.000، د 2012 کال د سپتمبر په 28 پيل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آيا DOD په افغانستان کې د پوځي رغونيزو پروژو څخه سمه څارنه کوي که نه. په ځانګړې توګه، DOD OIG به معلومه کړي، چې آيا د متحده ايالاتو د پوځي انجينرانو قطعه د هغه رغونيزو پروژو د قرارداد او کيفيت ډاډه کولو په اړه سمه څارنه کوي چې په بګرام هوايي ډګر کې د ځانګړو عملياتونو ځواکونو لپاره جوړيږي.

## د افغان سرحدي پوليسو د روزنې، تجهيز، او مشورې په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو ارزونه

(د پروژې شميره. D2012-D00SPO-0210.000، د 2012 کال د اګست په 21 پيل شوى)

DOD OIG معلوموي چې آيا د افغان سرحدي پوليسو په روزنه، تجهيز او مشورو کې کوم پلانونه او عمليات چې د متحده ايالاتو او ايتلاف له خوا په پام کې نيول شوي اغيزمن دي که نه. په دې ترڅ کې به د ABP پراختيا او د پروګرام په مديريت کې د کورنيو چارو وزارت وړتياو ته وده ورکولو لپاره د متحده ايالاتو او ايتلاف د هڅو ارزولو لپاره د سرحدي پوليسو د ژوند په بيلابيو پړاوونو کې د هڅو نتايج ارزول کيږي.

## د افغان ملي پوليسو د مشورې/روزنې او لوژستيکي ملاتړ د قرارداد څخه د څارنې بهير او کړنلارې

(د پروژې شميره. D2012-D000AS-0137.000، د 2012 کال د مارچ په 9 پيل شوى)

DOD OIG د افغانستان ملي پوليسو د روزنې/مشورې او لوژستيکي ملاتړ د قراردادونو په اړه د يوې لړۍ څخه دويمه پلټنه پيل کړې ده. DOD OIG عمومي موخه د پلټنو دې لړۍ څخه دا ده چې معلومه کړي آيا د DOD چارواکي د ماموريت د اړتياو سره سم د قرارداد مناسب بهير کاروي او د فيدرال او DOD پاليسيو په اساس د قرارداد څخه سمه څارنه کوي که نه. په دې پلټنه کې به DOD OIG معلومه کړي چې آيا پوځ، د شمالي اتلانتيک تړون ماموريت په افغانستان کې/د امنيتي ليږد ګډه قومانده په افغانستان کې، او د دفاعي قرارداد د ادارې استازى د قرارداد څارلو لپاره مناسبه کړنلارې او بهير لري که نه. علاوه پردې، DOD OIG به معلومه کړي چې آيا پوځ، د شمالي اتلانتيک تړون ماموريت په افغانستان کې/د امنيتي ليږد ګډه قومانده په افغانستان کې، او د دفاعي قرارداد د ادارې استازى د قرارداد څخه مناسبه نظارت کړې دى. د دې لړۍ لومړۍ پلټنه "د افغان ملي پوليسو مشوره/روزنه او لوژستيکي ملاتړ قرارداد"، DODIG-2012-094 و، چې د 2012 کال د مى په 30 خپور شوى.

## د افغان ملي امنيتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د ډاترون راډيو قراردادونه

(د پروژې شميره. D2012-D000AT-0129.000، د 2012 کال د مارچ په 8 پيل شوى)

DOD OIG معلوموي چې آيا د متحده ايالاتو د مخابراتو-بريښنا قوماندانۍ د ډاترون راډيو قراردادونو، د منطقي بيو په ټاکلو، په وخت تسليمولو، او د کيفيت ډاډه کولو لپاره د استعمال وړ شرطونو له مخې اغيزمنه پاليسۍ او کړنلارې کارولې دي.

## په افغان ملي پوځ کې د مشرانو تربيه کولو په برخه کې د متحده ايالاتو او ايتلاف هڅې

(د پروژې شميره. D2012-D00SPO-0090.000، د 2012 کال د فبروري په 28 پيل شوی)

DOD OIG د افغان ملي پوځ د صاحب منصبانو او بريدمنانو په تربيه کولو کې د ايتلاف د مشرتوب پروګرامونو اغيزه او بسټياکول ارزوي.

## د افغانستان په ټاکلو مرکزونو کې د اورلګيدنې مخنيولو معيارونو سره د پوځي ودانيو د توافق تخنيکي ارزونه

(د پروژې شميره. D2012-DT0TAD-0002.000، د 2012 کال د فبروري په 14پيل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آيا د متحده ايالاتو په مرکزونو کې د جوړ شوي ودانيو د اورلګيدنې مخنيولو سيستم د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې د متحدو معيارونو او د اورلګيدنې څخه د مخنيوی لپاره د ملي اتحاديې له معيارونو سره توافق لري که نه. DOD OIG به د اړتيا په صورت کې د متحده ايالاتو لخوا نيول شوي مرکزونه په کندهار هوايي ډګر، بګرام هوايي ډګر، کمپ ايګرز، او نورو ځايونو کې هم وارزوي. همدارنګه DOD OIG د اورلګيدنې مخنيولو سيستم په اړه د پخوانيو ارزونو د سپارښتنو په ځواب کې د DOD OIG اصلاحي کړنې ارزوي. د رپوټونو يوه لړۍ په پلان کې نيول شوي او دا پروژه به د بريښنايي معيارونو له ارزونو سره يو ځای کړای شي (د پروژې شميره. D2012-DT0TAD-0001.000). لومړی رپوټ به په کندهار او بګرام هوايي ډګرونو کې بريښنا او د اورلګيدنې څخه مخنيولو سيستم ته رسيدنه وکړي. دويم رپوټ به کابل بيس کلسټر و ارزوي.

## د افغانستان په ټاکلو ودانيو کې د بريښنا له معيارونو سره د پوځي رغونې د توافق تخنيکي ارزونه

(د پروژې شميره. D2012-DT0TAD-0001.000، د 2012 کال د فبروري په 14 پيل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آيا په افغانستان کې د متحده ايالاتو په پوځي ودانيو کې جوړ شوی بريښنايي سيستمونه د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې د متحدو معيارونو او د بريښنا ملي لايحې له معيارونو سره سم دي که نه. DOD OIG به د اړتيا په صورت کې د متحده ايالاتو لخوا نيول شوي مرکزونه په کندهار هوايي ډګر، بګرام هوايي ډګر، کمپ ايګرز، او نورو ځايونو کې هم وارزوي. همدارنګه DOD OIG د بريښنايي سيستم په اړه د پخوانيو ارزونو د سپارښتنو په ځواب کې د DOD OIG اصلاحي کړنې ارزوي. د رپوټونو يوه لړۍ په پلان کې نيول شوي او دا پروژه به د اورلګيدنې څخه مخنيونکي معيارونو له ارزونو سره يو ځای کړای شي (د پروژې شميره. D2012-DT0TAD-0002.000). لومړی رپوټ به په کندهار او بګرام هوايي ډګرونو کې بريښنا او د اورلګيدنې څخه مخنيولو سيستم ته رسيدنه وکړي. دويم رپوټ به کابل بيس کلسټر و ارزوي.

## د Mi-17 ترميم او د پيلوټ ځای د تغيراتو لپاره وظيفوي فرمان

(د پروژې شميره. D2012-D000AS-0075.000، د 2011 کال د دسمبر په 7 پيل شوی)

DOD OIG معلوموي چې آيا د DOD چارواکو د Mi-17 ترميم او د پيلوټ ځای د تغيراتو وظيفوي فرمانونه د فيدرال او DOD مقرراتو او پاليسيو سره سم قرارداد او اداره کړی. قرارداد کونکو مامورينو دا وظيفوي فرمانونه د IDIQ قرارداد W58RGZ-09-D-0130 شميرې لاندې خپور کړ.

## د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر-د مينځنی ختيځ سيمه ايز دفتر

State OIG د افغانستان د بيارغونې په هکله يوه پروژه پيل کړې ده.

### په يوروشليم او افغانستان کې د خوځيدنې او سکون امنيتي خدماتو لپاره د 2، 9، 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د ډيپلوماټيک امنيت ادارې د نړيوال محافظتي خدماتو قرارداد پلټنه

(د پروژې شميره. 13AUD052، د 2013 کال فبروري)

د پلټنې عمومي موخه دا ده چې د WPS قرارداد 2، 9، او 11 وظيفوي فرمانونو په اړه د وزارت د ادارې او څارنې موثريت معلومه کړي. پلټونکې ډله به په ځانګړې ډول معلومه کړي چې آيا قرارداد کونکی خپل کارونه د قرارداد له شرطونو سره سم کوي، د قرارداد کارونه سم څارل کيږي، د دقت ډاډه کولو او د لګښت بشپړوالي لپاره د صورتحساب بياکتنه او د منلو کړنلاې کارول کيږي.

### په افغانستان کې د پوځي شتون کمولو لپاره د بهرنيو چارو وزارت د ليږد پلان پلټنه

(د پروژې شميره. 12AUD79، د 2012 کال په دسمبر کې پيل شوی)

د پلټنې عمومي موخه دا ده چې په افغانستان کې د پوځي شتون څخه ملکي ماموريت ته د ليږد لپاره د وزارت انتقالي پلانونه وارزوي. OIG به په ځانګړې توګه معلومه کړي چې آيا وزارت د خپل ماموريت او مرستندويه شرايط لپاره مناسب تعريف لري، خپل پرسونل او بوديجوي اړتيا يې ارزولی، او خپل پلان يې د دفاع وزارت او د متحده ايالاتو نورو اړوندو ادارو سره، د افغانستان حکومت، او نور غير امريکايي ادارو سره همغږی کړی. همدارنګه OIG به معلومه کړي چې آيا په پلان جوړونه کې د عراق له ليږد څخه ترلاسه شوي زده کړې کارول شوي دي.

### په افغانستان کې د مخدره توکو او قانون پلي کولو نړيواله ادارې د چارو اصلاحي سيسټم ملاتړ پروګرام پلټنه

(د پروژې شميره. 12AUD30، د 2011 کال په دسمبر کې پيل شوی)

د پلټنې موخه دا ده چې د يو خوندي، مصون، او انساني بنديخانې سيسټم په جوړولو کې چې د نړيوالو معيارونو او افغاني کلتور له شرايطو سره سم وي، د INL اصلاحي سيسټم ملاتړ پروګرام موثريت وارزوي. OIG به په ځانګړې ډول وارزوي چې آيا INL د لاندې CSSP برخو له لارې ټاکل شوي او پايداره پايلې تر لاسه کوي: روزنه او مشوره؛ د ظرفيت زياتول؛ د مخدره توکو ضد قضايي مرکز او د قضا امنيتي واحد عملياتونه او ساتنه؛ د پل چرخي د ادارې او ثبات ډله؛ د محابسو مرکزي رياست بوختيا او د بيايوځاکيدلو ډله؛ او د کندهار د پراخونې او ملاتړ ډله.

## د دولت حساب ورکونې دفتر

### د بهرنيو چارو وزارت او د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ایالاتو ادارې احتمالي قرارادادونه

(د پروژې شميره. 121119، د 2013 کال د مارچ په 6 پیل شوی)

د بهرنيو چارو وزارت او د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ایالاتو اداره په عراق او افغانستان کې په لوړه کچه قرارداد کونکو باندې اعتماد کړې دی. پداسې حال کې چې په داسې احتمالي عملياتونو کې د قرارداد کونکو کارونه نوې ندي، GAO او نورو موندلې چې State او USAID د دې عملياتونو د قراردادونو په اداره کې له ننګونو سره مخ شوي دي. State او USAID تر کومه حده: (1) د احتمالي عملياتونو د قراردادونو لپاره خپل تنظيمي جوړښت ارزولي او دا يې معلومه کړې چې آيا کوم بدلون ته اړتيا لري، (2) د احتمالي عملياتونو د قراردادونو لپاره خپل د قرارداد او مديريت پالیسي ارزولی او معلومه کړې يې ده چې آيا دې پالیسيو کې کوم بدلون ته اړتيا شته، (3) د احتمالي عملياتونو لپاره يې د قرارداد کونکو په شمول خپل کاري ځواک ارزولې او معلومه کړې يې ده چې آياکوم بدلون ته اړتيا لري؟

### په افغانستان کې د تجهيزاتو کمول او دمراکزو تړل

(د پروژې شميره. 351798، د 2013 کال د جنوري په 18 پیل شوی)

DOD ويلي چې له افغانستان څخه د 90,000 کانټينر مواد او 50,000 نقليه وسيلو ويستلو لپاره لږ تر لږه 5.7$ ميليارده ډالر مصرف کړي. په افغانستان کې د زيات شمير مرکزونو او ستونزمن شرايطو په نظر کې نيولو سره، يو موثر او اقتصادي وتنه دې پورې تړلې ده چې DOD ته معلومه وي څومره تجهيزات په افغانستان کې لري او د ځای په ځای کولو لپاره يې کم لګښته پريکړې ونيسي. مهمې پوښتنې: تر کومه حده (1) DOD د تجهيزاتو حساب ورکونې په شمول د مرکز تړلو کړنلارې پلې کړې، تر څو د قوماندې موخې او مهال ويش سره برابر شي؟ (2) آيا له افغانستان څخه د تجهيزاتو د ويستنې موخې او مهال ويش د DOD تسهيلاتو او بهيرونو لخوا ملاتړ شوې؟ (3) آيا DOD د کم لګښته پريکړې نيولو لپاره لګښت او نورو مسايلو معلومات کاروي؟

### افغان داخلي بريدونه

(د پروژې شميره. 320962، د 2013 کال د جنوري په 14 پیل شوی)

د 2007 کال څخه راهيسې د افغان ملي امنيتي ځواکونو پرسونل په وار وار سره په DOD پرسونل بريدونه کړي. GAO د 2012 کال په اپريل کې، هغه ګامونه تشريح کړ چې د داخلي بريدونو تعقيب، د لاملونو معلومول، او د DOD پرسونل د ژوند خوندي ساتلو لپاره د DOD، ناټو، او ايساف لخوا پورته شوي دي. د داخلي بريدونو تګ ګړندی شوی، داسې چې په 2012 کال کې يې شمير د ټولو تيرو کلونو په پرتله زيات و. مهمې پوښتنې: (1) DOD، ناټو، او ايساف تر کومه حده د ANSF لخوا د DOD پر پرسونل باندې د داخلي بريدونو علت معلوم کړې دی؟ (2) د 2012 کال بياکتنې څخه وروسته د داخلي

بریدونو په وړاندې کوم ساتونکي ګامونه په پام کې نیول شوي، او څنګه پلي شوي دي؟ (3) DOD تر کومه حده د افغان حکومت څخه د ANSF د پرسونل او نوماندانو د بیومتریک معلومات لاسته راوړلو کې پرمختګ کړی؟

## په افغانستان کې له جګړې څخه وروسته د متحده ایالاتو د ونډې په معلوموالو کې د DOD کړنلاره

(د پروژې شمیره. 351772، د 2012 کال د اکتوبر په 17 پیل شوی)

GAO به په افغانستان کې له 2014 څخه وروسته د متحده ایالاتو پوځ او دفاع وزارت د ونډې په هکله د DOD د پلان طبیعت او حدود د لاندې پرمختګونو په شمول، بیاکتنه وکړي: (1) د مهو پریکړو لکه په DOD کې دننه د تنظیمي مسولیتونو او جوړښتونو ګومارنې لپاره یو چوکاټ برابرول؛ (2) د لاندې مسایلو معلوموالو لپاره یو پلان جوړول: (a) په افغانستان کې د چاپیریال په اړه مهمې انګیرنې او د وزارت، د متحده ایالاتو پوځ، او قرارداد کونکو ونډه ؛ (b) وزارت به له نورو ادارو سره څنګه خپلې هڅې شریکې کړي؛ او (c) هغه مسایل چې ښايي حل کړی شي، لکه DOD تر کوم حده نورو ادارو سره مرسته کوي او د متحده ایالاتو د تجهیزاتو او شتمنیو وضعیت؛ (3) د پریکړو پلي کولو لپاره مهم ټکي او اړوند پړاوونه معلومول؛ او (4) د بالقوه خطرونو او مخنیونکی ستراتیژي معلومول.

## دMi-17 هیلکوپټرانو تدارکات

(د پروژې شمیره. 121096، د 2013 کال د اکتوبر په 11 پیل شوی)

DOD وړاندې د افغان پوځ سره د مرستې لپاره په رقابتي ډول د متحده ایالاتو د شرکتونو په واسطه د Mi-17 هیلي کوپټرانو ملکي بڼې اخیستی و. په 2010 کې د رقابتي غوښتنو فسخ کولو څخه وروسته، DOD په انفرادي ډول د جنګي وسیلو صادرونکی د روسیې یو دولتي شرکت، Rosoboronexport، سره قرارداد وکړ څو 21 پوځي Mi-17s الوتکې واخلي. مهمې پوښتنې: (1) د 21 Mi-17s الوتکو لپاره د 2010 کال رقابتي غوښتنه په کوم دلایل د DOD لخوا فسخ شوه؟ (2) آیا DOD د Mi-17 ملکي یا پوځي بڼو لپاره بدیل تدارکاتي کړنلاره تر کومه حده د لاسرسی او شونتیا له نظره ارزولې ده؟ (3) آیا DOD تر کوم حده ارزولې ده چې د Rosoboronexport سره مستقیماً قرارداد کول به د تخنیکي معلوماتو ته لاسرسي، د الوتکي مصونیت، او جعل کاری باندې څه اغیزې ولري؟

## په افغانستان کې د سلاکاری ډلې

(د پروژې شمیره. 351743، د 2012 کال د جون په 19 پیل شوی)

په افغانستان کې د امنیتي ځواکونو ملاتړ مشاورینو په نظر کې نیولو سره، GAO به معلومه کړي چې تر کومه حده (1) DOD د سلاکارانو ډلې ته د ونډو، ماموریتونو، او د قوماندې اړیکو په اړه تعریفونه وړاندې کړي؛ (2) سمندري قطعات او پوځ د پرسونل، تجهیزاتو، او روزنې اړتیاوې تعریف کړي؛ (3) DOD پلان لري چې د سلاکارۍ ماموریت لپاره د جنګیالی غونډ/کنډک ډلې کاروونه تنظیم کړي؛ او (4) سمندري قطعات او پوځ د دې وړتیا لري چې د سلاکارۍ ډلو د پرسونل او تجهیزاتو اړتیاوې، د رپوټ شوي تیارۍ په شمول، پوره کړي.

### افغان عامه محافظت ځواک ته د DOD ليږد

(د پروژې شميره. 351747، د 2012 کال د جون په 11 پيل شوی)

افغان عامه محافظت ځواک به د 2013 کال په مارچ کې د DOD د تاسيساتو مسوليت په غاړه واخلي. مهمې پوښتنې: (1) DOD تر کومه حده افغان عامه محافظت ځواک ته د امنيت د ليږدولو مصارف اټکل کړی، او د لګښت کمولو لپاره يې کوم ګامونه پورته کړي؟ (2) DOD د څارنې او ادارې کوم ميکانيزمونه پلي کړي تر څو ډاډه کړي چې APPF او د خطر کمولو نور شرکتونه د قرارداد سره سم خدمتونه وړاندې کوي؟ (3) د خصوصي امنيتي شرکتونو څخه APPF ته د قطار امنيت ليږدول په افغانستان کې د DOD پر عملياتونو کومه اغيزه کړې، او د منفي اړخونو کمولو لپاره يې DOD کوم ګامونه پورته کړي؟ (4) DOD تر کومه حده پلان لري د ساکن امنيت مسوليت د خصوصي امنيتي شرکتونو څخه APPF ته وليږدوي، په شمول د دې چې DOD تر کوم حده د مراکزونو د امنيت لپاره احتمالي پلانونه لري؟

### د متحده ايالاتو د پوځ پلټونکې اداره

پدې ربع کې، USAAA د بيارغونيزو نوښتونو په اړه کومه روانه پلټنه نلري.

### د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو ادارې د عمومي پلټونکي دفتر

### د USAID/افغانستان د ليږد پلانونو پلټنه

(د پروژې شميره. FF100712، د 2012 کال د نومبر په 28 پيل شوی)

آيا USAID په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ليږد په بهير کې د احتمالي پيښو لپاره کوم پلان لري؟

### د USAID/افغانستان لخوا د دريم هيواد د وګړو کارونې بياکتنه

(د پروژې شميره. FF101412، د 2012 کال د اکتوبر په 14 پيل شوی)

د دې معلومول چې USAID/افغانستان د ماموريت پروګرامونو موثر پلي کولو لپاره د دريم هيواد وګړي وکاروي څو د خپل مسوليت منلو په برخه کې افغان کارکونکو ته روزنه ورکړي.

### د اضافي پرداختونو په برخه کې د USAID/افغانستان د اداري کنترول څخه بياکتنه

(د پروژې شميره. FF100612، د 2012 کال د اکتوبر په 9 پيل شوی)

موخه: د دې معلومولو لپاره چې آيا USAID/افغانستان د خپل کارکونکو د اضافي معاشاتو تسليمول، واک، منل، او تصديق لپاره د فيدرال وخت او حاضري پاليسيو او کړنلارو په اساس کافي اداره لري.

### د USAID/افغانستان د کندهار هلمند بريښنا نوښت پلټنه

د پروژې شميره. FF101112، د 2012 کال د مۍ په 1 پيل شوی)

موخه: آيا د کندهار بريښنا نوښت د متحده ایالاتو د جنګياليو ضد ستراتيژۍ په مرسته کولی شي د افغانستان له سهيل ختيځ څخه د بريښنا په پراخولو او ويشلو کې په خاصه بيا د کندهار ښار ته، خپل اساسي موخې لاسته راوړي؟

### د USAID/افغانستان لخوا د ټاکلو پروژو لپاره د قوماندان بیړنی غبرګون پروګرام د کارونې بياکتنه

(د پروژې شميره. FF101712، د 2011 کال د اکتوبر په 25 پيل شوی)

موخه: تر څو معلوم کړي چې د قوماندان بيړنی غبرګون پروګرام بوديجې چې د متحده ايالاتو ځواکونه-افغانستان لخوا USAID ته ورکول کيږي، د ټاکل شوو موخو لپاره کارول کيږي، د استعمال وړ قوانين او مقرراتو سره توافق لري، او آيا د CERP په مرسته پروژو لپاره چې کوم لګښتونه ښودل شوي منطقي، روا، او د منلو وړ دي که نه.

# ضميمې او د پايليکونو منځپانګې


| | |
|---|---|
| **ضميمه A** | **196** |
| **ضميمه B** | **202** |
| **ضميمه C** | **204** |
| **ضميمه D** | **208** |
| **ضميمه E** | **211** |
| **پايليکونه** | **215** |



**د سيګار رسمي ټاپه**

د سيګار رسمي ټاپه د متحده ايالاتو او افغانستان تر منځ د همغږۍ د هڅو استازيتوب کوي څو د بيا رغونې د فعاليتونو لپاره مسؤوليت او نظارت برابر کړي. د ټاپې د مرکز په پورتنۍ برخه کې عبارت په درى دى او مانا يې د افغانستان د بيا رغونې لپاره ځانګړى عمومي پلټونکى (سيګار) دى. د ټاپې مرکز په لاندينۍ برخه کې عبارت په پښتو ژبه دى او ورته مانا لري.

# ضمیمې
# او پایلیکونه

# ضميمه A

## قانوني غوښتنو ته
## د راپور متقابل مراجعه

دا ضميمه د دي راپور پاڼې د درې مياشتني راپور ورکولو او نورو اړوند شرايطو سره د سيګار د جوړونکي قانون په اساس، د ملي دفاع د اختياراتو قانون د 2008 مالي کال لپاره P.L. شميره 181-110، § 1229 (جدول A.1) او د شپږمياشتني راپور ورکولو شرايطو په اساس چې په ډېر عام ډول خانګړي عمومي پلټونکي ته د 1978 کال د عمومي پلټونکي د تعديل شوي قانون (5 U.S.C. App. 3) (جدول A.2) لاندې تجويز شوی.

جدول A.1

| د P.L. لمبر 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتني راپورونو د غوښتنو متقابل مراجعه | | | |
|---|---|---|---|
| **د عامه قانون برخه** | **د سيګار توانمنوونکې ژبه** | **د سيګار عمل** | **د راپور برخه** |
| مقصد | | | |
| برخه 1229(a)(3) | د داسې پروګرامونو او عملياتو د ادارې سره تړليو ستونځو او کمښتونو په اړه او د پرمختګ او اصلاحي اقدام د ضرورت لپاره د بهرنيو چارو د وزير او د دفاع د وزير د بشپړ او تازه معلوماتو ځخه د خبر ساتلو مستقل او هدفمند ذريعې برابرول | جاري، درې مياشتنی راپور | پوره راپور |
| خارنه | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي پلټونکی بايد نيغ په نيغه د بهرنيو چارو وزير او يا د دفاع وزير ته راپور ورکړي او يا د هغوی د عمومي خارنې لاندې وي | د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته راپور ورکول | پوره راپور |
| دندې | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغونې نظارت —<br>دا به د عمومي پلټونکي وظيفه وي چې د هغو پيسو چې اختصاص شوي او يا په بله مانا په ا فغانستان کې د بيا رغونې لپاره په لاس ورکړل شوي، او د هغو پروګرامونو، عملياتو او قراردادونو هم چې د دې بسپنو په کارولو سره ترسره شوي، د چلند، سمبالولو او لګښتونو خارنه وکړي او د کنترول او تفتيش او تحقيقاتو انسجام يې وکړي، په شمول د فرعي برخو (A) تر د (G) لاندې پورې | اختصاص شوې\<br>چمتو بسپنو بياکتنه<br><br>هغو پروګرامونو، عملياتو،<br>قراردادونو بياکتنه چې اختصاص<br>شوې\موجودې بسپنې کاروي | پوره راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د دا ډول بسپنو د تعهد او لګښت حساب او نظارت | د اختصاص شويو\موجود بسپنو د تعهداتو او لګښتونو بياکتنه | د سيګار نظارت بسپنه ورکول |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د بيا رغونې هغه فعاليتونو نظارت او بياکتنه چې د دا ډول بسپنو په واسطه تمويل شوې وي | د بيا رغونې هغه فعاليتونو بياکتنه چې د اختصاصونو او اهدا شويو مرستو لخوا تمويل شوي وي | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د هغو قرارادادونو نظارت او بياکتنه چې د دا ډول بسپنو لخوا تمويل شوې وي | د هغو قرادادونو بياکتنه چې اختصاص شوې او موجودې بسپنې کاروي | يادونه 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د رياستونو، ادارو، او د متحده ايالاتو د سازمانونو، او شخصي او غيردولتي نهادونو ترمنځ د دا ډول بسپنو او ورسره تړلي معلوماتو د ليږد نظارت او بياکتنه | د اختصاص شويو\موجود بسپنو د داخلي او خارجي ليږد بياکتنه | ضميمه B |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې بسپنو د کارولو ثبتونو (ريکارډ) سمبالتيا د دې لپاره چې په راتلونکي کې د داسې بسپنو/ پلټنې او تحقيقات اسان کړي | د پلټنې ثبت سمبالول | د سيګار نظارت<br>ضميمه C<br>ضميمه D |

جدول A.1 (دوام لري)

**د P.L. لمبر 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتني راپورونو د غوښتنو متقابل مراجعه**

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان ترون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ په تطبيقولو کې د افغانستان د دولت او نورو مرستندويه هيوادونو سره د متحده ايالاتو د ارتباط د اغيزمنتيا نظارت او بياکتنه | نظارت او بياکتنه څرنګه چې تشريح شوي | پلټنې |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د اضافی تاديې لکه ډېل تاديه او يا ډېل بيل او يا هم د فدرال کارکوونکو، قراردادیانو او يا مربوطه کړيو غير قانونی يا غيراخلاقي کړنو پلټنې کول او د ضرورت له مخې د عدالت اداري ته د نورو پلټنو او د مالی منابعو بيرته اخيستو او تعقيب لپاره د داسې راپورونو راجع کول اړين بريښي | د تحقيقاتو ترسره کول او راپور کول څرنګه چې تشريح شوي دي | تحقيقات |
| برخه 1229(f)(2) | نظارت پورې اړوند نورې دندې —<br>عمومي پلټونکی بايد داسې سيسټمونه، پروسيژرونه، او کنټرولونه جوړ، سمبال او تر نظارت لاندې وساتي چې عمومي پلټونکی يې د (1) پراګراف لاندې د وظيفو د ترسره کولو لپاره مناسب ګڼي | د سيسټمونو، پروسيژرونو، او کنټرولونو جوړول، سمبالول او نظارت کول | پوره راپور |
| برخه 1229(f)(3) | دندې او مسؤ وليتونه د عمومي پلټونکي د 1978 کال قانون لاندې — سربيره پر دې،... عمومي پلټونکی بايد د عمومي پلټونکي د 1978 د قانون لاندې د عمومي پلټونکيو دندې او مسوولیتونه هم ولري | هغه دندې چې د عمومي پلټونکي په قانون کې مشخص شوي دي | پوره راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږي —<br>عمومي پلټونکی بايد د لاندې هر يو سره همغږي وکړي او د هڅوی همکاري هم ترلاسه کړي: (A) د دفاع وزارت عمومي پلټونکی، (B) د بهرنيو چارو وزارت عمومي پلټونکی، او (C) د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده ايالاتو د اداري عمومي پلټونکی | د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو او USAID له عمومي پلټونکو سره همغږي | د بلې اداري نظارت |
| فدرالي ملاتړ او نورې سرچينې | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو څخه مرسته —<br>د فدرالي حکومت د هر رياست، اداري، يا بل سازمان څخه د عمومي پلټونکي د کومو معلوماتو يا مرستې په غوښتلو سره، د دغې اداري مشر بايد، تر کومه حده چې عملي کيدونکي او د کوم موجود قانون خلاف نه وي، عمومي پلټونکي، يا د هغه استازي ته، دغسې معلومات يا مرسته ورکړي | څرنګه چې غوښتل شوی وي د ملاتړ تمه وکړئ | پوره راپور |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د رد شوې مرستې راپور ورکول —<br>کله چې عمومي پلټونکی د معلوماتو يا مرستې غوښتونکی شی او د نومورې په فکر بې له کوم دليله له ده سره د مرستې کولو او معلوماتو د اماده کولو څخه انکار وشي، نو عمومي پلټونکی بايد پرته له کوم ځنډه د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو همدار نګه د کانګرس ټاکلو کميټو ته د دې حالت مناسب راپور ورکړی | راپور نه دی ورکړل شوی | د تطبيق وړ ندی |
| راپورونه | | | |

جدول A.1 (دوام لري)

**د P.L. لمبر 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتني راپورونو د غوښتنو متقابل مراجعه**

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(i)(1) | درې مياشتني راپورونه — <br>د هر مالي کال د دريو مياشتو د پای نه تر 30 ورځو زيات نه، عمومي پلټونکی بايد د کانګرس مناسبو کميټو ته يو راپور وړاندې کړي چې د دغې دورې، او تر کومه حده چې امکان لري د دغې درې مياشتنی راپور د پای د وخت څخه د راپور د داخلولو د وخت پورې په دې مهال کې د عمومي پلټونکي او د هغه د فعاليتونو د هغو پروګرامونو او عملياتو لاندې چې بوديجه او پيسې د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوې وي يوه خلاصه وړاندې کړي. په هر راپور کې، د هغې دورې چې په دې راپور کې يې يادونه شوې وې، د هغو مسوولیتونو، لګښتونو، او عايداتو يو تفصيلي بيان چې په افغانستان کې د بيا رغونې او بيا رغونې د فعاليتونو سره ملګري وي، بايد په ګډون د لاندې شامل وي: | راپور - 30 ورځې وروسته د هر کال د درې مياشتو پای څخه<br><br>د عمومي پلټونکي فعاليتونو لنډيزکول<br><br>د ټولو مسووليتونو، لګښتونو، او عايداتو تفصيلي بيان | پوره راپور<br>ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(A) | د اختصاص شويو/اهدا شويو بسپنو ژمنې او لګښتونه | د اختصاص شويو/اهدا شويو بسپنو ژمنې او لګښتونه | ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د هغو لګښتونو يو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب چې تر دې نيټې د افغانستان په بيا رغونه کې لګول شوي، د دفاع وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، او د نړيوالې پراختيا لپاره د متحده اياالاتو د ادارې، تر کومه چې تطبيقيدونکی وي، د هرې پروژې او پروګرام د بشپړولو د لګښتونو د يو اټکل سره ملګرې | د لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام حساب د هرې پروژې يا پروګرام د نالګول شويو بسپنو ليست جوړول | بسپنې<br>يادونه 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عوايد چې تړلي وي له او يا داسې بسپنې په کې شاملې وي چې د بهرنيو ملتونو يا نړيوالو سازمانونو لخوا ورکړل شوي وي هغو پرګرامونو او پروژو ته کوم چې د متحده اياالاتو د کوم رياست يا اداري لخوا تمويل شوي وي، او د داسې عايداتو هر ډول تعهدات او يا لګښتونه | د مرستندويه ادارو د بوديجو عايدات، تعهدات، او لګښتونه | بوديجې |
| برخه 1229(i)(1)(D) | د هغو بوديجو سره تړلي يا شامل عايدات چې هغو پروګرامونو او پروژو ته د بهرنيو نيول شويو يا کنګل شويو شتمنيو څخه ورکړل شوي وي د کومو بوديجې چې د متحده اياالاتو د کوم رياست يا اداري لخوا ورکړل شوي وي، او د داسې عايداتو هر ډول مسووليتونه او يا لګښتونه | د نيول شويو يا کنګل شويو شتمنيو د بسپنو عايدات، مسووليتونه او لګښتونه | بسپنې |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو يا سازمانونو عملياتي لګښتونه چې اختصاص شوې پيسې ترلاسه کوي او يا په بله توګه د افغانستان د بيا رغونې لپاره ورکړل شوي وي | د هغو ادارو يا کوم سازمان عملياتي لګښتونه چې اختصاص شوې بسپنې ترلاسه کوي | بوديجې<br>ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(F) | د هر هغه قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون يا د بسپنې د بل کوم ميکانزم په صورت کې چې په پراګراف (2)* کې يې يادونه شوې —<br>(i) د قرارداد يا د بسپنې د بل کوم ميکانزم رقم؛<br>(ii) د قرارداد يا د بسپنې د بل کوم ميکانزم د طرحې لنډ بحث؛<br>(iii) په دې اړه يو بحث چې څرنګه د متحده اياالاتو د حکومت هغه رياست يا اداري چې په دې قرارداد، بلاعوضه مرستې، تړون، يا د بسپنې په بل ميکانزم کې کار کوي د مهمو کانديدانو وړانديزونو پيژندل يا غوښتل چې دغه قرارداد، بلاعوضه مرسته، تړون، يا د بسپنې بل کوم ميکانزم ترسره کړي، د نورو مهمو ادارو يا اشخاصو د يو ليست سره چې د دې وړانديز ورته شوی يا غوښتل شوی و؛ او<br>(iv) د حق او منظورۍ هغه اسناد په کومو چې د دې پروسو د پرېکړې بنسټ و له هغو پروسو پرته چې بشپړه او پرانستې مقابله وړاندې کوي | د قرارداد جزييات تشريح کړئ | يادونه 1 |

جدول A.1 (دوام لري)

**د P.L. لمبر 181-110, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتني راپورونو د غوښتنو متقابل مراجعه**

| د عامه قانون برخه | د سيګار توانمنوونکې ژبه | د سيګار عمل | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(i)(3) | عامه موجوديت —<br>عمومي پلټونکی باید په یوه عامه ترلاسه کیدونکې انټرنيټي ويبپاڼه کې د دې ضمني برخې د پراګراف (1) لاندې هر راپور په انګليسي او نورو هغو ژبو کې خپور کړي چې عمومي پلټونکی پوهيږي چې په افغانستان کې په پراخه پيمانه ويل کيږي او خلک پرې پوهيږي | د راپور څرنګه چې په www.sigar.mil کې لاربښودنه شوې خپور کړئ<br><br>دري او پښتو ژباړه په جريان کې ده | پوره راپور |
| برخه 1229(i)(4) | فورمه —<br>د دې فرعي برخې لاندې غوښتل شوی هر راپور باید په ښکاره بڼه وړاندې شي، خو کیدای شي محرمي ضميمې ولري، که چیرې عمومي پلټونکې هغه ضروري وګڼي | د راپور خپرول څرنګه چې یې لاربښودنه شوې | پوره راپور |
| برخه 1229(j)(1) | عمومي پلټونکی باید هر راپور چې د (i) فرعي برخې غوښتل شوي د باندنيو چارو وزير و د دفاع وزير ته تسليم کړي | دري مياشتنی راپور تسليم کړئ | پوره راپور |

يادونه 1: که څه هم دا معلومات په عام ډول سره د سيګار په ويب سايټ کې (www.sigar.mil) ترلاسه کيدای شي، هغه معلومات چې سيګار ترلاسه کړي دي په ابتدايي بڼه کې وي او اوس مهال ترکتني، تحليل او تنظيم لاندې دي چې د سيګار د راتلونکو ټولو موخو لپاره ور څخه کار واخيستل شي.

*پوښښ شوي قراردادونه، بلاعوضه مرستی، موافقتنامې، او د تمويل ميکانيزمونه د P.L. د 1229(i) برخې په (2) پرکراف کې تعريف شوي. شميره. 181-110 داسې چې —

"هر لوی قرارداد، مالي مرسته، تړون، يا د بوديجې مکانيزم چې د متحده ايالاتو د دولت د هر رياست يا اداري لخوا پکې برخه اخيستل کيږي، او په هغوی کې د افغانستان د بيا رغوني لپاره اختصاص شوي او يا بل ډول ورکړ شو پيسې شاملې وي، که له هر ډول دولتي يا شخصي سازمان سره د لاندې هر مقصد لپاره وي: په افغانستان کې د فزيکي زيربنا جوړول يا بيا رغول.

د افغانستان د سياسي يا ټولنيزې اداري تاسيس يا بيا تاسيس.

د افغانستان خلکو ته د توليداتو يا خدمتونو برابرول."

# ضميمې

جدول A.2

| د سیګار د شپږ میاشتني راپورونو د غوښتنو متقابل مراجعه د 1978 کال د عمومي پلټونکي قانون د 5 برخې لاندې د دې، چې تعدیل شوی (5 U.S.C. APP. 3) ("د عمومي پلټونکي قانون") | | | |
|---|---|---|---|
| **IG Act برخه** | **IG Act ژبه** | **د سیګار عمل** | **برخه** |
| برخه 5(a)(1) | د مهمو ستونزو، ناوړه ګټه اخستل او کمښتونو شرح | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پلټنو، څیړنو، او تفتیش له راپورونو څخه د ستونزو، ناوړه استعمال، او نیمګړتیاوو لست | د نورو اداراتو نظارت<br>په www.sigar.mil کې پوښتنلیکونو ته کتنه وکړئ |
| برخه 5(a)(2) | د مهمو ستونزو، ناوړه ګټه اخستلو او کمښتونو په اړه د اصلاحي اقداماتو د سپارښتنو شرح | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پلټنو له راپورونو څخه د سپارښتنو لست | د نورو اداراتو نظارت<br>په www.sigar.mil کې پوښتنلیکونو ته کتنه وکړئ |
| برخه 5(a)(3) | د هرې مهمې سپارښتنې پیژندل چې په مخکینې راپورونو کې یاد شوې او پرې اصلاحي اقدام سرته ندی رسیدلی | د مخکینیو شپږمیاشتنیو راپورونو څخه د ټولو نابشپړ شویو اصلاحي کړنو لست برابرول | تر کار لاندې |
| برخه 5(a)(4) | د هغو موضوعاتو خلاصه چې عدلې مقاماتو ته راجع شوې او په نتیجه کې چې کوم قانوني څارنې او محکومیتونه شوي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د هغو څیړنو لست چې راجع شوي دي | د بلې ادارې نظارت |
| برخه 5(a)(5) | د هر هغه راپور خلاصه چې /[دفاع وزیر] ته د 6(b)(2) برخې لاندې ړل شوي (هغه مثالونه چیرته چې غوښتل شوی معلومات رد شوی او یا ندي برابر شوی) | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول د هغو بیلکو لست چې د<br>سیګار پلټونکو، څیړونکو، یا معاینه کوونکو ته د معلوماتو له ورکولو انکار شوی وه | د بلې ادارې نظارت |
| برخه 5(a)(6) | د هرې صادر شوي پلټنې راپور، د تفتیش راپور او ارز موندنې راپور یو لست چې د موضوع په اساس ویشل شوی وي او د پوښتنې لاندې لګښتونو د ډالر د ارزښت او سپارښتنې د پیسو د بهتر استعمال ښکارندوی وي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د راپورونو لست | د بلې ادارې نظارت |
| برخه 5(a)(7) | د هر خانګړي مهم راپور یو لنډیز | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پام وړ راپورونو لنډیز برابر کړئ | د نورو ادارو نظارت<br>د مهمو راپورونو بشپړ لست په www.sigar.mil کې موندلای شئ |
| برخه 5(a)(8) | احصاییوي جدولونه د پلټنې د راپورونو ټول شمیر او د تر پوښتنې لاندې مصارفو ټول ډالرو ارزښت ښیئ | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>احصاییوي جدولونو جوړول چې د سیګار له راپورونو څخه د تر پوښتنې لاندې مصارفو ډالري ارزښت څرګندوي | د SWA/JPG د غړو راپورونو ته کتنه وکړئ<br>په جریان کې |
| برخه 5(a)(9) | احصاییوي جدولونه چې د پلټنې راپورونو، د تحقیق د راپورونو، او ارزوني راپورونو ټول شمیر ښیي او د اداري له خوا د بودیجو د لا غوره استعمال او کار اخیستلو لپاره د سپارښتنو ډالري ارزښت څرګند کړي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار له راپورونو څخه احصاییوي جدولونو جوړول چې د اداري لخوا د غوره استعمال لپاره کارول شویو بودیجو د ډالري ارزښت څرګندوی وي | د SWA/JPG د غړو راپورونو ته کتنه وکړئ<br>په جریان کې |
| برخه 5(a)(10) | د پلټنې، معاینې او ارزونې د هر راپور لنډیز چې د راپور ورکولو له دورې نه مخکې خپاره شوي دي او د کومو په اړه چې تر اوسه پورې اداري پریکړه د راپور ورکولو د دورې تر پایه پورې نه وې شوې، د هغو دلایلو یوه تشریح چې اداري پریکړې ولې نه دي شوې، او یو بیان چې د اداري پریکړې د ترلاسه کولو لپاره د خوښې وړ مهال ویش وړاندې کړي | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه مربوطه معلوماتو استخراجول<br>د سیګار د پلټنې د راپورونو یو لنډیز وړاندې کړئ چې په هغو کې د سیګار لخوا ورکړ شوې سپارښتنې اوس هم پرانیستې دي | د SWA/JPG د غړو راپورونو ته کتنه وکړئ<br>هیڅ کوم |

جدول A.2 (ادامه لري)

**د سیګار د شپږ میاشتني راپورونو د غوښتنو متقابل مراجعه د 1978 کال د عمومي پلټونکي قانون د 5 برخې لاندې د دې، چې تعدیل شوی (5 U.S.C. APP. 3) ("د عمومي پلټونکي قانون")**

| IG Act برخه | IG Act ژبه | د سیګار عمل | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 5(a)(11) | د هرې مهمې تعدیل شوي اداري پریکړې شرح او توضیح | د SWA/JPG له غړي راپورونو څخه د مربوطه معلوماتو استخراجول<br><br>د سیګار د پلټنې هغه راپورونه تشریح کړئ چې په هغوی کې په اداري پریکړو د پام وړ بیاکتنه شوي دي | د SWA/JPG د غړو راپورونو ته کتنه وکړئ<br><br>هیڅ کوم |
